# د ملنګ جان خوږې نغمې



بیا لیکنه او دیجیتال جوړښت: قاسم آسمایی

د دیجیتال طرحی مهتمم: محمدصفر خواریکښ

دیجیتال خپرونکی: د «راه پرچم انتشارات»

د کتاب نوم : د ملنگ‌جان خوږې نغمې

شاعر: ملنگ‌جان

د لعل‌پاچا ازمون په زیار

خپرندوی: د علامه سید جمال‌الدین افغان فرهنگي ټولنه

چاپ شمېر : یوزر ټوکه (دریم چاپ)

چاپ نېټه : لیندي ، ۱۳۷۰ / دسمبر ۱۹۹۱

چاپ ځای : د ښوونې اوروزنې چاپخونه

------

بیا لیکنه او دیجیتال جوړښت: قاسم آسمایی

د دیجیتال طرحی مهتمم: محمدصفر خواریکښ

دیجیتال خپرونکی: د راه پرچم انتشارات مارچ ۲۰۲۵

راه پرچم ناشر اندیشه‌های دموکراتیک

www.rahparcham1.org

## ضروري یادونه

له نېکه مرغه د افغانستان د پېژندل شوي او ټولمنلي ولسی شاعر ملنګجان د شعر مینهوال دا دی «د ملنګ جان خو ږ ې نغمې» کتاب د دیجیتال بڼې ته لاسرسی لري.

دا کتاب د دریم چاپ له مخې چې (له نویو زیاتونو سره) د ښاغلي لعلپاچا ازمون په زیار په ۱۳۷۰لمریز کال کې د سید جمالالدین افغان فرهنګي ټولنې لخوا چاپ شوی د دیجیتال بڼې ته اړولی شوی دی .خو دا یادونه اړینه ده چې د کتاب پدې چاپ کې د پښتو «یګانو » توپیر په پام کې ندی نیول شوی، که دی هم خو دومره کم، چې په نشت حسابېږي. ښايي تېرو چاپونو کې هم دا نیمګړتیا شتون ولري .تر کومه چې څرګنده ده، د خدای بښلي ملنګجان د دغه شعري ټولګې د چاپ په مهال د هغه وخت په زیاتو چاپ شویو کتابونو ، اونیزو او ورځپاڼو کې د پښتو «یګانو» رعایت نه تر سترګو کېږي.

په پښتو ژبه کې د «یګانو» په ځای کارول له لوستونکو او په ځانګړې توګه له (ویندویانو او سندرغاړو)سره په سم لوستلو او تلفظ کې ډېره مرسته کوي، نو لدې امله هڅه شوی ده چې په دیجیتال بڼه د ملي شاعر ملنګجان په دغه ارزښتناکه شعري ټولګه کې دغه تشه ډکه شی.

ښايي دغه هوډ به په بشپړ ډول نه وی تر سرسره شوی، نو هیله ده چې د نظر خاوندان او د پښتو ادب استادان به پخپلو اصلاحي او بشپړونکو نظرونو د خدای بښلي او پر افغان ولس حقدار ملنګجان روح ښاد کړي.

# فهرست

ملنگ جان له کومې لیدتوګې ګورو؟...................................i
د ملنګ‌جان ژوند لیک.......................................................أ
یادښت.......................................................................ج
لومړۍ برخه   د هیواد مینه د خپلواکۍ سندرې، د یووالی پیغام، توره، میړانه، پښتو............ ۲
د آزادۍ قیمت.............................................................. ۳
سر مې جار ستا له نامه ... ............................................... ۵
راځئ پښتنو وروڼو.......................................................... ٦
نارې مې په غوږ واورئ ................................................... ۷
ټینګ اوسئ زلمیانو ........................................................ ۹
نن زلمیان د پښتنو تجربه کېږي.......................................... ۱۱
راځئ پښتنو وروڼو.......................................................... ۱۲
پښتون زوي د بابایم....................................................... ۱٤
وتړه ملاپه صداقت پښتونه ................................................ ۱٦
چم په چم ګرم.............................................................. ۱۸
زما ځواني ډول کوي........................................................ ۲۰
زما سلام ................................................................... ۲۲
ز پښتون یم ................................................................ ۲٤
پښتونه پاڅه ............................................................... ۲۵
تشخیص مو د رنځ وکړه! .................................................. ۲٦
نن جوړ ملي اختر دی....................................................... ۲۸

اختر د خوشالۍ ........................................................................ ۲۹
موسم د پسرلي دی ..................................................................... ۳۰
په افسوس افسوس ..................................................................... ۳۱
د زړه افسوس ........................................................................... ۳۲
د افسوس اوښکې مې څي ............................................................ ۳٤
ژړېږم لکه شمع ........................................................................ ۳٦
عجب محفل دی ... .................................................................... ۳۷
خاونده روغ کړې ته .................................................................. ۳۹
زه چې نازولی وم ... ................................................................. ٤۰
پښتون یم دپښتو په لاره ... ........................................................ ٤۲
وچه څمکه په سرو وینو ... ........................................................ ٤۳
یا به مې شي په وینو رنګ و طنه! ................................................ ٤٤
د پښتون او پښتنې سوال او ځواب ................................................ ٤٥
د پاکستان د حکومت او د محکوم پښتون خبرې اترې ....................... ٤۷
سوال او ځواب ......................................................................... ٤۹
..................................................................................... ٥۲
لوبې ....................................................................................... ٥۲
د پښتنې پیغلې او مور سوال اوځواب ........................................... ٥۳
د زوی او پلار سوال او ځواب ..................................................... ٥٥
د پښتون زوي او پښتون پلار مرکه .............................................. ٥۷
سوال او ځواب ......................................................................... ٥۹
د پښتنو زامن .......................................................................... ٦۱

وطن به ژاړي ........................................................................ ٦٢
پښتونه ستا د توري وار دی ........................................................ ٦٣
نری نری لوګی تري خېږي ........................................................... ٦٥
نوی موسم نوی بهار دی ............................................................. ٦٦
بې غوره یاره! ........................................................................ ٦٧
په ننګ سترګي توروmه ............................................................... ٦٨
غم د پاسه غم دی ................................................................... ٧٠
مه منه ذلت ........................................................................... ٧١
زه په چا، چا وژاړم خدایه ........................................................ ٧٣
ارمان دی خدایه ....................................................................... ٧٤
خدایه بیا دي پسرلی کړ .............................................................. ٧٥
په صداقت اوسه پښتونه ............................................................. ٧٦
اصیل پښتون .......................................................................... ٧٧
بیا لیلی غمجنه ده .................................................................... ٧٨
مه راوړه لاسونه ..................................................................... ٨٠
ته که زما یار يې ..................................................................... ٨١
پښتنه پیغله ........................................................................... ٨٢
سربازه یاره ........................................................................... ٨٤
چاته وژاړمه ......................................................................... ٨٥
باغوانه! .............................................................................. ٨٦
د آزادۍ د بڼ بلبله! ................................................................ ٨٧
وګټه ځان پښتونه ................................................................... ٨٨

ټولېږي ډلې ډلې ... ٨٩
خاونده خیر کړې ٩٠
قومي تړون ... ٩١
سیلاب د اوښکو ٩٢
ځانو نه تېر یو ... ٩٣
پاڅېږه مجنونه ٩٤
سترګې مې ډکې شي ٩٥
پښتنو تاسې سرداران شئ ٩٦
لوګی شمه له تا نه ٩٧
خوشبويي خپرژي ٩٨
د پښتنو زامن ٩٩
پښتون به نه یم ١٠٠
د غلامۍ نه سر په دار ښه دی ١٠١
په ارمان به ګور ته ځمه ١٠٢
د قام زلمیانو تړه وکړئ! ١٠٣
د تره زامن مې پیښور کې... ١٠٤
خوږه وطن پښتونستانه ١٠٥
زیبا پښتونستانه ١٠٦
د زړه ارمانه! پښتونستانه ١٠٧
الله دي خیر کړي! ١٠٨
خاوره يې د سرو ده ١٠٩
وطن په توره آزادېږي ١١١

زما پښتونستانه ........................................................ ۱۱۲
د پښتو ننګ دی.......................................................... ۱۱۳
پښتونستان وطنه! ....................................................... ۱۱٤
په هره شپه د اسمان ستوري .............................................. ۱۱٦
د جنکو په اننګو کې... .................................................. ۱۱۷
په هره شپه دا ستعمار مانۍ نړېږي........................................ ۱۱۸
پښتونستان د پښتنو دی.................................................. ۱۱۹
ستا له پلوشونه ......................................................... ۱۲۰
مومندو بیا... .......................................................... ۱۲۱
حکیمه ستا راتلو ته ... ................................................. ۱۲۲
د خوشحال خان په یاد .................................................. ۱۲۳
هر څه نه به تېر شم خو ... .............................................. ۱۲٤
رنځوره مې لیلا ده ....................................................... ۱۲۵
چې د وطن د آزادۍ نه... ................................................ ۱۲٦
ستا پت به ساتمه ........................................................ ۱۲۷
راځئ خویندو .. ......................................................... ۱۲۸
بګتۍ.................................................................... ۱۲۹
چې په سر ناخلم ګوزارونه ... ............................................ ۱۳۰
ګلګون بیرغه............................................................. ۱۳۱
پاڅېږه! ................................................................. ۱۳۲
څه ملا وتړه! ............................................................ ۱۳۳
وطنه جان وطنه! ........................................................ ۱۳٤

دا د پښتو ننګ دی ........................................................................ ۱۳۵
سور سالو مې بېرته کړه ............................................................. ۱۳۶
څه غواړم؟ ............................................................................ ۱۳۷
ځمکې تور لباس ګوزار کړ ......................................................... ۱۳۸
زما یادېږي ........................................................................... ۱۳۹
شهیده!................................................................................ ۱۴۰
صیاده زه دی پېژنم.................................................................... ۱۴۱
سبا اختر دی ... ...................................................................... ۱۴۲
څلورمه برخه غزلونه ................................................................ ۱۴۳
راغۍ اختر ............................................................................. ۱۴۴
خانه باچاخانه! ........................................................................ ۱۴۵
نن وخاندم که وژاړم ................................................................ ۱۴۶
ځوانۍ سره شهرت ... ................................................................ ۱۴۷
چې سر پرې بایلي... ................................................................ ۱۴۸
په غرو کې یې زمریان اوسي ....................................................... ۱۴۹
خوند کا پسېدل....................................................................... ۱۵۰
نور محوه کېږئ ...................................................................... ۱۵۱
یه د سوات پښتنو! ................................................................... ۱۵۲
پښتونستان وګټئ! ................................................................... ۱۵۳
په دې دنیا جنته! ..................................................................... ۱۵۴
زه یتیم ستا قبر ته ناست . . ....................................................... ۱۵۵
سر چې قربان شي..................................................................... ۱۵۶

خدایه  وکړم څه ... ١٥٧
د پښتو ننګ دی ١٥٨
مخ نه اړوئ خدمت نه ... ١٥٩
د بل د لاسه در په در پښتنو! ١٦٠
څو به پښتانه او زولنې به وي ١٦١
د سبا نری شماله! ١٦٢
غلامۍ نه ګورستان ښه دی ١٦٣
آزاد ژوندون غواړو ١٦٤
تو لعنت په هغه چا شه ... ١٦٦
شهیده! ١٦٧
شور د توتیانو دی ... ١٦٨
ستا به خدمتګاره شم ١٦٩
زیب کوی پښتون ... ١٧٠
باغ دی د توتیانو ... ١٧١
جوړوو پښتونستان ١٧٢
پښتونستان د پښتون ١٧٣
یه وطنه ستا په عشق کې ... ١٧٤
وژني مې خپل ورور ١٧٥
څه لټوم؟ ١٧٦
په صداقت زلمیان ١٧٧
وطنه ګران وطنه! ١٧٨
په پښتون ګران وطنه! ١٧٩

وطن جوړوو ........................................................................ ۱۸۰
جان وطن! قربان وطن! ............................................................ ۱۸۱
ځای د غیرت کې ................................................................ ۱۸۲
پښتونستان وطنه! ............................................................. ۱۸۳
ترانه پښتون عسکر یمه زه ..................................................... ۱۸٤
ترانه.......................................................................... ۱۸۵
ترانه.......................................................................... ۱۸٦
دا زموږ زیبا وطن ............................................................. ۱۸۷
داستان ........................................................................ ۱۸۸
مقامونه ........................................................................ ۱۸۹
چې بې ننګ او بې پښتو وي ..................................................... ۱۹۰
د آزادی شمال ................................................................. ۱۹۱
زه په دې سبب ................................................................. ۱۹۲
دویمه برخه اخلاقي، اجتماعي، انتباهي او انتقادي شعرونه ..................... ۱۹۳
طلب د علم پور دی............................................................. ۱۹٤
الهي راولی باران د علم ........................................................ ۱۹٦
جهان د علم په شا سور دی ..................................................... ۱۹۸
په خپل علم دنیا وخته آسمان ته................................................ ۱۹۹
راپورته شه پښتونه............................................................. ۲۰۰
دا خپل وطن ګلزار کړو ......................................................... ۲۰۳
زلمیانو وکړئ ننګ .............................................................. ۲۰۵
نور د صبر طاقت نه وینمه ځان کې............................................... ۲۰۹

نفسونه شول غالب ............................................................ ۲۱۵
صورت مې اخلی اور ............................................................ ۲۱۷
نن مې بیا زړګی............................................................ ۲۲۰
د سرو زرو رشې............................................................ ۲۲٤
راځئ دښتې ............................................................ ۲۲۵
ربه ژوندی به یم............................................................ ۲۲٦
پښتونه وګوره دنیا ته ............................................................ ۲۲۷
ظلم مې د پلار ولید ............................................................ ۲۲۸
زه وطن خاص د پښتنو ............................................................ ۲۲۹
په توره او قلم ............................................................ ۲۳۱
خپل همسایه سره کومک ............................................................ ۲۳۲
د افسوس جنون... ............................................................ ۲۳۳
نه به وي دغه دنیا نه به .. ............................................................ ۲۳۵
هرڅوک چې رشوتخور وي ............................................................ ۲۳۷
مه وایه رښتیا راباندې... ............................................................ ۲۳۸
ځانته ودروه پښتو ............................................................ ۲۳۹
هغه څوک چې وي پښتون ............................................................ ۲٤۰
زړه مې غواړي ............................................................ ۲٤۱
ځواني ښځې... ............................................................ ۲٤۲
څه لرمه چې د خدای... ............................................................ ۲٤۳
د چشمانو مې............................................................ ۲٤٤
هرګز مه وایه ... ............................................................ ۲٤۵

خپل قسمت انسان ته ........................................................................ ۲٤٦
تر کومه؟ ..................................................................................... ۲٤٧
بې غم کله ... ................................................................................. ۲٤٨
رنګ څه کړم .................................................................................. ۲٤٩
غزلونه......................................................................................... ۲٥٠
که د بل نه اخلاص غواړې..................................................................... ۲٥١
هغه څوک چې د اخلاص... .................................................................. ۲٥٢
که عشق کې مزې غواړې ..................................................................... ۲٥٣
صداقت........................................................................................ ۲٥٤
خوښ په جزيرو کې يم ........................................................................ ۲٥٥
څه به کړي څوک هغه ژوندون .. ............................................................. ۲٥٦
د معارف ترانه.................................................................................. ۲٥٧
لاس مه وهه په اور کې ........................................................................ ۲٥٨
څه ملامت دي ................................................................................. ۲٥٩
په دې چمن کې ............................................................................... ۲٦٠
يه مسلمه پام وکړه............................................................................. ۲٦١
په هر چا باندي تېرېږي ........................................................................ ۲٦٢
تل ښه کول د بل سره ......................................................................... ۲٦٣
د معارف ترانه.................................................................................. ۲٦٤
يا الهي........................................................................................... ۲٦٥
دريمه برخه ..................................................................................... ۲٦٦
د عشق سندرې، د مينې سوز و ساز، د دردمند زړه چغې او هنګامې.................... ۲٦٦

د عشق په مذهب کې........................................................ ۲٦۷
هیڅ نه سرېږي........................................................ ۲٦۸
چې قدم کېږدم........................................................ ۲٦۹
څه پیژنم! ........................................................ ۲۷۰
دل زما ........................................................ ۲۷۱
د خوبانو په محفل........................................................ ۲۷۲
نصیبه! ........................................................ ۲۷۳
زړه مې بدراه شو ........................................................ ۲۷٤
پرون وصل کې سلطان وم........................................................ ۲۷۵
آشنا!........................................................ ۲۷٦
خدای دې راوله جانانه........................................................ ۲۷۷
زه چې نن آزار یمه ........................................................ ۲۷۸
دا دی د عشق قانون ........................................................ ۲۷۹
راشه چې مرم........................................................ ۲۸۰
نه راځي پرسان ته مې........................................................ ۲۸۱
زه خو عار نه ګڼم پېغور ........................................................ ۲۸۲
انجام د عشق دا دی........................................................ ۲۸۳
راغله دلربا په ګلشن........................................................ ۲۸٤
په عشق کې ما له ناصحان ........................................................ ۲۸۵
ستا غم کړمه زولانه ........................................................ ۲۸٦
ژاړمه په غم کې د ځان ... ........................................................ ۲۸۷
ما وفادار ګڼلې........................................................ ۲۸۸

مسلمانانو........................................................................................ ۲۸۹
دا غم دې تل په ما وي........................................................................ ۲۹۰
ستا عشق کې بې له ما ... ................................................................... ۲۹۱
غزل.................................................................................................. ۲۹۲
ما درته پیشکش ... ........................................................................... ۲۹۳
ژړوي مې لکه شمعه ......................................................................... ۲۹٤
سېزي په مثال د زغال ....................................................................... ۲۹۵
ما په عشق کې مه کړوه....................................................................... ۲۹٦
لږ عبرت په کار دی............................................................................. ۲۹۷
دا به وي له چا سره؟ .......................................................................... ۲۹۸
دود د جفا ........................................................................................ ۲۹۹
دا مشکل کار نه دی........................................................................... ۳۰۰
تر دې حده بدبخت یم ....................................................................... ۳۰۱
کله به راشې په پوښتنه....................................................................... ۳۰۲
چا غوږ کې راته ووی ........................................................................ ۳۰۳
خدایه ته پرې رضا مه شې ..................................................................... ۳۰٤
یه زړگیه اوس کړېږه.......................................................................... ۳۰۵
د اوښکو رود ..................................................................................... ۳۰٦
نن دې ور کړې اجازه ........................................................................ ۳۰۷
ستا د ظلمه توره خطه! ......................................................................... ۳۰۸
مقامونه ........................................................................................... ۳۰۹
یار گرم نه دی.................................................................................. ۳۱۰

ما ژړل ............................................................ ۳۱۱
ورځ مې شوه ........................................................ ۳۱۲
حال زما ............................................................. ۳۱۳
ملنګ شم............................................................ ۳۱۴
نه پوهېږم ........................................................... ۳۱۵
دلبر وکړ............................................................. ۳۱۶
لوبې.................................................................. ۳۱۷
د افسوس اوښکې.................................................. ۳۱۸
اوس مې له دره بېنوا شړې...................................... ۳۱۹
زما قسمت .......................................................... ۳۲۰
زړګیه بیا د چا ..................................................... ۳۲۱
تور اوربل ........................................................... ۳۲۲
د یار تصویر ........................................................ ۳۲۳
ریباره................................................................ ۳۲۴
مینې دې ستې کړم.................................................. ۳۲۵
زما د خوږ زړګي درمانه .......................................... ۳۲۷
ځار دې شم جانانه ................................................ ۳۲۸
په باغ شوې ګډې .................................................. ۳۲۹
نن بیا د یار له لاسه ............................................... ۳۳۰
چاربیتې.............................................................. ۳۳۲
ستا د وروځو په پیوند............................................. ۳۳۳
مرور لالیه........................................................... ۳۳۴

بگټۍ.................................................................................. ۳۳۶
ځان جوړوي ........................................................................... ۳۳۷
ولي مې‌سېزې........................................................................... ۳۳۸
نوې زياتونې............................................................................ ۳۳۹
مقام.................................................................................... ۳۴۰
مقام.................................................................................... ۳۴۰
غزل .................................................................................... ۳۴۱
روح مې... ............................................................................. ۳۴۲
نوی پسرلی ........................................................................... ۳۴۳
غزل .................................................................................... ۳۴۴
خدمتگار .............................................................................. ۳۴۵
ترانه.................................................................................... ۳۴۶
پښتونستانه! ......................................................................... ۳۴۷
داستان ............................................................................... ۳۴۸
خدايه وکړم څه؟..................................................................... ۳۴۹
غزل .................................................................................... ۳۵۰
درد و غم ............................................................................. ۳۵۱
غريب سړی............................................................................ ۳۵۲
غزل .................................................................................... ۳۵۳
مقام.................................................................................... ۳۵۴
يه پښتونه............................................................................. ۳۵۵
بيا يې ... ............................................................................. ۳۵۶

نیم په سیوري ........................................................................ ۳۵۷
خانه ................................................................................... ۳۵۸
پښتونه وګوره! ...................................................................... ۳٦۰
مقام.................................................................................... ۳٦۱
مقام.................................................................................... ۳٦۲
مقام.................................................................................... ۳٦۳
غزل .................................................................................... ۳٦٤
غزل .................................................................................... ۳٦۵
مقام.................................................................................... ۳٦۷
چار بیته ............................................................................... ۳٦۸
غزل .................................................................................... ۳۷۳
غزل .................................................................................... ۳۷٤
غزل .................................................................................... ۳۷۵
غزل .................................................................................... ۳۷۸
لاس په نام.............................................................................. ۳۸۰
کیسه ................................................................................... ۳۸۱
چاربیته ................................................................................ ۳۸۳
مقام.................................................................................... ۳۸۵
غزل .................................................................................... ۳۸٦
مقام.................................................................................... ۳۸۷
غزل .................................................................................... ۳۸۸
صیاده ................................................................................. ۳۸۹

نیمگړی مقام ........................................................................ ۳۹۲
غزل ................................................................................. ۳۹۳
مقام.................................................................................. ۳۹۹
نیمگړی مقام......................................................................... ٤٠٢
مقام.................................................................................. ٤٠٣
نیمگړي شعرونه..................................................................... ٤٠٤

**اکبر کرگر**

## ملنګ جان له کومې لیدتوګې ګورو؟

داسې زماني واټن چې د فکر او عمل له پاره  يکې يو نوی بستر ایجاد شو او په  هغه کې د یو داسې شاعر د زيږون له پاره زمینه برابره شوه  چې د زړې او فلکلوریکې شاعرۍ او د نوې او مدرنې شاعرۍ تر منځ د پله دنده تر سره کړي، دا شاعر ملنګ جان وو.

واقعیت دا دی چې د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د افغانستان په تاریخ او ټولنه کې د سیمه‌ییزو او نړیوالو شرایطو په پام سره یو نوی حرکت پیل شو. سیاسي بېداري زیاته شوه. د ویښ زلمیانو نهضت په پښتنو سیمو کې پراخه شو. د دې په څنګ کې د پاکستان په نوم یو نوی هیواد د افغانستان په ګاونډ کې رامنځ ته شو. دا داسې وخت وو  چې کانګرس هند ازاد کړ. خو د پښتنو حقوق هماغسې نالیدلي پاتې شول. د پښتنو زیات شمېر مشران زندانونو ته ولاړل، بندیان شول، د خدايي خدمتګارو غورځنګ او د پښتون زلمي نهضت وټکول شو.

له دغه سیاسي حرکاتو  سره په موازاتو کې د شاه‌محمود خان ځای محمد داوود خان ونیوه. د پخواني شوروي په مرسته یو لړ پروژې پیل شوې له هغه جملې د ننګرهار د وادې پروژه،  د لویو لارو یا په مجموع کې د لمړي پنځه‌کلن پلان د تطبیق له پاره کار پیل شو. افغانستان په ۱۳۳۴ کال لویه جرګه راوغوښته او په هغه کې يې د پښتونستان اواز پورته کړ او د پخواني شوروي سره يې د دوستۍ تړون وشو.

په همداسې زماني مقطع کې په لړو توپېرونو سره په اولس کې یو خودرویه بوټی یو اولسي شاعر سر راپورته کړ او په پګړۍ يې د شعر عنقا کښېناسته. هغه لومړی د هنرمندانو او سندربولو ملګرو ته د اهنګونو او شعرونو په لیکلو پیل وکړ او بیا چې کله د هغه د شهرت اوازه خپره شوه نو بیا کابل ته ۱۳۳۲ راوغوښتل شو او د راډیو له لارې يې هم شعر خلکو ته ورسید.

ملنګ جان د وخت د غوښتنو د اواز په توګه  مطرح شو. ملنګ جان په معنوي لحاظ د خلکو د ژبې وِرد شو. دا ځکه چې د هغه شعر د پښتنو د آزادۍ، د پښتنوالي، د کار او زیار، د حریت او ملت‌پالنې سندره شوه. کومه ژبه چې ملنګ جان د خپل پیغام له پاره کارولې ده هغه هم په دې حکمت کې ډېره اغېزمنه ده. ملنګ جان د خپل شعر له پاره نوی مضمون وموند. د ژوندانه او د

وخت نوي مضمون ته يې د پښتو په زاړه کلاسيک او فلکوري فورم کې نوې ساه پو کړه. دا هغه څه وو چې اولس پرې ښه پوهېدای شو. او د اولس د ټپې ژبه د ملنګ جان ژبه د خدايي‌خدمتګارو او د پښتنو آزادۍ غوښتونکو ژبه سره يوه شوه.

د ملنګ جان اغېزه په ټولنه کې ځکه ستره شوه چې نوموړي د شعر په خوا کې په پښتو موسيقي هم خپله قابو ټينګه کړه. د دغه اغيزمنې وسيلې په لاس کې اخيستلو سره ملنګ جان د پښتون اولس ذهني او عيني اړتياوې مطرح کړې. د مثال په توګه:

نـفســـونـه شـــول غـالـب - د دې غـمـه ژړېـږم
بې کـاره بې تـعـلـيـمـه راتـه پـاتې خـپـل اولاد شـــو
پښتون غريب برباد شو
ســيـد پـه خپـل ســيـادت - د ځـان غواړي عزت
قســـم دی مـا ونـه‌لـيـد د وطـن د خـير طـالـب
نفسونه شول غالب
څوک ميا او څوک ملا شـول - د کسـب نه ټپرا شـول
وايي کسـب و کمال څه کړم شـکرانو باندې مړېـــــږم
د دې غمه ژړېــــــږم
دا خان نه دی خاين دی - پخپل ځان چې مين دی
هېڅ غم د وطن نه خوري چې يو ځل يې نس اباد شـــو
پښتون غريب برباد شو
که حق وايم وېرېـــــــږم - که نه وايم پړسېـــــــږم
د ځـيـنـو کـارکـنـانـو کـار وي ورُ د تـعـجـب
نفسونه شول غالب
پـه ځـای د عـدالـت - مـا ولـيـد تـجـارت
له غمه شـــم ترور يو نيم مامور نه چې خبرېـــــــــږم
د دې غمه ژړېــــــږم

ملنګ جان په معاصر دوران کې د يوه بل فرهنګي بحث له پاره هم ښه زمينه کيدای شي، او هغه د ملت جوړونې پروسه ده. د ملنګ جان شعر ځينو مفاهيمو ته سراسري او ملي لوری ورکړی دی او هغه د وطن او د هيواد مفهوم دی.

په اولس کې دغه مفاهيم د کلي او سيمې له پاره کارېدل. خو ملنګ جان لکه د يوه ښوونکي په توګه

په دېره او اوجره کې د وطن او هیواد مفهوم مشخص تاریخي او جغرافیایي مفهوم یا د ځمکنۍ بشپړتیا په مفهوم وکاروله. د قومیت درس د هیواد پالنې انګېزې را پارولې، د ترقۍ او پرمختګ له پاره د خلکو هڅول، د زده‌کړې او سواد له پاره د خلکو هڅول، د ظلم او تیري غندنه، د قومي یووالي غوښتنه. دا د هغه نوي‌والي مظاهر او عناصر دي چې د امانیه دور په راتلو سره پیل شول، خو د محافظه کارو ځواکونو په بري او له خنډونو سره د مدرنیزم د مخامخ کېدو په ترڅ کې د ملت جوړېدنې پروسه په ټپه ودریده او یا له زیاتو خنډنو او موانعو سره مخامخ شوه.

پښتنواله د ملنګ جان د شعر بله ځانګړنه ده. پښتنواله د پښتنو د دودیز قانون او کودکس بنسټ دی. د پښتنو سایکالوژي او معنوي کرکتر په دغه مفهوم کې ډېر رابرجسته کېږي . او یا په بل عبارت په همدې مفهوم کې تعریف کېږي. د ملنګ جان په شعر کې دوه پښتوګانې سره مخامخ کېږي. یوه هغه پښتو چې عنعنوي قانون دی او بله هغه پښتو چې د پښتنو ژبه ده. یو ډول رُنسانس ته داخلیږي. په دې کار کې د پښتنو مشرانو په خاص ډول د پاچاخان د غورځو پرزو ونډه د پام وړ ده. دا بهیر د دیورند په خوره وهلي دېوال نه بندېږي بلکې دې خوا غځوني کوي او لمن يې د افغانستان لوري ته راکښل کېږي او د یوه واحد خپلواک ملت د جوړېدو د ظهور اعلامیه ګرزي ... ملنګ جان په دې ستر او عظیم کار کې خپله برخه ادا کوي.

زه نه پوهېږم چې په نورو اولسونو کې به څرنګه وي. خو لویدیزو څېړونکو هم دا خبره منلې ده چې یوه پښتون ته له دې ستره او لویه ښکنځله بله نشته چې ورته وویل شي: «چې مړه ته خو هیڅ پښتون نه یې.» ملنګ‌جان د یوه ساده او بېوزلي افغان په توګه دا سایکولوژي درک کړي وه. ځکه خو کله چې د ملي یووالي او ملي احساس د راپارونې پوښتنه مطرح کېږي، نوموړی په دغه ستر «پېغور» تکیه کوي او خپل پیغام د ویده احساس د راژوندي کولو له پاره د پښتنوالي په پېغور کې نغاړي.

په شعر پوهنه کې دا یو بحث تل خپل ځای لري چې شعر باید شعار نه وي. واقعیت دا دی چې د شعر دندې هر اړخیزې دي. زیاتې دي. شعر نه یوازې د طبعیت د ښکلا د مینې او محبت انعکاس وي بلکې ټولنیز رسالت هم لري. کله چې یو شعر د داسې یوې ټولنیزې معرکې او جګړې تصویر انځوروي چې هم خپله ښکلا ساتي او هم د اوریدونکي په ذهن او زړه حکومت کوي، نو په اورادو بدلیږي. یا دا چې د کوڅې، پولې او پټي، غره او ناو، ورشو او ځنګله ته ووځې او د هر چا په خوله ناڅي. دلته دی چې شعر د خلکو په شعار بدلیږي. موږ د ملنګ جان له مړینې تر اوسه وینو چې د هغه شعر د خلکو د خولې وِرد وو او دی. یوه خبره تداعي کېږي او هغه دا چې کله چې به مو د خوښیو او خوشالیو او یا په کلیوالو سیمو کې په وادونو کې د سندرغاړو له خولو د ملنګ‌جان یوه

چاربیته یا بگټۍ واورېده ارومرو به د ټوپک او تمانچو په ډزو بدرگه کېدله. دا د دې مانا لري چې د ملنګ جان شعر د پښتو ټپې په څېر محبوبیت پیدا کړ. هغه به زیات فلسفي ژورتیا ونه لري، خو د یوه پښتانه له پاره بس ده چې وایي وري او د هغه په تن ویښته را نیغ کړي.

د ملنګ جان د شعر ښکلاییز او استیتیکي اړخ هم ډیر د پام وړ دی. د هغه په ځینو شعرونو کې چې له سیاست او ملي سندرو سره واټن لري، تصویر، ایماژ، خیال او عاطفه په کې خپل اوج ته رسېږي چې ان د معاصرو لوستو شاعرانو له هستونو سره سیالي کوي. د شعر یوه نمونه یې دلته را نقلوو:

مینې دې ستي کړمه راغلې په ایرو
اوس مې په ایرو کې لاس وهه چې باد مې وړینه
ستا د مخ پتنګ یمه
ته به مې نه ګوري په سترګو نه له ډیره کبره ځکه چې ایره یم
هغه رنګ مې نشته خاورو کې سپېره یم
ځان مې نښلولی ستا په چنې پورې
باد به میم (مې هم) یونه‌سي ستا له دروازو
اوس مې په ایرو کې لاس وهه چې باد مې وړینه
ستا د مخ پتنګ یمه

پایله: په پورته څو ټکو کې موږ د ملنګ جان په شعر کومه انتقادي څېړنه نه ده کړې او نه دا هدف وو. خو زما په نظر اوس د دې وخت را رسیدلی دی چې د ملنګ جان په شعر باندې یوه نوې معیاري او ټولنپوهنیزه څېړنه وشي. داسې څېړنه چې ملنګ جان لکه څرنګه چې دی هغه ډول خپل اولس ته وروپېژندل شي. زموږ روایتي څېړنې یوازې د زوکړې له نیټې پیل کېږي او د مرګ په نېټه پای ته رسیږي او د دې په خوا کې د شعرونو په کمیت او فورم باندې خبرې کېږي. سمه به داوي چې اوس یو اکاډیمیکه څېړنه پرې وشي.

اوس چې د محترم قاسم آسمایي او د پرچم د انتشاراتو له خوا د «ملنګ جان خوږې نغمې» د دیجیتال فورمات په بڼه د ملنګ‌جان د شعر مینه والو ته ډالۍ کېږي، د دې زمینه برابره وي چې هغه په پراخه توګه وڅېړل شي او پورتنی هدف ترلاسه شي.

# د ملنګ‌جان ژوند لیک

ملنګ‌جان پر ۱۲۹۳ لمریز کال د ننګرهار د بیسودو په چمیار کلی کې وزېږېد. پلار یې ملک عبدالشکور نومید چې په درې کلنۍ کې ترې یتیم پاتې شو او پوله پټی یې هم د ناوړو دودونو او تربګنیو له کبله له لاسه ورکړ.

آرنوم یې محمدامین و، راوروسته امین جان او په پای کې هم ملنګ‌جان شو. په پنځلس کلنۍ کې یې د خواری مزدوری لپاره له خپلې کورنۍ سره د کامې داربنګ ته کډه وکړه او هملته یې د شعر ژبه وبانده شوه او د ملنګ‌جان په نامه‌یې په خوږو نغمو پیل وکړ. شپږ میاشتې وروسته له کامې څخه بېرته خپل پلرني کلي ته را ستون شو. بیا یې د جلال‌آباد په امنیه او د کونړ په لویه ولسوالۍ کې خپله دوه‌نیم کلنه سرتیري سرته ورسوله او وروسته بیا په خپل کلي کې په مزدورۍ او کرګرۍ بوخت شو.

د شلمو کلونو په سر کې یې لومړۍ ترانه په اتحاد مشرقي (ننګرهار) کې خپره شوه. دا هغه مهال و چې شعرونه او نغمې یې نورې د سندرغاړو خولو ته رسیدلې وې او د پوره نوم خاوند شوی و.

پر ۱۳۲٤ کال د سردار محمدداود له خوا وبامل شو او پر ۱۳۲۹ کال ورته د سردار شاه‌محمود صدراعظم له خوا د کال شپږ سوه مستمري معاش وټاکل شو. پر ۱۳۳۲ کال یې کابل ته را وغوښت او په کابل رادیو کې د پښتو موسیقي منتظم وټاکل شو.

ده او څلور تنو شاګردانو ته د قبایلو په ریاست کې ځای ورکړ شو او د ژوند تر پایه یې همدا دنده پرمخ یوړه چې په ترڅ کې یې ورسره د پښتونستان د یوساعته پروګرام لپاره هم سندرې جوړولې.

د ۱۳۳٤ کال په وروستۍ نیمایي کې د ځینو ستونزو له کبله وزګار کړ شو او دا چې پښتو ټولنې د افتخاری غړي په توګه منلئ و، نو خپل پوره معاش یې ورکاوه. پر ۱۳۲۸ کال ورته سردار محمدداود صدراعظم د لیک لوست لپاره یو ښوونکی وګوماره او له هغه څخه یې په شپږو ورځو کې دومره څه زده کړل چې نور یې خپل شعرونه پخپله لیکلای او لوستلای شول. د مخه یې له قرآن پرته کومه زده کړه نه وه کړې او هر شعر به یې خپل سندرغاړي شاګرد ته په یاد ورزده کاوه.

له بده مرغه مرګ دغه خوږ ژبی ولسي شاعر نور پر پښتنې او افغانې ټولنې ونه لوراوه او د ۱۳۳٦ کال د لړم پر لسمه چې کله له کابله ننګرهار ته له خپلې کورنۍ سره ته، د لته‌بند په کږلیچونو کې

پرې ګاډۍ واوښت او له خپل يوازيني درې کلني زوي(دواجان) سره د مرګ ګورنډۍ ته وغورځېد. جنازه يې ننګرهار ته ولېږدول شوه او د چميار کلي په پلرنۍ هديره کې په ډېر درناوي خاورو ته وسپارل شو. پر مړينه يې ډيرې اوښکې توی شوې او ويرنې پرې وويل شوې.

افغانستان راديو يو ځانګړی پروګرام خپور کړ او په هغه کې د سردار محمدداود پيغام او پښتو او دري خواخوږۍ او ويرنې وړاندې شوې چې وروسته هغه د يوه غونډ په بڼه چاپ او خپور شو. پر افغاني ټولنيزو رسنيو سربېره پرې د پښتونستان اخبارونو هم خپرونې وکړې او د پاچاخان په ګډون ډېرو پښتونستاني مشرانو د خواخوږۍ پيغامونه را واستول.

پر هغه ډبرليک باندې چې پر ۱۳۳۹ کال دپښتو ټولنې له خوا دا رواښاد ملنګ‌جان پر ارام‌ځای ولګول شو، داسی کښل شوي دي:

«بسم‌الله‌الرحمن‌الرحيم»
د محبوب وطن په غېږ کې ارام پروت يم
لکه طفل چې و يده غېږ کې د مورويي

دلته مرحوم ملنګ‌جان خښ (ښخ) دی چې په خوږو نغمو کې يې د وطن مينه او د پښتونستان د آزادی جذبات غورځنګونه وهي.

اصلی نوم يې امين جان و، پلار يې عبدالشکور نوميده. ٤٣ کلو په عمر د موټر چپه کيدو په سبب له خپل زوي دواجان سره په ١٣٣٦ هـ.ش کې ومړ او د ادبي خدمتو په نمانځنه يې دا ډبرين قبر پښتو ټولنې له خوا د کابل حجاری او نجاری په فابريکه کې جوړ شو ١٣٣٩ هـ.ش

**د فقير ملنګ‌جان دغومره بخت بس دی**
**چې آزاد دی، په آزاد وطن کی ګور وی**

# یادښت

ملنګ‌جان او خوږې نغمې سره دوه نه بېلیدونکي ویيونه او جاجونه دي. له «ملنګ‌جان» سره «خوږې نغمې» مانابلون (تداعي) مومي. او له «خوږو نغمو» سره «ملنګ جان» او بیا له دغه یوه نامه سره ډېر بې‌شمېره تلپاتې نومونه او له دغه بل نامه سره ډېر بې کچه تل‌ښېرازې خوږې نغمې.

د بلې هرې بشري ټولنې غوندې د پښتني ټولنې وګړنی (ولسي) یا ګړنی شفاهي (شعر) تر لیکني هغه زیات لرغونی تیر مهال لري، هماغومره لرغونی لکه څومره د پښتو ژبې لرغونوالی اټکل کېدای شي. تر هغه دمخه چې د امېر کروړ له ویاړنې (۱۳۹لېږدي) څخه د پښتو لیکلي شعر تاریخ را پیل کړو، همدومره کلونه ښايې پر ګړني دغه اوښتی وي. که تر کروړ د مخه بله هیڅ کومه لیکنی بیا که پیداهم نه کړو او دا راته یو مخیزه زباته شي چې همدا «ویاړنه» په رښتینه لومړنی لیکلی شعر دی، دا مانا نه‌لري چې تر مخه‌یې هیڅ شعر نه دی ویل شوی.

هو ترمخه به د ملنګ‌جان دخوږو نغمو غوندې ډیرې نغمې او بدلې ویل شوي او لکه بېدیاني ګلونه به منګنیو سیلیو د زمانې له یاده ایستلي وي چې یوازې د ژورو فیلالوژیکي څېړنو اوشننو له مخې کولای شوو، په ډېرو خواریو یې په ځینو ارخاییکو بدلو، لنډیو او پیلو متلونو کې یو نیمزالی څرک هومره ولګوو.

د ننګرهار ګڼمېشته او تل‌سمسوره او له دې سره ادبي، شاعرانه او سندریزه سیمه د تاریخ په اوږدو کې هیڅ کله له شاعرانو څخه بې‌برخې پاتې شوې نه ده. دا به ومنو چې د لیکني ادب او شعر له پلوه به یې تاریخ دومره بډای او لرغونی نه وي، مګر د وګړني او ګړني هغه له مخې ورسره ښايي بله هېڅ پښتني سیمه سیالي ونه شي کړای.

په جوت ډول دلته د لیکني شعر و ادب پیلامه څلورسوه کاله د مخه له درویزه ننګرهاري او بیا فقیرالله حصارکي جلال‌آبادي سره نښلي او اخون موسی بټي کوټی، میاشرف ګردیوال، مرادعلي صاحبزاده، سیدمجدد ننګرهاری، شیراحمد ننګرهاری، بشیرمحمد لغماني یې بیا تر نوي پیړۍ را رسوي. د همدغې پیړۍ له پیله د نومهالې ښوونې روزنې له دودېدنې سره ملا محمدافغاني نویس، عبدالرحیم رحیمي، شیراحمد شیدا، برهان‌الدین کشککی، سیدحسن حسن، محمدګل مومند،

الفت، خادم، رښتین، پژواک، ګلاب ننګرهاری او موسی شفیق ... غوندې لیکوال او شاعران یو په بل پسې د نوي یا په بله وینا د رښتیني لیکني شعر و ادب ډګر ته راوځي او له نړیوال اوسمهالي (معاصر) بهیر سره یې جوګه کوي.

په دغه څلور سوه کلن لیکني پیر کې سره اوږه پر اوږه د لوی ننګرهار په هره دره، ناوه او ان په هر کلی او بانډه کې بېشمېره لوستي او نیملوستي یا په بله وینا ولسي او نیمولسي شاعران پرله پسې او همهال را څرګند شوي او ټولې دیرې او اوجرې یې سندریزې ساتلې دي. مګر له دوی څخه وخت پر وخت یونیم داسې شاعر سر را هسک کړی چې ټوله سیمه یې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستي او ډېر ژر یې په ګرده پښتونخوا کې نوم او انګازه خپاره شوي دي لکه واخلې مېرا، توکل، سید کمال، سید مهربان، سیدباهوجان، خواجه رزق الله، مفتي خان، نورصیب، شریف لالپوروال، زرجان، محمد نور او بیا زموږ دخوږو نغمو ملنګ جان.

دغه نومیالی ولسي او وګړنی شاعر چې له خپل لنډ (۴۳ کلن) عمر څخهیې نژدې ۲۸ کاله د خوږو نغمو زیږندویې ته ځانګړې کړې وو یوه بېسارې ځلانده څېره ده او ښایي تر ډېر کلونو پورې یې نه یوازې په لوی ننګرهار بلکې په سراسري پښتونخوا کې بل داسې شاعر ځای ونه شي نیولای، لکه څنګه یې چې تر مړینې راوروسته په دې څلور دیرشو کلونو کې ټولو ته جوته شوې ده.

ملنګجان لومړنی پښتو ولسي شاعر و چې د وربل او زلفو له موهومې نړۍ څخه یې واقعي نړۍ ته ګام کیښود او په خپلو زړه راکښونکو نغمو کې یې د خپل ولس او ټولنې هیلو او دردونو ته ځای ورکړ، په پښتو ولسي شعر کې دغه ستر اوښتون د همده نامه سره غوټه شو او نورو ته د الهام سرچینه او مخبیلګه شو.

هسې خو ټوله ولسي شاعري د موسیقی یو نه جلاکیدونکی ټوک بلل کېږي، خو ملنګجان له دې پلوه هم یو نوښتګرانه اوښتون ترسره کړ او په خپلو خوږو نغمو سره یې په پښتو موسیقی کې نوي تالونه او طرزونه رامنځته کړل. همدارنګ یې د ولسي نظم ژانرو ته په زړه پورې پراختیا او پرمختیا ورکړه او د نورو ولسي شاعرانو پر مخ یې نوی جولیز او منځپانګیز څنډونه پرانیستل. ان تردې چې ډېر لوست لیک والا شاعران یې تر دغو اغیزو لاندې راغلل او اګاهانه او نیم ناګاهانه لارویان یې شول.

دغه ډله شاعران چې ما په خپل کتاب (پښتو شعر څنګه جوړیږي؟) کې د یو لړ لاسوندو له مخی نیمولسی شاعران بللی، په ډېرو برخو کې تر ملنګجان وروسته دي، نه ورسره په غزل او نورو رومانتیکو شعرو کې سیالی کولای شی او نه په ټولنیزو، ملی او هیوادنیو هغو کې. سره له دې چې په هسی ساټو باټو ترې ځانونه لوړ ګڼي او «یو نیم ولسي نوم هم ځانته شرم بولي، حال دا چې

ملنګ‌جان ته ولسي» شاعر وايي!

دا چې ولی د ملنګ‌جان په شعر کې یوه نیمه ګرامري تېروتنه لیدل کېږي ، ټولوته جوته ده او هغه پارسي ګړدود په ویونکو کې راځي چې د چغتایانو له زمانو څخه د لغمان او جلال‌آباد ښار په شاوخوا سیمو کې د پښتو تر سخت اغیز لاندې یوه «پتوا» یا «کنډي‌باغي» بڼه غوره کړې (دا چې د جلال‌آباد شاوخوا ویونکي يې ځانونه عرب بولي کوم تاریخي لاسوند نشته) او کومه خپلواکه ادبي او فرهنګي لاڅه چې فولکلوریکه ورټیا هم نه لري. له دی کبله يې ټول ادب او فولکلور، ټنګ ټکور او موسیقي هر څه پښتني دي او په دې لړ کې يې هر ولسي، نیم ولسي او ادیب شاعر یوازې پښتو شعر وايي - ترڅو چې يې ادبي پارسي د کتاب یا چاپېریال (لکه کابل) له لارې نه وي زده کړې لکه شیراحمد شیدا جلال‌آبادی چې پر پښتو شعر سربېره په پارسي شعر کې دومره پرمخ تللی و چې د امیر حبیب‌الله په دربار کې د ملک‌الشعرا پوړۍ ته رسیدلی و.

موږ د ملنګ‌جان د خوږو نغمو د تیرو دوو چاپونو غوندې په دی نوي چاپ کې هم د نویو ورزیاتی کړیو شعرنو یو نیمه‌ګرامري تیروتنه سمه کړه که نه وروسته يې د سندرغاړو په خولو کې سمول ناشونی و، لکه په ښیښه د نام و ننګ مې په دیوال ویشتلی دی کې «ښیښه» پر کنډول سمول او داسي نور. د خوږو نغمو په چاپ (۱۳۳۵) کې دغه راز سمونې د ښاغلی بختاني او رښتین له خوا د ملنګ‌جان په اجازه تر سره شوې وې او په دویم چاپ (۱۳۴۸) کې نوموړي اوډونکي (بختاني) یوشمېر نور ورزیات کړي شعرونه هم تر خپلې سمونې تیر کړي وو.

د علامه سید جمال‌الدین افغان فرهنګي ټولنه یوازې په دې نه وياړي چې د خدای بښلي خوږ ژبي او ټول‌منلي ولسي شاعر ملنګ‌جان د خوږو نغمو په دریم چاپ سره د خپل ادبیال او شاعرپال پښتني ولس د کلونو کلونو يې کچې غوښتنې ته د «هو» ځواب وايي او د خپلو خپرونو لومړۍ ګڼه پرې وهي، بلکې زیات ویاړ او ښاخ يې په دې کې دی چې ویې کړای شول، له دویم چاپ (۱۳۴۸) راهیسې څه کم پنځوس لاسته راغلی شعرونه ورسره نور هم ملګري کړي. له دې پلوه د ټولنې د ځوانانو د برخې د پاژوال ښاغلی ازمون نه‌ستړې‌کیدونکې هلې‌ځلې او منډې تړې د ډیرې مننې او ستاینې وړ دي. دا ټکی هم د یادونې وړ دی چې هسې خو د نور ډېر اسماری ملنګ او نورو شاعرانو شعرونه د ملنګ‌جان په نامه را ټول شوي دي. خو موږ هڅه کړې همانغه باوري يې دلته راوړو. همداراز له درانه فرهنګیالي پښتانه لیکوال سرمحقق عبداله بختاني خدمتګار څخه د زړه له کومې مننه او پالنه کوو چې په ورین تندي راته د دغه نوي چاپ اجازه راکړه. په رښتیا هم که د دغه پښتومېن لیکوال هاند او هڅې نه وای او دواړه مخنی چاپونه يې تر موږه نه وای رارسیدلي، دغه دریم بشپړتیايي چاپ يې چې سخته اړتیا او تنده ورته ننګیرل کیده، په هیڅ ډول کیدونی نه و.

په پای کې دا پرځان لوی پور ګڼو چې د ښوونې او روزنې د فرهنګپالې پښتنې وزیرې، درنې معصومې عصمتي، د مطبعې د مشر ښاغلي عبدالرحمن زیارمل او ټولو همکارانو او کارګرانو د مرستو او پیرزوینو مننه او درناوی وکړو. د فرهنګیالي ملې پانګوال ښاغلي محمدعثمان دا پښتني او فرهنګي مرسته هم هیڅکله نه هیروو چې د دغه په زړه پورې شعري غونډ د چاپ لګښت یې په پراخه ټنده پرغاړه واخیست او دغه ستر فرهنګي بری او بریاوېي زمونږ د ځوانې فرهنګي ټولنې په برخه کړل.

په ټوله پښتني مینه
پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار
د علامه سید جمال‌الدین افغان د فرهنګي ټولنې مشر
لیندی، ۱۳۷۰ل

بسم‌الله‌الرحمن‌الرحیم

سردار د دواړو کونو محمد نبي نامدار دی
محبوب د ځان لپاره پیدا کړی کردگار دی
***
سردار د دواړو کونو محمد نبي اکرم
مانا کې آخرین دی پیدا شوی مقدم
پیدا د ده له مخ بيبي حوا بابا آدم
حضرت جبرائیل د ده په مخ کې خدمت گار دی
***
حضرت جبرائیل يې دی په مخ کې منتظر
نبي په براق سپور شو جبرائیل يې شو شاطر
امام د مرسلانو د خدای راز ته شو حاضر
پټ راز يې سره وکړ ورښودلی رب دیدار دی
***
پټ راز يې سره وکړ مشرف شو په لولاک
اتلس کاله شپه وه ویې لیدل واړه افلاک
خالق، د گنهگارو په محشر کې ورکړ واک
واپس راغی حرم ته رسېدلې تر سهار دی
***
واپس راغی حرم ته ترینه څوک نه و خبر
سحر لمونځ يې ادا کړ حضرت کیناست په منبر
احوال يې د معراج وویل یارانو ته یکسر
تصدیق وکړ یارانو چې رښتیا کړی اقرار دی
***
تصدیق وکړ یارانو چې رښتیا يې پیغمبر
محبوب د پاک الله يې هم ساقي يې د کوثر
چې ستا کلمه لولي غم يې نشته په محشر
مجرم زه ملنگ‌جان یم ایسته ستا نبي اختیار دی

# لومړی برخه

# د هېواد مینه، د خپلواکۍ سندرې

# د یووالي پیغام، توره، مېړانه، پښتو

## د آزادۍ قیمت

پـتـنـګ د بلې شــــمعې یـار دی
بـلـبـل د ګـلـو خـریـدار دی
د لیلی دوه ســترګې مجنون پېژني
د آزادی قـیمـت پښـــتون پـېژني
پتنـګ خو مینـه پـه ګلزار نـه‌لري
بلبـل د شـــمعی سره کـار نـه‌لري
پښـــتانه ټیټ چا ته کتلی نه‌شي
د چـا اثـر لانـدې کـیـدلی نـه شي
پښـــتانه ټینګ عزم و همت لري
پخپـل نـاموس بـانـدې غیرت لري
لکه زمري په ځای د ننګ درېــــږي
په ځای د ننګ په وینو رنګ درېـــږي
پښـــتانه بېرته په شـــاتلل نه کوي
که سر یې غوڅ شي دروغ ویل نه کوي
نه د چا زر او نه پیســـو ته ګوري
زوي د پښـتون د پلار پښـتو ته ګوري
پښـــــتون د بـدو نـه بـیزار دی
پـتـنـګ د بـلې شـــمعې یـار دی
پیسه په ښه سترګه قارون پېژني
د آزادۍ قیمت پښـــتون پېژني

پښـــتانه لوړ دي لوړ کارونه کوي
تـل پـیروي دوی د نـیکـونـو کـوي
نـه پـه پیســـو چـا تـه اورمیږ نرموي
نـه د خپـل ګور مړي پـه ګور شرموي
نه سپک حالت، نه بیباکي خوښوي
تـل آزادي او خـپـلـواکي خـوښـــوي
د چا د لاس لاندې ژوندون نه کوي
داسې ژوندون زوي د پښـتون نه کوي
لـه خـپـل حقـه تیریـدلی نـه شي
د غـلامۍ نـوم قـبـلـولی نـه شي
اوس پوهیدلی دی پوهېــږي پښتون
د چـا پـه مکر نـه غولیږي پښـــتون
پښـــــتون د تـورې طـرفـدار دی
پـتـنـګ د بـلې شـــمعې یـار دی
نه د بل چا رسم و قانون پېژني
د آزادۍ قیمت پښـــتون پیژني

د پښـــتون ختـه د غیرت ځنې ده
ډکه له ننګ او شـــجاعت ځنې ده
پښتانه چا ته خپل بدل نه پرېـــږدي
ځان د دنیا مخکې خجل نه پرېـــږدي
د زهرو ګوټ څوک هضمولی نه شي
حق د پښـتون څوک سـتنولی نه شي

په خپل وطن پښــتانه سر ورکوي        د صـورت غوښې په سـنگر ورکوي
د جنگ په لوبه آزموده دی پښــتون        نه کوي څنگ با تجربه دی پښـتون
زموږ پلرو نـه دا اســـاس پـاتې دی        توره او سپر مور ته په لاس پاتې دی
هر يو پښـــتون د بـل نـه جـار دی        پـتنـگ د بلې شـــمعې يـار دی
يو اتفـاق او يو ترون پېژني
د آزادۍ قيمت پښتون پېژني

الهي تـه شې نگهبـان د پښـــتون        نه کړې زوال نوم او نښان د پښتون
همـه د علـم خـاونـدان کړې ربـه        پـه خپـل کرم يې عـالمـان کړې ربـه
گوندي نفاق نه په امان کړې پښـتون        د اتفاق په لور روان کړې پښـــتون
څوک چې پښتون په بده سترگه گوري        د بدۍ مخ دې شي د ده پـه لوري
زه ملنـگ‌جـان يم پـروانـه د وطن        سر مې دی ايښـــــی نذرانه د وطن
خـدايـه لوگی مې کړې پـه لار د وطن        چې عاشـقانو کې شـم شـمار د وطن
ډک مې لـه درده دا گـفـتـار دی        پـتنـگ د بلې شـــمعې يـار دی
د مريض نبض افلاطون پېژني
د آزادۍ قيمت پښـتون پېژني

## سر مې جار ستا له نامه ...

سر مې جار ســتا له نامه پښــتونســتانه ســـتا نوم مې نقش شــوی پــه ځیگر دی
پښــتانه به ژوندون څه کړي بې له تانه هر یو ایښــــی ســتا په مینه مال و سر دی

***

سر مې جار شــه ستا د لوړو لوړو غرو نه لــه غیرتــه چې هر یو جگ تر آســـمان دی
صــدقه شــم ســتا د گرانو پښــتنو نه چې منلی ســـتا خدمت پر ټینگ ایمان دی
دښـــمن کله برې وړی شي لــه هغو نــه کــه هر څو مکر و فریــب کې پهلوان دی
مـېړنـو گـویـا ښـــکاره کـړلـه مـېړانـه
ځکه ســـور بیرغ هر ځای کې لر و بر دی

په هر ځای کې چې اصیل پښتون‌زاده وي خاص‌الخاص پښتونستان له خدایه غواړي
هغـه څوك چې بې غیرت حرامزاده وي ټیټې ســـترگې بــه د بــل لور تــه ولاړ وي
اولاده بــه یې پس لــه مرگــه شرمنده وي د وگـړو د پـېغـور ځـنې بـــــه ژاړي
خپل اولاد ته پیغور نه پرېـــږدي له ځانه
هغه څوك چې د سوچه پښتون پسر دی

نـارینتوب د پښـــتنو طبعي عـادت دی بلې بلې چې رښـــتیـا سره پښــتون وي
دوی لــیـدلی د ازاد ژونــدن لــذت دی مرگ یې بولي چې محکوم د دوی ژوندن وي
څه ناڅه که یې په کور کې عداوت دی خو دښـــمن دپـاره بیـا پــه یو تړون وي
پښـــتون نه دی په شـــا تللی له میدانه
ټول جهان ور ته ښــکاره لکه د لمر دی

چې خپل واك او اقتدار یې د ځان نه وي که نواب وي صـــدقه شـــه ما ملنگ نه
عـاجزۍ کې څـه پروا د انســـان نـه وي خدای دې ما نه کړي عاجز له نام و ننگ نه
چې په مال و سر ایســار په میدان نه وي جار قربان شــه د پښــتون د تورې شرنگ نه
خو زما ملنگ‌جان زړه دی پرې روښـــانه
نن د هر زلمي په لاس د ننگ خنجر دی

## راځئ پښتنو ورونو

راځئ پښـــتو ورونو چې ملي وحـدت تيـار کړو
نـيکـونـو نـه را پـاتې دا وطـن گـل و گـلـزار کـړو
نيکـونـو نـه مـو پـاتې دا زمـوږ د ميـنې کـور دی
خواږه اوبـه ترې اخلو پـه مثـال زموږ د مور دی
د ده ابـادول زمـوږ پـه سر لـکـه يـو پـور دی
پنځه ورځې زحمت په صـــداقت سره روی کار کړو
پنځـه ورځې زحمـت سره محبوب وطن آبـاد کړو
زنځير د مجبورۍ ځنې دا خپـل گردن آزاد کړو
يادېږو پښـــتانه بايد چې خپل همت اثبات کړو
تر څو ســـود و ســـودا بـه د پرديو لـه بـازار کړو
تر څو بـه پـه پيســـو غواړو د خلکو نـه ســـامان
زمـوږه نـاپـوهي پـورې خـنـدا کـړي خـارجـيـان
غيرت او ننگ په کار دی چې يادېـــږو موږ افغان
ملا وتړئ پـه ټينگـه نو راځئ چې يـا چـاريـار کړو
ملا وتړئ په ټينگه چې وروستۍ خلک شول وړاندې
موږ پاتې شـــولو بېرته ټول خندا کوي موږ باندې
پښتون دې رب هېڅکله په ميدان کې نه کړي لاندې
راځئ چې د غمجن ملنگ‌جان خوله باندې اتبار کړو

د زړه پـه صـــداقـت
ښـــکـاره کـړو لـيـاقـت
چې جوړ يې کړو ښه شان
بـو مـوږ يې فـرزنـدان
له پوره خلاص کړو ځان
نـور مـه مـنئ ذلـت
زيـنـت لـره د ځـان
پـه عـلـم او پـه عـرفـان
لــږ وگــورئ جــهــان
دا ډېـر دی خـجـالـت
د غـور پـه نـظـر گـوره
زمـا پښــــتـونـه وروره
چې خلاص شوو له پېغوره
پـه لـوري د خـدمـت
را ټـول شئ عـزيـزانـو
غـيرت وکـړئ زلـمـيـانـو
خـير غـواړئ مـومـنـانـو
کـه وی پـه صـــداقـت

## نارې مې په غوږ واورئ

**نارې مې په غوږ واورئ زه وطن د ستاسو مور یم**
**واره مې غېږ کې لوی کړئ اوس له ما نه بې‌پروا شوئ**
نارې مې په غوږ واورئ زه وطن ستاسو زانګو یم
روزونکې مو د جسم دا زما آب و هوا ده
لږ پام را باندې وکړئ ادیره مو د پلرو یم
د هغو له سرو وینو نه رنګینه مې فضا ده
دا خاوره مې چې ګورئ درست هډوکې د نیکو دي
قبضه د نورو خلکو په ما باندې ناروا ده
**خوشحال او احمدشاه او د شېرشاه او میرویس ګور یم**
**نارې مې په غوږ واورئ زه وطن د ستاسو مور یم**
**زه ستاسو ننګ ناموس یم تاسې ما نه مخ په شا شوئ**
**واره مې غېږ کې لوی کړئ اوس له مانه بې‌پروا شوئ**
زه ستاسو ننګ ناموس یم تاسې مه کوئ غفلت
په ښه ډول ساتلې ومه زه ستاسو نیکونو
ورو ورو مې خواته راغلل په امید مې د قربت
اغیار راته سترګک وهي ته څه شولې پښتونه
یو لاس یې رانه ونیو کش کوي مې هر ساعت
لازم نه ګڼم دا چې مې په مخ وهي لاسونه
**ناموس مې خرابېږي زه د هر پښتون پېغور یم**
**نارې مې په غوږ واورئ زه وطن د ستاسو مور یم**
**په لورې مې ګوابښېږي تاسو مړه او نه تبا شوئ**
**واره مې غېږ کې لوی کړئ له مانه بې پروا شوئ**
په لورې مې ګوابښېږي تاسې ولې نه شرمېږئ
هر کله پښتنو پخپله کونډه ځان وژلی

ما وپېژنئ وګورئ په سترګو مه رنديږئ
زه ملک مو د نيکو يمه هغو يمه ګټلی
د هغې نيکونو اولاده تاسې ياديږئ
چې برېښ يې و د تورې شرق و غربه پورې تللی
**د هغو دښمنان نن راته خاندي سوی سکور يم**
**نارې مې په غوږ واورئ زه وطن د ستاسو مور يم**
**په داسې ځان ځانی سره د خلکو د خندا شوئ**
**واړه مې غيږ کې لوی کړئ اوس له مانه بې پروا شوئ**
په داسې ځانځانی سره دا خپل وطن مو وران کړ
نن ځکه په دنيا کې تېروئ مصيبتونه
کم[1] پورې د عرفان ماميره کله په چشمان کړه
موجود را کې پراته دي رنګارنګ د سرو کانونه
دښمن په چل ويده کړئ او ځانونه يې عالمان کړه
اوس تاسې جنګوي لکه چرګان په خپل منځونه
**نو زه ملنګ‌جان ځکه هر ميدان کې ګډ په شور يم**
**نارې مې په غوږ واورئ زه وطن دا ستاسو مور يم**
**دا ولې د خپل کور په بربادۍ باندې رضا شوئ**
**واړه مې غيږ کې لوی کړئ اوس له ما نه بې پروا شوئ**

[1] کم - که مو

## ټینګ اوسئ زلمیانو

**ټینـګ اوسئ زلمیانو د وطن لـه نـام و ننګـه سره**
**ګورئ هرې خواتـه چې حـالـت د دنیـا نور دی**

***

ټینـګ اوسئ زلمیـانو پخپـل دین او پـه اســلام
تـوره د پښـــتون پـه بـرخـه شـــوې لـه ازلـه
موږ او تـاسې واړه پښـــتـانـه یـاســتو پـه قـام
پام کوئ چې نه شـوو خـــارجــیـــانو ته خجله
ټـول پـه اتـفـاق دښـــمـن نـه واخـلئ انـتـقـام
داغ د دورنــګۍ یــارانــو وبــاسئ لــه دلــه
زیب کوي پښــتون په هر میدان د تورې شرنګ سره
ټینـګ اوسئ زلمیـانو د وطن لـه نـام و ننـګ سره
**خـپلـو کې ګـونـدۍ یـارانو موږ لـره پېغـور دی**
**ګورئ هرې خوا تـه چې حـالـت د دنیـا نور دی**
خـپـلـو کې ګـونـدي یـارانـو مـوږ دپـاره زهـر دی
ځکـه هر طرف مو دښــمنـان دي لکـه غرونـه
موږ لره ګونـدي او بغض هغو سره پـه کـار دی
ولې پـخـپـل کـور بـه مـاتـوو خـپـل مړونـدونـه
وګورئ دنیـا تـه څـه پې رســم څـه روزګـار دی
اخـلې د خـپـل عـلـم نـه رقـم رقـم خـونـدونـه
مـینـه کې ځـانـونـه بـرابـر کـړئ د پـتـنـګ سره
ټینـګ اوسئ زلمیـانو د وطن لـه نـام ننـګ سره
**حق د خپـل وطن زموږ پـه سر لکـه د پور دی**
**ګورئ هرې خواتـه چې حـالـت د دنیـا نور دی**
حق د خپـل وطن پـه ژونـدانـه بـانـدې ادا کړئ

نيک نومونه پريږدئ په دنيا کې تر قيامت
دې شريفې خاورې نه ځانونه خپل فدا کړئ
اوري په ناراســـت سرې هميش د خداى لعنت
توره د غيرت يارانو ټينګه کړئ له څنګ سره
ټينګ اوسئ زلميانو د وطن له نام و ننګ سره
**نوم د ننګ غيرت زموږ په هر طرف کې خور دی**
**ګورئ هرې خواته چې حالت د دنيا نور دی**
نوم د ننګ غيرت زموږ هر طرف ته تللی دی
رب دې دا نېک نوم زموږ بدل نه کړي بل شـــان
وګورئ نن هر دولت ته کوم ځای ته ختلی دی
موږ لکه واړه لاهيڅ خبر نه يو په ځان
زړه مې د شـــيرين وطن په مينه داغېدلی دی
خدايه ته حافظ اوسې د ټول افغانســـتان
سوال د ملنګ‌جان ستا په درګاه درنګ په درنګ سره
ټينګ اوسئ زلميانو د وطن په نام ننګ سره
**دا فرياد په هر ميدان زما په هر يو ورور دی**
**ګورئ هرې خواته چې حالت د دنيا نور دی**

## نن زلمیان د پښتنو تجربه کېږي

نن زلمیان د پښتنو تجربه کېږي    تماشو له يې ولاړ دی ټول جهان
دا يادګار به تر قيامته پاتې کېږي    مېړنيه دا دې وخت دی د ميدان
نن زلميان د پښتنو په جوش راغلي    ګوښې ګوښې لکه مست زمري غورېږي
د همت تورې لاسونو کې نيولي    د پتنګ غوندې په سرو لمبو غورځېږي
سمه غر واړه د ځېږمې خوځېدلي    سين په خس او په خاشاک کله بندېږي
د هر يو وينه رګونو کې ايشېږي
د رڼو تورو به جوړ کاندي باران

يا به ورک د پښتنو نام و نښان شي    يا به جوړ کړي مستقل پښتونستان
ببلول د روح او تن سره ډېر ګران شي    آزادي او پښتانه دي روح او ځان
نه به ځمکې ته کوز ستوري د اسمان شي    نه پښتون به د بل چا شي غلامان
هر همجنس د خپل همجنس سره جوړېږي
چېرته ګل چېرته بلبل چېرته زاغان

پښتانه د خپلې خاورې پتنګان دي    پتنګ نه کوي د شمعې ځنې څنګ
نه وېرېږي له غليمه سربازان دي    خدای ورکړې خزانه د نام و ننګ
په جګړو کې آزموده پهلوانان دي    مخامخ ځي که کوهې وي يا ګړنګ
دوی نامه د ازادۍ نه قربانېږي
دا دستور دی په دنيا کښې د افغان

ای پښتونه پلار نيکه ته دې نظر کړه    دا کړې جنډې پرې چا دې درولي
ته هم نر شه سرومال په دې لار ورکړه    د همت توره دې ټينګه کړه په ولې
احمدشاه بابا کيسونه ځان خبر کړه    دښمنان يې دې تر کومه زغلولي
خو زما ملنګ‌جان سترګې نه غړېږي
اديرې ته کتې نه شم په هيڅ شان

## راځئ پښتنو ورونو

**راځئ پښـتنو ورونو دغه ځای د نام و ننګ دی**
**راغلې نن پر موږ بـانـدې دوره د امتحـان**

راځئ پښـــتنو ورونو د پـاک زړه پـه صـــداقـت
مـلا وتـړئ پـه ټـينـګـه را بـهـر شئ پـه مـيـدان
نور موږ سره ښـــه نه ښــکاري ګوندي او عداوت
د زړونو لارې يو کړئ بس مـه اورئ د شـــيطـان
په خوند يې مه غولېــــږئ زهر به درکړي په شربت
ځانونه به خواره کړي ورونو ســتاسې دښـــمنان
ظاهر کې سپين ميدان او په باطن کې لوی ګړنګ دی
راځئ پښـــتنو ورونو دغـه ځـای د نـام و ننګ دی

**ځانونه اداره کړئ ګنه وبه‌کړئ ارمان**
**راغلې نن په موږ باندې دوره د امتحان**

ځـانـونـه اداره کـړئ د غيرت تـوره پـه مـلا کـړئ
د زړه لـه ســـوزه ووځئ مېـدان تـه پـه اخلاص
نقصـــونه مو همه د خپل کاله سره اصـــلاح کړئ
د خـدای دپـاره ورونو د نـفـاق نـه واخـلئ لاس
د خپـل او د پردي فرق سره وکړئ ځـان دانـا کړئ
ورنـه‌کړئ پښـــتونوالـه پـه پيســـو او پـه لبـاس
نن ســـتا د پلار هډوکو باندې بې‌موجبه جنګ دی
راځئ پښـــتنو ورونو دغـه ځـای د نـام و ننګ دی

**دا مرګ نه دی نو څه دی چې بې برخې شي افغان**
**راغلې نـن پـه موږ بـانـدې دوره د امتحـان**

دا مرگ نه دی نو څه دی چې هندو او سک آزاد شي
پښـــتون لکـه يتيم اوسي د بـل د ســـيوري لانـدې
گـټلی نـوم د پلار او د نيکـه بـه مو بربـاد شي
کـه چيرې د پردو حکم جـاري شي تـاسې بـانـدې
آخر د دوی له خوا به درته پيش شــديد فســاد شي
ماران دي د لستوڼي ځان ته پې مه پرېږدئ در وړاندې
ظاهر دوی پورې کړی پخپل ځان مذهبي رنگ دی
راځئ پښــتنو ورونو دغـه ځـای د نـام و ننـگ دی
**که بيخ ته يې نظر کړو څوک قاديان څوک کرشتان**
**راغـلې نــن پــه مــوږ بـانــدې دوره د امــتـحـان**
د دوی پـه فريبو بـانـدې دوکـه نـه شې پښــتونـه
اولاد بـه دې اســير شي پـه دنيـا کې تر قيـامتـه
پـه دغـه لار نيکو مو خـاورې کړي دي سرونـه
دا خـاوره يې موږ او تـاسې تـه ســپارلې امـانتـه
د پـاک الله پـه در کې هميشـــه کوئ ســوالونـه
چې دغـه امـانـت دی لـه موږ نـه شي خيـانتـه
زمـا ملـنـگ‌جـان زړه د آزادۍ د نـور پـتـنـگ دی
راځی پښــتنو ورونو دغـه ځـای د نـام و ننـگ دی
**پتنگ هله پتنگ شي چې په شـمع وريت کړي ځان**
**راغـلې نــن پــه مــوږ بـانــدې دوره د امــتـحـان**

## پښتون زوي د بابايم

پښـــتون زوي د بـابـايم ولاړ يم پـه ميـدان          مضــــبوطـه مـلاتـړلی
پـه لار د قوميت کې بـه خپل ځان کړمـه قربان          مـا سر پـه لاس نيـولی
***
پـه لار د قوميـت کې يمـه تېر تر مـال و سر          دا رسـم د پښــتون دی
پـه دغـه لار کـه مړ شـــم دغـه مرگ گڼم بهتر          آزاد زموږ ژونـدون دی
تمام پښـــتانه يو دي که په ســمه دي که غر          پـخـوا نـه دا تـړون دی
وطن زموږ ناموس دی په ناموس وژنو خپل ځان          ما ځان په مرگ شـميرلی
***
ما سر په لاس نيولی د خپل قوم نه به يې نثار کړم          د قـام د سر خيرات يم
پـه نم د خپلو وينو بـه دا خپـل وطن گلزار کړم          يـو مـوټی د زکـات يـم
بـدخواه د خپل ملت بـه پـه بلا کې گرفتار کړم          له تندر ځنې زيــات يـم
زمـا پـه نـارينتوب بـانـدې قـايل دی ټول جهـان          اثـبـات تـه رســـيـدلی
***
دا زه هغه پښتون يم چې مې کسب شجاعت دی          ښـــکاره لکـه د لمر يم
شربت د آزادی بـانـدې بـدن زمـا صــحـت دی          په هر ميدان کې بــر يــم
زمـا مقـابلې تـه بيـا د چـا وس او طـاقـت دی          مضـــبوط پولادي غريم
زمـا د تورې برېښ چې چـاليـدلی پـه چشـــمـان          پخپله يې ځـان ســـېزلی
***
هست شوی او لوی شوی يم په دار کې د اسلام          پــه شرعــه بــرابــر يـم
نه ځم د بل قانون پســـــــې نه يم د بل غلام          د پلار نيکه پســــــر يم
آئينه دې مخ تـه ونيســـه لږ ځـان تـه وکړه پام          لـه اصــلـه دې خبر يم
د بل لاس باندې زوړ شــوی غولوي مســلمانان          استـــــــاد مې ستا ليدلی
***

اســـونه نال کېدل چینېدخ ته ودرېده دا خیال　　نال‌بنده ما هم نال که
نال‌بند ورته ویل ته د اســـونو نه یې ســـیال　　کم‌بخته ځان سمبال که
کـه څوک بې‌تجربې وي د چینـېدخې پـه مثـال　　ضرور به ځان پایمال که
آخر به په تبۍ ورله مخ تور کړي ملنگ جان　　دا خوب یې دی لیـدلی

# وتړه ملا په صداقت پښتونه

وتړه ملا په صــــداقت پښــــتونه        ځان تــه پيـدا کړه ليـاقـت پښــــتونـه
لـه خپـل وطن نـه ګلســـتان جوړه کړه        شــــه نـارينـه پښــتونســـتان جوړه کړه

***

وتـړه مـلا د زړه پـه مـيـنـه بـانـدې        مـه کـړه صرفـه پـخپلـه وينـه بـانـدې
د غـلامۍ شرمـنـده ژونـد دې ورك شي        خو د پردۍ په ډودۍ شـخوند دې ورك شي
د آزادۍ عشـــق هـير نـه کـړې ګـوره        د بل پيســو تـه زړه ښــه نـه کړې وروره
د بې ننګۍ نوم بـه دې خـور پـاتې شي        ســـتـا کـړوســـو تـه بـه پېغـور پـاتې شي
پـه فـرېـبـونـو مـه غـولـېږه د چـا        نـه پـه جـلـب کې وځـغـلـېږه د چـا
چې سر ټيټ نه کړې په رشــوت باندې        ســــاخـتـګي مـيـنـه مـحـبـت بـانـدې
دغه دې وخت دی د همت پښـــتونه        ځـان تـه پـيـدا کـړه لـيـاقـت پښـــتـونـه

د رڼـو تـورو پـرې بـاران جـوړ کـړه
شــه نارينه پښــتونســـتان جوړ کړه

پښـــتانه ښـــه ښــکاري له ننګه سره        پـه هـر مـيـدان د تـورې شرنـګـه سره
د تـاريـخـونـو داســـتـانـونـه ګـورئ        هـم د نـيـکـونـو لـوړ کـارونـه ګـورئ
نـيـکـونـو وينې پـرې ښـــنـدلي وروره        د آزادۍ کـيســــــــې ئې ګـټـلي وروره
خرڅ پې نـه کړې پـه پيســو پښــتونـه        بيـا بـه خجـل ګـرځې ترخـو پښـــتونـه
حقوق دې مه پرېــــږده بل چاله وروره        هېره دې نشـــــــــې پښــتنوالـه وروره
چې خــپـل لـوړ نـوم بـدل نـه کـړې        ځـان د دنـيـا مـخـکې خـجـل نـه کـړې
واخله شــمشــير د شــجاعت پښــتونه        ځـان تـه پـيـدا کـړه لـيـاقـت پښــــتـونـه

د وينو رود په ســپين ميدان جوړ کړه
شـــه نارينه پښــتونســـتان جوړ کړه

هـنـد و برمـا، يـهـود آزاد شــــول واړه        د آزادۍ پـه نـعـمـت ښـــاد شــــول واړه
نن د افسـوس په اور سـوزېـــــــږمه زه        نـاامـېـدي راشي ژړېــــــــــــږمـه زه
پښـــتونـه وروره لږ هـمـت وکـړه تـه        ځـای د غـيرت دی نـن غـيرت وکـړه تـه

قوم د سـيالانو سره سـيال کړه وروره　　ځـان پـه وطن بـانـدې لېوال کړه وروره
پښـتونسـتان جوړ کړه پښـتون اوسـېږه　　وطـن لـيـلى تـه يې مـجـنـون اوســېږه
روښـــان دنيـا تـه کړه څراغ د توريې　　د دوښـــمن زړه کې کښـــېږده داغ د توريې
دوښـــمن تـه وښــيـه عبرت پښـــتونـه　　ځـان تـه پيدا کړه لياقـت پښـــتونـه

د توريې بريښ دې په جهان جوړ کړه
شـــه نارينه پښـــتونســـتان جوړ کړه

پـه حـال دې پوه شي سرحـدونـه زموږ　　ټول پښـــتـانـه بـاننـګ قومونـه زموږ
نن درســـت جـهـان دا انتـظـار لـري　　چې پښـــتـانـه څـومـره وقـار لـري
داسې يـادګـار پـه دنيـا پرېږدئ ورونو　　نښـــه د خـپـلې تـوريې کـېږدئ ورونـو
څو د نيکو ښـــه نوم تـازه شي زموږ　　دنــيــا کې ګــډه آوازه شي زمـــوږ
د لـيـلى قـدر د مـجـنـون سره وي　　د آزادۍ قـــدر پښـــتـــون سره وي
چې آزادي پـه څـو آنې خـرڅـوي　　لـکـه چې کـور کې پښـــتـنې خـرڅـوي
تـا سره ښـــايي ډېر غيرت پښـــتونـه　　ځـان تـه پـيـدا کړه لـيـاقـت پښـــتونـه

نوى تـاريخ نوى نښـــان جوړه کړه
شـــه نارينه پښـــتونســـتان جوړ کړه

ټول پښـــتـانـه سره يو ورونـه يو موږ　　ټـول د يـوې ونې ښـــاخـونـه يـو مـوږ
غوښـــه او نوك څوك بېلولى نشـــــي　　زوي د پښـــتون څـوك غـولـولى نـه شي
نـه بـه شي کـانې چيرتـه خـام پـه اوبو　　نه به پښـــتون کړي څوك غلام په دوکو
د زړه پـه مـيـنـه دا ګـفـتـار کـوو　　مـوږه پـه ټـيـنـګـه دا اقـرار کـوو
يوځاى دې وي ژوندون او ژواك د پښتون　　آزاد دې وي اســـلامي خـاك د پښـــتون
قايم دې وي پښـــتونســـتان د پښـــتون　　خدايه خراب کړې دشـــمنان د پښـــتون
د خپلواکۍ جوړ کړه شربـت پښـــتونـه　　ځـانتـه پـيـدا کړه لـيـاقـت پښـــتونـه

پرې سوزي زړه د ملنګجان جوړ کړه
شـــه نارينه پښـــتونســـتان جوړ کړه

# چم په چم گرځم

چم پـه چـم گـرځـم دروېزگـر يـمـه زه     خـدايـه د خور زړګي درمـان لټوم
کـچـکـول پـه غـاړه قـلـنـدر يـمـه زه     آزاد ژونـدون بلـنـد نښـــان لټوم

چم بـه چم گرځم و درېدلی نـه شــم     هر يو پښـــتون ته دا فرياد دی زما
د غـلامۍ نـوم قـبـلـولی نـه شــم     دغـه د خـور زړګي مـراد دی زمـا
د خـپـل وطـن نـه تـېريـدلی نـه شــم     دپلار په وينو رنګ هيواد دی زما
ورباندې تير تر مال و سر يمه
په قوم کې دا رنګه زلميان لټوم

مـومـنـدو ورونـو زړه تـنـګي مـه کـوئ     د اتفـاق نـه واخلئ کـار مومنـدو
بس دی د کـور خـانـه‌جنګي مـه کوئ     دا مور او تاســو ته دی عار مومندو
ځـای د غـيرت دی بې‌نـنګي مـه کـوئ     دنيا کې پرېږدئ لوی يادګار مومندو
ستاسو نيکونو نه خبر يمه زه
تاسو کې هم زه ايمل خان لټوم

د پـيښـــور غـيرت‌نـمـا پښـــتـنـو     ولې ويده ياســتئ غورځنګ وکړئ
لـه پښـــتـنو مـيـنـدو پـيـدا پښـــتـنو     تاسې پردي خدمت نه ځنګ وکړئ
د چـارســـدې پـه حـال آګـاه پښـــتنو     په هغو مړو بانـدې مو ننګ وکړئ
په ستر ګو سرو په نارو سر يمه زه
فخر  افغان خان غفارخان  لټوم

عبدالصمدخان، عطاءالله خان مو څه کړه     په ســپينو ږيرو ســخت کارونه کوي
نور د سرخپوشـــو سرداران موڅـه کړه     نن چې بل څوک ستاسي واکونه کوي
خپل اســلاميت او خپل ايمان مو څه کړه     چې پـه قرآن د توپ وارونـه کوي
افسوس افسوس سوی ځيګر يمه
صديق، عمر، علی، عثمان لټوم

کـه څـوک دعـوا د پښـــتونـوالـه کـوي
راغلی وخـت د امتحـان دی ورونو

نن چې پـه تـاسې خلـک نـاخوالـه کوي
مړی قبرو کې په ســوران دی ورونو

ســـبـا پيغـور بـه خلـک چـا لـه کـوي
دا د وروسـتی نسـل تاوان دی ورونو

د اندیښنې په رنځ ککړ یمه زه
د رنځ دوا زه مــلـنـــګ‌جان لټوم

## زما ځواني ډول کوي

**زما ځواني ډول کوي د پښتونواله سره**
**زه په پښتو او پښتنوالې باندې سر ورکوم**

زمـا يې ختـه لـمده کـړې د غـيرت پـه اوبـو
بې همتي لازمـه نـه ده زمـا لـه شـــانـه سره
د وطن مينـه مې رودلې ده د مور پـه شـــودو
اوس يې خدمت ته يم حاضر له ټينګ ايمانه سره
د غـيرت تـوره مې نـيـولې ده پـه خـپلـو اوږو
د سريـازۍ ميـدان لـه ورم توره لـه ځـانـه سره
روح مې په تن کې اســوده وي اســتقلالـه سره
زمـا ځـواني ډول کـوي د پښــتـونـوالـه سره
**په ژوندانه کې چا ته کله خپل سنګر ورکوم**
**زه په پښتو او پښتونوالې باندې سر ورکوم**

په وينو رنګ وژلی خوښ يم خو غلام به نه شـــم
زمـا ارواح پـه ابـتـدا کې دا مـنـلي نـه دي
زه د وطن دښمن ته هيڅ لاس په سلام به نه شم
زمـا نيکونو هر ګز ټيـټ چـا تـه کتلي نـه دي
خپلو حقوقو د غوښـــتو ځنې ارام بـه نـه شـــم
څو چې د تن وينې مې لانـدې څڅېـدلي نـه دي
مقـابلې تـه يې يم حـاضر لـه سرو مـالـه سره
زمـا ځـواني ډول کـوي د پښــتـونـوالـه سره
**ټولې دنيا ته زه په ټينګ عزم خبر ورکوم**
**زه په پښتو او پښتونوالې باندې سر ورکوم**

توپ طیاره زما همت ته اهمیت نه لري
خلک دغه چې یادوي ما ته خندا راځي
سنگر د نورو زما عزم ته طاقت نه لري
هر یو غلیم مې په نظر لکه گیا راځي
توپ و ټانکونه زما مخې ته قوت نه لري
نه په ټوپکو، ماشینګنو څه پروا راځي
د قربانۍ مېدان له ځم زه په ټکاله سره
زما ځواني ډول کوي د پښتونواله سره

**خپله سینه د ننگ مېدان کې لکه سپر ورکوم**
**زه په پښتو او پښتونوالې باندې سر ورکوم**

تړلې ملا جنگ ته اته ملیون زلمیان لرمه
هر یو زلمی زما د یو لښکر ځواب کوي
د ولس میلیونه شاته نور غم شریکان لرمه
غلیم دې خوار شي چې زما مخ کې د باب کوي
ښه اهل کار، ښه غم خواران او پوه مشران لرمه
هغه به غوره کړم چې دوی راته خطاب کوي
غلیمه کور دې نژدې مه کړه له زواله سره
زما ځواني ډول کوي او پښتو نواله سره

**پر ځای د ډال تیغ د دښمن له خپل ټټر ورکوم**
**زه په پښتو او پښتونوالې باندې سر ورکوم**

که د صورت وینې مې توی شي په خدمت د وطن
دا به دنیا کې یو لوړ نوم او سعادت وي زما
قربان قربان مې دا ځواني شه زر کرت له وطن
خو د وطن دا استقلال دې تر قیامت وي زما
خدایه نصیب مې کړې ښه ښکلې شهادت د وطن
خپلو نیکو ته چې په گور کې مسرت وي زما
زه ملنگ جان په هله سیال شمه له سیاله سره
زما ځواني ډول کوي د پښتونو اله سره

**مبارکي به خپل پردي ته په بستر ورکوم**
**زه په پښتو او پښتونوالې باندې سر ورکوم**

## زما سلام

زما سلام دی په هغوی چې سختي په ځان تېروي
چې د قــام لـپـاره تکلیـفونــه د زنــدان تـېروي

زما سلام دی په همه خدمتګاران د وطن

چې مشقت سره جیلو کې دي بندیان د وطن

دوی خپل سرونه به په ویاړ کړي ټول قربان د وطن

د آزادۍ په مینه، چې جیلخانې ته ځینه، د وطن پت ساتینه

دغه کســـان د خدای په فضـــل به ایمان تېروي
چې د قــام لـپـاره تکلیـفونــه د زنــدان تـېروي

چې د وطن دپاره ډېر غټ تکلیفونه باسي

د آزادۍ په لاره جیل کې زحمتونه باسي

د قام عزت غواړي په خپل ځان تاوانونه باسي

دا لیدران د پښتون، فداکاران د پښتون، خدمت ګاران د پښتون

وروستنی نسل به د دوی ښنګه احسان هېروي؟
چې د قــام لـپـاره تکلیـفونــه د زنــدان تـېروي

ښوك چې خپل ځان بولي پښتون له مرګه نه ډارېږي

لکه د ډمې د پردو پیسو ته نه درېږي

که سرېي لاړ شي آزادۍ ځنې هیڅ نه تیرېږي

که غیرتمن پښتون وي، په زړه دردمن پښتون وي، په قام مین پښتون وي

هغـه نو کلـه د بـل لاس لانـدې ګزران تېروي
چې د قـام لـپـاره تکلـيفـونـه د زنـدان تـېروي

چې قام لپاره تکليفونه د زندان تېروي

د خدای دپاره ورونړو ټول شئ ځانځاني مه کوئ

زړونه مو يوکړئ سره يوشی ناداني مه کوئ

وکړئ پوښتنه د بنديانو ناځواني مه کوئ

خپل لياقت وګټئ، خپل شرافت وګټئ، د قام عزت وګټئ

ترڅو به اوښـــکې له ډير درده ملنګ‌جان تويوي
چې د قـام لـپـاره تکلـيفـونـه د زنـدان تـېروي

## ز پښتون یم

زه پښتون یم زما روح پښتونستان دی
بې له روحه څوك ژوندون نه شي کولی

زما خوښ د آزادۍ نام و نښـــان دی
زه پښتون یم پښتونواله مې خوښېـــــږي
کـه مې سرې وينې پـه دغـه لار توئيږي
هغـه سر چې قوميـت کې خـاورې کېږي
پتنـګ کلـه د ډيوې نـه روی ګردان دی
زمـا تن کې کـه هـډوکي دي کـه غوښې
د وطن نه به يې قربان کړم ګوښې ګوښې
ما کې شـته د پښـتونوالې پوره نښــــې
ابۍ کـړی راتـه غـوړکي دا بـيـان دی
په کوم ځای کې چې پښــتون وي لوبيدلی
کـه ســـل ځلـه وي پـه وينو لمبيـدلی
اکثريـه خلکو پخپلـه ځـان ســـيزلی

اســـارت زمـا ارواح نـه دی مـنـلی
سر و مال د پښـــتونوالي نه خيرات دی
زمـا ويـنې د وطـن د سر زکـات دی
خاورې نه دی ترقيامت پورې حيات دی
په ډير فخر سره يې خپل بدن ســـيزي
دغــه واړه د وطــن آب و دانــه ده
هــر انـدم مې د دې لارې نـزرانـه ده
خـدای راکړې د همت ښـــه خزانه ده
که بې‌ننګ وې پې مې نه دې دربښـــلي
که اول وي که آخر د پښـــتون مال دی
خو بيا هم پښـــتون ګڼلی اســـتقلال دی
چې پښـــتون ورته ښـــودلی توره ډال دی

پښـــتنو ته رب ورکړی کلک ايمان دی
له ميدانه چيرته نـه دی تښــــتيدلی

زه پښتون، د پښتون زوی پښتون نژاد یم
زه د دې خاورې د غبــــــږې پرورده یم
قــربـانی لــره حــاضر او آمــاده یــم

ټول جهـان زه پيژنـدلی چې پښـــتون یم
دغــه خــاوره مې ليلا زه يې مجنون یم
زه مين د خپلواکۍ پـه ښـــه قـانون یم

خو زما ملنګ‌جان دا عهد و پيمان دی
ما خپل ځان پښـتونسـتان ته وربښـلی

## پښتونه پاڅه

پښـــتونـه پـاڅـه خپـل عزت وګټـه ... وتـړه مـلا لـه ټـینـګ ایمـانـه سره
د آزادۍ ســـوچـه نعمـت وګـــــټـه ... ځـان مســـاوي کړه لـه جهـانـه سره

چې آزادي نه وي ژوندون دې نه وي ... هغـه ژونـدون نـه مرګ بهتر ګڼمـه
چې اقتدار نه وي پښـــتون دې نه وي ... بې اقـتـدار لـه مـړو بـتر ګـڼـمـه
چې لیلی نه وي نو مجنون دې نه وي ... په عاشـق بې یـــاره محشـــــر ګڼمه
د لیلی سرې شونډې شربت وګـټه
کېنـه ټولي کې عـاشـــقـانو سره
کندو کچکول واخله ملنګ شـه وروره ... که دې سرې شونډې د آشنا خوښېږي
لکه زمری ته په غورځنګ شـــه وروره ... که معشوقه دې په رښتیا خوښېــــږي
د ځان په وینو کې رنګ رنګ شه وروره ... که سرخرویي دې په دنیا خوښېـــــږي
د خپل وطن زیب و زینت وګټه
بې ډولـه مـه ګرځـه ځوانـانو سره
که پس له مرګ ځخه ژوندون غواړې ... مـدام طـالـب د نـام و ننـګ اوســېږه
کـه اوږد عـمـر د مـجـنـون غـواړې ... پـه آزادۍ پســــــې پتنګ اوســېږه
که په رښـــتیا حق د پښـــتون غواړې ... لکه خوشـــحال توره په څنګ اوســېږه
د قـام آبرو پخپـل همـت وګټـه
هلـه بـه خـان شې د خـانـانو سره
مـال صــــدقـه ګـڼـه لـه سره ځـنې ... سر د ناموس نه کړه قربان پښـــتونه
وباســـه خوند له توري ســـپره ځـنې ... ځان ته پیدا کړه لوړ نښـــان پښـــتونه
غــلامی بــده ده ســـــقـره ځـنې ... جوړ کړه آزاد پښـــتونســـتان پښـــتونه
د ملنګ‌جان د رنځ شربت وګـــټه
وکړه اخلاص د دردمنـدانو سره

## تشخيص مو د رنځ وکړه![1]

**تشـــخيص مو د رنځ وکړه کـه حکيم د امنيـت يې**
**په خير راغلې هوښـــياره امريکا نه ســـتړې مشـــــــې**

تشـــخيص مو د رنځ وکړه موږ ظلمونو يو ځپلي
د زړه غوښې شوې ويلي له چشمانو نم بهېـــرې
که ولاړشې مغلگي ته دېوالـــــونـــــه يې نړيدلي
تر اوســـه يې د زخميانو پرهـارونـه نـه جوړيږي
اتـه ســـاتـه بـمـونـه چـلـگـزي کې وربـدلي
ورکوټي ماشـومان خپلو پلرو پســـې ژړېـــــري
فرياد تـه مي غوږ کېږده که مائل د حقيقت يې
تشـــخيص مو د رنځ وکړه که حکيم د امنيت يې

**که دا حال ستا په قام وي خداى دې نه کا ته به څه شې**
**په خير راغلې هوښـــياره امريکا نه ســـتړې مشـــــــې**

په خپله به خبر يې چارسدې د قتل عـــام نـــــه
تورسري مـاشـــومـان لکـه چنچڼې قتلېـدل
دا کومه گناه شوې وه د دغه مظلوم قام نـــــه
لښـــتي د دوی د وينو هر طرف تـه بهېـدل
گـولۍ تېر و بېر وتې وې د پـاك الله کلام نـه
تـور سرو قـرآنـونـه بـه نـيـول دوی نـه منـل
گناه يې ورته دا ښـــوه چې طالـب د شريعت يې
تشـــخيص مو د رنځ وکړه که حکيم دا منيت يې

**د تن غوښې لاڅـه چې هـﻫ او پلې زمـا اوبـه شـــوې**
**په خير راغلې هوښـــياره امريکا نه ســـتړې مشـــــــې**

[1] کوم وخت چې د شرق د سفر په ضمن کې ښاغلی نکسن د امريکې د جمهور رئيس مرستيال اوسنی (جمهور رئيس) په ۱۳۳۲ هـ.ش کال کې افغانستان ته راغلی دا شعر هغه وخت جوړ شوی دی او په کابل راډيو کې ويل شوی دی

که نوم د آزادۍ اخلم زندان ته لېږل کېـــــــږم
خانان او ملکان مې د ې نه خلاصـــېــــــــږي
ظالم له لاســـه هر کله په وینو کې لمبېـــــــــږم
زما په مظلومۍ خاطر د هیچا نه رحمېـــــــږي
پښتون یم مسلمان یم غلامۍ باندې شرمېــــــږم
د عـدل پـه دنیـا کې د غـه څـه را بـانـدې کېږي
ته هر بندي مې وپوښته چې بند په څه علت یې؟
تشـــخیص مو د رنځ وکړه که حکیم د امنیت یې
**د غم ســـندرې وایم د زړه غوښې مې ورســـتې شـــوې**
**په خیر راغلې هوښـــیاره امریکا نه ســـتړې مشـــــــې**
په خپله ته منصف شه زه بشـــر یمه که نه یم؟
که زه چیري بشـــریم نو حقوق دي زما چیرې؟
پـه دغـه شـــلم قرن در پـه در یمـه کـه نـه یم؟
دا ولې نـاکردې چې پـه مـا کېږي ډیرې ډیرې
اتیا لکه پښـــتون په ســـمه غریمه که نه یم؟
طالب زه د خپل حق یم وابه نه وړمه هېڅ چېرې
ژړېــــــړه ملنگ جانه چه ملنگ د حریت یې
تشـــخیص مې د رنځ وکړه که حکیم د امنیت یې
دردمند سړی بیخود وي په وینا مې خپه نه شې
**په خیر راغلې هـــــوښـــیاره امریکا نه ســـتړې مشـــــــې**
**په خیر راغلې هوښـــیاره امریکا نه ســـتړې مشـــــــې**

# نن جوړ ملي اختر دی

نن جوړ ملي اختر دی خو زما په برخه غم دی
اختـه د ځـان پـه وير يم
دا ځمکه رنګينه شوه جوړ په ما باندې ماتم دی
صــياد پـه دام کې ګير يم
***

نن جوړ ملي اختر دی خلک خاندي زه ژړېـــږم
ژړا مې نـه ودرېـــــــــږي
د خپلې آزادۍ نيلي ديدن پســـې کړېـــږم
په مخ مې رود بهېـــــږي
بې‌رحمه زمانه شوه خپل مراد ته نه رسېـــږم
فرياد مې ځکه خبـــــږي
په ما باندې جوړ کړی زورګيرانو لوی ســتم دی
په شـــته جايداد فقير يم
***

نن جوړ دی ښه محفل او ښه سرود د سروديانو
هيڅ نـــــه اورم په غوږونو
بې‌غم دي ورته ناســت د روغو زړونو خاوندانو
دا وخـت دی د خونـدونو
زما کله هېرېــــــــږي آه زګيروي د ماشــومانو
چې مـړه دي پـه بـمـونـو
ښــه ياد مې چارســدې د قتل عام هغه رقم دی
دا ځـکـه زه دلـګـير يـم
***

نن ګورم ناســت کرســو کې خانان خپل او ملکان
پـه کـوکـو کـوکـو ژاړم
بشــــره راته په ياد شـوه د قاضي عطاالله خان
لـه چـا نـه يې وغـواړم؟
د چا له ظلمه مړ شـــو لاړ د څه شي په ارمان؟
پـه دې فـکـر کې لاړم
پـه تيغ د ظـالمـانو مې ځيګر قلم قلم دی
لــه درده هـوا ګـيريـم
***

ای خلکه نو په ما کم‌بخت به هغه ورځ اختر وي
چې واک مې د خپل ځان شي
د اتـو مـلـيـونـو ورونـو اتـحـاد مې بـرابـر وي
آزاد پښـــتونســـتان شي
زمـا مــخــالــفـين دې در پــه در وي
هـم دغـه مې ارمـان شي
غمجن زه ملنګ‌جان يم تل په برخه مې ماتم دی
هـمـيش پـه زړه زهـير يـم

# اختر د خوشالۍ

اختر د خوشـالۍ دی خلک خاندي زه ژړېـــــــږم
ګداز مې د زړه زيات شـو لکه شـمع ويلې کېـــــــږم
اختر د خوشــــالۍ دی خلـک ګرځي پـه مېلو کې
زه ځم چې خرڅې يوســـمه بنديـانو لـه جېلو کې
بل خو راته زخميان پراته خيشـــته دي په خولو کې
تر څو به د ظالم له لاسـه زه په اور سـوزېــــــږم
دنيا کې ماشـومان نن چې وربښـمين لباس دربر دي
جامې په وينو رنګ مخکې پراتـه د خپل پدر دي
کـورونـه يې پـه بـمـونـو نـړېـدلي در پـه در دي
په چا وکړم عرضــونه چا ته مخکې ودرېــــــــږم
که سل ځله اختر شي خو په ما کم‌بخت تور تم دی
اخـتـر د نـازولـو دی زمـا پـه بـرخـه غـم دی
ظـاهر تـه مې مـه ګوره پټ مې زړه قلم قلم دی
په دغومره لوی قوم کې زه وېښته نه ځوړندېــــږم
پښـــتونـه خـدای دپـاره د اتـه ميليونـه کور يې
نفاق له لاسـه ورك يې هســـــې نه چې ته کمزور يې
د لوړ همت خاوند وې نن پردو پيســـو ته ګوري
له دردە ناطاقت شـوم ځکه کلك درته غږېـــــــږم
ای خلکه نو په ما کم‌بخت به هغه ورځ اختر وي
د اتـه مـيـلـيـونـو ورونـو اتـحـاد مې بـرابـر وي
زمـا د اســـتقلال مخـالفين دې در پـه در وي
نو زه ملنګ‌جان ځکه هر ميدان کې تل چغېـــــږم

پـه ويـر يـمـه د ځـان خـپـل
يادېـــــــــــږي مې بنديان خپل
زمــا قـــادره خـــدايـــه
کـه يې وويـنـم لـه ورايـه
لـه دردە پـه هـای هـايـه
پـه چـا وکـړم ګـريـان خـپـل
زمــا مـــاشـــومـــان ژاړي
حـــيران ورتـــه ولاړي
دا ځـکـه چې حـق غـواړي
چې څيرې کړم ګرېوان خـپـل
دا ځـکـه چې پښـــتون يـم
دوهـم ثـاني مـجـنـون يـم
خپـل قوم نـه جګرخون يم
دي چرتـه مې خـانـان خـپـل
ترڅو بـه نـه پوهېـــــــــږي
دا ولې نـه شرمېــــــــــږي؟
دا ځـــکـــه وژل کـــيږي؟
تــه سر کـړه پـه ګرېوان خپـل
چې خلاص مې خپل بنديان شي
آزاد پښـــتـونســـتـان شي
هــمــدغـه مې ارمـان شي
يادېـــــــږي مې زلميان خپل

## موسم د پسرلي دی

موسم د پســـرلي دی ولې زه پرې نه پوهېــــږم
ســتم د زمانې له لاســه ورځ په ورځ زېږېـــــږم
پـرمـا بـاد طـوفـان دی
پـه بـرخـه مې خـزان دی
***

موسـم د پســـرلي دی په وطن بوی د جنت دی
بې درد به ځي مېلو ته په دردمندو جوړ قيامت دی
خندل د هغه مشـــــره سره څه مناســب دی
ګلان ټول په خندا دی زه له ډېر غمه ژړېـــــږم
خوړ زړه چې په کلار وي
چې ما غونډې بيمار وي
چې قـام يې خوار زار وي
پـه مخ مې رود روان دی
***

نن جوړ دي پـه ګلشــن کې سرودونـه د توتيـانو
زمـا لـه غوږه نـه وځي ځګېروي د مـاشــومـانو
پـه چـا وژاړم خـدايـه چې زمـا پـه عـزيـزانـو
خالقه دې دنيا عدل و انصـاف ته حيرانېـــــږم
مـوســـم دی د ګـلـونـو
چې مـړه دي پـه بـمـونـو
اور بـل دی د ظـلـمـونـو
دا څـرنـګـه جـهـان دی
***

نه عدل نه انصاف شته دا د مخې د سيســي دي
نه ښه شته نه ښهوالی خو د ښو خلکو پيښې دي
ظـاهـر کې سر قنـدونـه منځ يې وګورئ نخرې
ښــه واوره رياکاره په فرېب دې نه غولېــــږم
مظلوم دپـاره چـل دی
چې ښـــه يې بولې غل دی
پټ زهر ښکاره عسل دی
په مخ کې دې شيطان دی
***

راپـورتـه نبـاتـاتـو کړل لـه خـاورو نـه سرونـه
پر مـا د اســتعمـار پراتـه د واورو انبـارونـه
زمـا د ژونـدانـه باغچـه کې نـه نيســـــي ګلونه
غمجن زه ملنګ‌جان يم له غمو سره لوبېــــږم
د ښـه ژوند سـلسـله ده
هم هاغســـــې څله ده
را پېښـــه کشـــالـه ده
هـمـدغـه مې ګـذران دی

## په افسوس افسوس ...

په افسوس افسوس مې دواړه سترګې سرې شوې
چې نظر مې شـــو روزګار د دې دنیا ته
له ډېر غمه مې په مخ اوښـــکې خورې شـــوې
خدایه ما پښـــتانه ټول ســـپارلي تا ته
د افســـوس نـارې وهـم پـه زوره زوره
پښتانه په خوب ویده دي نه پاڅېـــږي
زوی د پـلار پـه لاره نـه ځي ورور د وروره
هر سړی د ځان په ګټه خوشحالېـــږي
حـقـیـقـت کې یـو پـیـدا لـه یـوې مـوره
دا وطن دی زموږ مور که ځوك پوهېږي
د دې حق موږ نه تلف خاورې ایرې شوې
ځکه لاس د محتاجۍ نیســـو بل چاته
ای پښـــتونـه دې دنـیـا تـه لـږ نـظـر کـړه
د مرغانو په شـــان ګرځې په آســـمان
تـه هم نر شـــه سرومـال پـه دې لار ورکړه
نـارینـه شـــه هر ځـای وګټـه میـدان
د شـــیرشـــاه او د میرویس نه ځان خبر کړه
تـاریخ بېرتـه کړه او وګوره داســـتـان
پلار ګټلي زوی ته ټوکې مســـخرې شـــوې
دا مـتـل اســـتـعـمـالـېږي مـا و تـاتـه
پـه دنـیـا د پښـــتـنـو ځـومـره لـوړ نـوم ؤ
چې روان وو د یــووالي پـه یــو لار
پـه هـر ځـای یې د بـرې بـیرغ مـعـلـوم ؤ
احمدشاه‌بابا دې پرېښـــی لوی یادګار
چې بـه دوی پـه کـوم طـرف وړی هـجـوم ؤ
دښـــمنان یې وو تر پښـــو لاندې تارتار
نن مې ځله د خپل ځان برخې سپېرې شوې
زموږ سترګې د امید دي هـــرې خـــواتـــه
موجوده پښـــتـانـه ولې نـه شرمېـــــــږي
چې یې پرېښـــوه د نیکونو ســـمـه لار
د دې ژوند نه په مرګ ولې نه خوښـېـــــږي
چې د بل د لاس جوټه خوري لکه زار
چې د بل پیسـو ته لاس نیســـي ودرېـــــږي
په هغه پښـــتون لعنت شـــه هزار بار
خو زما ملنګ‌جان برخه دا ســـورې شـــوې
که د خوږ زړګي ملهم راکړي خدای ماته

## د زړه افسوس

نن زړګی مې د افسوس په اور سوځېــــــږي
چې ګيدړ کوي زمري باندې ګواښـــونه
د کارغه ســترګې د بازه نه شرمېــــــــږي
په همت سره راپورته شـــه پښـــتونه
نــن زړګی زمـا د دې غـمـه کـبـاب دی
چې سرحـد د پښـــتـنـو پې کړ بمبـار
دا په کوم دين و مذهب په کوم کتاب دی
بې ګنـاه مرګونـه وشـــول وار پـه وار
دا پښـــتون ولی بې غم تللی په خواب دی
نن پـه يو ســبا پـه بـل دی دغـه کـار
ظالمان د خپله ظلمه نه درېــــږی
چې تر څو ورباندې تاو نه شی غوړونه

پښـــتـنـو ورېـو راځئ ځـای د غـيـرت دی
مـلا مـو وتـړئ کـار واخـلـئ لـه يـووالي
بـاقي ژونـد زمـوږ دنـيـا کې خجـالـت دی
چې پردی پـه پښـــتنو کوي نـاخوالې
غـم او درد زمـوږ شريـک دی تر قيـامتـه
خدای دې نه راوړي پښـــتون کې جداوالی
پښتانه سره ټول يو وجود يادېــــږي
په هنر مو غوڅوي خلک اندامونه

پـه فـريـب د فـريـبـکـارو مـه غـولـېږئ
زمـانـه کې دي ډېـر شـــوي غـداران
د پردي جغ لانـدې ټـيـټ سر مـه ځغلېږئ
يا خو نوم د پښتون مه پرېـــږدئ په ځان
حيـا وکړئ خـدای رســـول نـه وشرمېږئ
خـدای لـېږلی شريـعـت دی هـم قـرآن
چې قـانون د بيګانـه بـانـدی چلېږي
غواړي ورکړي پښـــتنو له رشـــوتونه

پښـــتنو تـه رب ورکړئ لوړ همـت دی
پـه ميدان کی چا تـه ټيټ نـه شي کتلی
سربـاز ي لـوړ هـمـتي زمـوږ عـادت دی
دا تعليم موږ پـه طفلی کی دی مونـدلی
چې دي خاوري ته چا سپك کړی نسبت دی
ســور پـه و ينو لـه ميدانه تښـــتيدلی
هر پښتون لکه خوني زمری غوړېـــږي
نـه غـوليږي د مکـارو پـه مکرونـه

چې لوی شـــوی وي د بـل پـه نوکرۍ کې　　　د پښـــتون سره دې نـه ســـموي ځـان
چې تر اوســـه ئې موږ شـــکي بو په پیرۍ کې　　　دوی خو ګرځي ځان ته نیســــي مریدان
عـاقبـت بـه ګـرفتـار شي پـه خـوارۍ کې　　　پښـــتانه به ور معلوم کړي خپل ایمان

خو زما ملنګ‌جان زړه کې نه ځائېږي
چې کـارغـه اخلي د زرکې قـدمونـه

# د افسوس اوښکې مې ځي

د افسوس اوښکې مې ځي لکه رودونه    دم په دم مې د خولې خېژي فريادونه
چې ميراث د پلار نيکه مې لاندې کېږي    ظالمان زما په حق نه قانع کېږي
د افسوس اوښکې مې ځي لکه باران    په ژوندون مې ميراث بولي دوښمنان
په حساب سره زه اته مليونه کور يم    هسې نه چه په دنيا کې زه کمزور يم
مګر دا چې غوره کړی مې دی صبر    نه ظالم يم نه په چا کومه جبر
عاقبت به مې د صبر کنډول مات شي    په دنيا به بيا بل اور د پسات شي
زه طالب د خپل حقوق او استقلال يم    آزادۍ په نامه تېر تر سر و مال يم
يا به خاورې په دې لار کې خپل زلميان کړم    يا به جوړ په خپل همت پښتونستان کړم
ظالمانو کړم بېزار زه له ژوندونه    د افسوس اوښکې مې ځي لکه رودونه

سپک وضعيت د پښتانه کله خوشېږي؟
ظالمان زما په حق نه قانع کېږي

زه لوی شوی يم آزاد آزادو غرو کې    آزادۍ مې ځای نيولی په مغزو کې
څوځو ځله په دنيا کې تجربه يم    امتحان مې دی ورکړی آزموده يم
هغه چا چې زما توره ده ليدلې    د ناکامه يې پخپله ځان سېزلی
بيا به هم ورکړم دنيا ته امتحان    خدای را کړي د زمرو په شان زلميان
ما په خوارو سترګو مه ګوره دښمنه    خپل عيبونو ته نظر وکه عيبجنه
تا سره که طلسمونه د فرنګ دي    ما سره هم خزانې د نام و ننګ دي
ما رد کړی د ګرزونو ګوزارونه    د افسوس اوښکې مې ځي لکه رودونه

پخه خښته په باران کله رژېږي
ظالمان زما په حق نه قانع کېږي

زه پښتون يم پښتنې يم زيږولی    د پښتو په کار و بار يم پوهيدلی
ما ته شوی په طفلۍ کې دا وصيت دی    پلار نيکه را ته تېر کړی حقيقت دی
له خيبره تر اټکه مې وطن دی    وطن څه چې خاص زما د پلار مسکن دی
يا به دا وي چې به وينه پرې توده کړم    يا به ځای د پلار نيکه په فرموده کړم

یا به سر و مال په دغه لار خیرات کړم یا وطن د پلار نیکه به مې آزاد کرم
زه خو نه شم باداري د چا منلی نه قیامت کې شم نیکونو ته کتلی
دا چې کېږي پښتنو باندې ظلمونه د افسوس اوښکې مې ځي لکه رودونه
دا نو کله زمونږ زړونو کې ځائېږي
ظالمان زما په حق نه قانع کېږي

حال احوال د چارسدې چې را برسېر شو کربلا او یزید دواړه را نه هېر شو
خدایه دا څنگه اسلام څنگه امت دی ماشومان تور سرې وژني دا حالت دی
هغه څوك چې په رښتیا د پښتون زوی وي او رښتیا د پښتنې په غېږ کې لوی وي
خوب خندا به کړي په ځان باندې حرام څو وانخلي د غلیم نه انتقام
خو زما ملنگ‌جان دا سوې مسرې دي مسرې څه چې ټول د غم سوې نارې دي
حقیقت کې نه چاربیته نه غزل دی محض غم د خپل وطن راسره مل دی
دغه غم مې په زړگي ایښي داغونه د افسوس اوښکې مې ځي لکه رودونه
په ملهم د خپلواکۍ به ورغېږي
ظالمان زما په حق نه قانع کېږي

# ژړېږم لکه شمع

ژړېـــــــږم لکه شـمع د ډېر درده ګډ په شـور يم
د غـم څـپېړې خـورمـه
ګيلـه وکړم د چـا نـه زخمي کړی زه خپـل ورور يم
خپل ورور د لاســه مرمه
***
ژړېږم لکه شمع په ژړا مې لـــــونـــــد ګرېوان دی
څوک غوږ نه نيسي ما له
هردم مې پـه کـالـه کې جوړ د سرو وينو بـاران دی
فـريـاد وکـړمـه چـا لـه
که حق غواړم مجرم يم سمدستي مې ځای زندان دی
حيران يم دې دنيـا لـه
خپل ځان راتـه معلوم شـــو ازلي په برخـه تور يم
راحـت نـه پـېژنـمـه
***
نن هر يو قام آزاد شـــو همدا زه کم‌بخت اســير يم
ژړا راځي ژړېـــــږم
هيڅ زور کولی نـه شـــم تړل شـــوی په ځنځير يم
شـپه ورځ په کې کړېـــږم
خپل ورور په ما ظالم شـو استعمار په دام کې ګير يم
مرغۍ غونډې پړکېـــــږم
جايداد او ملک زما دی هســـې نه چې خيرات خوريم
خپل حق که پرېـــږدمه
***
د خـدای دپـاره وروڼو يو د بـل پـه حـال نظر کړئ
نـور پـرېـږدئ عـداوت
پـه کـور کې اتـفـاق او اتـحـاد مـو بـرابـر کـړئ
ښــکاره کړئ صــداقت
ځـانـونـه د دنـيـا نـورو قـامـونـو نـه خـبر کـړئ
نـور مـه مـنئ ذلـت
نفاق تکه تکه کړم هســــــې نه چې زه کمزور يم
د غم شـــپې تېرومـــــه
***
ملا وتړه پـه ټينګـه پـه اخلاص سره شـــه پورتـه
زمری شــه مه وېرېـــږه
لاسـونه د حاجت مه نيسـه ته د بل چا لـــور تـــه
پـه دې راز وپـوهـېږه
د بل د لاس جوته پښــتونه مه راوړه خپل کور ته
پـېـغـور نـه وشرمـېږه
چې زه ملنګ‌جان ســوی هميشـــه دغه پېغور يم
اوس قـام پرې خبرومـه

## عجب محفل دی ...[1]

عجب محفل دی را ټول شـــوي عزیزان پکې
ښنگه به ښه وای خو چه وای فخر افغان پکې
***
عجب محفل دی پښـــتنو پکې گډون کړی دی
د اتفـاق او اتحـاد دوی ښـــه ترون کړی دی
لـه بیگانـه و په رښـــتیا سره بیلتون کړی دی
راغلئ په خیر زلمیانو، د لوړو غرو زمریانو، د پښتنو خانانو
هم خـوشـــحـالي ده هم زړگی زمـا دی وران پکې
ښنگـه بـه ښـــه وای خو چې وای فخر افغـان پکې
خانانو تاســو چې راتلئ خان غفارخان مو څه کړ؟
ستاسو ملگری هغه کلک خان صمدخان موڅه کړ؟
دلته خو نشــته دی د خلکو اجمل خان مو څه کړ؟
تاسو نه یې غواړمه زه، په کوکو ژاړمه زه، فکر کې لاړمه زه
بندیان به نه وای که ژوندی وای خوشحال‌خان پکې
ښنگـه بـه ښـــه وای خو چې وای فخرافغـان پکې
نن هره خوا په جم و جوش چې خپل زلمیان وینمه
سره بـیرغـونـه رنـگـینـه لـکـه گلان ویـنـمـه
عطاءالله‌خان مې یاد شو، امیرمحمدخان مې یاد شو، عجب‌نورخان مې یاد شو
ځئ چارسدې ته چې ژړیږي ماشومان پکې
ښنگه به ښه وای خو چې وای فخر افغان پکې
نن خوشحالي وکړم که غم کې د افغان وژاړم

[1] د ۱۳۳۲ کال د پښتونستان په ورځ ویل شوی دئ

په مظلومۍ زه د محکوم پښتونستان وژاړم
یا گرېوان څیرې کړم هر چاته په میدان وژاړم

پاڅه اوچت پښتونه، دېر په هیبت پښتونه، په ټینگ همت پښتونه
وطن خو ســـتا دی څلـه اوسي اجنبیـان پکې
څنگه به ښـــه وای خو چه وای فخر افغان پکې
پښتونه ستا شهیدان ټول په سترگو سرو ژړېږي
چې سرداران دې د پولادو په پنجرو کړېــــــږي
ستاسو نو څه رنگه دا سترگې په د نیا غړېـــږي؟
ننگ و غیرت پیدا کړئ، ښه لیاقت پیدا کړئ، ملی وحدت پیدا کړئ
گلشن تیار کړئ چې خوښ گرځي ملنگ‌جان پکې
څنگه به ښه وای خو چې وای فخر افغان پکې[1]

[1] د ۱۳۳۲ کال د پښتونستان په ورځ ویل شوی دی

## خاونده روغ کړې ته!

خاونده روغ کړې ته زموږ دغه نیمګړی اختر
چې لر او بر پښــتـانـه ټول پکې ګـډون وکړي

هغـه محکم ورونـه زمـا راتـه آزاد کړې ربـه! د استعمار کورونه مرګ باندې برباد کړې ربه!
نااميد زړونه یې په خپل کرم ته ښــاد کړې ربه! د اســارت دا ځنځیرونه ترې نه مات کړې ربه
دغـه اختر کړې پـه تـمـام پښــتـنو یو برابر خاونده روغ کړې ته زموږ دغه نیمګړی اختر
چې د خوښۍ او خوشالۍ ژوندون پښتون وکړي
چې لر او بر پښــتانه ټول په کې ګډون وکړي

خاونده ســتا لوېي خدايۍ نه لوی احســان غواړم جنت به ګورو خو اول پښــتونســتان غواړم
خپـل دې پرېوتي کـام دپـاره لوړ نښــــان غواړم ملي آرزو تـه رســـیدل د پـاچـا خـان غواړم
کړې په ښـادۍ راته بدل د چارسـدې شـور و شر خاونده روغ کړې ته زموږ دغه نیمګړی اختر
عزيزان پوه کړې چې په ټینګه خپل ترون وکړي
چې لر او بر پښــتانه ټول په کې ګډون وکړي

خـاونـده دا زموږ کمکی اختر تـه لوی اختر کړې دانه دانه پښــتانه غونډ سره په یوه ټغر کړې
خيال د نفـاق زموږ مغزو ځنې په خیر بهر کړې د آزادۍ هوا پیدا د هر پښــتون په سر کړې
نور لیدی نشــم غیر حاکم زه د پښــتون په ټبر خاونده روغ کړې ته زموږ دغه نیمګړی اختر
کام مې آزاد کړې چې پخپل خوښــه ژوندون وکړي
چې لر او بر پښــتـانـه ټول پـه کې ګـډون وکړي

خـاونـده هلـه بـه دا تـاو د زړګي ســوړ شي زمـا چې دغه جشـن پېښـور په ښـار کې جوړ شي زما
هر یو پښــتون د آزادۍ په نعمت موړ شي زما د استقلال په مزه پوه هر ځوان او زوړ شي زما
چې شــاګردانو سره ورشــم لاس په لاس یو چکر خاونده روغ کړې ته زموږ دغه نیمګړی اختر
هله به خوند د ملنګجان شعر و مضمون وکړي
چې لر او بر پښــتـانـه ټول پکې ګـډون وکړي

## زه چې نازولی وم ...

زه چــه نــازولی وم نــو بـل څــوك نــازولی ؤ؟
نــن مې انــنـګی د بـل څــپـېړو تـه نـیـولی دی
زه هغـه پښــتون یم چې هر چـا مې احترام کـاوه
ولې نــن اغـیـار راتــه پــه بـدوســـترګـو ګـوري
دېو د کوه‌قـاف مې د ګوزاره څنې ســـام کـاوه
ولې نـن اغـیـار راتـه پـه بـدو ســـترګـو ګـوري
څوك ؤ چې زمـا د وطن لور تـه بـه یې ګام کاوه
ولې نـن اغـیـار راتـه پـه بـدو ســـترګـو ګـوري
هر غلیم مې شـــل ځلې مـیـدان کې زغلولی ؤ
زه چی نــازولی وم نــو بـل څـوك نــازولی ؤ؟
اور د ځـان ځـانۍ دی چې پـه کور مې لګېدلی دی
نــن  مې انــنـګی د بـل څــپـېړو تــه نـیـولی دی
زه هغه شــهباز یم چې مې هر طرف ته ښـکار کاوه
ولې لکـه زرکـه نن د بل د پنجو ښــکار شــوم؟
توره مې پـه لاس وه پـه ظـالم بـه مې ګوزار کاوه
ولې لکه زر که نن د بل د پنجو ښــکار شـــوم؟
واك اختیار مې خپل وه خپله خوښه به مې کار کاوه
ولې لکـه زرکـه نن د بل د پنجو ښــکار شـــوم؟
ښـه صـحیح سـبق مې درسـت جهان ته اورولی ؤ
زه چې نــازولی وم نــوبـل څــوك نــازولی ؤ؟
اوس مې د تعلیم دپـاره زوي بـل خوا لېږلی دی
نــن مې انــنـګی د بـل څـپـېړو تـه نـیـولی دی

زه هغـه بـاداریم چې همیش مې بـاداري کړې
ولې مې نن خلـك د غلام پـه سـترگـه گوري
څوک مې پـه سر نـه و مـا پخپلـه سرداري کړې
ولې مې نن خلـك د غلام پـه سـترگـه گوري
ډیر دي ناکام شوي چې يې ما پسـې خواري کړې
ولې مې نن خلـك د غلام پـه سـترگـه گوري
ځینو لا لـه ویرې نـه پـه خپله ځـان سـېزلی ؤ
زه چې نـازولی وم نـو بـل څـوك نـازولی ؤ؟
دور د هغو تېر شو اوس يې بل څوك لمسولی دی
نـن مې انـنـگې د بـل څـپـیړو تـه نـیـولی دی
خدای دپاره ورونړو دا زړې گونډۍ اوس پرېږدئ
قام کې چې نفاق وي په هیڅ وخت نه کامیابیږئ
تېرې بـدۍ هیرې کړئ اســـاس د مینې کېږدئ
قام کې چې نفاق وي په هیڅ وخت نه کامیابیږئ
ټول زړونـه یو زړه کړئ د هیچـا نـه مـه ویرېږئ
قام کې چې نفاق وي په هیڅ وخت نه کامیابیږئ
کوم وخت چې یولاس ؤ ټول جهان مو لړزولی ؤ
زه چې نـازولی وم نـو بـل څـوك نـازولی ؤ
زړه د ملنـگ‌جـان د ځـان ځـانې اور داغولی دی
نـن مې انـنـگې د بـل څـپړو تـه نـیـولی دی

## پښتون یم دپښتو په لاره ...

پښـتون یم د پښـتو په لاره تل مدام جنګېـــــــږم
هیڅ نـه یمـه نیمګړی
چې هر کله مریض شـم په جنګونو کې رغېــــــــږم
تشخیص مې د ځان کړی
***
له موره چې پیدا شـــوم زما سر ته یې کېښـــوه توره
چې دا کـار بـه کوې تـه
دادا مې راتــه وویـل زمـا د ســـترګـو تـوره
وطن به دې ســاتې تـه
چې ببرتـه پـاتې نـه شې پـه میـدا ن کې لـه تربوره
پـه مخ کې بـه ورځې تـه
ابۍ مې راتـه وې بـه بېننګۍ دې خپه کېــــــږم
مـا ننـګ تـه یې راوړی
***
چې غږ د سربـازۍ واورمـه وینـه مې پـه جوش شي
پاڅم په خلاصــه ټنډه
چې شرنګ د تورې واورم هر سرود مې فراموش شي
ورځـم پـه منـډه منـډه
دښـــمن چې راتـه وګوري د ویرې نـه بېهوش شي
بیـا ژاړي لکـه کونـډه
که دېو قدرته غټ وي پاس په څټ یې ورسپرېــږم
پـه یـوګـوزار مې وړی
***
پـه دروغـو لاپې نـه کوم ښــکاره یم لکـه لمر
دنـیـا کې لـور پـه لـور
دښـــمـن بـانـدې چې غـږ کـړمـه د الله اکـبر
د ځـانـه اخـلي اور
ولـجـو کې مې راوړی لـه غلیمـه ځنې ســـــــر
ښــکاره دی زمـا زور
په منځ کې د ایشــیا د قهرمان په نوم یادېـــــږم
هر وخـت مې بری وړی
***
یو ځل چې قیامت تیر شي خلک پاڅي له قبرونه
بیاېي څوک نه شي وژلی
زه تېر یمـه د شــلو قیـامتونو لـه جنـدرو نـه
لـه قـبره یـم وتـلی
پوره حســاب مې ورکړ را بهر شـــوم له تیارو نه
مـا خپـل اجـل خوړلی
صـادق پخپل اقرار زه ملنګجان صفا غږېــــــږم
چې وایي وري وګــړي

## وچه ځمکه په سرو وینو ...

وچه ځمکه په سرو وینو وتره کېـــــــبري مـیـنـــان د آزادۍ کـــري گـــلــونــه
عاشقان په عشق کې بند په بند غوڅېـــبري مـحـبــت کې د وطــن بـازي سرونـه

***

هـغـو زړونـو کې چې مـیـنـه د وطـن وي په هـغـو کې بـیـا نـه وېـره وي نـه ډاره
هغه څوک چې د خپل قام په درد دردمن وي سر پـه لاس کې گـرځـوي د قـام د پـاره
چې پوه شـــوی د آزاد ژوندون په خوند وي د ذلـت لـه ژونـدانـه نـه وي بـېزاره
ننگيالی د ننگ ډگر تـه ځي جنگېږي
له آسمانه پرې ورېـــــــبري رحمتونه
چې د قـام پـه مخ کې مړ شي بختور وي روســـتی نســـل بيـاپې فخر پـه مزار کړي
د ځــوانــانــو پــه ټــولي کې بــاهــنر وي هغه ځوان چې سر د ننگ ناموس نه ځار کړي
چې پښـــتــو پښـــتـنولۍ ځنې خـبر وي هـغـه کلـه د پـردو لاس لانـدې کـار کـړي
لکـه گـډه د ونـډې کـه ونـډې کېږي
خو په ټيټو ســترگو نه کوي ژوندون
آزادي نـه شـــه نعمت پـه دنيـا نشـتـه ځکه سرې وينې بهېــــــــبري په دې لار کې
نارينتوب نه لوی صـــفت په دنيا نشـــته د سربازو صـــفت کېـــــــبري هر ديار کې
غلامۍ غـونـدې ذلـت پـه دنيـا نشـــتـه گنهگار پـه دوزخ خوښ دی نـه دې کـار کې
ځناور هم غلامۍ باندې شرمېــــــــبري
ځکه خلکو نه ياغي خوښ يې کړل غرونه
پښـــتـانـه زلـمي د تـورې بـاتـوران دي امــتـحــان او تــجــربې نـه دوی وتــلي
د وطـن د پـاکې خــاورې مـیـنــان دي پـه سرو ويـنـو يې هـمـيـش وطـن پـالـلي
مـیـدانـونـه يې گـټلي څـوڅـو شــــان دي دښـــمـنـــان يې خـاورو خـتـو کې لـړلي
که خدای کاندي نن ســبا به ورغېږي
ملنگ جانه ستا د زړه ناسور زخمونه

## يا به مې شي په وينو رنګ و طنه!

يا بـه مې شي پـه وينو رنـګ وطنـه          يـا بـه دې زر تر زر د ځـان کړمـه
يا به ســـاتم ســـتا نام و ننګ وطنه!          يا بـه خپـل ځـان درنـه قربان کړمـه

***

يا بـه پـــتېکی ترم نرانو پـه شـــان          يا خو بـه ســـور کفن ځـادر شي زما
يا به ځان سيال کړم د سيالانو په شان          يا توري خـاورې بـه بســـتر شي زمـا
الله مې نـه کړي غلامـانو پـه شـــان          چې پـه دنيـا کې ځـوړنـد سر شي زمـا
سر در کوم پـه تـا قلنـګ وطنـه!          ســـتـا حفـاظـت لکـه ايمـان کړمـه

***

وړوکی ســـتـا پـه غېږ کې لوی يمـه زه          ځي مې د خولې ځنې ستا بوی د شيدو
مورجـانې ســـتـا حلالي زوی يمـه زه          تـا پـه طفلۍ راکړی درس د پښـــتو
ســـتا پـه قيمت او قـدر پوه يمـه زه          نه ساتم ځان، ساتم ستا پت او آبرو
ســـتا د ډيوې دا تغيير رنګ وطنـه!          د وينو تيـل بـانـدې روښـــان کړمـه

***

که پس له مرګه ښوک جنت غواړي          زه پـه ژونـدون ســـتـا آزادي غواړم
که ځينې خلک ځان صـــحت غواړي          زه پخپـل مرګ ســـتـا آبـادي غواړم
کـه خـدای لـه مـا نـه عبادت غواړي          زه مې لـه خـدايـه خـپـلـواکي غـواړم
يم بـه هر چـا سره پـه جنګ وطنـه!          ښو چې آزاد پښـــتونســـتـان کړمـه

***

پښـــتونســـتـانـه! د غريبو کور يې          ســـتـا قربـانۍ تـه غـريبـان تړولوم
خانانو ســتا مينه که پريښـوه موري!          ځم د دوهۍ نـه ملنګـــان ټولوم
غليم بـه پرې نږدمـه ســـتـا پـه لوري          لوخو کوډۍ نـه مســـکينـان ټولوم
زه ملنګـجـان دې يم ملنـګ وطنـه
تا پسې ډېـــر بــــه مـــلـــنګان کړمه

## د پښتون او پښتنې سوال او ځواب

- ودې ســوم محبوبې ســتا د زلفو خریدار یمه — واخـلـه مـال و سر زمـا
- زه د وطن لور یم د بانګو زلــمــو یــــار یــمه — ورک دې که بشــــر له ما
- ودې ســوم محبوبې خپل وصــال باندې مې موړ که ته — غم مې د زړه ســوړ که ته
- پوه نه شــوې په نیمه مړه ته د سره ســیال نه یې — ســیال مې د جمال نه یې
- ســیال دې د جمال یم ډېر دولت لرمه خان یمه — بریت تـاووم ځوان یمـه
- داسې خان دې ورک شي چې د بل لاس لاندې ژوند کوي — ستا خاني څه خوند کوي؟
- مه کوه پېغور مســتې د سرو به دې زیـــــــور کړمه — مـوړ بـه دې ټـبر کـړمـه
- هغـه مـال دې ورک شي چې پـه ټيټو یې ګټلی وي — نـوم یې پـرې بـایـللی وي
- نه یمه ټیټ ســترګی پلار نیکه نه غټ پښــتون یمه — تا پســـــې مجنون یمه
- پلار خو دې پښــتون ؤ لاکن ته په پښــتو پوه نه یې — تـه دې د پلار زوي نـه یې
- څنګـه د پلار زوی نـه یم د پلار نـه دنیـادار یمـه — کوم تربور نه خوار یمه؟
- ته دنیاپرســـت یې د خپل پلار غونډې بهادر نه یې — تــه د سره نــر نــه یې
- مـه وایـه دا ســپورې نور د قهره بې اختیـار یمـه — وریـت دې کړ ځیګر زمـا
- زه لـه خپلـه پلاره څـه کې کم یم چې پېغور کوې — دومره څله شــور کوې؟
- پلار دې ننګیـالی ؤ مړه تـا غونـډې بې ننـګ نـه ؤ — هیڅوک یې د جنګ نه ؤ
- مـا خـو د خـپـل پـلار او د نـیـکـه نـه اړولی دی — ډیـر مـال مې ګـټـلی دی
- مال پســـــې دې اور شـــه مرکه د ننګ ناموس کوم — دې کې زه تـپـوس کـوم
- ښـــه دی چې تپوس کړې بې ننګي زما ښـــکاره کړه ته — پـوه مې دوبـاره کـړه تـه
- دا دې بې‌ننګي ده چې د پلار پښــتو تـه نـه ګورې — د بل پیســو ته ښــه ګورې
- زه خو د خپـل پلار او د نیکـه نـه بې همـت نـه یم — چـا تـه خجـالـت نـه یم
- ولې نــه شرمــېږې بې غـیرتــه ځــه زنــدان ګــوره — جیل کې خپل بندیان ګوره
- رب خو دې ړنـده کړه چې بې اوره دې کبـاب کړمـه — خـومـره دې بې‌آب کـړمـه

- تا دې خالق ړوند کړي چې ستا ورونه ئې وژل          تا تېت ورته کتل
مخ دې را نه ورک کړه د يارۍ نه دې بېزار يمه          جوړ دې کړه محشر په ما
- مخ دې را نه لرې کړه چې خبرې واېې ته          څومره بېحياېې ته
- خپله بېحيا يې تېت سرناست يې شرميدلی          کوتې په کونج کې غلی
- زه چې غلی ناست يم نو ستا ورونو څو وژلي          په کوم مورچل ختلي
- ورونه مې نران دي لکه تاسو تېپسان نه دي          د بل چا غلامان نه دي
- څه نرتوب يې کړی چې دا دومره جګ غړېږې ته          موږ پورې خندېږې ته
- سور بيرغ ځلېږي دا د ورونو مې کمال دی          لاس کې توره ډال دی
- بدې سترګې وخورې چې دا څومره بد ويل کوې          محض شرمول کوي
- بدې سترګې ستا دي چې په بدو نه شرمېږې ته          قوم ځنې بيلېږې ته
- زه خو د خپل قوم او قوميت نه نه بيلېږمه          پوه يم نه غولېږمه
- څنګه نه غولېږې چې ستا قام نن آزادي غواړي          ستا زړه بربادي غواړي
- زه خپلې موقع ته ګورم وخت ته انتظار يمه          وا به ورې خبر زما
زه خپلی موقع ته ګورم نوم به يې درته ورک کړم          برنا حق دې سپک کړم
- دا دې د همت موقع ده ودرېږه نر شه ته          پاځيزه بادر شه ته
زه که چيرې نر وم دا پېغور به مې ستا هېر نه شي          هېر به مې تر ډېر نه شي
- دا پېغور لاڅه کړې چې ستا مړو ته پېغور کوي          نور مړي د ګور کوي
- زه به د خپل ګور مړي په ګور کې خجالت نه کړم          نور به دا غفلت نه کړم
- ته خو دې خپل اصل ته نظر وکړه چې څوک يې ته          ولی دومره پوک يې ته
- پوک نه يمه بس دی نور مې مه شرموه پوه شوم          شمعې په شان توی شوم
- ښه دی چې ته پوه شوې رب دې ټول پښتانه پوه لري          نوم دې خالق لوی لري
تل دې وي دايم دې وي دا ګران پښتونستان زموږ          دا د غرو زمريان زموږ
تل دې وي دايم دې وي دا عزم دا همت زموږ          دا ملی وحدت زموږ
زه ملنګجان سور په وينو خوښ په دغه لاريمه          ګور به شي سره زر زما

## د پاکستان د حکومت او د محکوم پښتون خبرې اترې

د بزرګۍ نښـــې را کې دي فیض رسان یمــــه زه — بلنـد نښـــان یمـه زه
د مکـر ګـوډیـه زه دې پیژنـم انســـان یمـه زه — کـلـه نـادان یـمـه زه
د بزرګۍ نښـــــې را کې دي خـدمـت‌ګـار یمـه زه — سـتاسـو غمخوار یمه زه
راځئ را ځئ په سر راځئ ســتاســو بـادار یمـه زه — د قـوم سردار یـمـه زه
تـاسـو تـه سـمـه لار ښـیم ذمـه بردار یمـه زه — تـجـربـه کـار یـمـه زه
زمـا پـه نـام اوسئ تـل بـیـا آرام اوسئ — خـوښ بـه مـدام اوسئ
زه مسـلمـان یم طرفـدار د مسـلمـان یمـه زه — بلنـد نښـــان یمـه زه

***

چې وایې زه یم مسـلمان سـتا اسـلامیت څنګه دی؟ — ســتا دیانت څنګه دی؟
د خدای رسـول په لاره سم سـتا عدالت څنګه دی؟ — سـتا شریعت څنګه دی؟
په مسلمان باندې ستا مهر او شفقت څنګه دی؟ — ستا حقیقت څنګه دی؟
د چارســـدې ماشـــومان، هغه تور سري خواران — چې شـــهېدل په میدان
دغـه د چـا د لاســـه مړه شـــولو حیران یمـه زه — کـلـه نـادان یـمـه زه

***

د چارسدې خلک چې مړه شول خپل وحشت وژلي — خـپـل جـهـالـت وژلي
زمـا پـه بـاب کې چې خـائن وو خپـل خیانـت وژلي — نـا انســـانـیـت وژلي
زمـا احـکـام یې نـه مـنـل خـپـل بـغـاوت وژلي — خـــپـــل شرارت وژلي
آخر نـاچـار شـــومـه زه پـه زړه آزار شـــومـه زه — ورتـه پـه قـار شـــومه زه
پـه مـاشـــینـو مې سزا ورکـړه پـهـلـوان یـمـه زه — بلنـد نښـــان یمـه زه؟

***

دوی خائنان وو چې خپل دین او شریعت یې غوښته؟ — اســـلامیت یې غوښـــته
دنیا د عـدل کې خپل حق او حقیقت یې غوښـــته — د قوم عزت یې غوښـــته
د غلامۍ او مریـیتـوب څنې نفـرت یې غـوښـــتـه — انســـانیت یې غوښـــته

تــا بــېــگــنــاه وژلي، پــه نــاروا وژلي        ډېر په تادا وژلي
اى مســـتبده ســـتا دې ظلم نه پريشـــان يمه زه        کله نادان يمه زه

***

ما د اسلام دپاره ډېر ډېر خدمتونه کړي        لوړ لوړ کارونه کړي
د پاکستان په جوړيدو مې تکليفونه کړي        ښه زحمتونه کړي
د انګريزانو سره ما عداوتونه کړي        د خولې جنګونه کړي
ما پاکستان جوړ کړى ښه ګلستان جوړ کړى        دا لوړ نښان جوړ کړى
ځکه دنيا ته لوړ ختلى تر آسمان يمه زه        بلند نښان يمه زه

***

مداري توب دې نه منم مداري توب مه کوه        ډېر سيانه توب مه کوه
د زورګيرانو ريباري دلالي توب مه کوه        چېراسي توب مه کوه
نور د دنيا په مخکې دا حرامي توب مه کوه        ناسرې توب مه کوه
ښه پېژندلى يې ما، په تول تللى يې ما        غلا کې نيولى يې ما
پوزه او غوږ دې پرېکومه ملنګ‌جان يمه زه        کله نادان يمه زه

## سوال او ځواب

- زړه دې رانه وړی مســتې تاباندې شــيدا يمه
- نه يې مستحق زما د و صال را نه ځنګ وکړه

- زړه دې رانه وړی مستې تا پسې ملنګ يمه
ستا د مخ پتنګ يمه
- تا ته مناسب نه دي چې پيغلو نه وصال غواړې
په کوم نوم او کمال غواړې
- دغه مې کمال دی مستې ووايه ته څه غواړې
سپين غواړې که سره غواړې
- زه خو دمه نه يم چې په سرو به خوشحالېږمه
بل ته به ګډېږمه
- خدای دې دمه مه کړه ته ترله او زه تربور يمه
عشق کې دې رنځور يمه
- ته خو د تربرونو له کتاره نن وتلی يې
بل چا پسې تللې يې
- ستا په دې خبره زه پوه نه شومه صنمې
زما د زړه همدمې
- زه به دې اوس پوه کړم په کام ځوک او په څه کار يې؟
خان يې که تجار يې
- کام باندې پښتون يم مليشه د پاکستان يم
ښه ننګيالی ځوان يم
- کام باندی پښتون يې او خدمت کوې ته بل لره
ګورې مې اوربل لره

- ســـتا په در کې پروت محبوبې زه لکه ګدايمه
زړه دې رانه وړی مســـتې تا باندې شـــيدا يمه
-شـــيدا که ځان ته وايې سربازي لکه پتنګ وکړه
نه يې مســـتحق زما د وصـــل را نه ځنګ وکړه

- دا خبرې پرېږده مستې ما سره پخلا شه!
مجنون سره ليلا شه
- اصلي پښتنې د غلامانو ياري نه کوي
بې‌ځايه خواري نه کوي
- ولې به غلام يم زه په خپله منصبدار يمه
هلته جمادار يمه
- ښه چې جمادار يې وايه ستا آمران ځوک دي؟
ستا حاکمان ځوک دي؟
- هغه اينکيان دي ځينې ځينې قاديانيان دي
لوی منصبداران دي
- تا ته غيرت نه درځي د دوی مخکې ودرېږې
ولی نه شرمېږې
- دې کې شرم څه دی نوکري خلک کوينه
هر ځوک خېټه لرينه

- هغه خيټه دې وچوي چې ډودۍ د خجالت خوري　　د کام په سر رشوت خوري
- دا خو رشوت نه دى پيســـې اخلمه خدمت کوم　　ځان بانـدى زحمت کوم
- ځان ته دې پښـــتون وايې خدمت ته د پردو کوې　　لاپې د پښـــتو کـوې
- نـه يمـه بېننـګ محبوبې ولى مېســېزې پـه اور　　تـش د نـوکـرۍ پـه تـور
- تـه چې نوکري کړې جنګوي تـا د خپـل ورور سره　　د څو پيســـو پـه زور سره
- زه خو نـاپوه نـه يم چې بـه ورور سره جنګېږمـه　　دومـره خــو پـوهـېږمـه
- هلتـه بـه تـه پوه شې چې وهلى سر ترې راشې　　کـام سره پـخــلا شې
- هر کلـه چې وي زه د پښـــتون سره پخلا يمـه　　تـل پـه دې ســـودا يمـه
- دغه کار کم وکړ نو رښـــتيا به پښـــتانه ياســـتۍ　　تـاسې نـارينـه ياســـتۍ
- يا به مو آزاد کړئ يا به جوړ پرې دا فســـاد کړو　　ژونـد بـه يې بربـاد کـړو
- نن کـه يو لاس نـه شئ ځـانځـانى کې تبـاکېږئ　　يـــو يـــو تـــالا کـــېږئ
- ځـاى کـه د عمـل راغى موږ ټول پېژنو کام خپـل　　ســـتاســـو ننګ و نام خپل
- وګرځئ پـه پوځ کې يو د بـل سره ګـډون وکړئ　　خپـل کـامې تړون وکړئ

- هر ځـاى کى زه وايم چې غيرت لره پيـدا يمـه
زړه دې رانه وړى مســـتې تاباندى شـــيدا يمه
- خپل وطن آزاد کړه، بيا اميد مې دپالنګ و کړه
نه يې مســـتحق زما د وصـــل را نه څنګ و کړه

- مرګ به په ځان ومنو وطن به چا ته ور نه کړو　　ټيټ به چا ته سر نه کړو
- نر خو هم هغه وي چې د ننګ ناموس نه جار وي　　دا د زلـــمــو کـــار وي
- دا خپلې ځوانۍ نـه بـدلوو پـه نـاځوانۍ موږه　　نـه اخلـو بـدنـامۍ موږه
- خداى دې پښـــتانه د بدنامۍ نه هميش وســـاتي　　تل دې خالق ښـه ســاتي
څو چې ســـاه را کې وى پيروي به د خپل قام کوو　　دا کـار بـه مـدام کـوو
دا جګې شـــملې مو خاوند ټيټې تر قيامت مه کړه　　چـا تم خجـالت مړه کړه
تل په خپلو وينو به دا ګران پښـــتونســـتان ســـاتو　　خپل ملي نشـــان ســـاتو
تل به موږه ســـتاسى د دې جګو شـــملو پت ســـاتو　　زړو کې بـه الفت ســـاتو
زه بـه ســـتـا اوربـل تـه آزادۍ د بـاغ ګلان راوړم　　پـه وينو بې د ځـان راوړم
زه بـه يې پـه ډېر ويـاړ د اوربـل پـه سر کتـار کړم　　هـلـتـه بـه دې يـار کـړم

څوك به زما او ستا منځ کې شاهد شي په سودا يمه
زړه دې رانه وړی مســـتې تا باندې شـــيدا يمه
شـــاهد به ملنګ‌جان کړو چېرته لټه د ملنګ وکړه
نه يې مســـتحق زما د وصـــل را نه څنګ وکړه

# لوبي

## د پښتنې پيغلې او مور سوال اوځواب

**لور:** ادکې مـورې د پښـــتـو نـنـګ دی
کوځو له غوټې ورکوم جګړې له ځمه

**مور:** بـچـيـه زړه دې ولې تـنـګ دئ؟
تا په ژونـدون له ځانه کله بيلومه

**لور:**
مورې رخصـــت مې کړه چې ځم د زړه په مينه        د اســـارت ژونـدون مزه نـه را کوينـه
کـه شـــينکې خـال مې د چړو پـه ځوکو ځينـه        خو د پردو لاس لاندې شـــپې نه تېرومه
ادکې مـورې د پښـــتـو نـنـګ دی
کوځو له غوټې ورکوم جګړې له ځمه

**مور:**
تـه مســـتوره ئې لورې مـه وځـه لـه کوره        شکر دی ډېر پښتانه شته دي لور په لوره
ســتا د مراد باغ به آخر کړي خدای ســمســوره        اوســـه خوشـــحاله اطمينان زه درکومه
بـچـيـه زړه دې ولی تـنـګ دی؟
تا په ژونـدون لـه ځانه کله بېلومه

**لور:**
ســــتر بـه مـات کـړم آزادۍ ګـټـل د پـاره        ځان به شـــهيده کړم په دغه پاکه لاره
چې مې ســـبـا بې ســـتره نـه کـانـدي اغيـاره        زه په خپل مخ د بيګانه خوله نه پرېږدمه
ادکې مـورې د پښـــتـو نـنـګ دی
کوځو له غوټې ورکوم جګړې له ځمه

**مور:**
لـورې دا ولې لـيـونۍ شـــوې خـدای دپـاره        ښـــه ننګيالې زلمي لرې د جنـګ دپـاره
غټ غټ خانان په قام کې شـــته دی باوقاره        پـه دې خـانـانو اطمېنـان لورې لرمـه
بـچـيـه زړه دې ولې تـنـګ دی؟
تا په ژونـدون لـه ځانه کله بېلومـه

**لور:**
ځينې خـانـان خو مـا تـه مـه يـادوه مورې        زما وينا ته څه حاجت پخپله يې ګورې
دوی ښـه کتل، شوې چارسدې نجونې سرتورې        دوی دې وهې خپل چکرونه زه دې مرمه
ادکې مـورې د پښـــتـو نـنـګ دی
کوځو له غوټې ورکوم جګړې له ځمه

**مور:** لورې چې تـه دومره مینـه یې پـه قـام خپـل      الله دې تا کاندي کامیابه په مرام خپل
تـا پـه رښـــتیا دی پېژنـدلی ننگ و نـام خپـل      ســـتا آرزوگانې بـه زلمو تـه پیش کومـه
بـچـیـه زړه دې ولې تـنـگ دی؟
تا پـه ژوندون لـه ځانه کله بیلومه

**لور:** مورې زلمو سره ورځم د جنـگ میـدان تـه      زه پښـــتنه یم ټېټ کتې نه شـــم جهان ته
ځان به تســـلیمه مورې نه کړم بل انســـان ته      د ملالۍ غونـدې یـادگار درتـه پرېږدمـه
ادکې مـورې د پښـــتـو نـنـگ دی
کوځو له غوټې ورکوم جگړې له ځمه

**مور:** لورې کـه تـا وربـل قربـان پـه دغـه لار کړ      د ننگ پیغـام دې زمـا مخ کې اظهـار کړ
ځوانمیرگۍ نـه دې پـه ټینـگ عزم اختیـار کړ      په ملنگ‌جان به ســـتا تعریف بیا ولیکمه
بـچـیـه زړه دې ولې تـنـگ دی؟
تا پـه ژوندون لـه ځانه کله بیلومه

## د زوی او پلار سوال او ځواب

**پلار:** خلـک مېلو تـه ځي اختر دی — زویه ســتا رنګ ولې خزان دی؟
**زوی:** پلاره په ما باندې محشـــــر دی — دغـه جهـان را بانـدې وران دی

***

**پلار** ورکي روان دي ډلې دلې — نـن د اخـتر د خـوښۍ ورځ ده
زویــه دا تــه دلـګـیر يې ولې — نـن د اخـتر د خـوښۍ ورځ ده
د خوښۍ غږ په ســم او غر دی — او ســتا په مخ اوښــکی باران دی

***

**زوی:** پلاره کـه ســـل ځلـه اختر وي — زړه چې دردمند وي ســترګې ژاړي
که په کرسۍ کې ناســت برتر وي — زړه چې دردمند وي ســترګې ژاړي
پــه زړه مې يــو الله خــبر دی — چې پـه ژړا مې لونـد ګریوان دی

***

**پلار** زویـه خپـل حـال دې راتـه وایـه — ســترګې دې وچې کړه د نم نـه
د زړه دردونــه دې را ښـــایـه — ســترګې دې و چې کړه د نم نـه
همزولي نـاســت درتـه بهر دي — هر ورکی ســیل ته ځي روان دی

***

**زوی:** پلاره مېلو تـه مې میـل نشــتـه — د روغو زړونو خاوندان به ځینه
مـا سره مینـه د ســیل نشــتـه — د روغو زړونو خاوندان به ځینه
اته مېلیونه قام مې در په در دی — ســیل څه لازم زما د شـــان دی

***

**پلار** زویه ستا قام به رب خوشال کړي — حق د حقـدار پـه جـانـب کېږي
خـالق بـه دور د وصـــال کړي — حق د حقـدار بـه جـانـب کېږي
کـالي چې واغـونـدې بـهـتر دی — بـهـر د لـوبو جـوړ مـیـدان دی

***

پلاره بهر وتلی نه شم        نورو قامو ځینې شرمېږم
**زوی:** چاته اوچت کتلی نه شم        نورو قامو ځنې شرمېږم
مخ کې مې پروت د غم دفتر دی        خپلواکي زما ارمان دی

***

**پلار:** ناامیدګي مه کوه زویه        په پښتونخوا کې خانان شته دي
زړه دې ډاډه لره نیکخویه        په پښتونخوا کې خانان شته دي
صبر کوه صبر سرور دی        پوه شوی هر پښتون په ځان دی

***

**زوی:** پلاره خانان به ګنې لاړ شي        د
په خیر به کله دوی بیا ولاړشي        آزادۍ ګټو دپاره
خوار ملنګ‌جان په چغو سر دی        د آزادۍ ګټو دپاره
دا یې د خوږ زړګي درمان دی

## د پښتنې زوي او پښتون پلار مرکه

**زوي:** ملي ترون دی زلمي ځان سمبالوينه
دادا ماتم[1] رخصت راکړه، ځم د قام خدمت لره، سر مې قام نه جار دی
***
**پلار:** زويه قرار کېنه په کور کې
وه زويه کمکی يې ته، مړ به شې تنکی يې ته، دا د زلمو کار دی
خوشې ځان مه سيزه په اور کې
وه زويه کمکی يې ته، مړ به شې تنکی يې ته، دا د زلمو کار دی
د جنګ ميدان ته شمله‌ور زلمي ورځينه زويه!
***
**زوی:** که يم کمکې همت مې لوی دی
ځم نه پاتې کېږمه، اوس که وژل کېږمه، دا د پښتو ننګ دی
ځم نه پاتې کېږمه، زموږ په خاوره دښمنان دعوا لرينه، دادا!
***
**پلار:** زويه نصيحت ته مې غوږ کېږده
مه ووځه له کور نه ته، مه بېلېږه مور نه ته، مرې نه پاتې کېږې
د لېونتوب خبرې پرېږده
مه ووځه له کور نه ته، مه بېلېږه مور نه ته، مرې نه پاتې کېږې
ته لا ماشوم يې مه کړه اوس دا لوی کارونه زويه!
***
**زوی:** پلاره زه خامخا ځمه
دا د اسارت ژوندون ، دا د خجالت ژوندون ، نور منلی نه شمه که په زړه غبرګې ګولۍ خورمه
دا د اسارت ژوندون، دا د خجالت ژوندون، نور منلی نه شمه
سبا به خلک پېغورونه را کوي دادا!
***

[1] د (ماته هم) مخفف دی

**پلار:** زویه ورځه الله دې مل شه
يې په خدای سپارلی ما، قام ته يې بښلی ما، ځه ځان دی سمبال کړه
پر دښمنانو جوړ زلزل شه
يې په خدای سپارلی ما، قام ته يې بښلی ما، ځه ځان دی سمبال کړه
که څوک د قام د پاره مري خو ودې مرينه زويه!
***
**زوی:** پلاره تازه دې لکه ګل کړم
ځم به په خندا خندا، سر به کړم يودم فدا، د خپلې پښتنوالې
لاسونه راکړه چې يې ښکل کړم
ځم به په خندا خندا، سر به کړم يودم فدا، د خپلې پښتنوالې
د ملنګ‌جان مسرې مې لا مجبوروينه دادا!

## سوال او ځواب

**لور:** زما تر غوږ شو د اوږدو ډزو اوازونه
و مورجانې بلې ته راشه بیا د ظلمو جنګ دی
***
د آزادۍ مطالبه ده
ډلې ډلې، زلمي ټولیږي، سره توغونه مخکې رپیږي
ځي د جنګ میدان ته
قربانوي دوی په وطن باندې سرونه
و مورجانې بلې ته راشه بیا د ظلمو جنګ دی
***
**مور:** لورې یو ګوټ ته پناه کېږه
هرې خوانه ډزونه کېږي، و به لګي زړه مې رپیږي
ځان دې کناره کړه
د پاسه اوري د مردکیو بارانونه
وه لورجانې لږ پناه شه بیا د ظلمو جنګ دی
***
**لور:** پناه به ولې کېږم مورې
ډزو نه څوک کله پټیږي، داسې مرګ ته، هر څوک خوښیږي
دا قومي جګړه ده
د جنګ میدان ته ځم که راکړې رخصتونه
و مورجانی بلې ته راشه بیا د ظلمو جنګ دی
***
**مور:** ولې کم عقله شوې ای لورې!
سترې ښځې، کله بهر ځي، جنګ له پاره زلمي زړور ځي
مري په دی جګړه کې
ستا د مشکي اوربل به کړمه ارمانونه
و مورجانی لږ پناه شه بیا د ظلمو جنګ دی
***

**لور:** صبر مې نه کيږي په کور کې
ما کې مورې قومي جذبات دي ، تور اوربل مې قام نه خيرات دی
ځم ملي خدمت دی
يخې اوبه به ګرځوم په مرچلونو
وه مور جانې بلې ته راشه بياد زلمو جنګ دی
***
**مور:** بې صبري مه کوه ای لورې
دا مشکلات به خدای آسان کړي جوړ به خاوند پښتونستان کړي
حق کله پټېږي
ستا د مراد غوټۍ به وسپړي ګلونه
وه لورجانی لږ پناه شه بيا د زلمو جنګ دی
***
**لور:** زما مراد آزاد ژوندون دی
مرګ قبلوم، نه اسارت زه، نه شم کولی صبر و طاقت زه
ځم نه پاتې کېږم
که د چړو په څوکو ځي مې شنه خالونه
وه مورجانې بلې ته راشه بيا د زلمو جنګ دی
***
**مور:** د وطن مينې ليونۍ کړې
لاړه به شم، دغرو زمريانو ته، و به ژاړم د قام مشرانو ته
دې مرام دپاره
په ملنګ‌جان دې خپروم د زړه دردونه
وه لورجانې لږ پناه شه بيا د زلمو جنګ دی

# د پښتنو زامن

د پښـــتنو زامن آزاد پښـــتونســـتان خوښـــوي    نـــه ځی بـل چـا لـــه
چې پښـــتون نـه وي البتـه د بل غيران خوښـــوي    دروغي بـــل خـــوالـــه

***

ځـــوک چې اصــــيـل پښــــتـــون زاده وي    د بـــاشرفـــو اولاده وي
هغوی همېش د قام دپاره لوړ نښـــان خوښـــوي    پـــه پښــــتـــنـــوالـــه

***

نـــران پـــه خـــپـل مـــورچـــل جـــنـــګـــېږي    چې وي بې ننګ بل ته ودرېـــږي
زلمی ټُوپک جينکۍ ټيک او ســـور پېزوان خوښـــوي    تـــن نـــه بړدي چـــالـــه

***

د اســـــارت ژونـــدون دې ورک شي    که سرې دروند وي پکې سپک شي
داسې ژونـدون پـه دنيا کلـه انســـانـان خوښـــوي    پـــه مـــرګ خـــوشـــحـــالـــه

***

ځـــوک چې شــــهـــيـد پـه خـــپـل وطـــن شي    پـــه وينو رنـګ لاړ شي دفن شي
داسې زلمی هم د جنت حورې غلمـان خوښـــوي    نـــيســـــــي بـــه ېې خـــوالـــه

***

ځـــوک چې شــــيـــدا پـــه نـــام و نـــنـــګ وي    پـــه آزادۍ پســـــــې ملنګ وي
ملنګ‌جان تل به هر يو ځای داسې زلميان خوښوي    پـــه هـــر مـــهـــالـــه

# وطن به ژاړي

وطن به ژاړي په قیامت زموږ نیکونو ته

عـرض کـوي پـلـرونـو تـه زه مــو چــاتــه وم ســـــپــارلی؟

***

وطــن بــه وژاړي پــه زوره زمــوږ نــیــکــونــو تــه سر تــوره
تــه د لمســـو ظلمونـه گوره زه يې وم نيولی د وحشــت لوی زحمتونو ته
عـرض کـوي پـلـرونـو تـه زه مــو چــا تــه وم ســـــپــارلی؟

***

تـاسې پـه تـوره وم گـټـلی خــپــلــو لــمســـــو تــه وم ســــپــارلی
دوی پـه نـفـاق وم کـړولی نظر به يې نه کاوه دا ستاسې لوی نومونو ته
عـرض کـوي پـلـرونـوتـه زه مــو چــاتــه وم ســـــپــارلی؟

***

د هـر وطـن و جـوړ زینـت د فـــرزنـــدانـــو پــه هـــمـــت
دوی پـه مـا نـه کـاوه غیرت د دوی له لاســـه وم خجل نورو ملکونو ته
عـرض کـوي پـلـرونـو تـه زه مــو چــا تــه وم ســــپــارلی

***

راځئ چې وبـاســـو زحـمـت د خـــپـــل و طـــن وکـــړو خـــدمـــت
ځـان تـه پیـدا کړو لیـاقـت چې خجل نه وو په قیامت نورو قامونو ته
عـرض کـوي پـلـرونـو تـه زه مــو چــاتــه وم ســـــپــارلی؟

***

خدايه ړانده مو ټول بينا کړې هــر يــو جــاهــل زمــوږ دانــا کــړې
زموږ ښه نوم خور په دنيا کړې دا به ملهم شي ملنگ‌جان د زړه زخمونو ته
عـرض کـوی پـلـرونـو تـه ز مــو چــا تــه وم ســــپــارلی؟

## پښتونه ستا د توري وار دی

پښـــتونـه ســـتـا د تـوري وار دی لــټ پـه لــټ جـهــان کــړه
مــړی دې کــور کې انــتــظــار دی جــوړ پښــــتــونســـتــان کــړه
***
پښـــتونـه ســـتـا د امتحـان دور راغلی ســـتا د همت په انتظار دی کور او کلی
بله پرده کې دښمن ناست دی در ته غلی
اسره پــرې مــه کــوه غــمــاز دی کــور د غــلــیــم وران کــړه
ســـتـا د نـیـولـو پـه اخـتـیـار دی جــوړ پښــــتــونســـتــان کــړه
***
ته به تر څو لکه ماشوم په خوب ویده یې ســترګې بینا کړ ځانته وګوره چې څه یې
بل چاته مه وایه بادار، بادار هم ته یې
وطـن د ســـتـا دی تـه یې د ځـان کـړه ورک تــرې دښـــمــنــان کــړه
دغـه مـدفـن ســـتـاســـو د پـلار دی جــوړ پښــــتــونســـتــان کــړه
***
یا ځان د ځان کړه یا خو مړ په دې مقام شه په وینورنګ وژلی شــه یې نه غلام شــه
که ته پښتون یې د پښتون په انتظام شه
چې د پــیســـــو تــمــه ونــه کــړې سر پـــخـــپـــل ګــرېــوان کــړه
دا د نــامــوس او د نــنــګ کـار دی جــوړ پښــــتــونســـتــان کــړه
***
پښـــتـانـه پخپـل نـاموس لـه سره تېر وي نه نصـیحت د پلار نیکه ورځنې هېر وي
زوی د پښتون ځاې د ننګ کې لکه شېر وي
پــه تــاریــخــونــو کې لــیــکــلي پــوه وربــانــدې ځــان کــړه
چې درنــه پــاتې لــوی یــادګـار شي جــوړ پښــــتــونســـتــان کــړه
***

وتړه ملا په صـــداقت ورځـه ميدان تـه خپل لياقت او شرف وښـــيه جهان ته

په پيسـو مه تيتوه سـترګې بل انسـان ته

د مـــلـــنـــګ‌جـــان دغـــه آرزو ده پـــورتـــه دې نښـــــان کـــړه

دا مې د خـــوږ زړګي ګـــفـــتـــار دی جـــوړ پښـــــتـــونســـــتـــان کـــړه

## نرۍ نرۍ لوګۍ ترې خېژي

نـرۍ نـرۍ لـوګۍ تـرې خـېژي      د اســتعمـار لمبې ملي مـانۍ ســېزينـه
***
خاونده دا څنګه حالت دی؟      دا څــه انصـــاف او عــدالــت دی؟
دا خو عجبه جمهوريت دی؟      خـلـک د ژبې تـرقۍ تـه نـه پـرېـږدېـنـه
***
يو خـوا تبليغ د اسلاميت کړي      دعــوه د حــق او حــقــيـقــت کــړي
دغه خدمت که خيانت کړي؟      چې د خدای خلکو ته خپل حق نه ورکوينه
***
ای د دنيـا حق پرســتـانو!      د امـــنـــيــت طـــرفـــدارانــــو
وګورئ حـال د دې خوارانو!      څوک ځي جبلو ته څوک د غم سورې وهينه
***
چې د ټينګ عزم خاوندان وي      د خـــپــلــی ژبې پـــتـــنـــګـــان وي
پرې دې سلام د ملنګ‌جان وي      چې سر و مـال د خپـل ملـت نـه ځـاروينـه

# نوی موسم نوی بهار دی

نوی موســـم نوی بهـار دی    ســـينې مې وســـپړل گلونــه
را نــه جــدا د مــينې يـار دی    ځکــه مې ځي پــه مخ رودونــه

***

دا لبـاسي زلمی بــه څــه کړم؟    چې ډول يې وي غيرت يې نه وي
خپل پېغلتوب به پرې ورنه کړم    چې ډول يې وي غيرت يې نه وي
تن مې هغــه زلمي نــه ځـار دی    چی کړي وطن تــه خــدمتونــه

***

کړې شـــملې دي ډيرې ډيرې    په چا مې ســـترگې نه خوږېږي
زمــا د زړه لالی دی چــېرې    په چا مې ســـترگې نه خوږېږي
په کنډو ناســـت راته اغيار دی    ورو ورو کــوي اشـــارتــونــه

***

ســـبا اتبـار دی ورلــه ځمــه    د شـــــهـيـدانـو پــه مــزار کې
غونچې د گلو پرې شـــيندمــه    د شـــــهـيـدانـو پــه مــزار کې
د دوی زيارت ما ته په کار دی    دوی په وطن ايښـــــي سرونه

***

د غــم سرود راتــه غــږېـږي    زه ملنـگ‌جـان غم لـه پيدا يم
د غم سندرې نه خلاصيــــږي    زه ملنـگ‌جـان غم لـه پيـدايم
زلميـانو لږ همـت پــه کـار دی    تنـگ کړو د ښـــځو پېغورونـه

# بې غوره یاره!

رنګ ته مې ګوره بیا کوه د خولې سوالونه بې غوره یاره

***

رنګ ته مې ګوره چې زېـــــړېــــــــبري بې غوره یاره
اوښـــــکې مې اوري نــه وچــېږي بې غوره یاره

بې غوره یـاره د شــهیـدانو یتیمـان مې ژړوینـه

ثنګـه دې زړه راتـه جګېـــــــــبري بـېـغـوره یـاره
فخـرافغـان مونـه یـادېــــــــــبري بې‌غـوره یـاره

بې غوره یاره ستاسو په غم کې جبل‌خانې جارو کوینه

کـه تـه پښـــتون يې بســم‌الله کـړه بې‌غـوره یـاره
پـاڅـه د نـنـګ تـوره تـر مـلاکـړه بې‌غـوره یـاره

بې غوره یـاره، چې پردۍ ښـځې پېغورونـه را کوینه

کـه ســتـا لـه لاســه پوره نـه وي بې‌غـوره یـاره
مور دې پـه تـا هم بــــوره نـه وي بې‌غـوره یـاره

بې‌غوره یاره، ټیکرې مې‌واخله ما ته هم غیرت راځینه

هـومـره بـه ســترګې تـورې نـه کـړم بې‌غـوره یـاره
پـه ځـان بـه عـطـر پـورې نـه کـړم بې‌غـوره یـاره

بې‌غوره یاره د ملنګ‌جان ټپې مې خیال ته نه پرېږدینه

# په ننګ سترګې تورومه

زه مې اوربل کې د وحدت ګلونه ږدمه
په ننګ سترګې تورومه
***
مورې لاکې ټيکرى مې را که      ملي ترون دى
زړه مې د باز په شان هوا که      ملي ترون دى
آزادي‌خواه زلميان ورځې ورسره ځمه
په ننګ سترګې تورومه
**
تا ته مورچل کې به زه درکړم      شربت د شونډو
که تږى شو ورله به ورکړم      شربت د شونډو به
په تورو څڼو به يې ګرد لرې کومه
په ننګ سترګې تورومه
***
د شهيدانو بيرغونه      ورو ورو رپېږي
زلمو ته کړي اشارتونه      ورو ورو رپېږي
که زلمي نه وو پيغلې نجونې ټولومه
په ننګ سترګې تورومه
***
که د زلمو نه پوره نه شوه      ستر به مات کړم
که يې پخه اراده نه شوه      ستر به مات کړم
د پاولو ډکه لمن زه جګړې ته ځمه
په ننګ سترګې تورومه
***
راځئ راځئ چې قربانېږو      د پښتو ننګ دى

صبر مې نه شي روانېږو
د ملنگ‌جان مسرو له صبره وويستمه
په ننګ سترګې تورومه

## غم د پاسه غم دی

غم به کله هېرومه
غم د پاسه غم دی

همزولي لاړلي صحرا ته — زه خواره ناسته
درومي د گلو تماشا ته — زه خواره ناسته
خپل زخميان شوي يتيمان کلارومه — غم د پاسه غم دی

***

بچيان مې تل په کوکو ژاړي — د چا له ظلمه
خپل باباجان را څخه غواړي — د چا له ظلمه
پلار يې شهيد زه به يې چېرته لټومه — غم د پاسه غم دی

***

په وينو رنگ جامې به يوسم — په پښتو نخوا کې
خليل مومند مخکې به کېږدم — په پښتونخوا کې
د غم سلگۍ به د زلمو مخکې کومه — غم د پاسه غم دی

***

د باجوړ زلمي به راشي — که پښتانه وي
زموږ په حال به دوی آگاه شي — که پښتانه وي
زه د دوی کوندې يم کونډتوب دوی له کومه — غم د پاسه غم دی

***

مېړه مې سر په وطن کېښود — زه خوار و زاره
ډېر غم يې ما خوارې ته پرېښود — زه خوار و زاره
د ملنگجان په مسرو وير د ځان کومه — غم د پاسه غم دی

## مه منه ذلت

پښــتونه ځـان د ځـان کړه　　مــه مــنــه ذلــت
آزاد پښـــتونســـتان کـړه　　مــه مــنــه ذلــت

***

پښــتونه لور په لور جهان ته　　د زړه په ســـترگو گوره
بې‌ننگي مه راوله خپل ځان ته　　د زړه په ســـترگو گوره
مه نیســـه لاس د بل غیران ته　　د زړه په ســـترگو گوره
سر دې د ننـه پـه گرېوان کړه　　مــه مــنــه ذلــت

***

د پـردو لاس لانـدې ژونـدون　　و نـه منې پـه ژونـد
کـه تـه اولاد یې د پښـــتون　　و نـه منې پـه ژونـد
د بیگانـه خلکو لمســـون　　و نـه منې پـه ژونـد
د آزادۍ نـه ځـان قربـان کړه　　مــه مــنــه ذلــت

***

پښـــتـونـه وروره وکـړه پـام　　وطن به دې اسـیر شي
تېگانو ایښـــــــی درتـه دام　　وطن به دې اسـیر شي
چې خرڅ دې نه کړې ننگ و نام　　وطن به دې اسـیر شي
څرگند دنیا ته کلک ایمان کړه　　مــه مــنــه ذلــت

***

زلـمیـه څـو بـه نـه پـوهېږې　　ولی شـــوې ماشـــوم
خـپـل عـزیـزانـو نـه بـېلـېږې　　ولی شـــوې ماشـــوم
د خان بهادر په نوم غولېـــږې　　ولی شـــوې ماشـــوم
ځان دې لایق د لوړ نښـــان کره　　مــه مــنــه ذلــت

***

د بغض اورونه نور ســاړه کړئ    عرضي دی ملنگ جان
پر زړه لويـان او هم واړه کړئ    عرضي دی ملنگ جان
لاس ته ټوپک او هم چاړه کړئ    عرضي دی ملنگ جان
د پښــتنو تاريخ روښـــان کړه    مــه مـنــه ذلــت

## زه په چا، چا وژاړم خدایه

چې په زخمي خاطر مې کېږدي ملهمونه

رنګ رنګ ظلمونه په ما کېږي　　د پلار مزار مې لاندې کېـــــږي
زه به ترخو په اور ورم د بل بارونه
دنیـا کې هر یو قـام آزاد شـــو　　د اســارت هر قید یې مات شـــو
مـا تـه پراتـه دي د زخمیـانو کتـارونـه
دنیا کې هر څوک خپل خپل کار کا　　آزاد ژونـدون آزاد روزګـار کـا
په پښـــتنو باندې ورېږي سره اورونه؟
خلکو کړل جوړ نوي ښـــارونه　　پـکې روښـــانـه دي بـرقـونـه
د غم‌زده ملنګ‌جان واورئ فریادونه
د پښتونخوا زلمېانو ننګ کړئ　　د استعمار په کور غورځنګ کړئ

## ارمان دی خدايه

پســـــــرلی راغی بوټو پورته کړل سرونه        ارمـان دی خـدايـه
زمـا د ژونـد بـاغـچې ونـه ســپړل ګلونـه        ارمـان دی خـدايـه
***
پســـــــرلی راغی ژمی تـېر شـــو        هرخـه تازه شـــوو
هــر چـا نـه غـم د ژمي هـېر شـــو        هر څه تازه شـــوو
نه تازه کېږي د پښـــتون د بخت ډاګونه        ارمـان دی خـدايـه
***
د پســـــــرلي مـېلې شـــوې جـوړې        د خوښۍ شـپې دي
هر چـا تـه بـيـا لـيـلې شـــوې جـوړې        د خوښۍ شـپې دي
مـاتـه پراتـه دي پـه ځولۍ ځولۍ غمونـه        ارمـان دی خـدايـه
***
غــرونـه رغـونـه بـاغســـتان شـــوو        په درست جهان کې
شـــاړې ځـنګلونـه ګلســـتان شـــوو        په درست جهان کې
د پښـــتونخوا پـه ډاګو الوزي بـادونـه        ارمـان دی خـدايـه
***
د پښـــتـونـخـوا ســـوو ډاګـو تـه        بـــهـــاره راشـــــه
مــومـنـد تـيرا دې لـوړو غــرو تـه        بـــهـــاره راشـــــه
چې پـه تا روغ شي ملنګجان د زړه دردونه        ارمـان دی خـدايـه

# خدايه بيا دې پسرلی کړ

کـډې مـخ پـه ابـلـبـنـد لاړې خدايه بيا دې پسرلی کړ
شـــوې معشـــوقې ملالې غـاړې خدايه بيا دې پسرلی کړ
پـه سرو ګلو نن د غرو لمنې سرې دي
تورې کيږدۍ کتـار کتـار پکې ولاړې خدايه بيا دې پسرلی کړ
په شنو بڼو کې د شينکو توتيانو شور دی
يـه زمـا زړګـيـه تـه څـه لـره ژاړې خدايه بيا دې پسرلی کړ
قافلې په شـــتاب درومي مخ په وړاندې
زه کمبخت په سرو غرمو کوم کرواړې خدايه بيا دې پسرلی کړ
په مطلب دې څوک پوه نه شو ملنګ جانه
لوغړنه چې ته کوم پســـــرلی غواړې خدايه بياد ې پسرلی کړ

## په صداقت اوسه پښتونه

په صداقت اوسه پښتونه    په لوړ همت اوسه پښتونه
پښتنې ژاړي وينځيتوب نه قبلوينه    د بېګانه و
***
که ته پښتون يې ساز پښتون شه    د خپل ټبر په پيوستون شه
يو اتفاق او يو ترون شه
د نورو خلکو په ځان مه پرېږده حکمونه    د بېګانه و
***
نن د سرخپوشو نجونې ژاړي    آزاد ژوندون په دنيا غواړي
په دغه سوال ځواب ته ولاړې
موږ د پردو منګي وړی نه شو په سرونه    د بېګانه و
***
ستا کونډې رنډې يتيمان ټول    در په در ګرځي سرګردان ټول
ستا د سرخپوشو سرداران ټول
په جېلخانو کې تېروي ډېر تکليفونه    د بېګانه و
***
يا ځانته جوړ پښتونستان کړه    يا دې پرې سر و مال قربان کړه
زړه ته تسل د ملنګ‌جان کړه
چې ماشومان وروڼه يې مړه شوي په بمونه    د بېګانه و

# اصیل پښتون

اصیل پښتون پښتونستان خوښوي
چې پښتون نه وی پاکستان خوښوي

پښتون پښتو پســـې ځي		بې ننگ پیسو پسې ځي

شریف شرف رذیل غیران خوښـــوي
چې پښتون نه وي پاکستان خوښوي

یو خوا شریعـت د نبي		بـل خوا قـانون اجنبي

مشــرک قانون مسلم قرآن خوښوي
چې پښتون نه وي پاکستان خوښوي

هندو کړ جوړ هندوستان		هم شــول آزاد یهودان

پښـتانه ځانته خپل نښـان خوښـوي
چې پښتون نه وي پاکستان خوښوي

د آزادۍ پـه مـیـنـه		چې جېلخانې ته ځینه

ملنگ‌جان هغه خانان خوښـــوي
چې پښتون نه وي پاکستان خوښوي

## بيا ليلى غمجنه ده

مجنونه پاڅه ليلى بل ځوک ودوينه      بيا ليلى غمجنه ده

د آزادۍ ليلى رنځوره ده      جوړ کړئ د وحدت شربت
خداى دې ليلى جوړه کړي
خلک پرې حملې کوي تروره ده      جوړ کړئ د وحدت شربت
خداى دې ليلى جوړه کړي
په لپو وينې تويوي افسوس کوينه      بيا ليلى غمجنه ده

***

يه خوشالخانه پاڅه پاڅه      جوړ کړه د خټکو پوځ
بيا په غورځنګ راشه ته
ليلى خو وځي مو له لاسه      جوړ کړه د خټکو پوځ
بيا په غورځنګ راشه ته
کارغه د باز نخرې کوي ژړا راځينه      بيا ليلى غمجنه ده

***

د چار سدې جينکۍ ژاړي      دير نواب خبر نه دى
يا کومه خوا تلى دى
آزاد ژوندون په دنيا غواړي      دير نواب خبر نه دى
يا کومه خوا تلى دى
د باجوړ نه زلمي ولى نه راځينه      بيا ليلى غمجنه ده

***

خليل مومند که يوسفزي دي      نه دي بردي کرې شملې
يا کومه خوا تلي دي
وزير مسعود که اپريدي دي      نه دې بردي کرې شملې
ځو نکړي ليلى خپله

د چل گزي شهيدان څوک به وګټينه     بيا ليلى غمجنه ده
پښتونستان چې آزاد نه کړي     دا د پښتنو خانان
زه يې خانان نه بولم
څو چې غيرت په هيواد نه کړي     دا د پښتنو خانان
زه يې خانان نه بولم
څله وهي په سرکو کې قدمونه     بيا ليلى غمجنه ده

***

که څوک خپه که خوشحالېږي     دا ده وظيفه زما
زه ملنګ جان وايم
که سمدستي مې سر غوڅېږي     دا ده وظيفه زما
زه ملنګ جان وايم
په شاعرۍ کې خو همدا خوبونه وينه     بيا ليلى غمجنه ده

## مه راوړه لاسونه

مــه راوړه لاســـونـــه اشـــنـــا
څو چې را نه وړې آزادۍ د باغ ګلونه - اشـــنا
***
کـه دې آزاد پښـــتونســـتـان کړ - اشــنـا
ځـان دې لایق د لوړ نشـــان کړ - اشــنـا
هله به درکړم د سرکو شــونډو سرونه - اشــنا
***
د آزادۍ ګــلان غــوټۍ دي - اشـــنـــا
زمــا د خــوږ زړګي پــټۍ دي - اشـــنــا
کله په ګل شي چې ترې جوړکړم امېلونه - اشنا
***
کـه پـه امـیـد مې د وصـــال یې - اشـــنـا
رښــتـیا مـین مې پـه جـمـال یې - اشــنـا
په دښـمن جوړکړه د دوه ډزو آوازونه - اشـنا
***
زه بـه هغـه زلمی خپـل یـار کړم - اشـــنـا
د زنې سر بـه تـریـنـه جـار کـړم - اشـــنـا
چې د وطن د پـاره بـاسي زحمتونـه - اشـــنـا
***
د ملنګ‌جان د خولې مســـــرې دي - اشــنا
خـدایږو لـه تـورو نـه تېرې دي - اشـــنـا
نور د بې ننګو خلکو نه کړم عزتونه  - اشـــنا

## ته که زما یار يې

تــــورې نـــــرۍ وربـــــځې          ولاړه يــمــه
درڅخـه غـوارم آزادۍ د بـاغ ګلونـه          ته که زما يار يې

***

زمــا پــر مــخ مــيــنــه يــاره          ځـه ملا وتـړه
زمــا د شـــــونـــډو خـــريـــداره          ځـه ملا وتړه
د آزادۍ لـــيـــلا د پـــاره          ځـه ملا وتـړه
چې زه دې وګـورم د تـورې ګـوزارونـه          ته که زما يار يې

***

کـه تـه زمـا مـحـبـت غـواړې          آزاد کـړه وطـن
کـه معشـــوقو نـه وصـلـت غواړې          آزاد کـړه وطـن
کـه د ځـان قـدر و عـزت غـواړې          آزاد کـړه وطـن
په سرو منګولو به دې کېمنډم لاســونه          ته که زما يار يې

***

پښـــتونســـتـان کـه دې آزاد کــــــړ          دا قول دی زما
نـنـګ او غـيرت کـه دې اثـبـات کـړ          دا قول دی زما
کـه اســتعمـار لښــکر دې مـات کړ          دا قول دی زما
در نه به ځار کړم د سرکو شونډو سرونه          ته که زما يار يې

***

واوره مســــــــرۍ د مـلـنـګ جـان          فقير د خولې نه
تــېرې تــيرې د مــلـــنــګ جــان          فقير د خولې نه
نــارې ســــورې د مــلــنــګ جـان          فقير د خولې نه
د قام د پاره په ځان واخله تکليفونه          ته که زما يار يې

## پښتنه پېغله

*يوه پښتنه پيغله چې پلار يې د وطن په لاره کې شهيد شوی دی، د وطن دفاع دپاره د خپلې مور نه داسې رخصت غواړي*

اد کي مورې رخصت راکړه　　مشکي اوربل مې زه د قام نه ځارومه

***

د مغلګۍ خويندې مې ژاړي　　سرتور سرونه

د خپلو مړو انتقام غواړي　　سرتور سرونه

زلمي خو خدای خبر که لاړ وي　　په ما لازم دی همدردۍ له پاره ځمه

***

د چهلګزي نه زګيروي خېږي　　د ماشومانو

زخم تر اوسه نه جوړېږي　　د ماشومانو

عجب نورخان مې نه هيرېږي　　داتمانزيو بې‌غوري زه وخوړمه

***

نه به خوشال خټک بيا راشي　　د قام بازخواست له

نه به شيرشاه ميرويس پيداشي　　د قام باز خواست له

نه به ژوندی بيا احمدشاه شي　　خاونده خدايه زه نو چا ته وژاړمه

***

دا موجوده خانان دې ناست وي　　خپلو حجرو کې

خير دی د دوی طبيعت دې راست وي　　خپلو حجرو کې

زما دې خدای ته زارۍ خواست وي　　زه به مې خپل وطن په پېغلو وګټمه

***

چاپلوسي مې نه خوښېږي حقيقت وايم

څوک دې په ما نه غصه کېږي حقيقت وايم

د قام په حال مې زړه خوږېږي د ملنگ‌جان په مسرو هر بې‌ننګ داغمه

## سربازه ياره

زړه کې ساته د قام دردونه        سربازه ياره
سرې شونډې به ځار کړم له تا نه
عزم دې ټينګ لره په زړه کې        غيرت مدام ساته چاړه کې
چې جينکۍ دې د مورچل کوي سيلونه        سربازه ياره
سرې شونډې به ځار کړم له تا نه
سر پښتنوالې نه خيرات کړه        د خپل بابا وطن آزاد کړه
په اوږه مه وړه د پردو خلکو بارونه        سربازه ياره
سرې شونډې به ځار کړم له تا نه
که تا خپل ځان په وينو رنګ کړ        سر دې فدا تر نام و ننګ کړ
زه به دې قبر ته کوم تل سلامونه        سربازه ياره
سرې شونډې به ځار کړم له تا نه
د زلميتوب نښه همدا وي        زلمی د خپل قام نه فدا وي
د لوغړن ملنګ‌جان واورئ فريادونه        سربازه ياره
سرې شونډې به ځار کړم له تا نه

# چاته وژاړمه

په وينو رنګ جامې په ترخ کې ګرځومه — چــا تــه وژاړمــه
که پښــتنونخوا کې زلمي ډېر دي څې[1] کومه — چــا تــه وژاړمــه

***

د چارســـدې د شـــهيد ښـــځه يمه — په سرو جامو کې کونډه شـــوې يمه
تل په ژړا خـــــــواره عاجزه يمه — په سرو جامو کې کونډه شـــوې يمه
د اوښـــکو ډکې ســـترګې کوم خوا واړومه — چــا تــه وژاړمــه

***

څښـــتن شـــهيد ورونه بنديان شـــول زما — ســـترګې مې اوړي پښـــتونخوا زلمو ته
بې پلاره پاتې ماشـــومان شـــول زما — ســـترګې مې اوړي پښـــتونخوا زلمو ته
زه به تر څو د بيګانه و منګي وړمه — چــا تــه وژاړمــه

***

د شـــهيد سرې جامې به ويســـمه زه — د احـــمدشـــاه بابا مزار ته
پاس په شـــانه به يې ورته کېږدمه زه — د احـــمدشـــاه بابا مزار ته
ســـتا درانيانو بې بازخواســـته پريښـــودمه — چــا تــه وژاړمــه

***

د پښـــتنو خانان دې جوړ اوســـېږي — د چارسدې کونډې دې کړي ويرونه
په پولاوو دې هر يو موړ اوســـېږي — د چارسدې کونډې دې کړي ويرونه
دوی دې خاني کړي زه به جبل ته خرڅې وړمه — چــا تــه وژاړمــه

***

د قام په درد چې دردمن نه وي — زه ملنګ‌جان هغه ته خان نه وايم
په آزادی چې مين نه وي — ملنګي خپله په دوی کله بدلومه
چــا تــه وژاړمــه

---

[1] څې - څه يې

## باغوانه!

گـل دې شـــه لاســـونـه بـاغـوانـه          ستا په باغچه‌ګۍ نوراني خوشبوی گلونه باغوانه
گـل دې شـــه لاســـونـه بـاغـوانـه

***

بـاغ د تـوتي گـروي د زاغ و بـاغـوانـه          د هـر بـلـبـل پـه زړه دا داغ و بـاغـوانـه
تا د غيرت په مچنغوزو شړل زاغونه باغوانه          گـل دې شـــه لاســـونـه بـاغـوانـه

***

بـاغ دې جړا وکړه پـه سرو گلو بـاغوانـه          پـه وير نـه خېـــــــژي د ســمبلو باغوانـه
په هر خيابان کې د توتيانو آوازونه باغوانه          گـل دې شـــه لاســـونـه بـاغـوانـه

***

گلاب غوټۍ ســپړي غوړېږي بـاغـوانـه          نـرگـس پـه بـوټي کې ځـلـېږي بـاغـوانـه
مشکي بورا په گلو بياموندل خوندونه باغوانه          گـل دې شـــه لاســـونـه بـاغـوانـه

***

زه د هـغـو خـلـكـو غـلام يم بـاغـوانـه          شـــام و ســحر يې پـه ســلام يم بـاغـوانـه
چې د وطن دپاره باسي تکليفونه باغوانه          گـل دې شـــه لاســـونـه بـاغـوانـه

***

سر مې د خـداى بيـا د وطن دى بـاغوانـه          وطـن عـزيـز زمـا د تـن دى بـاغـوانـه
ما ملنگ‌جان پکې خپوړې کړي دينه باغوانه          گـل دې شـــه لاســـونـه بـاغـوانـه

## د آزادۍ د بڼ بلبله!

د آزادۍ د بڼ بلبله     شکر چې بیا مې شو په غوږ ستا آوازونه

***

عمر دې تېر شو خطرو کې     ټول د ظالم صیاد پنجرو کې
همېشه وې په شوګیرو کې     د قام د پاره دې قبول کړل زحمتونه

***

په عمر زوړ په همت ځوانه     په عزم ټینګ عالي نښانه
قربان قربان ستا له ایمانه     رېږه دې سپینه کړه د قام په خدمتونه

***

ښه شو چې خلاص شوې له زندانه     د پښتنو فخر افغانه
د آزادۍ شمعه روښانه     د چارسدې د قتل عام وخوره غمونه

***

جوړ کړه دا مړاوې ګلستان خپل     اوس دلاسا کړه یتیمان خپل
خوښ کړه قبرو کې شهیدان خپل     عطاالله خان سره وړې ارمانونه

***

بې غم کېنې به په کلاره     دمې ته نه یې لا وزګاره
د پښتنو ګرانه غمخواره     د غمزده ملنګ‌جان واوره فریادونه

# وګټه ځان پښتونه

وګټه ځان پښتونه     خپل عزیزان پښتونه
یو ځل ښکاره کړه بیا دنیا ته کلک ایمان پښتونه
***
ژوند د ذلت دې ورک شي     پردی منت دې ورک شي
تا سره زیب کوي آزاد پښتونستان پښتونه
مړيې ژوند به څه وي؟     د ځوانۍ خوند به څه وي؟
د اسارت د ژوند نه ښه دی ګورستان پښتونه
***
با تجربه سرباز یې     د لوړو غرو شهباز یې
بېننګي نه ده مناسب دا ستا په شان پښتونه
***
د لوغړن ملنګ‌جان     واوره دا آه و فغان
چې خجالت نه کړې په ګور کې خوشال خان

## ټولېږي ډلې ډلې ...

ټولېږی ډلې ډلې شازلمیان د پښتنو    روان دي سربازۍ ته سربازان دپښتنو

***

زاړه دي که زلمیان دي    په جوش سره روان دي
ناري د یاچایار وهي کوچنیان د پښتنو

***

تـوغـونـه سره رپـېږي    رڼې تــورې ځـــلــېږي
نو چېرته به خلاصېږي غلیمان د پښتنو

***

د کام وطن پـه مینـه    د څېرمې جنګ ته ځینه
ګټي د مټ په زور پښتونستان د پښتنو

***

پښــتون نه مرېی کېږي    یـا مري یـا کـامیـابېږي
ښکاره دی ټول جهان ته کلک ایمان د پښتنو

***

تــړون د آزادۍ دی    ګـډون د خپلواکۍ دی
وخـت راغی ملنګ‌جـانه شـــه قربان د

## خاونده خير کړې

خاونده خير کړې خير را پېښ کړې     وزيرستان زلمو را جگ کړل بيرغونه
***
وزيـرســـتـان کې سريـازانـو     مـتې راونـغښــتې غـازيـانـو
دې بـبرسرو شـــاه زلـمـيـانـو
د اســتعمار په کور يې وکړل غورځنگونه
***
مســــودو ټـيـنـگي مـلاتـړلې     خـټـک بـنـگښ دي پـارېـدلي
درســـت اپـريـدي دي خـوزېـدلي
دا يوســفزي پـه غـاړکو وهي لاســونـه
***
هم په مومندو کې غازيان شــته     ښـــه ننگيالي ښــه سربازان شـــته
لـکـه غـمي پکې ځـوانـان شـــتـه
دوی پـه ولجو کې تـل راوړي دی سرونـه
***
د بـاجــوړ زلــمي ټـولــېږي     خـپـل غـلـيـمـانـو نـه تښــتـېږي
چـترال کې سرې جـنـډې رپـېږي
دوی پـه ولجو کې تـل راوړي دي سرونـه
***
که څوک غيرت کوي وخت دا دی     که څوک همت کوي وخت دا دی
که څوک جنت غواړي وخت دا دی
پښـتنو مه پرېـــږدئ لمســو ته پېغورونه

ټـول شئ پـه يـو اواز راپـورتـه ***سم شئ روان د دښمن لور ته
غر به شي ويلې ستاسې زور ته
ملنـگجـان وايي پـه غـازيـانو ســلامونـه

## قومي تړون ...

قومي تړون دی زلمي ځان سـنبالوينه | د وطن خـدمـت تـه ځينـه
***
ويـنـم هـر خـوا مـظـاهـرې دي | د آزادۍ نـارې سـورې دي ځـوانـان ټـولـېـرې
لکه پتنګ په سرو لمبو غوټې وهينه | د وطن خـدمـت تـه ځينـه
***
د هـر پښـتـون ويـنـه ابښـېرې | که دی په هر ځای کې اوسېږي قـومي جـذبـات دي
زړونه نړدې دي که په هر و طن کې وينه | د وطن خـدمـت تـه ځينـه
***
خـيـبر، تـيرا وزيـرسـتـان نـه | ژوب او سـوبه بلوچسـتان نه لښـکـري وځي
سره بيرغرونـه مخکې بـاد يې رپوينـه | د وطن خـدمـت تـه ځينـه
***
د غـره مـومـنـد بـيـا پـارېـدلي | دېر او چترال هم خوځـيـدلي ټـولـنې کـيږي
د بـاجوړ نـه د مومنـدو کـام راځينـه | د وطن خـدمـت تـه ځينـه
***
يـا بـه آزاد پښـتـونسـتـان شي | يا به پښتون ورک له جهان شي فـيصـلـه دا ده
ملنـګ‌جـان دا خبر زلمو تـه ورکوينـه | د وطن خـدمـت تـه ځينـه

# سيلاب د اوښکو ...

سيلاب د اوښکو پرې راځي وړي مې خالونه     په مخ مې جوړ باران دی

***

وريـځې د غـم مې پـه زړه شـــوري     ځکه د سـترگو مې نم اوري
نـه مې هېرېږي چـارسـدې کې فريـادونـه     پـه مخ مې جوړ بـاران دی

***

خـويـنـدو راځئ گـډ پـه مـيـدا ن شئ     زلمو ته مه گورئ روان شئ
زلمي دی گرځي په حجرو دي کړي سيلونه     پـه مخ مې جوړ بـاران دی

***

نـور پـه خـانـانـو مـه نـازېـږئ     په تمانچو يې مه غولېږئ
دوی سره خپلو کې کوي گونـدي مرگونـه     پـه مخ مې جوړ بـاران دی

***

خـاونـده غـم مې د زړه سـور کـړې     پښـتونسـتان جوړ کړې
زه «هاجره»[۱] کومه سـتا در کې سـوالونه     پـه مخ مې جوړ بـاران دی

[۱] هاجره د مرحوم ملنگ‌جان د وربرې نوم دی چې ده به ځينې شعرونه د هغې په نوم ليکل.

# ځانو نه تېر یو ...

ځانو نه تېر یو ساتو د غرو سرونه        باغونه چمنونه
یه زموږ ګرانه وطنه
په خپلو وینو رنګو وسپېره ډاګونه        دا ستا ګرده رغونه
یه زموږ ګرانه وطنه
ته هدیره مو د نیکو یې، د هر پښتون ښکلې زانګو یې، پر موږه ګرانه
تانه وباسو د پردو خلکو لاسونه، پر موږه ګرانه
یه زموږ ګرانه وطنه
ته د پښتو باغ و بوستان یې، ځکه په هر پښتون ډېر ګران یې، تر مور او پلاره
ستا په خدمت کې ورکوو موږ خپل سرونه، لرو دا امیدونه
یه زموږ ګرانه وطنه
یا به دې زر تر زر د ځان کړو، یا به ځانونه ټول قربان کړو، د تا له پاره
اوس ورکوو د وروروڵی سره لاسونه، لرو دغه فکرونه
یه زموږ ګرانه وطنه
وطنه ستا ترقي غواړو، د دې مقصد دپاره ژاړو، خدای به دې ودان کړي
د ملنګ‌جان پر مخ د اوښکو ځي رودونه په زړه لري دردونه
یه زموږ ګرانه وطنه

## پاڅېږه مجنونه

پاڅېږه مجنونه - ليلی زورګيره ده سرې شونډې سره لاسونه

***

نن د ليلی په زلفو جنګ دی مېړنو کړی دغه ننګ دی
ننګيالي ګورم کړي هر خواته غورځنګونه

***

سر چې د ننګ ناموس نه ځار شي هله سرونو کې سردار شي
سرداران ځکه ورکوي په ننګ سرونه

***

که چا کې مينه د خپل کام نه وي او په خدمت کې يې مدام نه وي
چې کړي په خاوره کې يې نور خلک امرونه

***

ای د مومندو باتورانو يه د خاپښ د جنګ غازيانو
ستاسي وطن ته خلک بيا کوي ګواښونه

***

تل په دعا زه ملنګ‌جان يم د پښتنو ترقي خوان يم
الهي سم کړې د پښتون ويجاړ کارونه

# سترګې مې ډکې شي

سترګې مې ډکې شي له اوښکو چې جهان ګورم
نااميدي راشي چې خوار و زار خپل ځان ګورم

***

باغ و بوستان دی زموږ      مره پرې اجداد دي زموږ
وينې توی شوې هميش      په دې هيواد دي زموږ
ولې به نه ژاړم چې ګډ پکې کارغان ګورم

***

ويښ شول ويده قامونه      خپل خپل کارونه کوي
چې ؤ د بل په لاس کې      اوس خپل امرونه کوي
څنګه به نه مرم چې محکوم پښتونستان ګورم

***

خلک محبتونه کوي      د عزيزانو سره
ناسته ولاړه کوي      خپلو مشرانو سره
زه به نو څنګه پرديسي فخر افغان ګورم

***

څوک دې غصه نه کوي      د حقيقت په بيان
خان خو هغه باله شي      چې وي د قوم نه قربان
زه ملنګ‌جان دغه حق وايم چې هر خان ګورم

## پښتنو تاسې سرداران شئ

پښـــتنو تـاسې سرداران شئ چې زم[1] ویـنـځـه شـمـه
زه د پردو خدمت له جوړه نه یم

***

خـپـل لـیـاقـت وګـټئ خـپـل شرافـت وګـټئ
جوړ د ختکو خوشال‌خان شئ چې زم ویـنـځـه شـمـه
زه د پردو خدمت له جوړه نه یم

***

زلمېانو جوړ کړئ لښـکر وځئ لـه کـوره بـهـر
پـه آزادۍ پسـې چې زم ویـنـځـه شـمـه
زه د پردو خدمت له جوړه نه یم

***

پـردی حـکـومـت مـه منئ د قـام ذلـت مـه منئ
د قام په مخ کې خادمان شئ چې زم مـیـنـځـه شـمـه
زه د پردو خدمت له جوړه نه یم

***

خـپـل اسـتـقـلال وګـټئ د قـام جـلال وګـټئ
ټول او توتګي ته نادرخان شئ چې زم مـیـنـځـه شـمـه
زه د پردو خدمت له جوړه نه یم

***

د «هـاجـري» نـوخـیزې دی ارزوګـانې تـیزې
د خپل آزاد ژوند خاوندان شئ چې زم مـیـنـځـه شـمـه
زه د پردو خدمت له جوړه نه یم

---

[1] زم : زه مو

## لوګی شمه له تا نه

لوګی شمه له تا نه پتنګ دې یم پتنګ
زما پښتونستانه ملنګ دې یم ملنګ

موږ ســـتا د زیړو کاڼو نـه لالونـه بـه لوګی کړو
لالونـه خو لاڅـه کړې چې ځـانونـه بـه لوګی کړو
ژوند نه غواړو بې تانه ملنګ دی یم ملنګ
عـزت چې خـلـک وایي خـو عـزت زمـوږه تـه یې
عـزت خـو لاعـزت وي چې جـنـت زمـوږه تـه یې
په تا تېر یو له ځانه ملنګ دی یم ملنګ
د غیرو شـــنه باغونه، ځار شـــه ســـتا شـــاړو میرونه
کوم خوند چې شته جنت کې، زه یې اخلم ستا له غرونه
زما جنت نشـــانه ملنګ دی یم ملنګ
مجنون تـه کـه لیلا وه خو پښـــتون تـه تـه لیلا یې
لـیـلا خـو لا لـیـلا یې چې زمـوږ نـنـګ او حـیـا یې
محبوب د ملنګ جانه ملنګ دی یم ملنګ

# خوشبويي خېژي

خوشـــبويي خېژي ســـتا له د ښـــتو له دامانه زما پښتونستانه دردونو ته دوا يې

***

لالونه څه دي چې به ســـتا له کاڼو ګران اوسي
باغونه څه دي چې ستا شاړو نه روښان اوسي

***

زه پـه دنيـا کې نور څـه نـه غواړم يې تـانـه زما پښتونستانه دردونو ته دوا يې
تـه د دنيـا پـه مخ جنـت يې يـه جنتـه زمـا
تـه زمـا زيـب زمـا زينـت يې يـه زينتـه زمـا

***

سر مې قربان شـــه ســـتا له نوم او له نښـــانه زما پښتونستانه دردونو ته دوا يې
ســـتا په ناوونو کې نارې چې د مرغانو واورم
چې تـاپوګـانو کې دې غږ د تـاروګـانو واورم

***

ســـاز و سرود د کل جهان هېر شي لـه مـانـه زما پښتونستانه دردونو ته دوا يې
که مجنون خاورې شـــو صـــحرا کې د ليلا په مينه
زه ملنګ‌جان به خپل ځان خاورې کړمه ستا په مينه

***

زه خدای هست کړی يمه ستا خدمت ته ګرانه زما پښتونستانه دردونو ته دوا يې

## د پښتنو زامن

د پښـــتنو زامن آزاد پښـــتونســـتان خوښـــوي نـــه ځي بـــل چـــا لـــه
چې پښـــتون نه وي البته د بل غیران خوښـــوي درومي بـــــل خـــــوالـــــه

***

څــوک چې اصـــیـــل پښـــتـــون زاده وي د بـــاشرفـــو اولاده وي
هغوی همیش د قام لپاره لوړ نښـــان خوښـــوي پښـــــتـــــنـــــوالـــــه

***

د اســـــارت ژونـــدون دې ورک شي که سرې دروند وي پکې ســـپک شي
داسې ژوندون په دنیا کله انســـانان خوښـــوي پـــه مـــرګ خـــوشـــالـــه

***

څــوک چې شـــهـــیـــد پـــخـــپـــل وطـــن شي پـــه ویـــنو رنـــګ لاړ شي دفـــن شي
داسې زلمی خو د جنت حور و غلمان خوښـــوي نـــیســـــــــي بی[1] خـــوالـــه

***

څــوک چې شـــیـــدا پـــه نـــام و نـــنـــګ وي پـــه آزادۍ پســـــــې ملنګ وي
ملنګ‌جان تل په هرهر ځای داسې زلمیان خوښوي پـــه هـــر مـــهـــالـــه

[1] بی - به یې

## پښتون به نه يم

کـه مې آزاد نـه کړې وطنـه        پښتون به نه يم
يا مې په تن نه شـــوې کفنه        پښتون به نه يم
***
يا آزادي به وي يا مرګ به وي والله بالله
که په شـا شـوم له دښـمنه        پښتون به نه يم
***
زه يم پښتون، وطنه ته پښتونستان نومېږې
کـه چـا دا نوم وګرځـونـه        پښتون به نه يم
***
وطنه ســـتا شـــازلمي بيا په تورو ګوټې وهي
کـه جهـان ونـه لړزيـدنـه        پښتون به نه يم
***
خيبره! تا به د يونټ په جال څوک بند کړی رانه
که مې دا جال ونه شـــلونه        پښتون به نه يم
***
مېنې دې خلاص کړ ملنګ‌جان له نورو مينو ځنې
که به په دروغ وکړم لوستنه        پښتون به نه يم

## د غلامۍ نه سر په دار ښه دی

ژوند په دنیا د اقتدار ښه دی

د غلامۍ نه سر په دار ښه دی

د مال و سر په قیمت چې ساتي خپل ملیت

دغه سودا داسې قمار ښه دی

د غلامۍ نه سر په دار ښه دی

چې ننګ و نام نه لري مینه د قام نه لري

هغه نواب نه یو خرکار ښه دی

د غلامۍ نه سر په دار ښه دی

د آزادۍ په لاره ملي ناموس دپاره

ځواني‌مرګي په دغه لار ښه دی

د غلامۍ نه سر په دار ښه دی

د غلامۍ نه توبه د بدنامۍ نه تو به

د خپلواکۍ نه مې سر ځار ښه دی

د غلامۍ نه سر په دار ښه دی

## په ارمان به گور ته ځمه

په گوتې ناسته د زړه وينې غورزومه    په ارمان به گور ته ځمه
د آزادۍ په ارمانونو مړه به شمه    په ارمان به گور ته ځمه

***

پښتانه ولې تار به تار دي؟    دا نفاق دی که جادو دی؟
د چا د لاسه خوار و زار دي؟    دا نفاق دی که جادو دی؟
دانه دانه ورونه په چا به ټولومه    په ارمان به گور ته ځمه

***

خاونده دا څنگه ژوندون دی؟    دا ژوندون نه دی کړاو دی
چې نن په برخه د پښتون دی    دا ژوندون نه دی کړاو دی
هر څوک ازاد شو زه د قيد شپې تيرومه    په ارمان په گورته ځمه

***

د قام خانانو ته سلام دی    د سلام سره ژړا ده
پس له سلامه دا کلام دی    د کلام سره ژړا ده
پښتونستان به زه له چا نه وغواړمه    په ارمان به گور ته ځمه

***

هغه زلمي به پيغلې څه کا؟    په وطن چې مين نه وي
د دوی شملو نه کوي کرکه    په وطن چې مين نه وي
د ننگيالو زلمو تلي به ښکلومه    په ارمان به گور ته ځمه

***

يا پټکي مه تړئ ځوانانو!    يا خو جوړ پښتونستان کړئ
يا مينه پرېږدئ د خوبانو    يا خو جوړ پښتونستان کړئ
زه «هاجره»[1] زلمو ته داسي اورومه    په ارمان به گورته ځمه

---

[1] هاجره د مرحوم ملنگجان د ورېرې نوم دی چې ده به ځينې شعرونه د هغې په نوم ليکل

# د قام زلميانو تړه وکړئ!

د قـام زلـميـانـو تـړه وکړئ ستاسې د ژبې پســې سم دي سيلابونه
***
پښــتنو يو شئ همت وکړئ ځـــانــځـــاني پـــريـــږدئ
پـه خپلـه ژبـه غيرت وکړئ په مور دی فرض د پښتو ژبې خدمتونه
***
قام خو په ژبه وړاندي درومي پښـــتــو کــړئ تــيــنــګــه
ملـت پـه دې تـرقي مـومي د مـورنۍ ژبې چې وکـړئ عـزتـونـه
***
تـل د پښــتو روزنـه وکړئ کـــه ژونـــدون غـــواړئ
تـل د پښـتو پـالنـه وکړئ خلـک پرې اړوي د خـاورو انبـارونـه
***
پـه خپله ژبـه قام رســېږي د ژونـــد مـــعـــراج تـــه
چې ژبـه پرېږدي قـام ورکيږي پښــتنو پرېږدئ د پردو ژبو خويونـه

# د تره زامن مې پېښور کې...

د تـره زامـن مې پـېښــور کې ژړاګـانې کـوي        زه به نو څنګه د چمن سـيل ته ځم
***
ښې جـامې نـه اغـونـدم پـلاره        نـه يمـه جوړ د سـيـل د پـاره
يتيمـان ورونـه بـه مې مـا تـه شــېراګانې کوي        زه به نو څنګه د چمن سـيل ته ځم
***
زه بـه خـوشــحـال ګـرځـم مـېـلـو کې        هـغـوی لامـده بـه وي خـولـو کې
دا خو ډېر شرم دی پلاره خلک خنداګانې کوي        زه به نو څنګه د چمن سـيل ته ځم
***
د اســتـقـلال جـنـګ کې پـلـرونـه د دوی        سـتـا ملګري وو نيکونـه د دوی
اوس د هغوی په بال و بچ خلک تعداګانې کوي        زه به نو څنګه د چمن سـيل ته ځم
***
زلـمـو! آزاد پښـتـونسـتـان وګـټئ        ملی نـامـوس ملی نښـان وګـټئ
تاســو ته څو به ملنګ‌جان دا ويناګانې کوي        زه به نوڅنګه د چمن سـيل ته ځم

## خوږه وطن پښتونستانه

خوږه وطن پښـــتونســـتانـه　　په غير له تا نه ژوندون څه مزه کوينه
ســــتـا خـاوره بـه پـالـيـنـه　　څـــوک چې پښـــــتـــون وي
***
ته يې پښـتون پښـتانه سـتا دي　　پښـــتانه ســـتا په نوم شـــيدا دي
سرومـال تـا ځـنې فـدا دي　　هر يو بچی لـه تـا نـه ځـان قربانوينـه
ســــتـا خـاوره بـه پـالـيـنـه　　څـــوک چې پښـــــتـــون وي
***
سينګار مو ته عزت مو تـــه يې　　نـعـمـت مـو تـه جـنـت مـوتـه يې
حيـات مو تـه عزت موتـه يې　　څوک خپله حيا له لاســه کله ورکوينه
ســــتـا خـاوره بـه پـالـيـنـه　　څـــوک چې پښـــــتـــون وي
***
ستا حفاظت په موږه فرض دی　　پـه هـر پښـــتون لـکـه د قـرض دی
د قــربـانۍ د ورکـړې ورځ ده　　پښتون به نه وي چې سر تا نه دريغوينه
ســــتـا خـاوره بـه پـالـيـنـه　　څـــوک چې پښـــــتـــون وي
***
ته د پښـــتون پښـــتونســـتان يې　　پـه پښـــتـنـو بـانـدې ډيـر ګـران يې
ګران لکه خپل دين و ايمان يې　　د ملنګ‌جان ژونـدون پـه تـا اړه لرينـه
ســــتـا خـاوره بـه پـالـيـنـه　　څـــوک چې پښـــــتـــون وي

## زيبا پښتونستانه

تـه هيڅ کم نـه يې پښـــتنو تـه لـه ايمـانـه گـرانـه وطـنـه زيـبـا پښـــتـونسـتـانـه

***

وطـنـه تـه نـنـگ و نـامـوس د پښـــتـنـو يې تـه مـيراث د پښـــتـنـو د خـپـلـخـانـو يې
هـم هـديـره زمـوږ د مـړو پـخـوانـو يې دا خپلـه وينـه بـه لـه تـانـه کړو قربـانـه

گرانه وطنه زيبا پښتونستانه

***

ســتا په گورگورو په خېړيو په نښـتر مې قســم ستا د سرگړو د خوشبوی بوی په اثر مې قسم
ستا په دې هسکو هسکو غرونو او خيبر مې قسم يـا بـه ازاد شی يـا بـه موږ ځو لـه جهـانـه

گرانه وطنه زيبا پښتونستانه

***

د شـينوارو، د سـاپو، د سـالارزو وطن يې تـه د مومنـدو، يوسـفزو او اڅکزو وطن يې
تـه د ختک، وزير، مسـيد او اپريـدو وطن يې ســتا په ذره خاوره هر يو تېر دی له ځانه

گرانه وطنه زيبا پښتونستانه

***

کور د پښتون يې تا کې بل څوک اوسيدلی نه شي هيڅ قوت تـا پـه بلـه خـاوره گـډولی نـه شي
نور پښتانه په دروغ و درب څوک غولولی نشـي ســتـا قربـانۍ تـه دي حـاضر زاړه زلميـان

گرانه وطنه زيبا پښتونستانه

***

تـه زمونږ روح يې‌روح او تن جـدا کيـدلی نـه شي که روح جدا شي تن ژوندی پاتې کيدلی نه شي
پښــتانـه هيڅکلـه لـه تـا نـه تيريـدلی نـه شي زه ملـنـگ جـان درکړم تـا تـه اطـمـيـنـان

## د زړه ارمانه! پښتونستانه

د زړه ارمانه پښتونستانه زه دلې تا ته شپې کومه
***
نور په دنیا کې زما څه دي
سودا مې ته یې چې خو ژوندی یم
لیلا مې ته یې چې څو ژوندی یم ګرانه تا به یادومه
***
داچې زېړ زبیښلی ګرځم
په زړه مې ډېر دي دا ستا غمونه
رانه چاپېر دي دا ستا غمونه په غم کې عمر تېرومه
***
په تا چې تېر نه وي له سره
څه به یې خاني؟ څه به یې پښتو وي؟
څه به یې ځواني! څه به یې پښتو وي؟ زه ځواني تا نه جارومه
***
ته زموږ ژوند زموږ حیات یې
زه ملنګجان بغیر له تا نه
یه روح او ځان زه ملنګجان ژوند په ژوند نه حسابومه

# الله دي خير کړي!

مجنون را وغواړئ بيابان نه
په شاليلا پسې جرګې ځي او راځينه		الله دې خير کړي
***
يه د سرتور مجنون رهبره		د خداى دپاره
مجنون په څه دى در په دره
ليلا ازل کې د مجنون ده وردې کړينه		الله دې خير کړي
***
ځئ د مجنون وکړئ پوښتنه		په تورو غرو کې
دا ملنګ راولئ د ننه
ليلا پرته ده د فراق سلګۍ وهينه		الله دي خير کړي
***
د مجنون خوينده پتې ژاړي		سرتور سرونه
ليلا مجنون د پاره غواړي
د عا شقانو آزار اخلي و به چوينه		الله دي خير کړي
***
پښتنې پېغلې انتظارې		خپلو زلمو ته
په آزادۍ پسې بيمارې
خوارانې ژاړي وينځې توب نه قبلوينه		الله دي خير کړی
***
د قام زلمیانو ته سلام دى		پس د سلامه
د ملنګجان د غه کلام دى
څوک د بابا هډوکي کله خرڅوينه		الله دي خير کړی

## خاوره يې د سرو ده

خاوره يې د سرو ده هره يو کاڼی يې مرجان دی
زه چې پرې مين يم دا هغه پښـــتونســـتان دی

***

دې کې اپـريـدي اوسي　　دې کې اورکـــزي اوسي
دې کې دي خليل مومند　　دې کې يـوســـفزي اوسي
دې کې مـمـوزي اوسي　　د دې خوږل ډېر گران دی
زه چې پرې مين يم دا هغه پښـــتونســـتان دی

***

دا د خوشال‌خان گلشن　　دا د ميرويس خان گلشـــن
دا د دريا خـان گلشـــن　　دا د ايمـل خـان گلشـــن
بـاسي ترينـه زاغ زغن　　مـاليـار يې بـاچـاخـان دی
زه چې پرې مين يم دا هغه پښـــتونســـتان دی

***

دې کې ښه زلميان اوسي　　دې کې شـــنه زمريان اوسي
دې کې ښـه خانان اوسي　　دې کې نــــــوابـــان اوسي
دې کې صمد خان اوسي　　غـليم تـرې پـه لړزان دی
زه چې پرې مين يم دا هغه پښـــتونســـتان دی

***

خدای دې باجوړې لري　　خـــدای دې چـترالي لــري
تل دې وي وزير ســـيد　　خدای خو دې ســـاپې لري
خـدای دې اڅکزی لري　　زړه مې پرې روښـــان دی
زه چې پرې مين يم دا هغه پښـــتونســـتان دی

یو رنګ پښــتانه یو موږ یو بــل تــه درانــه یو موږ
زه ملنــګ‌جــان دا وایم کلــه بــیـګـانــه یــو مــوږ
نن دانه دانه یو موږ لمسون د کوم شیطان دی
زه چې پرې مین یم دا هغه پښــتونســتان دی

# وطن په توره آزادېږي

وطن پـه تـوره آزادېــــــــــږي ځوانانو واخلئ پســــــې تورې، بيرغونه

***

دا کـار پـه هـغـه دغـه نـه شي لاســـــــونـــــــه يـــــوکـــــړئ
چې د پښــتو رنګه پرې شـــه شي پـه قربـانۍ کې د وطن ورکړئ سرونـه

***

دښـــمن په چل دانه دانه کړئ نـــــور مـــــه غـــــولـــــېږئ
ورور يې لـه ورور نـه بيګانـه کړئ د خدای دپاره د وحدت ورکړئ لاســونه

***

سر پښــتونوالي نـه خيرات کړئ پـــه ســــپــين مـــيـدان کې
د خـپـل بـا بـا وطـن آزاد کـړئ پـه اوږو مـه ږدئ د پردو خلکو بـارونـه

***

خـپـلـو نـيکـونـو تـه نـظـر کـړئ ځـــــای د غــــيرت دی
د قـام پـه سر سرونـه ورکـړئ ځـانو تـه مـه پرېږدئ د خپلو پېغورونـه

***

د اســـارت ژوندون دې ورک شي مـــرګ تـــرې بـــهـــتر دی
که سرې دروند وي پکې سپک شي زما غمجن ملنګ جان واورئ دا عرضونه

# زما پښتونستانه

کـه سر مې سر و نـولـه تـا بـه شي قـربـان     زمـا پښـــتـونســـتـانـه

***

ســـتـــا د دې غـــرو حـــفـــاظـــت     په هر پښتون دی سنت

ځار دې شم ستا په خدمت نه به شم ستومان     زمـا پښـــتـونســـتـانـه

***

ســـتـــا نـــنـــګـــیـــالي فـــرزنـــدان     ســـتـا حلالي فرزنـدان

ســـتـا بـریـالي فـرزنـدان تـا بـه کـړي ودان     زمـا پښـــتـونســـتـانـه

***

مـــیـــنـــه دې زړو کې زمـــوږ     غـــتـــو ورو کې زمـــوږ

د غرو په تړو کې زموږ نـاســـت دي زلمیان     زمـا پښـــتـونســـتـانـه

***

زمـــــا ځـــــواني او اولاد     خدای دې کړ تانه خیرات

څو دې آباد نه‌کړمه ځان ته نه وایمه ځوان     زمـا پښـــتـونســـتـانـه

***

پښـــــتـــــونســـــتـــــان وطـــــنـــــه     په پښـــتون ګران وطنه

د مـــلـــنـــګـــجـــان وطـــنـــه!     زمـا پښـــتـونســـتـانـه

## د پښتو ننگ دی

د پښتو ننگ دی را پاڅیږئ     ځوانانو واچوئ اوږو ته ټوپکونه

***

که څوک پښتون ځان لره وايي     وطن به ساتي

که د پښتون پلار نه پيدا وي     ځان ته به نه پرېږدي د ښځو پېغورونه

***

باچاخان مه پرېږدئ يوازې     د قام خانانو!

په صمدخان کېږي ناسازي     په سپينه ږيره جيل کې باسي کړاوونه

***

د هر ځوان د سره څنې ځار دی     سر د ناموسه

نر لره ننگ غيرت په کار دی     پښتنو کېږدئ په ملي ناموس سرونه

***

ځوانان په توره ښه ښکارېږي     تورې را واخلئ

گورئ چې وخت در نه تېرېږي     زما غمجن ملنگ‌جان واورئ دا عرضونه

## پښتونستان وطنه!

تانه قربان شمه د روح او ځان نه ګران وطنه
پښتونستان وطنه!

***

کور د ننګیـالو یې تـه          کور د شـــنو زمرویې ته
ســاتي دې وزیر مســید          وزیـرســـتـان وطـنـه!
پښتونستان وطنه!

***

تــه چې سریــازان لــرې          داسي فــرزنــدان لــرې
آزاد بـه شي پردو څنې          بلـوچســـتـان وطـنـه!
پښتونستان وطنه!

***

تــا کی اپـریـدي اوسي          تــا کې اورکــزي اوسي
تل دې وي خلیل مومند          قــومی لــویـان وطـنـه!
پښتونستان وطنه!

***

دیر او د ســوات ځوانان          دا د یوســـفزو خــانـان
وبـه کړي غیرت پـه تـا          ســـتـا نوابـان وطنـه!
پښتونستان وطنه!

***

خدای دې باجوړي لري          خــدای دې چترالي لري
ســـتا په غم شریک لري          افغـانســـتـان وطـنـه!
پښتونستان وطنه!

هر پښتون ته ګران یې ته ګران له خپله ځان یې ته
زه ملنـګ‌جـان تـا ګڼم دین او ایمـان و طنـه!
پښتونستان وطنه!

## په هره شپه د اسمان ستوري

په هره شــپه د اســمان ســتوري        وزيرســتان د شــازلمو کوي ســيلونه

***

وزير خو بيا لـه خيره لاړو امتحان تـه        تـړلې ملا مســيد راوتي دي ميـدان تـه
خپل لياقت او شرافت ښــي جهان ته        د طيـارو سره تش لاس کوي جنګونـه

***

د احمدزو د هر زلمي ټوپک تر څنګ دی        ختکو کړئ د خوشــحال په ږيره ننګ دی
د پښــتنو د اســتعماره سره جنګ دی        زلمي ورځي جينکۍ نـاســتې پـه کورونـه

***

خيبر، تيرا نـه اپريـدي جنګ تـه ټولېږي        په هره شــپه د اســتعمار په کور غورځېږي
د چارســدې مړي له هيچا نه هېرېږي        بـونيرو ولې کـانـه کـړي خـپـل غـوږونـه

***

د غره مومند د زيارت غاښي ته ټولېږي        د جنګ په لوبو استاذان دي ښه پوهېـــږي
دوی د وزيرو نـه کم نـه دي معلومېږي        دوی به هېڅکله چا ته ټيت نه کړي سرونه

***

د ديـر نـوابـه خـدای دپـاره روانـېږه        بيرغ دې واخلـه د اټـک پـه پلـه ودرېږه
د باچاخان په ســپينو ږکو وځور بـــږه        تـاسره ښـــايي چې د قـام وخورې غمونـه

***

يـه پـه کـابـل کې راټول شــوو وکيلانو        يـه دا فغـان د غيرتي ملـت مشـــــرانو
وکړئ غيرت د مغلګۍ پـه شــهيـدانو        د ملنګ‌جان ځان ته پرېنـــږدئ پېغورونه

## د جنکو په اننگو کې...

د جنکو په اننگو کې شنه خالونه ښايي
د ننگيالو زلمو اوږو کې ټوپکونه ښـايي

نن د گرويـک نـه د رڼو تورو شـــغلې راځي
د دوی له ډاره اســـتعمار باندې خولې راځي
ســـــواتـو و بـونـيرو نـه مې نـن گـيـلې راځي
دوی سره خپل د قام اولس وطن غمونه ښايي

***

خـيـبر، تـيرا وزيـرســـتـان نـه خـبرونـه اورو
لکه د شـــنو زمرو يې هر وخت يرغلونه اورو
د احمـدزو وزير مســـيـد ډير صـــفتونـه اورو
د هر پښـــتونه سره دغه شـــان کارونه ښـــايي

***

مومنـدو واخلئ بيرغونـه د پښـــتو پـه خـاطر
خپلو پلرونو او نيکونو د قبرو پـه خـاطر
بيا د سپين زيري محمدگل مومند ارزو په خاطر
چې هر هرچاته د غيرت او ننگ درسونه ښايي

***

دا شپې تېرېـــږي خو يادگار به تر قيامت پاتې شي
د چا نه سر ته به پيغور د چا صـفت پاتې شي
جار د هغو نـه چې تـاريخ يې د همت پاتې شي
ما ملنگ‌جان لره د هغو صـــفتونـه ښـــايي

## په هره شپه دا ستعمار مانۍ نړېږي

په هره شپه د استعمار مانۍ نړېږي * چې پرې ورسم شوو د پښتنو يرغلونه

***

پښــــتون چې پاڅي يوځل - په دښــــمن جوړ کړي يرغل - څو چې وانخلي بدل
دوی له ميدان نه په ژوندون نه په شاکېږي- په هره شپه دا ستعمار مانۍ نړېږي
د پلار نيکه نه دوی ته پاتې دا خويونه

***

اوس پـاڅيـدلی پښـــتون - راپـاريـدلی پښـــتون - جنـګ تـه وتلی پښـــتون
د دوی مېړانه به جهان ته معلومېـــږي - په هره شپه دا ستعمار مانۍ نړېـــږي
د غر پخوا ننګيالو کړي ډېر جنګونه

***

پښــــتونســـتــان ګټي خپـل - عزيزان ګټي خپـل - ملي نشــــان ګټي خپـل
د چارسدې يتيمان اوس به خوشالېـــږي - په هره شپه دا ستعمار مانۍ نړېـــږي
دا کـاکـاګـان بـه يې ګټي ورتـه پلرونـه

***

صــــياده مومې تـاوان - د دوی نـه وســـاتـه ځـان - وپوښـــتـه خپل باداران
د دوی له ډاره يې اوس هم زړونه رپېـــږي - په هره شپه دا ستعمار مانۍ نړېـــږي
دوی په ولجو کې ترې راوړي دي سرونه

***

د آزادۍ پـه مـينـه - چې سربـازۍ تـه ځـينـه - ملي نـامـوس ګـټـينـه
هغه ځوانان په مورچلونو کې جنګېـــږي - په هره شپه دا ستعمار مانۍ نړېـــږي
ملنګجان وايي په دوی ډېر ډېر سلامونه

## پښتونستان د پښتنو دی

سر ورکـول پـه وطـن کـار د مـېړنـو دی
پښـتونسـتان د پښـتنو دی

ځانو ته نه ګورو نه مال نه اولادونه ســاتو
هر څه نه تېر يو د وطن غرونه رغونه ســاتو
موږ د نيکونو او پلرو درانـه نومونـه ســاتو
دا وصــيت موږ تـه د جملـه و پخوانو دی
پښـتونسـتان د پښـتنو دی

يا به مو ژوند وي د آزادو انســانانو په شــان
پخپله خوښـــه به کوو پخپله خاوره ګوزران
يا به تورو خاورو غېږې له خپل وســپارو ځان
د آزادۍ عشــق موســاتلی پټ په زړو دی
پښـتونسـتان د پښـتنو دی

په هغه ملک په هغه خاوره چې پښتون اوسېږي
د هغه نوم پښتونستان دی دا نوم نه بدلېــږي
نور پښتانه د بل د سوري لاندې نه اوسېــږي
د ننګ خنجر اېښـــی د هر ځوان په اوږو دی
پښـتونسـتان د پښـتنو دی

هر څه نه تېر دي خو وطن نه تېريدلی نه شي
خپله پښــتو او پښــتونواله پرېښــودلی نه شي
د خپل راتلونکی نســل ژوند خرابولی نه شي
د ملنـګ‌جـان دا اعتبـار پـه شــازلمو دی

## ستا له پلوشو نه

ستا له پلوشو نه د عطرو بوی راځي        وطنه ګران زما
ګران پښتونستان زما        سر مې تانه ځار شه

***

څو چې مې سا وي په بدن وطنه ستا يمه
ستا سندرې وايمه        ته زما سبق يې
خوله مې ستا پې يادو ډېره بده ښکاري        يه دل و جان زما

***

آرام مې نه کيږي په کور خدای نه دې غواړمه
خان و بيګ ته ژاړمه        ګرځم پښتنو کې
خپله پښتنواله مې آرام ته نه پرېږدي        لوند شوګرېوان زما

***

سر نه به تېر شم تېرېدی شم دا دی کار زما
دا دی افتخار زما        ستا په خاوره باندې
ستا د مثقال خاورې نه نشم تېرېدلی        نشته توان زما

***

په تا چې نه دانګي له سره هغه نر نه دی
سر د هغه سر نه دی        زه خو ترې منکر يم
ملنګ جان ځکه سر له تانه جاروي        جنت نښان زما

## مومندو بیا...

مومندو بیا جګړې ته ورته کړل لاسونه    خیر کړې خاونده

***

بیا به کړېږه باندې جازونه راغلل    د انګریزانو تېر وختونه راغلل

***

د حلیم‌زو ځوانانو جګ کړل بیرغونه    خیر کړې خاونده

***

په هغه خاوره ډېر غازیان پراته دي    ټول د مسې بابا نمسیان پراته دي

***

کله پرېږدي په خپل وطن د بل حکمونه    خیر کړې خاونده

***

مومندو ډېر ډېر لوړ کارونه کړي    د ناوګۍ سر کې یې جنګونه کړي

***

دوی په ولجو کې دي راوړي ډېر سرونه    خیر کړې خداونده

***

ای د مسی بـابـا نمـسیانـــو    د بابا نوم ښه کړئ ځوانانو

***

د ملنګ‌جان ځانته پرې نږدئ پیغورونه    خیر کړې خاونده

## حکیمه ستا راتلو ته ...

حکیمه ستا راتلو ته یمه په انتظار - دارو زما دپاره - له ځانه سره راوړه!

***

زه محبت یمه خوړلی ته خو پوه یې کنه

ډېر اندیښنو یمه ځپلی! ته خو پوه یې کنه

اور د هجران یمه سېزلی ته خو پوه یې کنه

د خدای د پاره په علاج وکړه تلوار - دارو زما د پاره - له ځانه سره راوړه!

***

زه د جانان په مخ مئین یمه بیلتون نه غواړم

که جانان نه وي په دنیا کې زه ژوندن نه غواړم

بې د اشنا له غېږي بل یو درملتون نه غواړم

زه نه جوړېږم بغیر د خپله یاره - دارو زما دپاره - له ځانه سره راوړه

***

حکیمه خدای لپاره واوره فریادونه زما

په احتیاط وګنډه د خوږ زړګي زخمونه زما

چې مړ مې نه کړې شته په زړه کې ارمانونه زما

زه لا موړ نه یم د اشنا په خوږ دیدار - دارو زما دپاره - له ځانه سره راوړه

***

زما په حال رحم په کار دی وفادار حکیمه

د امید سترګې زما تا ته دي هوښیار حکیمه

که زه خدای جوړ کړم نو به ستا شم خدمتګار حکیمه

زه ملنګ‌جان ملنګ دردونو کړم بیمار - دارو زما پاره - له ځانه سره راوړه

## د خوشحال خان په یاد

ســتا له غیرته ډک دېوان نه شــم قربان خـــټکه
یو ځل خو بیا راشـــه دنیا ته خوشـــال خان خټکه
یو ځل خو راشــه د پښــتون د حال پوښــتنه وکړه
فخر افغـان سره ملګرى شــــه پـالنـه وکړه
د چـارســـدې د یـتـیـمـانـو ډاډګـیرنـه وکـړه
وکړه تپوس د غیرت ګل او صــمـد خـان خټکـه
یو ځلې راشــــه دا خپـل مړاوى ګلســـتـان وګوره
د بـل لـه لاســـه در پـه در خپـل عزیزان وګوره
په مردکو ســورى ســورى د خداى قرآن وګوره
دویم اورنـګ راغلى ســتـا پـه خـانـدان خټکـه
ســتا پښــتانه ځانته آزاد پښــتونســتان غواړي
د غــلامۍ او بــدنــامۍ ځــنې امــان غــواړي
دغه کار ستا په شان ټینګ عزم ټینګ ایمان غواړي
کاشــکې پیداشي نور خانان داســتا په شــان خټکه
بیا خړې وربځې نن په غرو د پښـــتونخوا وینمـه
د پښـــتنو د ژوند او مرګ ســـود او ســـودا وینمه
ســـتـا پـه وطن د غلیمـانو تیرى بیـا وینمـه
ځکـه نـارې ســـورې وهم زه ملنـګ‌جـان خټکـه

## هر څه نه به تېر شم خو ...

هر څه نه به تير شـــم خو ايمان نه تېرېدی نشـــم
زه لکه ايمان پښـــتونســـتان نه تېرېدی نشـــم
عـزم مې دی کـړی چې وطـن بـه مې آزاد کـړم
يـا بـه دغـه لاره کې هســـتي خپلـه برباد کړم
دا زما پيمان دی خپل پيمان به څنگه مات کړم
زه خو د خپل قوله او له پيمانه تيريدی نشـــم
دا د حق اواز مې چې لـه خولې څنې وتلی دی
گوتې پـه گوتې نړۍ کې انســـانانو اورېدلی دی
اوس مې د وطن د پـاره سر لاس کې نيولی دی
هېڅکله وصـيت د خوشـال خان نه تېرېدلی نشـم
کانې د وطن نـه زمـا ځـار د غير لعلونـه شـــه
دې شـــاړو مېرو نه زما ځار د بل باغونه شـــه
ځېرو کنډوالو نه زما جار پردې قصـــــرونه شـه
زه خو د پښـــتون د نوم نښـــان نه تېرېدی نشـــم
سر کـه زما سر وي خو د کام نـه بـه خيرات شي
ټيت به چا ته نه شي که په سل ځايه کې مات شي
زړه که خير د کام نه غواړي هغه زړه دې مات شي
زه ملنگ‌جان خپل دغه بيان نه تيريدی نشـــم

# رنځوره مې ليلا ده

رنځوره مې ليلا ده حکيمان را ټولوم
بېدرد دې کړي خوبونه دردمندان را ټولوم
زما د آزادۍ ليلا رنځوره ده کړېږي
دا وينې به ترې ځار کړم که په وينو مې رغېږي
هر چيرته عاشقان له معشوقو ځيني ځاربږي
مجنون غوندې په عشق کې صادقان را ټولوم
خانان دي پګړۍ ګاني خپلې جګې ږدي په سر
چې وي يې په هر ځای کې فېشـنونه برابر
د کام پرده دې خدای وکړي په روی د پيغمبر
پښتو پښتونولۍ ته عاشقان را ټولوم
ورځمه مغلګۍ ته پکې ګورمه زخميان
بيا ګورم په تيرا کې په بمونو کلي وران
نو چيرته به پيدا کړم مجاهد فخر افغان
مردان او چارسدې نه يتيمان را ټولوم
لېږمه پيغامونه باجوړ ښکلو زلمو ته
نارې سورې وهمه د مومندو ننګيالو ته
د اوښکو ډکې سترګې وړم خليل او يوسفزو ته
جرګو نه بيا خدايي خدمتګاران را ټولوم
جامې په وينو رنګ به ګرزوم په سرحدونو
د هغو شهيدانو چې مړه شوي په بمونو
ژړا زلمو ته ښيم په نغمو او سرودونو
نوزه ملنګ جان ګرځم سربازان را ټولوم

# چې د وطن د آزادۍ نه...

نن چې د وطن د آزادۍ نه نه ځارېــــــــــږمه          څه په دې ځوانۍ په رب قسم دی پرې شرمېږمه

***

دا نيغـه شـــمله کږه وږه او دا فيشـــن زمـا          دا د بـل پـه لاس کې د بابا ښــکلی چمن زما
خلکو منصفان شئ مرگ بهتر به وي که ژوند زما          يا خو شرم نشته يا خو زه پرې نه شرمېـــــــږمه

نن چې د وطن د آزادۍ نه نه ځارېږمه

دا خليل مومند او داودزي نيشـــه ځوانان زما          دا د بل په جبل کې خوار و زار پراته مشـــران زما
زه مې دې پښــتو پښــتنولۍ ته حيرانېـــــــــږمه          ..........................................

څه په دې ځوانۍ په رب قسم دی پرې شرمېږمه

دا ملک او جايداد پراخ وطن ښــــه دارايي زما          لاس کې د هـغـو چې بـه کـولـه بـزگـري زمـا
اوس لا راتـه وايي راشــــه وکـړه مـزدوري زمـا          زه لا بينا گرځم خدايه ولې نه ړندېـــــــــــږمه

څه په دې ځوانۍ په رب قسم دی پرې شرمېږمه

څو چې زما سر د آزادی په لار قربان نـه شي          يا د پښـــتنو په لاس آزاد پښـــتونســـتان نه شي
هومره بـه قرار او آرامي د ملنگ‌جـان نـه شي          خود به کله ځان او کله بل ته غصه کېــــــــږمه

نن چې د وطن د آزادی نه نه‌ځارېږمه

## ستا پت به ساتمه

وطنه؟ ســـتـا پـه لاره سر قربـانومـه   ســتا پت به ســاتمه
وطـــنـــه ســــتـــا پـــه لاره   ســـتـا آزادۍ د پاره
که ځای د مرګ وي په خندا خندا به ځمه   ســتا پت به ســاتمه
ځـــو مې وي ســـا پـــه غـــږۍ   د ځنکـدن تر ګړۍ
ســـتا مبارک پښــتونســـتان به يادومه   ســتا پت به ســاتمه
تـــه ګـــرانـــه مـــور يې زمـــوږ   د ســترګو توريې زموږ
ســـتـا پـه لوري دښــمنان کله پرېږدمـه   ســتا پت به ســاتمه
خـــلـــک مې ژبـــه تـــږي   ما ستا له غېږې شړي
مرګ قبلوم خو ســـتا بيلتون نـه قبلومـه   ســتا پت به ســاتمه
کـــه عـــتـــابـــونـــه دي ډېـــر   يـا کړاوونـه دي ډېر
زه ملنګ‌جان هغـه ســـتا د پاره تېرومـه   ســتا پت به ســاتمه

## راځئ خویندو ..

راځئ خویندو چې جوړ کړو موږ د پېغلو ښــه لښــکر
خونـد د زلمو نشــتـه نـه پـه کوز او نـه پـه بر
راځی د وطن خویندو چې را ټولې په ښـه شـان شـوو
سرې شونډې سره لاسونه به ورګډې په میدان شوو
ټیکري پرېږدو زلمو تـه پګړۍ و تړو نران شـــوو
نور مـه کېنئ کورو کې ځئ چې ځو مخ پـه خیبر
مومند او اپریدی ځوانان دې ناسـت وي په دېرو کې
خانان د باجوړ دي کړي ســیلو نه په اوجرو کې
لـه داسې حالـه ښـــه یو موږ او تـاسې هـدیرو کې
ژونـدون د اســـارت نـه خدایږو مرګ بـه وي بهتر
خو دا رامعلومېــــــږي چې وزیر مسود شوه سترې
دا ځینې پښـــتـانـه خو پښـــتنې نـه دي راوړي
تـورسرې بـه ګـتي د مـغـلـګۍ چـلـګزي مـړي
بېغمـه دې زلمیـان کوي خوبونـه پـه بســـتر
بـاقي بـه موږ او تـاسې توروو ســترګې نو چـالـه
حرام شـــه چې بې ننګ زلمې پرېږدو خپلې خواله
خپلې پســـتې شـــونډې په ســـاتو هغه آشـــنا له
چې کاندي آزادۍ پســــــې جنګونه په ســــنګر
زلمیان کـه د خوشـــحال پـه بریره نـه کوي غیرت
مـوږ پـیغـلې خـو ســـاتـو د ملالۍ د څـنو پـت
نوخیـــــزي «هاجیرې» نه زیاتي لاړ صبر او طاقت
که نن وي که ســـبا ســـتر به مات کړي ځي بهر

# بگتی

## چې په سر ناخلم گوزارونه ...

چې په سر ناخلم گوزارونه مـا لـه د پښـــتون
د پښتون په سترگه مه گورئ!
چې مې وطن د بل په لاس دی فـرق مې د تـربـور
د تـربـور او تـرلې مـه کـوئ!
په شــمله تش وهم لاســونه مـا لـه د پښـــتون
د پښتون په سترگه مه گورئ!
چې قـام مې وړی نهر گرځي خـدای دي دا خـاني
دا خـاني زمـا د مرگـه کړئ!
چې يـتـيمـان کـوي وېرونـه مـا لـه د پښـــتون
د پښتون په سترگه مه گورئ!
په آزادۍ چې ښايسته نه شم خدای مې دې په باج
په باج پوستکی ښايسته نه کړئ!
نه په قـــلــم، رو مر ساتونو مـا لـه د پښـــتون
د پښتون په سترگه مه گورئ!
خير دی که ما له به بد وايي ځکـه چې نـه خـان
نـه خـان او نـه ملـک يم
مـا لـره ښـــايي پېغورونـه مـالـه د پښــــتـون
د پښتون په سترگه مه گورئ!
پښــتونســتان چې آزاد نه شي څه دی ملنگ‌جانه
ملنگ‌جانه ســتا د ژوند سره
کـه ننگرهـار شي سره گلونـه مـالـه د پښــــتـون
د پښتون په سترگه مه گورئ!

## ګلګون بيرغه

ګلګون بيرغه پښتونستان زلمي په تا فخر کوينه

پښتانه واړه پتنګان دي دا ستا ته معشوقه دوی عاشقان دي دا ستا
د زړه په مينه غلامان دي دا ستا سرونه خپل په تا بايلي تا به ساتينه

په رڼېدو دې تازه کېږي زړونه تا ته چې ګوري خوشالېږي زړونه
د پښتنو په تا رغېږي زړونه دا ستا د پاره هر يو سر قربانوينه
ګلګون بيرغه پښتونستان زلمي په تا فخر کوينه
بيرغه! ستا ساتل خو فرض دی په موږ ستا حفاظت لکه د قرض دی په موږ
دا د پښتو د قانون درس دی زموږ هر يو زلمی دې د خدمت ارزو لرينه
ګلګون بيرغه پښتونستان زلمي په تا فخر کوينه
اوسې اوچت په دې جهان بيرغه ته يې زموږه روح او شان بيرغه
تا به ساتو په ټينګ ايمان بيرغه ستا ليدو سره زموږ ماتېږي مينه
ګلګون بيرغه پښتونستان زلمي په تا فخر کوينه
بيرغه تا لره سلام دی زموږ لاس په نامه ډېر احترام دی زموږ
ا وسې او چت، دغه مرام دی زموږ د ملنګ‌جان صحت په تا اړه لرينه
ګلګون بيرغه پښتونستان زلمي په تا فخر کوينه

## پاڅېږه!

ځان جوړ کړه زلمیه		پاڅېږه
ملي خدمت دی ځوانان ډلې‌ډلې ځینه		پاڅېږه
د آزادۍ مطالبه ده پاڅېږه		ستا په وطن اله ګوله ده		پاڅېږه
ټوپک را واخله چې مې سترګې جګې شینه		پاڅېږه
زما وصال حرام دی پاڅېږه		زما ولور خدمت د قام دی		پاڅېږه
وطن آزاد کړه راځه را ته په مینه		پاڅېږه
ځوانان برچو سره لوبېږي پاڅېږه		ستا که له جنګه ویره کېږي		پاڅېږه
ټیکری مې واخله ما ته هم غیرت راځینه		پاڅېږه
دا فقیری[۱] ځوانیمرګ ګوره پاڅېږه		هره مسره یې د پېغوره		پاڅېږه
راته ښکارېږي ملنګ‌جان یې لمسوینه		پاڅېږه

[۱] فقیری – د مرحوم ملنګ‌جان شاګرد و چې دا لوبه به یې ویله.

# ځه ملا وتړه!

ځه ملا وتړه ما ته د باغ ګلونه راوړه زرزري شالونه د آزادۍ
ما ته په هر ساعت کې ناست یې په کومو سترګو
زما د سپینې خولې په خواست یې په کومو سترګو
ځه ملا وتړه وطن آزاد کړه بیا کوه زما د خولې سوالونه په ځوانمردۍ
ځوانان چړو سره لوبېږي د ننګ په ډګر
د ځان په سرو وینو لمبېږي د ننګ په ډګر
ځه ملا وتړه ترله خو نه یې چې کوې راته په کور خوبونه په بې غمۍ
زما هغه زلمی خوښېږي چې قام یې خوښ وي
پښتنې پیغلې ترې ځارېږي چې قام یې خوښ وي
ځه ملا وتړه ځوانان د قام په ننګ و نام خو لوبوي سرونه په قربانۍ
هلته به ته د ښکلو یار شې چې ملک وګټې
ویښو ځوانانو کې به شمار شې چې ملک و ګټې
ځه ملا وتړه د ملنګجان په نارو ولې کښوې غوړونه په بیدارۍ

## وطنه جان وطنه!

وطنه جان وطنه د ځان نه ګران وطنه
ځان مې لوګی شه له تا پښتونستان وطنه
زما د پلار په وينو رنګ دي ستا کاڼي بوټي
ځکه خوشبوی لاچې لونګ دي ستا کاڼي بوټي
ستا کاڼي بوټي به د پلار په خير پالمه د ځان په وينو په ټينګ ايمان وطنه
ته اديره مو د نيکو يې کعبه يې زما
خاوره د هغو د سرو يې کعبه يې زما
څو سا را کې وې دښمنان کله پرېږدمه د ستا په لوري په خپل ايمان وطنه
يا به دې زر تر زر آزاد کړم غيرت لرمه
يا به خپل ځان درنه خيرات کړم غيرت لرمه
که د زړګي د پاسه غبرګې ګولۍ خورمه خو ودی خورمه عالی نښان وطنه
پښتونستانه ته زما يې زما به اوسې
زه دې مجنون ته مې ليلا يې زما به اوسې
په رب قسم دی چې خپل سر در باندې ږدمه د ننګ په ډګر زه ملنګ‌جان وطنه

## دا د پښتو ننگ دی

دا د پښتو ننگ دی را واخلئ بيرغونه ملی ناموس مو خرابيږي
د خيبر هره گټه ژاړي د ايمل خان وختونه غواړي
په زور د پښتون خاوره غربي پنجاب سره گډېږي
پښتانه بيا ځي امتحان ته پښتون پېغور نه پرېږدي ځان ته
پېغور به د بې ننگو خلکو نمسو ته پاتې کېږي
ځوانانو ټينگ خپل اتحاد کړئ د متې په زور وطن آزاد کړئ
هيواد زموږ او ستاسې په قربانۍ به آزادېږي
ترڼې ملا په غورځنگ لاړ شئ بې غمه مه کيناسئ ولا ړشئ
خوشال بابا په گور کې په ډېر افسوس سره ژړېږي
د کور زړې گوندي مو پرېږدئ د قام په سر سرونه کيږدئ
ځيگر د ملنگ‌جان نن د قام په حال باندې سوزېږي

# سور سالو مې بېرته کړه

سور سالو مې بیر ته کړه        توره په سر ورېم مورې!
تور وربل مې مه گوره        نه يې جوړوم مورې!
زړه کې درد د قام لرم        سرې سترگې مدام لرم        زه کله آرام لرم
دا د غيرت اوښکې دی        زې[1] چې تويوم مورې!
دا د هوس شپې نه دي        ډول کې څه فايدې نه دي        وه مورې په دې نه دي
قوم دی در په در زما        نه يې هيروم مورې!
نشته پخواني ياران        هغه غيرتي ځوانان        نه ودوم چا ته ځان
کور کې ناسته ښه يمه        صبر به کوم مورې!
سر به نذرانه کړمه        ور بی[2] اعانه کړمه        ځان به نارينه کړمه
ځم د ملنگجان ملنگ اوښکې پاکوم مورې

[1] زې - زه يې
[2] بی - به يې

## څه غواړم؟

زه پـه دنيـا کې د دنيـا نـه عـدالـت غواړمـه
زوی د انســان يم په رښــتيا انســانيت غواړمه

د خدای دپاره وکړئ غور مسلمان پښتون يم	کلک با ايمان پښتون يم

دا ګناه نه ده چې خپل ملک او شريعت غواړمه
زوی د انســان يم په رښــتيا انســانيت غواړمه

د بل بارونه به دنيا کې خو ډنګر چلوي	نه چې بشر چلوي

زه ځاروی نه يم پردو پيټو نـه نفرت غواړمه
زوی د انســان يم په رښــتيا انســانيت غواړمه

ځمکه د خدای ده پکې برخه هر يو قام لري	هر څوک خپل سام[1] لري

له ماېې بل څوک ولې اخلي حقيقت غواړمه
زوی د انســان يم په رښــتيا انســانيت غواړمه

همت لرم بې‌همت نه يم خو نزاع نه غواړم	شور په دنيا نه غواړم

جګړه نـه غواړم پـه دنيـا کې امنيـت غواړمـه
زوی د انســان يم په رښــتيا انســانيت غواړمه

زلميانو واورئ فريادونه د دردمن ملنګجان	د لوغړن ملنګجان

پښــتنو تا ســونه يووالی او وحدت غواړمه
زوی د انســان يم په رښــتيا انســانيت غواړمه

[1] سام: سهم

## ځمکې تور لباس ګوزار کړ

ځـمـکې تـور لـبـاس ګـوزار کـړ	فلک تش شـو سـتارو نه
پـه تـمـام جـهـان ړنـا شـــوه	زه لار نه ګورم تیارو نه
انــنــګي مې دواړه شــــنــه دي	د ظـالـم څپړې خورمـه
څـه بې رحـمـه زمـانـه شـــوه	غبږ مې تپ شـو د نارو نه
ګناه ګار شــوم چې حق غواړم	نن د عـدل پـه دنیـا کې
شنه توتیان مې نه خلاصېــــږي	د صــیاد ظالم پنجرو نه
سریــازي زمــا پــیشـــــه ده	خلک بې څله راته ښــیي
نن سبا به مې خدای خلاص کړي	د نـفـاق د زنـځـیرو نـه
زه ژونـدی یـم لا مـړ نـه یـم	خلک مې ولي میراث بولي
خــونـړی ســـیلابـه راشــــه!	پښتونخوا د لوړو غرو نه
هـرګـز وچې نـه شــوې نم نـه	دا زما ملنګ‌جان ســترګې

هـره شـــپـه مې راځي خـوب کې
شـــــهــیـدان د ادیــرونــه

*د ۱۳۲۴ کال کوچنیا نود بین‌المللې ورځې په مناسبت ویل شوې دی*

## زما یادېږي

نن په رنګین لباس ښایسته وینم هر چمن کې کوچنیان
زمـا یـادېـږی د تـیرا او چـارســـدې یـتـیـمـان

نن په د نیا کې دکوچنیانو فیشنونه جوړ شول      په چارســده کې د تورسرو فریادونه جوړ شــو
د چا بچیان پاتې بربنډ او د چا څیرې ګرېوان
ځینو زامنو تـه بوټـان او جـاکټونـه جوړ کړل      چا خپلو لونو ته د سروزرو هارونه جوړ کړل
ژاړي هغه دي چې پلرونه یې جیلخانو کې بندیان
راځئ چې لاړ شــو چارســده کې یتیمان وګورو      چې په بمونو زخمیان شوي ماشومان و ګورو
څه تسلي به ور له ورکړو دي ناامیده خواران
زه ملـنـګ‌جـان د دنیـا ټولو عـادلانو لره      کوم عرضـــونـه اطفـالو غم‌خوارانو لره
غواړم چې وګوري یوځل دا بېګناه ماشـــومان

## شهیده!

لـه آرزوگانو سره ولاړې پـه ارمـان شـــهیـده
تا د خپل قام لپاره وقف کړ خپل ځان شــهیده

دنیا کې هیچا ســتا پوښــتنه غم‌خوري ونه کړه
اوس فریادي ولاړې حضـور ته د سـبحان شـهیده

عمر دې ټول د ظالمانو جیلخانو کې تیر شـــو
تا د خپل قام مینه پرې نښــوده هیڅ شــان شـهیده

د خپل زړګي په وینو سور کفن دې ګور ته یووړ
دغـه د چـا لـه ظلمـه تـه وې سرګردان شـــهیـده

د آزادی ناوې دې پاتې شـــوه د بل په کور کې
اوس دې پښتون کاندي په ځان ستا دا ارمان شهیده

زه ملنګ‌جان یم مجاور ســـتا د مزار د خاورو
د عیش پرستو خلکو نه یم مدح خوان شهیده

## صیاده زه دې پېژنم

صـــیاده زه دې پېژنم انســـان یمـه پوهېږم
زهر نه څکم په شربت کې په دوستۍ دې نه غولېږم

مـا پرېږده چې د ځـان پـه کـاروبـار یمـه مشـــغول
دا ستاڅومره مکرونه دي چې زه ترې نه خلاصېږم
په خوله باندې ډېر پوست یې په زړه کلک لکه فولاد
د ژبې لانـدې لس ژبې لرې زه حیرانېـــــــــږم
زمـا قتـل د پـاره دې اوس بـل فرېـب اختیـار کړ
د حق په مقابل کې ســتا له کاره نه ویرېـــــــږم

پردې شـــاتـه دې بل څوک کېنولې مخ کې تـه یې
حیران زه ملنگ‌جان یم په مطلب دې نـه پوهېږم

## سبا اختر دی ...

سـبا اختر دی ورونو تـاسی محبـت وکوئ
نفاق نه لاس واخلئ یو بل سره الفت وکوئ

سـبا اختر دی خپلې تیرې بدی پرېږدئ ورونو غاړه په غاړه شئ د مېنې اساس کېږدئ ورونو
یه پښـتنو خپلو منځو کې رفـاقـت وکوئ
نفاق نه لاس واخلئ یو بل سره الفت وکوئ

بغض و حسـد زړو نه وباسئ سره ورونه اوسئ مه کوئ فرق لکه د یو پلار اولادونه اوسئ
ادب د مشـر پر کشـرانو شـفقت وکوئ
نفاق نه لاس واخلئ یو بل سره الفت وکوئ

ټول پښـتانه د هر یو ځای لکه یو ورونه یو مور نه لرو فرق جوړ د یوې ونې ښاخونه یو مور
ځان ځانې پرېږدئ یو تړون او ټینګ وحدت وکوئ
نفاق نه لاس واخلئ یو بل سره الفت وکوئ

# څلورمه برخه غزلونه

## راغی اختر ....

راغی اختر څوك به مېلو لپاره ځان جوړوي
ما لکه شمع خپل بندیان او شهیدان ژړوي
نن په دنیا تمام اسلام باندې اختر دی ربه          په ما محشر دی ربه
خاص مظلومیت مې د محکوم پښتو نستان ژړوي
ما لکه شمع خپل بندیا ن او شهیدان ژړوي
نن په تیرا کې پاتې شوي یتیمان ژړېږي          دا شهیدان ژړېږي
بابا بابا ناري وهي هر یو هجران ژړوي
ما لکه شمع خپل بندیان او شهیدان ژړوي
پښتنو ځۍ مبارکې د خپل بندیانو سره          خپلو مشرانو لره
په سپینه ږیره مې بندي فخر افغان ژړوي
ما لکه شمع خپل بندیان او شهیدان ژړوي
یه خوشال‌خانه څه ټول خټک خبر کړه          د ننگ درسونه ورکړه
ځوړند ویښتو نه ما ښاغلی اجمل‌خان ژړوي
ما لکه شمع خپل بندیان او شهیدان ژړوي
دغه ساړه اوسیلي څو به کړي غمجن ملنگ‌جان          په زړه دردمن ملنگ‌جان
د خوشحالۍ په ځای مې ظلم او ظالمان ژړوي
ما لکه شمع خپل بندیان او شهیدان ژړوي

## خانه باچاخانه!

شو در په غاړه د قام غمونه خان باچاخانه!
عمر مو ډېر شه تر ډېر کلونه! خان صمدخانه!
د چارسدې لونې مو ژاړي غمخوارو پلرو!
د پښتنو انتقام غواړي غمخوارو پلرو!
خوارانې ګرځي سرتور سرونه څيرې ګرېوان
ځينې خانان دې کرار ناست وي غم ستاسې په سر
کړي دې مېلې چې چرته يې ساز وي غم ستاسې به سر
په سپينو ږيرو درانه بارونه وړي هر زمان
که څوک پښتون د پښتون زوی وي ځي ستاسې په لار
د پښتنې په غېږ کې لوی وي ځي ستاسې په لار
ستاسی پر مخ کې به ږدی سرونه په سپين ميدان
پښتونستان جوړ کړئ پښتون ته پخپلو لاسو
ليلا حاضره کړئ مجنون ته پخپلو لاسو
هله به روغ شي ناسور زخمونه د ملنګ‌جان

*د استقلال د جشن په مناسبت ۱۳۳۶*

## نن وخاندم که وژاړم

نــن وخــانــدم کــه وژاړم    دلته داسې هلته هســــې
ګـيلـمونـه دوه خـواره دي    هم ښـادي هم فاتحې دي
هم حيران چې کوم خوا لاړم    دلته داسې هلته هســــې
تماشې وې چه ورنژدې شوم    پيښــوري ورونه را ياد ول
ژړهغـونی شــــان ولاړ وم    دلته داسې هلته هســــې
افـغـانی وربـرې مې نـاز کـا    پښــــتنې وربړې مې کوکې
زه د کوم نـه ځـان ونغـاړم    دلته داسې هلته هســــې
کله شــونډو کې موســکی شي    کله تريو شي ملنګ جانه!
کاميابي دې رب نه غواړم
دلته داسې هلته هســــې

## ځوانۍ سره شهرت ...

**ځوانۍ سره شـــهرت د نـام و ننـګ مزه کوي**
**تېر پـه لار د قـام پـه ویـنو رنـګ مـزه کـوي**
یا ژونـد د خپلواکۍ ښـــه دی یا مرګ د شرافت
مـیـدان کې د سربـاز د تـورې شرنـګ مـزه کـوي
که ژوند ابدي غواړئ د خپل قام په مخ کې مړه شئ
بـیرغ د شـــهـیـدانـو رنـګـارنـګ مـزه کـوي
ځوانان ښـــايي په توره چې د ننګ توره په ملا کې
د پـیـغـلـو پـه ســـینـو لاچې لـونـګ مـزه کـوي
چې واک يې د پـردو وي کـه قـبـايې وي د زرو
د هـغـه نـه زوړ کـنـد د یـوه ملـنـګ مزه کوي
**د ځان غوښې کړه ویلې قام ویښ کړه ملنګ جانه**
**دا ســـتـا غوښې وریتې لکـه پتنـګ مزه کوې**

## چې سر پرې بايلي...

چې سر پرې بايلي غوره ګڼي پښتون دا کار نه کوي    دغســـې کار نه کوي
پخلا دښمن نه خلک ځان ساتي    پرې اعتبار نه کوي
پنځو پيسو دپاره څوک غلامي نه قبلوي
د بې ننګۍ ځای ته ورتلل پښتون دا کار نه کوي    دغـه اختيـار نـه کوي

که هر څه کړي پښتانه، خپل ناموس نه خرڅوي
ملي ناموس باندې ځان وژني مرګ نه ډار نه کوي    لـه مرګـه ډار نـه کوي

که ځيني بل نه پيسې اخلي نو جزيه يې ګڼي
ځای د رښتيا کې به هغوی داسې ګوزار نه کوي    او سـت ګوزار نه کوي

که عاجزان دي پښتانه خو بې غيرته نه دي
تاريخ شاهد دی او هېڅوک ترينه انکار نه کوي    دې کې انکار نـه کوي

انديښنه مه کوه په دې کې ملنګ جانه وروره!
دنيا د حق نارې وهي يو بل ازار نه کوي    يو بـل ازار نـه کوي

## په غرو کې یې زمریان اوسي

په غرو کې یې زمریان اوسي    ګټو کې یې ماران اوسي
د دې نیول ډېر ګران دی    دا پښتونستان دی
دې کې د پښتون کور دی    تل مدام اباد به وي
دې سره خدایي زور دی    هرکله ازاد به وي
هر ځوز یې د لړم په شان    ساته ترې غلیمه ځان
دې کې دې تاوان دی    دا پښتونستان دی
هر مېړی شرمښ به شي    ګیر تی[1] که دښمن راشي
هر شېرغشی توره شي    خوا تی[2] که زغن راشي
میاشې سره مچان شي جوړ    کیرړی ښاماران شي جوړ
غلیم ترې ګریزان دی    دا پښتونستان دی
ډېرو ملا تړلې ده    دلته چې را غلي دي
څوک مخ په دوزخ تللي    څوک ترې تښتېدلي دي
کوم چې پایېدلی دي    دا پښتونستان دی
دا ده د پښتتون خاوره    بل چیرته ګډېږي نه
څوک که سل حېلې وکړې    بل سره خلطېږي نه
ښه قوي پوهان لري    ښه زړور زلمیان لري
ډاډه پرې ملنګ‌جان دی    دا پښتونستان دی

[1] خواتی - خوا ته
[2] ګیرتی - ګیر ته یې

## خوند کا پسېدل

خوند کا پسېدل په نیمه شپه          چې عاشقان شي ګډ
یا خرپا د توري په میدان          چې سربازان شي ګډ
یا د آزادی نښــــان          یا پـه وینورنـګ تېتر
دا دواړه چې نـه وي خـدایږو بـد ښــکاري تنه کې سر
مـحـض لـکـه بـت چې د ژونـدیـو پـه مـیـدان شي
ژونـد خو یو څو ورځې وی نوم شي تر قیامـت پـاتې
پس لـه مرګـه چـا نـه شي پېغور چـا نـه صــفـت پاتې
دا ښــه دی چې نر د ننګ په کار د نر په شــان شي ګډ
نــر سره غـیرت ښـــایي          نــه د بې نـنـګۍ قـبـا
ســـل د بـل د لاس نـوابـان ځـار تـر یو ازاد ګـدا
ښه ده خپلواکي چې سرې سیال کړي په سیالان شی ګډ
هیلـه د خـاونـد کوه          مینـه خپـل وطن پورې
خـانـدي دې بې درده، ملنـګ‌جـانـه تـا دردمن پورې
خوري مظلوم څپېړې چې پـه ظلم ظـالمـان شي ګـډ

# نور محوه کېږئ

نور محوه کېــــــږئ پښـتنو پاڅیږئ ځان وګټئ
مه پرېږدئ خپل ننګ و غیرت پښتونستان وګټئ

ســـتاســـو غوږونو ته کړی د غلامی جوړوي ځکـه جرګې ټولوي
ویښ شئ هوښیار شئ خپل وطن پخپل ایمان وګټئ

حلالوي مو دښـــمنان د ځانځاني په توره د نـاداني پـه تـوره
لاسونه یوکړئ خدای دپاره دا میدان وګټئ

ستاسې د غم اوښکې راځي د باچاخان په ږیره د صمد خان په ږیره
وتړئ ملا د دې مشرانو نوم او نښان وګټئ

خپلو بچو تـه د پردو بـاداری مـه قبلوئ دا خواري مه قبلوئ
د خپل ملنګ ملنګ‌جان دا د زړه ارمان وګټئ

## يه د سوات پښتنو!

چې خرڅه نه کړئ خپله ژبه خپل نژاد پښتنو    يه د سوات پښتنو
خپلو نمسو ته جنجال مه پرېږدئ همت وکړئ    ننگ و غيرت وکړئ
د استعمار له ځنگه خلاص کړئ خپل هيواد پښتنو    يه د سوات پښتنو
سواتيو! ستاسي شهيدان په هديرو کې ژاړي    خپلو قبرو کې ژاړي
چې په پيسو باندې خرڅ نه کړئ خپل حيات پښتنو    يه د سوات پښتنو
يوسفزو! پاڅئ پښتنوالي او پښتو په خاطر    خپلو نيکو په خاطر
له خپله لاسه په ځان مه کوئ پسات پښتنو    يه د سوات پښتنو
عزيز خو نوم دی د الله خپل عزيزان وگڼئ    خپل شهيدان وگڼئ
د قام په لاره کې سرونه کړئ خيرات پښتنو    يه د سوات پښتنو

## پښتونستان وګټۀ!

مه ګټۀ مال د آزدۍ نام و نښـان وګټۀ
پښتونستان وګټۀ - پښتنو! ځان وګټۀ

د یو جریـب دپـاره کور کې جګړې مـه جوړوۀ
ځۀ لـه مغلو نـه جـایداد د خوشـــال خـان وګټۀ
یو ورور نادان شو ورور یې مړ کړ بل پرې څله وژنۀ
ځۀ لـه پردو نـه خپـل نیکونـه مظلومـان وګټۀ
د یوې کونـډې پـه سر کور کې فتنې څلـه کوۀ
د چـارســـدې پښـــتنې کونـډې یتیمـان وګټۀ
ولې پـه شـــفعـه سره نښـــلۀ او مرګونـه کوۀ؟
ځې لـه خـیـبره تـر اټـکـه لـوی مـیـدان وګـټۀ
نور پـه خـانۍ او ملکۍ کور کې ګونـدي مـه کوۀ
ځۀ خپل حکومت خپل ملیت عزت او شـان و ګټۀ

**په ملنګ‌جان چې درد غالب شي سخت ویل شروع کړي**
**د زخـمي زړونـو خـاونـدانـو تـه درمـان و ګـټۀ**

## په دې دنیا جنته!

وطنـه زموږ زړونـه ډک دي ســتـا لـه محبتـه        په دې دنیا جنته
ســتـا مینـه لکـه وینـه زموږ شــتـه ده پـه رګو کې
کوم خوند چې شته فردوس کې هغه مومو ستا په غرو کې
ده ســـتـا آب و آهـو سرا سر ډکـه لـه غـیرتـه        په دې دنیا جنته
وطـنـه ســـتـا خـواږه دي مـوږ ټـول عـمـر خـوړلي
څم[1] غوښې شـــوې پـه تن کې څم وينې ګرځېـدلي
هم تا نه به قربان کړو وینې غوښې له صــورته        په دې دنیا جنته
موږ ستا په غېږ کې لوی شوو ستا حق په موږه پور دی
انکار کولی نه شو تیری له پلار و مور دی
خدمت او حفاظت دې په موږ فرض دی هم سنته        په دې دنیا جنته
پـه تـا بـانـدې توی شـــوې ده زموږ د پلرو وینـه
ترڅو چې دا جهـان وي، ســـاتو بـه دې پـه مینـه
هیڅکله په دنیا کې نه کړو ســترګې چاته ښــکته        په دی دنیا جنته
زه ســتا له خاورې جوړ یم ځان خاورې به په تا کړم
کـه ســتـا پـه لاره مړ شــم ډېر فخر بـه پـه دا کړم
زمـا ملنـګجـان غـاړه بـه عقبـا کې وي اوچتـه        په دې دنیا جنته

## زه یتیم ستا قبر ته ناست . . .

زه یتیم ستا قبر ته یم ناست پلاره ژړا کوم
خود به شکایت درته له لاسه د دادا کوم

تا د قام وطن دپاره ځان خاورو ته وسپاره
ځینو کاکاګانو مې ته هېر کړې عرض په تا کوم
ستا په وینو رنګ کمیس ابۍ مې لا ساتلی دی
ترونه مې خیال نه راوړي زه سرې سترګې سودا کوم
تا ویل چې مومند او اپریدې به په ما ننګ وکړي
دوی چې قرار ناست دي زه به ستا ګټه په چا کوم
ځانته باچاخان او صمدخان بابا مې زیار باسي
نور دي خدای د دوی په شان کړي زه به دا دعا کوم

ماته مې قاضي بابا[1] په خوب کې هدایت کړئ
وایه ملنګ‌جان ته چې چپ نه شې امر دا کوم

[1] مرحوم قاضي عطاءالله خان

# سر چې قربان شي...

سر چې قربان شي د خپل قام نه پرې زیارت جوړېږي
پښتنې نجونې يې مزار خوښوي
که پس له مرګه عزت غواړې خدمتګار شه د قام
د قـام پـه مخ کې تکلیفونـه عبـادت جوړېږي
خدای او رسول دغسې کار خوښوي
مـه ګټـه مـال پـه مـال او سر خپـل حریـت وګټـه
په ځای د مال درته قصـرونه په جنت جوړېـږي
حور و غلمان به دې دیدار خوښوي
هر هغه سر چې خاورې کېـــږي نن د قام په لاره
ســل کاله پس به يې په قبر جمعیت جوړېـــږي
وروستی نسل يې لکه پلار خوښوي
چې سر بـازي اولاد بـازي او پښـــتنوالـه ســـاتي
عزتمن دا دی چې هر کار نه يې حقیقت جوړېږي
مرګ د غیرت او ننګ په لار خوښوي
باید د یو پښتون په درد بل پښتون و دردېـــږي
یه ملنګ جانه که نه کله ســتا علت جوړېـــږي
ځکه له غمه ډک ګفتار خوښوي

*د ۱۳۳۰ د خپلواکۍ د جشن په مناسبت ويل شوې دی*

## خدايه وکړم څه ...

خدايه وکړم څه په تصـــور لاړم
دې اخـتر تـه وخـانـدم کـه وژاړم
دلته خوشـــالي ده زړه مېلې غواړي
هلتـه زموږ کونـدې يتيمـان وژاړم
دي اختر تـه وخـانـدم کـه وژاړم
چورت او خيال کې مخ په پيښور لاړم
دلتـه ماشـــومانو تـه نـازونـه دي
هلتـه مې وربېرې سرتور سرونـه دي
خوله کې يم موسکی په زړه بهر لاړم
دې اخـتر تـه وخـانـدم کـه وژاړم
دلته نرۍ شرنګ د چنګ رباب راځي
آخـــــوا نه شرنګاری د غوراب راځي
زه د دې خوښۍ نه لاس په سر لاړم
دې اختر تـــه وخـــانـدم کـه وژاړم
لاړم يو محفل تـه وو خـانـان هلتـه
ومې‌ليد تصـــوير د پاچـاخـان هلتـه
سترګې مې شوې سرې په ژړا سر لاړم
دې اخـتر تـه وخـانـدم کـه وژاړم
خلـک کړي مېلې مـاتـه ژړا راځي
روح د شـــهيـدانو نـه حيـا راځي

زه ملنګ‌جان ګوښې مرور لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم

# د پښتو ننګ دی

د پښـــتـــو نـــنـــګ دی پښـــتـــنـــو
ځانونه جوړ کړئ د عمل میدان راځینه پاڅئ شـــازلمو
د پاچا خان په ږیره ننګ دی پښـــتـــنـــو
له اســـتعماره سره جنګ دی پښـــتـــنـــو
ترلې به ناســـتي وي زلمي به ملک ګټینه پاڅئ شـــازلمو
د صـــمد خان پوښـــتنه وکړئ پښـــتـــنـــو
عـــزیـــزولۍ پـــالـــنـــه وکـــړئ پښـــتـــنـــو
ســـتـــاســـو په غم کې کړاوونـــه تېرویـنه پاڅئ شـــازلمو
مـه پرېږدئ غم خپلو بچو تـه پښـــتـــنـــو
که صـــافه لار نه وه لمســـو ته پښـــتـــنـــو
را تلونکی نســـل به ښـــېرې تاســـو ته کړینه پاڅئ شـــازلمو
د اســـتعمار رنګ رنګ چالونه پښـــتـــنـــو
غـوړوي تـاســـو تـه دامـونـه پښـــتـــنـــو
د یو یونټ په نامه تاسي ورک کوینه پاڅئ شـــازلمو
چې کور یې یو واک یې د بل وي پښـــتـــنـــو
مرګ ترې بهتره یو په ســـل وي پښـــتـــنـــو
ملنګ‌جان هغه کور په ګور حســـابوینه پاڅئ شـــازلمو

# مخ نه اړوي خدمت نه ...

مخ نه اړوي خدمت نه ځي په مثل د اوبو
هغو چې د ننګ توره ده نیولې په اوږو
هر چا که لاس کې ونیوه کنډول د صداقت
ضرور به برخه یوسي په قدر د لیاقت
کنډول د خدمت ګارو مدام ډک دی له شودو
هر چا چې زړه بایللی وي په مینه د وطن
هغه کله ویرېږي په تیاره د ماسخوتن
چې[1] لوستي وي مکتب کې کتابونه د پښتو
په کوم تاریخ تېر شوی رستم او افلاتون
نومونې[2] لا ژوندي دي ته به وی مړه دي پرون
نرتوب د نارینه و پاتې کېږي تر مودو
دا وخت دې د ځوانۍ دی ونیسه د خدمت لار
**څه پرېږده ملنګ جانه بلې ورځې ته یادګار**
**زلمو ته اشارت کړه په خوږو نغمو**

[1] چې چه يې
[2] نومونې - نومونه يې

## د بل د لاسه در په در پښتنو!

زما د پلار نیکه ټبر پښـــتنو!
د بل د لاسه در په در پښتنو!

ستاسو کیږدیو نه قصـــرونه ځار شه    ســتاســو شړیو نه شــالونه ځار شــه
ما ته له هر چا نه بهتر پښتنو!
د بل د لاسه در په در پښتنو!

وزیـر مســـیـد او اپـریـدو تـه ژاړم    خلیـل مومنـد او یوســـفزو تـه ژاړم
د پاچاخان واخلئ خبر پښتنو!
د بل د لاسه در په در پښتنو!

تنها پرینـــــږدئ باچاخان په جېل کې    چې خپه نه کړئ صمدخان په جېل کې
سلام سلام د پېښور پښتنو!
د بل د لاسه در په در پښتنو!

پښتونستان جوړ کړئ بابا خوشال کړئ    ننګ او غیرت وکړئ الله خوشال کړئ
لاسونه یو کړئ لر او بر پښتنو!
د بل د لاسه در په در پښتنو!

د قام په غم کې سوزیـــدلی نـــه یـــم    زه ملنګ‌جان ګرېوان شـــکیدلی نه یم
سر ورکوم ستاسې په سر پښتنو!
د بل د لاســه در په در پښـتنو!

## څو به پښتانه او زولنې به وي

څو به د ظالم، ظلم کانې به وي
څو به پښتانه او زولنې به وي

کېـــــــږي به په تا پښـتونه څو پورې دا ظـلـمونـه څـو پـوري
څو به تورې جېلخانې به وي
څو به پښتانه او زولنې به وي
وي بـه مې پـه قـام تـالان تـاراج تر څو دا د ظـلـم رواج تـرڅـو
څو به مې سرتورې پښتنې به وي
څو به پښتانه او زولنې به وي
څو به دغه قام وي په ژوندون میراث در پـه در د بـل پـه لاس
څو د بل گوزار ته نښانې به وي
څو به پښتانه او زولنې به وي
څـو بـه ژړغـونی مـلـنـگ‌جـان گـرځي دا ملنگ به پریشان گرځي
څو به د غمونو ترانې به وي
څو به پښتانه او زولنې به وي

## د سبا نرۍ شماله!

دا زمـا پـیـغـام یـوســـه    گرځـوه پـه غرو رغو کې
د سبا نرۍ شماله!

دیتیم د اوښـــکو څـاڅکي    د پښـــتون پـه قبیلو کې
د سبا نرۍ شماله!

خــوځــوه تـورې کـېږدۍ    ترې لاندې زلمی ویښ کړه
نااشنا غوندې خلک ښکاري    د خوشـــال بابا دېرو کې
د سبا نرۍ شماله!

خدایه څه شــوو پښــتنو کې    هغـه ګڼ ګڼ کمیســـونـه
چې ورتلـل د ننګ ډګر تـه    بـه ګـډا پـه اتــنـو کې
د سبا نرۍ شماله!

خـدایـه سره بـېـل بـېـل    دا د ترونو ځامن چا کړل
ټول د یو بابا نمســـیان دي    کړې یې یو خپلو منځو کې
د سبا نرۍ شماله!

خـیـال پـه خـودغـرضـــو    بدل نه کړي ملنګ جانه!
رســـوه د غـیرت ټـکي    د ځوانـانو پـه غوږو کې
د سبا نرۍ شماله!

## غلامۍ نه ګورستان ښه دی

**ژوند د اسـارت نه يو په سـل ځله زندان ښـه دی**
**نوم د غلام ورک شـه غلامۍ نه ګورسـتان ښـه دی**
هر ملت او هر يو قام ځانته خپل نښـان لري
موږه پښـتنو لره دا خپل پښـتونسـتان ښـه دی
يو چټاکۍ خاوره د وطن هومره قيمت لري
سـل خرواره سره زر ترېنه سـل ځله قربان ښـه دی
ژوند ښـايي د پت سره ورک دې شي بې پته ژوند
پت د پاره سر که په کې ځي هغه مېدان ښـه دی
خدای دي د پردو پېښو لاندې لوند څوک په خولو نه کا
لار کې د وطن په خپلو وينو لوند ګرېوان ښـه دی
**څه به ها نواب چې اقتدار يې وي د بل په لاس**
**هسـې نوابۍ نه ملنګۍ کې ملنګجان ښـه دی**

## آزاد ژوندون غواړو

موږ پښتانه يو خپله ژبه خپل قانون غواړو          آزاد ژوندن غواړو
د آزادی په لاره   د خپلواکۍ دپاره
سرو نه تېر يو خو د خوښې اوسيدون غواړو          آزاد ژوندون غواړو
که مو سرونه پرې ځي          يا اولادونه پرې ځي
په هر قيمت چې وي ژوندن لره سمون غواړو          آزاد ژوندن غواړو
د عدالت له مخه          د حقيقت له مخه
خپل مليت خپل شرافت د خپل پښتون غواړو          آزد ژوندون غواړو
څو چې وي توان او طاقت غواړو به خپل حريت
بدنامي نه غواړو خپل حق په ښه مضمون غواړو          آزاد ژوندون غواړو

خدايه د وطن دښـــمنان غوښ کړې په خنجر زما
خير دی که بيا غبرګ مردکي ښـــخ شي په ځيګر زما
ســترګې به وي جګې خو شـال خان ته په محشر ـ زما
هم بـه مې ميرويس نيکـه بيـا نـه بولي بې‌ننـګ
خـدايـه دا ځواني کړې د عزيز وطنـه ځـار زمـا
جام د شـــهادت ته په نصـــيب کړې په يو وار زما
بس مې دی چې ښـــکلی کړی زيارت تـه د مزار زما
ګوري بـه مې قبر تـه چې دا وو ملنـګ‌جـان ملنـګ

## تو لعنت په هغه چا شه ...

تو لعنت په هغه چا شــه چې په کـــام ســوداګري کا
د پـنـځـو پـيســـو دپـاره د اغـيـارو نـوکـري کـا
بلـه نشـــتـه هســــــې لويـه مرتبـه لـه آزادۍ نـه
چې يې واک د بل په لاس وي په دې څه که افسـري کا
خدايه هسې زوي لوی مه کړې د پښتون په کورنۍ کې
چې لـه ننګـه بېخبر وي او دښـــمن پرې بـاداري کـا
هغـه سر بـه بختور وي چې د کام مخکې شي خـاورې
ځکـه کـام يې پس لـه مرګـه پـه مزار جمع اوري کـا
قربـانېږه ملـنـګ جـانـه د هغـو خلکـو لـه زړو نـه
چې د کام له مينې ډک وي د هيواد خپل غمخواري کا

## شهیده!

ستا په ګولۍ زخمي ټټر نه شم قربان شهیده　　ډک له ارمان شهیده
د آزادی په لار دې ورکړلو خپل ځان شهیده　　ډک له ارمان شهیده
تا چې دا خپله ځواني خاورې کړه د کام لپاره　　خپل ننګ و نام لپاره
زه به کونډتون کومه ستا په نامه ګران شهیده　　ډک له ارمان شهیده
زه به ښکاره کړم سرې جامې د پیښور زلمو ته　　د باجوړ زمرو ته
خلیل مومند لره به ژاړم په سوران شهیده　　ډک له ارمان شهیده
دیر او بونیر لره ورځم هلته زړور خانان دي　　ښه منور خانان دي
تا به ګټي که په رښتیا وي دوی خانان شهیده　　ډک له ارمان شهیده
بلوڅ خو هم دي زموږ ورونه په تا ننګ به وکړي　　د چړو جنګ به وکړي
یوځل به وژاړم په ټول بلوچستان شهیده　　ډک له ارمان شهیده
کور د پښتون به په ژړا سره زه ولړزوم　　پښتون به ودردوم
پښتون بابا لره به وشکوم ګرېوان شهیده　　ډک له ارمان شهیده
شهیده ستا له شهادته ملنګ‌جان خبروم　　ټول افغانان خبروم
د آزادۍ په لار دې وکړ ځان قربان شهیده　　ډک له ارمان شهیده

## شور د توتیانو دی ...

شور د توتیانو دی نن په چمن د ګلو
په هر خیابان کې سرود غربېږي
نن دې لیلی درغلې مجنونه خوا ته
سر دې راپورته کړه ګوره لیلی ته
د نور باران دی ستا په وطن د ګلو
په هر خیابان کې سرود غربېږي
دا زه جنت کې ګرځم که استقلال دی
یا نادرشاه د لاسه پاتې مثال دی
څنګه روښان دی زموږ ګلشن د ګلو
په هر خیابان کې سرود غربېږي
ګڼ عاشقان وینمه د وصال باغ کې
بوی د جنت لګېږي هر یو دماغ کې
ښه مهرویان دي کوي دیدن د ګلو
په هر خیابان کې سرود غربېږي
کړي تماشا د ګلشن د اسمان ستوري
سره بیرغونه ګلګون په شمال ښوري
خوښ بلبلان دي کوي لوستن د ګلو
په هر خیابان کې سرود غربېږي
بیا موند صحبت څه قدر ما ملنګ‌جان نن
چې څنګ په څنګ ګورمه خواره یاران نن
صادق باغبان دی شړي زغن له ګلو
په هر خیابان کې سرود غربېږي

## ستا به خدمتګاره شم

توري سترګې سره لاسونه ستا به خدمتګاره شم
جوړ مې کړه د سر ګلونه ستا به خدمتګاره شم
زه په یارانه کې تا نه ټیک او پېزوان نه غواړم
راوړه ماته ښـــه نومونه ستا به خدمتګاره شم
سوړ سوکړک به وخورم نفقی غم زما مه خوره ته
خوره د آزادۍ غمونه ستا به خدمتګاره شم
تا که انتقام د چارسدې د قتل عام واخیست
واوره غیرتي پښـــتونه ستا به خدمتګاره شم
زه یم پښتنه له باندینۍ ښځو شرمېـــــــږم
مه وړه د پرود بارونه ستا به خدمتګاره شم
ځان د ملنګ‌جان په مسرو، یه زلمیه پوه کړه
ورکړه د وحدت لاسونه ستا به خدمتګاره شم

## زیب کوي پښتون ...

زیب کوي پښتون چې په سرو وینو کې رنګ رنګ لاړ شي
مېنې له و طن سره
روح انسان نه ځي آخر          نوم تر ابده نه ځي
دا ښه دی چې روح او تن په لار د نام و ننګ لاړ شي
مینې له وطن سره
سل بې ننګ زلمي ځار شه          یوې ننګیالۍ پیغلې نه
کله به مې غوږ نه د ملالې تورې شرنګ لاړ شي
مینې له وطن سره
کوم سرمایه دار چیرې          یاد دی د پیسو په نوم
یاد دی ترقیامت په نارینتوب که یو ملنګ لاړ شي
مېنې له وطن سره
زه ملنګ‌جان فخر په دې خپله ملنګۍ کوم
بس دی چې په هر پښتون مې ناز لکه قلنګ لاړ شي
مېنې له وطن سره

## باغ دی د توتیانو ...

باغ دی د توتیانو، نه پرېږدي زاغان
ښه پښتون ملیار پکې، وژني پرې خپل ځان
پړانگ او زمریان پکې گرځي حفاظت کوي
گرځي کناره په ځنگ سوی او روباگان
باز او ترمتی شاهین تل پکې دورې وهي
دلته د مرز سیسی نه کېږي گوزران
گل سره بلبل ښایي ناست دې وي دایم پکې
څه غواړي ټپوس کجیر ځي دې په بیابان
خدایه تل مدام دې وي جشن استقلال زموږ
خپل په در قبول کړې ته سوال دملنگ جان

## جوړوو پښتونستان

زموږ نسل پښتون دی جوړوو پښتونستان
د تورو په باران
سرونه به ترې ځار کړو        خپل غرونه به ګلزار کړو
په نم د خپلو وینو به سمسور کړو وچ ګلان
دتور و په باران
دا غرونه ګړنګونه        باغونه چمنونه
په وینو د نیکونو زموږ سره  دښت و دامان
د تورو په باران
دا موږ به سر قربان کړو        بیا پوه به فرزندان کړو
چې هېر نکړئ زامنو پښتونواله په هیڅ شان
د تورو په باران
راپورته په همت شئ        د پلار په وصیت شئ
نیکو مو چا ته سر ټیټ کړی نه دی په میدان
د تورو په باران
را ځئ پښتنو وروڼو        په شان د خپل نیکونو
دا ځای د نام و ننګ دی چې ځانونه کړو قربان
د تورو په باران
دردمن زه ملنګ جان یم        وطن ځنې قربان یم
په شمع د وطن باندې به وریت کړمه خپل ځان
د تورو په باران

## پښتونستان د پښتون

ربه قایم دې وي دایم پښــتونســتان د پښــتون
کړې په دنیا کې شرمسار ټول دښمنان د پښتون

راځئ راځئ ورونــو راځئ چې قــربـانۍ لـره ځــو
یا به ډېر مړه شو و یا به لوړ کړو نوم نښان د پښتون
زموږ د پلار نیکـه پـه وینـه دا ســمســـور گلونـه
غواړې اغیار چې نن پایمال کړي گلســتان د پښــتون
موږه وینځتوب کولی نـه شـــو پښـــتنې وایي دا!
په ســترگو سرو گډ په نارو دي ماشــومان د پښــتون
موږ بـه حرام کړو پرې، خولگۍ پښـــتنې پیغلې وایي
څو ازادي موږ تـه ونـه گټي زلمیـان د پښـــتون
پښتونه ستا شهیدان ټول په سترگو سرو ژړیـــــږي
څه هدیرې ته کېږده غوږ په گورســـتان د پښـــتون

زه ملنگ جان به سر قربان کړمه په لار د پښـــتون
دا مې دی عزم چې شـــم یاد له خادمان د پښـــتون

## يه وطنه ستا په عشق کې ...

يه وطنه ســـتا په عشـــق کې زه تېر تر خپل ځان يمه
ســـتا چې ترقي غواړي زه هغســـــــــی يو ځوان يمه

يــه وطنــه تــه يې هــديره د مور و پلار زموږ
ته لکه زيارت زه مجاور ســـتا د آســـتان يمه
يو ذره د خاورې ستا په درست جهان به ور نکړم
يو موټی له خاورې ســـتا په سر و مال قربان يمه
تېر به شـم له سر نه لا کن نه سـتا د يو کړکې نه
ځکه چې دنيا کې مشـــهور شـــوی په افغان يمه
خبر دی که وچ کلک يم د غيرت ټوټه مې پاتې ده
سـتا د هر دښـمن په مخ کې تندر د آسـمان يمه

نشـــته داسې بخت لکه چې ما ملنګجان خپل وليد
شپې ورځې دا ستا په غېږ کې پروت خوشال خندان يمه

# وژني مې خپل ورور

وژني مې خپل ورور په گولو دا د چا لمسون دی
بې‌گناه مې جوړ په کاله وار په وار شــبخون دی

نوم د آزادۍ چې واخلم بیـاېې مې زنـدان لره
مال و ملک ضبطیږي را نه دا په کوم قانون دی
زه د دې دنیا عـدل و انصـــاف تـه حیرانیږمه
ورک په سپین میدان ولې روا حق د پښتون دی
کله مســـلمان پر مســـلمان باندې تعدا کوي
نن چې داسې کیږي خو د بل په پیوســـتون دی
خـدای دپاره ورونو تمام قوم سره تړون وکړئ
یو یو تـالا کیږو دا ســـبب مو د بیلتون دی

لاړ شه ملنگ جانه پښتونخوا په غرو کې وژاړه
کار د لس و شل نه دی دا کار د شل ملیون دی

## څه لټوم؟

د خپـل مرام پـه طلـب ګرځم حریفـان لټوم
د زمـانې ســـتم رنځور کړم حکیمـان لټوم

صـــیاد ویشـــتلی الوتی نه شـــم وزر مې مات دی
چې مې تر ځـایـه رســـوي صـــحیح کـاروان لټوم
زمـا پـه حـال رحـم ونـه کړ دې بې رحمې دنیـا
چې د مـظـلـوم غـور کـوي نـوی جـهـان لـټـوم
د زړه په دود مې آسمان وریځ شوه ځمکه هم په ژړا
لکـه چې تللي بیـا هغســــــې غمخوران لټوم
زه خوشـــال خان یا اکبرخان یا میرویس نه یادوم
پـــــه مـــــو جوده خانــانو هغســـې خانان لټوم
ما ملنګ‌جان لره کافي ده دغـه خپل ملنګي
خو قـام دپاره یو آزاد پښـــتونســـتان لټوم

# په صداقت زلميانو

وترېٔ ملا د خپل وطن وکړئ خدمت زلميانو!
په صداقت زلمېانو!

دغه وطن زموږ ناموس دی ورونو پام وکوئ!
خدمت د قام وکوئ!

پخپل ناموس باندې همېش وکړئ غيرت زلميانو!
په صداقت زلميانو!

وطن د شاتو نه شيرين دی که څوک پوه شي په خوند
په غوړو واورئ دا پند

د خپلی خاورې نه قربان شئ زر کرت زلميانو!
په صداقت زلميانو!

نن د وطن جينکۍ دا رنگ خبرې کوي
چم په چم غورې کوي

چې د ټنبل سره موږ نه کړو محبت زلميانو!
په صداقت زلميانو!

موږ توروو په کجل سترگې دواړه شونډې په پان
لانده به عطرو زلفان

جار د هغو نه چې وباسي تل زحمت زلميانو!
په صداقت زلميانو!

چې معشوقه ورکړي پېغور هغه ژوندون دې ورک شي
هغه پښتون دې ورک شي

ځانونه مه کړئ معشوقې ته خجالت زلميانو!
په صداقت زلميانو!

زه ملنگجان خادم د قام يم دعاگوی د وطن
خالق ته ډېر آرزومند

له خدای نه غواړم د ځوانانو روغ صورت زلميانو!
په صداقت زلميانو!

# وطنه ګران وطنه!

وطنه ګران وطنه! جنت نښـــان وطنه!
ته زموږ شمع موږه ستا يو پتنګان وطنه!
وطنه ګران وطنه!

زیـبـا وطــن يې زمــوږ    تــه روح او تــن يې زمــوږ
ګــور او کــفــن يې زمــوږ    ديــن او ايــمــان وطــنــه!
خاورې به ستا په خدمت    کړو به خپل تن او صورت
ســـتا په ناموس شرافت    تېر يو تـر ځـان وطـنـه!
تــه يې زيـارت د نـيـکـو    د وروســـتي نســـل زانګو
يو پـه غيرت او پښـــتو    تــانــه قــربــان وطــنــه!
وطنـه ســـتـا حفـاظـت    په موږ دی فرض او سنت
تـا بـه ســـاتو امـانـت    يــه د افــغــان وطــنــه!
مخلص فرزند يمه ســـتا    غېږ کې خورسـند يمه سـتا
په عشـق کې بند يمه ستا    زه مـلـنـګـجـان وطـنـه!
وطنه ګران وطنه!

## په پښتون ګران وطنه!

موږه د څېرمې نه دا ستـــا پــو خادمان وطنه!
په پښتون ګران وطنه!

وطنـه تـا تـه موږ پـه صــدق اطمینـان درکـوو
تیغ دې دښــمن تـه مخـامخ غوښې د ځـان ورکوو
ستا په خدمت کې پښتانه دي فـــدایـــان وطنه!
په پښتون ګران وطنه!

وطنـه تــــه زموږ ډیوه موږ پتنګـان یو دا ســتـا
چـپ او چـاپېر درکې پراتـه جـار او قربـان یو دا ســتا
په هر میدان به درلــــه درکـــړو امتحان وطنه!
په پښتون ګران وطنه!

وطنـه تـه زموږ لیلی موږه مجنون یو دا ســتـا
صادق په عشق او په خدمت په هر مضمون یو دا ستا
زموږ محبوب پر موږه ګران نور چشــمـان وطنـه!
په پښتون ګران وطنه!

وطنـه ســتـا هرې درې نـه پښــتون زر جوړوي
زموږ غمخوار نـاســـت پـه کابـل تـا تـه زیور جوړوي
اوســه خوشـــال ســتا ننګیالي یو فرزندان و طنه!
په پښتون ګران وطنه!

وطنه ســتا په خدمت خاورې به شــم زه ملنګ‌جان
دا به مې بخت وي چې په لار کې د وطن شــم قربان
چې درتـه نـه شــم خجـالـت بـه ګورســتـان وطنـه!
په پښتون ګران وطنه!

## وطن جوړوو

مونږ پښـــتانه يو ســـاز و باز د خپل وطن جوړوو
كلي پـه كلي كور پـه كور ښـــكلى ګلشـــن جوړوو
دغـه وطن مونږ تـه د پلار نيكـه ميراث پـاتې دى
سرونـه خپـل پرې وركوو ترې نـه چمن جوړوو
دغه وطن زمونږ او ســـتاسې معشـــوقه ده ورونو
راځى چې خپله معشـــوقه ښــه په فيشـــن جوړوو
مونږ يو زلميـان د پښـــتنو دا اتفـاق دى زمونږ
د خپل وطن په نام و ننګ خاورې خپل تن جوړوو
هغـه دښـــمن چې كونږ نظر كوي زمونږ هيواد تـه
ټـوټې ټـوټې زرې زرې هـغـه د ښـــمـن جـوړوو
زه ملنګ‌جان كه قرباني شومه په لار د وطن
يمه خوشال ځان ته د سرو زرو كفن جوړوو

## جان وطن! قربان وطن!

ستا په محبت کې زموږ زړونه دي روښان وطن
جان وطن - قربان وطن
يه وطنه ســـتا يو موږ - ســـتا ځنې فدا يو موږ
ته زموږ زيارت يې موږ يو ســـتا مجاوران وطن

جان وطن - قربان وطن
ستا په مينه پـايـــــو موږ
ستا په خدمت ښايو موږ
تـه زموږه شـــمع موږه ســـتا يو پتنګان وطن
جـان وطن - قربـان وطن
ســـتا زيب و زينت غواړو
خدای نه ستا عزت غواړو

ته زموږه مور يې موږه ســـتا يو فرزندان وطن
جان وطن - قربان وطن
ګور مو د نيکو يې تـه
ننـګ د پښـــتنو يې تـه

موږ لاس په نامه دخېرمې سـتا يو غلامان وطن
جان وطن - قربان وطن
ختـه د اســـلام يې تـه
لـوړ پـه مـقـام يې تـه

زه ملنګ‌جان ستايم ته زموږه ګلستان وطن
جان وطن - قربان وطن

## ځای د غیرت کې

ځـای د غیرت کې د تن غوښې پـه میـدان ورکوي
زوی د افغان ورکوي

زمونږ عســـکر چې پـه دښــتو کې تعلیمونـه کوي
تـل زحمتونـه کوي

دوی تـه اجـرونـه بـیـا پـه تـلـه د مـیزان ورکـوي
شاه د شاهان ورکوي

څوک چې تـل وینې تویوي پـه مقـابـل د دښـــمن
په ننگ او نام د وطن

په ځـای د هر څـاڅکي خـالق دوی تـه غلمان ورکوي
جنت نښـان ورکوي

چې دښمن مړ کړي ځان شهید کړي په مرچل او سنگر
په وینوېې رنگ وی تېتر

پـه دغـه وخـت ورتـه دیـدار غني ســبحـان ورکوي
ډېر په ښه شان ورکوي

د جنـت حورې انتظـار نـاســتې شـــوهر لپـاره
شــهید عسـکر د پاره

مـبـارکي هـر یـو شـــهـیـد لـره رضـــوان ورکـوي
په خوږ زبان ورکوي

دا نعـمتونـه د هغـوی دي چې زحمـت کـوي تـل
نه چې غلفت کوي تل

داغ د پېغور زړه د بېننـگ لـه ملنـگجـان ورکوي
دا پـه میـدان ورکوي

## پښتونستان وطنه!

ستا د دې هسکو هسکو غرونه شم قربان وطنه
پښتونستان وطنه

ســـتـا آزادي زمـا پـه زړه کې دی ارمـان وطنـه
پښتونستان وطنه

ســتا هره ګټه په نظر زما مرمر ښــکارېــــــــږي
لکه سره زر ښکاري

ســـتا هرې ګټې نه به ځار کړم دا خپل ځان وطنه
پښتونستان وطنه

زما په خیال را معلومېـــــــــږي د جنت ګلونه
ستا دا سپېره ډاګونه

ســتا خو ځان نه بدلوم زه په درســت جهان وطنه
پښتونستان وطنه

ســتا په هر ځای کې تویه شــوې د پښــتون وینه ده
دغه زموږ مینه ده

تـا کې پراتـه دي زموږ ښــکلي شــهیدان وطنـه
پښتونستان وطنه

ستا حفاظت دی پر موږ فرض، دې نه انکار نه لرو
بـل څـه اقرار نلرو

ســـتا د خدمت نه هرګز نه یو، روی ګردان وطنه
پښتونستان وطنه

وطنه ســـتا په مینه ملنګ‌جان پرېښـــود روزګار
د دهقـانۍ کاروبـار

مـلا مې تـړلې ویښـــوم ویـده زلـمیـان وطـنـه
پښتونستان وطنه

## ترانه پښتون عسکر یمه زه

لکه پتنګ به وطن ســـوزم تېر تر سر یمه زه
پښـتون عسـکر یمه زه
د خپل وطن په حفاظت لکه زمری چورلمه
دښـمن به کړم په لومه
د آمر امر تـه مې غوږ لاس پـه خنجر یمـه زه
پښـتون عسـکر یمه زه
پخوانو تیرو پښــتنو تـه به خجـل نکړم ځـان
زه یم بـاننګـه افغـان
د احمـدشـــاه بابا په توره جوړ خبر یمـه زه
پښـتون عسـکر یمه زه
د ابـتـدا نـه زمـوږ ختـه د غـیرت ځـنې ده
ډکـه همـت ځنې ده
پـه هر میـدان کې بریـالی لکـه دلمر یمـه زه
پښـتون عسـکر یمه زه
پلار و نیکـه راتـه پـه توره اســتقلال ګټلی
بیایې په موږ ســپارلی
د محـافظـت لپاره کلک فولادي غر یمـه زه
پښـتون عسـکر یمه زه
چې د وطن په خدمت ځان کړمه فدا په میدان
لوړ به شم زه ملنګ‌جان
هلته په غږ کړم چې راځئ ګورئ سره زر یمه زه
پښـتون عسـکر یمه زه

## ترانه

موږ عسکر د پښتانه یو ښه ښکارېږو په خدمت
منلې مو په ځان دی د دې خاورې حفاظت
په وخت د امنیت کې تربیه کوو د ځان
په وخت کې د جګړې به په مرش مرش ځو تر میدان
په وینو د دښمن به سیلابونه کړو روان
سرونه به قربان کړو له خپل دین او له دولت
چې پاځېږو له خوبه اول مونځ کړو بیا تعلیم
دښتونو کې ورزش کوو دپاره د غلیم
زانګو کې د جنګ لوبې مو زده کړې له قدیم
هر ساعت زموږ یادېږي د نیکونو وصیت
په وینو دنیکونو زموږ سور دښت او وطن
ابا دی که اجداد زموږ په دې کې دي دفن
د پلار نیکه زیارت ته موږه نه پرېږدو دښمن
دوی سرو جامو کې تللي په رتبه د شهادت
چې امر د آمر شي موږ نه سیند ګورو نه غر
دشمن باندې ورخېږو که د مخې شو ډبر
ګوزار ته د غلیم نیسو د ډال په ځای ټټر
لنده ده زموږ خټه په اوبو کې دغیرت
هر چاچې زړه بایللی وي په مینه د اسلام
قیامت پورې یادېږي تاریخونو کې نیک نام
زما ملنګ‌جان یوسئ په هغو باندې سلام
چې ملاېږي وي تړلې همیشه په صداقت

# ترانه

موږه عسـکر د پښـتون        د دې خاورې مجنون
زموږ روح اسـتقلال دی        کـوو پـرې ژونـدون
آزادي     د     وطـــن        گـڼـو خـوښې د تـن
د دې خـاورې خـدمـت        منو فرض پـه گردن
کـار مـو دی سربـازي        د غـیرت پـه قـانـون
زمـوږ زیـب و زیـنـت        دی تعلیم او خدمت
کـړی پـلار او نـیـکـه        موږ ته داسې وصیت
زده کړی موږ زانگو کې        د ننگ ښـه مضـمون
چې وسـلـه کړو در بر        کمـر بـنـد پـه کمـر
په مارش مارش به ورځو        د دښــمن تر ســنگر
د دښــمن لـه وســلو        مخ به نه کړو راستون
الــهی کــړې قــوي        تـه ملـت د افغـان
دا بـیرغ د پښــتـون        لـرې لـوړ پـه جـهـان

ایښـــی ما ملنگ‌جان
لاس د سوال په زنگون

## دا زموږ زیبا وطن

دا زموږ زیبا وطن — دا زموږ لیلا وطن
دا وطن موځان دی — دا پښتونستان دی
دا د مینې کور زموږ — دا د پلرو ګور زموږ
نه ورکو وچا لره — دا دستر ګر تور زموږ
نه دی د بل چا وطن — دا دی د شیرشا وطن
کور د خوشحال خان دی — دا پښتونستان دی
دا وطن دی ځان زموږ — دا وطن ایمان زموږ
وایې په خاپوړو کې — داسی ماشومان زموږ
دا مو د بابا وطن — دا مو د دادا وطن
په موږ باندې ډېر ګران دی — دا پښتونستان دی
ځارېږ له سیندونو شم — ځار یې له ډاګونو شم
ځار یې له خوږونو شم — ځار یې له دې غرونو شم
دا زموږ آشنا وطن — درد له مو شفا وطن
زړګی مې پرې روښان دی — دا پښتونستان دی
دا وطن زیارت زموږ — دا وطن نعمت زموږ
دا وطن په دې دنیا — دی لکه جنت زموږ
دا وطن صفا وطن — زړه د ایشیا وطن
ژوندون د ملنګجان دی — دا پښتونستان دی

## داستان

یو سړی راته په دې صورت گویان ؤ — چې نیکه قبر ته تللی هغه ځوان ؤ
د جمعې په شپه دی لاړه ادېرې ته — سرتور ودرېد د خپل نیکه روضې ته
خپل حاجت یې سراسر ورته بیان کړ — په ژړا ژړاېې ځان ورته ستومان کړ
سوال یې وکړ تمامې اهل قبور ته — په نیکۍ را ورسېږې ما مجبور ته
ډیر مجبور یم مجبورۍ نه نه خلاصېږم — څه سبب دی په سبب یې نه پوهېږم
سرې کیښود له ډیر غمه په زنگون — پرېشانۍ یووړ ویده شو حال زبون
چې ویده شو حال یې ولید هسې شان — خوب تی راغلل همه واړه مردگان
خپل نیکه ورځنې مخ و گرځونه — په هیڅ شان د ده مخ ته نه کتنه
ده ناري کړې چې بابا ولې دلگیر یې؟ — ته له مانه مرور په کوم تقصیر یې
زه راغلی فریادي یمه نن تا له — ستا خاطر ولې له ما نه دی ملاله
هغه وویل نه مې ځوی یې نه دي پلار یم — ستا له لاسه زه په گور کې شرمسار یم
مانه بېرته پاتې شوې معشوقه ده — په دنیا کې هغه ستا په تعلقه ده
په نامه هغه زما محبوب وطن دی — ما ورکړی په هغه روح او خپل تن دی
ما چې وینه په هغه باندې شندلې — د دښمن نه مې په توره وه گټلې
تا د هغه کوم خدمت دی ادا کړی؟ — چې زما روضې ته سوال کوی نیمگړی
چپ چاپیره دې دنیا وگوره حال — هر وطن پرمخ تگ کړی په کمال
ستاسو کور کې د وحشت نښې زیاتېږي — د کفارو مړي موږ پورې خندېږي
وشرمېږئ د کفارو له پېغور — د وطن خدمت په سر دی ستاسی پور
په همت سره که ستا وطن آباد شي — خود به خود سره حاصل به ستا مراد شي
دا بیان چې دې سړي واورید په خوب — راوچت شو اوښکې تلې لکه سیلاب
بیا نو راغی خوب یې ما لره ښکاره کړ — په بیان یې دا زما زړگی پاره کړ
ماله ډیر غمه شروع کړ دا داستان — چې خبر یې په تعبیر شي ټول افغان
بې کماله به ترخو په وطن ښورو — خپل نیکه ته به قیامت کې څنگه گورو
خجالت په هر ساعت زه ملنگجان یم — خپل پیشوا ته ناځواب او ناتوان یم

# مقامونه

## چې بې ننګ او بې پښتو وي

چې بې ننګ او بې پښتو وي پښتون نه دی
چې د قوم په شرمېدو وي پښـــتون نه دی

پښتون هغه دی چې غم د تمام قوم خوري
چې د ځان په جګيدو وي پښـــتون نه دی
د پښـــتون نظر مدام په ننګ و نام وي
چې نظر يې په پيســـو وي پښـــتون نه دی
پښـــتون هر کله طالب د خپل شرف دی
چې طالب د سپينو سرو وي پښتون نه دی
پښـــتون تـل پخپلـه ژبـه ټينـګ ولاړ وي
چې په دروغ يې ګفتګو وي پښـــتون نه دی
پښـــتون نـه شي بـاداري د چـا منـلی
چې اختيار يې د پردو وي پښـــتون نه دی

په نصيب د ملنګجان دغه مسـرې شوې
چې خپه په دې مسـرو وي پښتون نه دی

## د آزادۍ شمال

زما زړه د آزادۍ په شـــمال ښـــوري
لکه گل چې د اوبو سره سـمسـور وي
د اسـلام د بيرغ سـيوري لاندې ناسـت يم
لکه خاص چې په جنت کې د چا کور وي
خوشـبويي مې د خپل قام په دماغ لگي
لکه خاځکی د بلبل چې په چا پور وي
د محبوب وطن په غيږ کې خوشال پروت يم
لکه طفل چې خوشـال په غېږ د مور وي
د فقير ملنگ‌جان دغومره بخت بس دی
په آزاد ژوند چې آزاد وطن کې گور وي
«چې آزاد نوم يې آزاد په وطن خور وي»

## زه په دې سبب

زه په دې سبب هم بیګ یمه هم خان یم     نه مســـکین نه بیچاره یم نه ناتوان یم
پـه لبـاس د خپلواکۍ چې اراســـتـه یم     معلومېږي چې هم خان یم هم سلطان یم
چې خپل واک او اقتدار یې لاس کی نه وي     زما مخ کې دې بیا نه وایي چې افغان یم
که څوک ډېر وي اسوده د بل په لاس کې     دا دې قیاس کړي چې پسه د یوه خان یم
پســـه هم خلک ســـاتي د زړه په مینه     خو د دې مېنې انجـام تـه زه حیران یم
د د نـیـا مـتـمـدن راتـه حـیران دي
موړ په ګنج د قناعت زه ملنګ‌جان یم

# دویمه برخه

## اخلاقي، اجتماعي، انتباهي او انتقادي شعرونه

## طلب د علم پور دی

طـلـب د عـلـم پـور دی لـپـاره د انسـان
خـاونـده زه نـو ولې نـاپوهی سره آشـنـا شـوم په سـتر گو نابينا شـوم
طلب د علم فرض دی، په موږه لکه قرض دی وحشت یو لوی مرض دی
وحشـي له په دنيا کې د همه خلکو پيغور دی طلب د علم پور دی
پېغور نه ځان رها کړئ د خلکو نه حيا کړئ د زړه ژبه گويا کړئ
اخلاق ښه کول ښه دي اداره هم د خپل ځان لـپـاره د انسـان
ترخو به داسې ژاړو، د بل نه ډوډۍ غواړو خالی له علمه لاړو
په خپله به ښه نه یم بې تاثيره له دنيا شوم په سـترگو نابيناشوم
نظر کړئ هرې خواته مخه وگورئ دنيا ته پښتونه وايم تا ته
چاپيره هر طرف زموږه پروت د کفر زور دی طلب د علم پور دی
راځئ چې ځان سمبال کړوه ملا وترو دا خيال کړو پيدا ځان ته کمال کړو
چستي خوی د هستۍ لري، سستي کې شته تاوان لـپـاره د انسـان
ميوه د اتفاق، خواږه لري اخلاق بل اور دی د نفاق
خاونده له دې اوره زه غوښتونکی د پنا شوم په سـترگو نابينا شوم
عالم ويښ او بيدار شول، ټول پوه به کسب کار شول دانا په هر اسرار شول
زموږ د جهالت نښان تر اوسه لا په کور دی طلب د علم پور دی
پښتونه وروره ولې! د خپل د کلي غل يې ترخو د تګې مل يې
روی کار کړئ صداقت چې مساوی شو د جهان لـپـاره د انسـان
که ټول په صداقت شوو، په خنگ له عداوت شوو خاوند به د عزت شوو
ژړيږم پخپل حال چې خبرداره له دنيا شوم په سـترگو نابينا شوم
ملک که منصبدار وي، که زړه کې خيانت کار وي هغه د ملک غدار وي
خالق به جزا ور کړي په قيامت کې مخ يې تور دی طلب د علم پور دی
چې وي صداقت مند، د قوم په مينه بند ديدار يې کوي خوند
د هغوخاک پای یم چې يې رحم وي په شان لـپـاره د انسـان

غمجن زه ملنګجان یم، په دوه غمو پریشـــان یم ټـول عـمـر سرګـردان یـم
یو غم د خپل وطن بل له خوارۍ زه یک تنها شـــوم په ســـترګو نابینا شـــوم

## الهي راولی باران د علم

الــهی راولی بــاران د عــلــم — چې پـرې ودان افـغـانســـتـان شي
پـه مراد سر کړې طـالبـان د علم — چې بـاغ د زړونو مـو روښـــان شي
الــهی راولی ســــيلاب د عـلـم — چې د وحشت په جل هلاک شومه زه
هيڅ کمبود نـه لري دريـاب د علم — که په ورتلو ورته چالاک شــومه زه
خدايه پښتون ته کړې کامياب د علم — په دې ارمان ارمان چې خاک شومه زه

زړه زخمي غواړي درمـان د علم
کـه پـاک الله مې مهربـان شي

د بې علمۍ زخمونـه ډېر دي زمـا — زه بـه د کـوم زخـم عـلاج کـومـه
ذرې ذرې زړه په شــمشــېر دی زما — چې د پردو خلـکو احتيـاج کومـه
کسب وکمال په کور کې هېر دی زما — زه بـه تر څو د ســوال رواج کومـه

راځئ چې ورشـــو په دوکان د علم
که دا مشـــکل زمونږ آســـان شي

نن د پردو په ډوډۍ شــخوند وهمه — دا مجبوريت نه دی نو څه دی زما؟
چاره په لاس د ورور مړونـد وهمـه — دا جهـالـت نـه دی نوڅـه دی زمـا؟
لکـه جـارچي فريـاد بلـنـد وهـمـه — کور کې غفلت نه دی نو څه دی زما

نه اوري څوک نه کړي پرسان د علم
ځـکـه پـه مـخ مې رود روان شي

خلکو په برق خونې روښـــانې کړلې — زه لا د تـيـلـو نـه جـدا نـه يـم
پـه تـراکـتـور شـــاړې ودانې کـړلې — زه پـه دی شـــتو مغزو دانـا نـه يم
خــزانې پـټې يې عـــيـانې کــړلې — ســـترګې مې شـــتـه پکې بينـا نـه يم

هميش سمسور وي ګلستان د علم
چې په چا فضـــل د ســـبحان شي

چې د دنيا زيســـت و روزګار وينمه — پـه زړه مې غـم راشی ژړېـږمـه زه
د خـلـکو ډېرلوړ اعتـبـار وينـمـه — پـخـپـل نـامـه پـورې شرمـېږمـه زه

ترخو بـه خپـل ملـت نـادار وینمـه　　　د قرض او پور نه نه خلاصـــېږ مه زه

بینوا پـاتې ملنـگ‌جـان د علم
ځکه يې هر ســـاعت ارمان شي

# جهان د علم په شا سور دی

جهان د علم پـه شـــا ســـور دی　　هر ځای کې نښــــــې د هنر ورکوي
وطــن زمــوږ　د مــیـنې کــور دی　　خلـک پـه خپلـه مینـه سر ورکوي
خلک بیدار شـــوو خپل کمال باندې　　موږ د غفلت په خوب ویده پاتې شوو
افسوس افسوس زموږ په حال باندې　　ســـترګې لرو پکې ړانـده پـاتې شـــوو
زلمیـانو غور کړئ دې قـال بـانـدې　　ولې له هر چا نه مانده پاتې شـــوو
د دښـــمن هر یو قول ســـپور دی
خلک د غیرت په ځای ټټر ورکوي
په هر طرف کې دښـــمنان دي زموږ　　د اپـلاتـون نـه لـوړ کـارونـه کـوي
دنیا کې ډېر ګونـدي ماران دي زموږ　　زمـوږ لـپـاره تـدبـیرونـه کـوي
ولی خاموش مســلمانان دي زموږ　　دوی سره خپـلو کې مرګـونـه کوي
بې اتـفـاقي د غضـــب اور دی
ســـوي داغونـه په ځیګر ورکوي
پخپل نامه باندی غیرت کړئ ورونو　　نن په دنیا کې په پښـتون یادېـــــــږو
مغزو نـه لرې جهـالـت کړئ ورونو　　جهان کې لوړ په هر مضـــمون یادیږو
کور کې ورو ته نصــیحت کړئ ورونو　　علم و عرفـان بـانـدې زرغون یادېږو
طلـب د علم پـه موږ پور دی
عـالم په توره شـــپه نظر ورکوي
خلـک پخپـل فکر زربـاب جوړوي　　زه پـه خـامتـا پســـــــې جولا لټوم
قلـم پـه لاس علـم کتـاب جوړوي　　زه تش دیوات پســـــــې کلا لټوم
هزار ســـوالونو تـه جواب جوړوي　　زه یــوه تـکی تـه مـلا لـټـوم
ملنګ‌جان غوځ په دې پېغور دی
ځکـه زلمیـانو تـه خبر ورکوي

## په خپل علم دنیا وخته آسمان ته

په خپل علم دنیا وخته آسمان ته　　کال په کال یې د هنر شغل زیاتېږي
عزیزانو تاسې فکر وکړئ ځان ته　　د غفلت خوب نه مو سترګې نه غړېږي
خلک ګرځي د اسمان په کنارو کې　　دا زموږ دپاره ځومره لوی پېغور دی
هغوی ناست دي د عرفان په منارو کې　　هر یو ګوره د هنر په براق سپور دی
موږ ویده یو لا پخپلو بسترو کې　　د وطن سترګې کږې زموږ په لور دی
نه جوړېږي جهالت د پښتون شان ته
په جاهل باندې د خدای لعنت ورېږي

رب راکړي لاس او پښې او روغ صورت　　ولې خپلو لاسو پښو نه ناخلو کار
څو به بل اجرا کوي زموږ حاجت　　په پیسو به سامان غواړو د بازار
راشئ وباسئ په خپل کور کې زحمت　　په دې شته جایداد به ولې شوو نادار
نظر وکړئ کار و بار د دې جهان ته
حاصلات د علم خوري نه تمامېږي

رب دپاره ورونو اوسئ صداقت کې　　د دنیا سره زموږه نن سیالي ده
سړی سپک شي کاري د کور په عداوت کې　　اتفاق کې لوی عزت او خوشالي ده
سستي مه کوئ عزیز وطن خدمت کې　　دا سستي زموږ د ځان بې کمالي ده
توجه وکړئ مکتب علم و عرفان ته
آینده نسل ته دغه په کارېږي

هر ساعت پروردګار ته خپل زارۍ کړئ　　رب دې هیڅکله ذلیل نه کړي اسلام
همه واړه د دې خاورې نوکري کړئ　　خدای دې نه کړي چې مېدان کې شوو ناکام
د ښایسته پښتو قانون په ځان جاري کړئ　　هم تابع د شریعت اوسئ مدام
نظر وکړئ سوي زړه د ملنګ‌جان ته
خوږ شریت د ترقۍ پسې کړېږي

## راپورته شه پښتونه

راپورته شه پښتونه لر وپېژنه ځان
عالم وخوت آسمان ته ته ویده پروت په بستر یې ترڅو به کور و کر یې؟
راپورته شه همت کړه
ژوندی یې حرکت کړه
غفلت ځنې نفرت کړه
نظر کړه هرې خواته د دنیا گوره کارونه راپورته شه پښتونه
څوک گرځي په هوا کې
څوک گرځي په دریا کې
سستي ده ما او تا کې
تر څو به په احتیاج غواړو د یو بل نه سامان لر وپېږنه ځان
پخپله ته بیدار شه
قابل د کسب و کارشه
د علم طرفدار شه
دا لاس او پښې به څه کړې چې بې علم او بې هنر یې ترڅو به کور و کر یې؟
خپل فکر برابر کړه
نیکو ته دې نظر کړه
تاریخ نه ځان خبر کړه
تاریخ کې یې لیکلي ستاد پلار نیکه کارونه راپورته شه پښتونه؟
تر څو به ستا وطن
ترڅو به ستا گلشن
نیولی زاغ و زغن
غیرت و کړه همت وکړه ترې وشړه زاغان لر وپېژنه ځان
ترڅو به نه پوهیزې
د بل ساز ته گډیزي

په دروغو یې غولېږې
د نورو په لمسون سره د ورور نه مرور یې ترځو به کور و کرېږې
د خلکو په لمسون
ته مه منه بیلتون
که ځان ګڼې پښتون
پخپله توره ګوره چې دې پرې نه شي لاسونه را پورته شه پښتونه
د یو نیکه اولاد یو
د یو نیکه زوزاد یو
ټول یو پښتانه یاد یو
دا بېل بېل سره چا کړو زه دې کار ته یم حیران لږ وپېژنه ځان
را ځئ چې سره جم شو
په سمه لاره سم شو
امید چې مقدم شو
دغه کار د نفاق دی چې یوه ورځ له بل بتر یې ترځو به کورو کر یې
نور بس دی جهالت
موجب دی د ذلت
په کار دی ښه همت
تمام پښتانه یوشئ په اخلاص ورکړئ لاسونه را پورته شه پښتونه
غوږ ونیسئ هر لور ته
راتلونکي سیلاب شور ته
په ټینګ عزم شه پورته
نور وخت د اسرې نه دی مخامخ ځه په میدان لږ وپېژنه ځان
دا وخت د شجاعت دی
دا وخت د جدیت دی
نه و خت د تجارت دی
رشوت مشوت نور پرېږده که رښتیا د پلار پسر یې ترځو به کور و کر یې
خپل عزم عملي کړه
دنیا سره سیالي کړه
صحیح پښتونولي کړه
د مړو له ادیرې نه دې راځي دا فریادونه را پورته شه پښتونه

د اخپل وطن دې خپل کړه
جوړه ګل و بلبل کړه
د خپل ملک جوړل کړه
پښتونه تاته ښاېي مستقل پښتونستان　　　لر و بر پېژنه ځان
دردمن زه ملنګ‌جان یم
غوځ غوځ په دې ارمان یم
زبون ولاړ حیران یم
پښتونه ژوندانه ځنې ته ولې بې خبر یې　　　ترڅو به کور و کر یې

## دا خپل وطن ګلزار کړو

د نیا ځان ته حاصل کړه بمونه د اتوم
راځئ چې موږ حصار د اتفاق ځان ته پیدا کړو دا خپل وطن ګلزار کړو
له دې بې اتفاقۍ نه
محروم شوو ترقۍ نه
په سل زور او زحمت چیرته ټوپک ځان ته پیدا کړو کارتوس ته یې سودا کړو
بیا ګرځو در په در
شپه ورځ پسې ابتر
په قرض او یا په سود وي چې کارتوس ګوتو له راشي لږ کار مو سریرا شي
بیا جوړه څه بانه شي پخپلو کې فتنه شي
دښمن ته فکر نه وي دستي ولو پرې خپل ورور مصرف یې کړو په کور
فقط لکه ققنس
چې جمع کاندي خس
خپل ځان پکې سېزو موږ به ترڅو داسې روزګار کړو دا خپل وطن ګلزار کړو
نور بس کړئ د نفاق نه
کار واخلئ اتفاق نه
دا واړه پښتانه سره موږ یو وجود یادېږو ترڅو به نه پوهېږو
شرقي دی که غربي
شمالي او جنوبي
دا ټول موږ سره یو یو لکه یو تن کې څانګونه څلور وي اندامونه
یوغاښ چې مو رنځور شي
زخمي په وینو سور شي
په درد باندې د یو غاښ زموږ ټول وجود عذاب وي اخته په پیچ و تاب وي
د یو تن په وحشت
په عذاب وي ټول ملت

خالق دې وکړي دا چې د وحدت لاره اختيار کړو داخپل وطن گلزار کړو
تير شوي واړه تير کړئ
له زړونو ځنې هېر کړئ
د زړونو لارې يو کړئ يو د بل په حال نظر کړئ لاسونه سره ورکړئ
نظر کړئ هرې خواته
لږ وگورئ دنيا ته
د علم او د کمال په وزرو وختل آسمان ته لږ فکر وکړئ ځان ته
تر څو به مو دا حال وي
رواج به زموږ سوال وي
دا لاس او پښې به څه کړو چې ترې کار اخستی نه شوو اخير به وايه څه شوو
راځئ د زړه په مينه
موقع مو لاس نه ځينه
ملا وتړئ په ټينگه چې شروع په کسب و کار کړو دا خپل وطن گلزار کړو
نفاق يو لوی مرض دی
د تورې گولۍ دز دی
که هر څومره لوی قوم وی عاقبت به تباه کيږي هر څوک په دې پوهېږي
د خدای دپاره ورونو
د سمې او د غرونو
توبه کړئ له نفاق نه اتفاق نه واخلئ کار نفاق دی سور انگار
ځانونه ترې په څنگ کړئ
د مينی ځان پتنگ کړئ
د بغض او د حسد نه وويرېږئ په امان شئ په سمه لار روان شئ
دردمند زه ملنگ جان يم
له درد نه په سوران يم
بايد چې له دې خپل بې کمال ژوند نه ځان وزگار کړو دا خپل وطن گلزار کړو

# زلمیانو وکړئ ننګ

زلمیانو وکړئ ننګ    په دین او په اسلام
ځـانونـه د محبوب وطن خـدمـت کې کړئ قربـان    اجـرونـه دي بې شـــان
زلمیانو په همت شئ
بانګ او با غیرت شئ
د دین په حفاظت شئ
دښـــمن زموږ د دین نن په براق د علم ســپور دی    دا مـوږلـره پـېغـو ردی
د دوه بنو چې کور وي
بدی یې سره زور وي
یو بل ته په ضد ګوري
د کومې کار چې پاک وي خپل خاوند ترینه خوشال وي    آبــلی نــه مــلال وي
نور خلک دي بې‌دین
پخپل باطل دین
پوره لري یقین
خـدمـت د خپـل وطن ادا کوي نـه کوي ځنـګ    زلـمـېانـو وکـړئ نـنـګ
یادېږو موږ اسلام
پښتانه یو په یو قام
باید چې وکړو پام
سرونـه خپـل د دین او د دولـت ځنې خیرات کړو    دا خـپـل وطـن آبـاد کړو
د هغوی په مقابل
چې موږ نه شوو خجل
بالا اوسو پرې تل
نښـــان د خپـل وطن بـایـد لـه هر چا نـه بـالا کړو    خالق ځان نه رضـــا کړو
ځانونه لږ دانا کړئ
د زړه سترګې بینا کړئ
غیرت په دې وینا کړئ

رجوع په صداقت د وطن ودرېږئ تمام    په دين او په اسلام

ټول په يوه لار شئ
غافل مه شئ بيدار شئ
د بدو نه انکار شئ

گوندی او عداوت خپلو منځو نه سره دور کړئ    غيرت ځان له حضور کړئ

غيرت زموږ جامه ده
همت مو سرنامه ده
دنيا کي هنگامه ده

پښتون چې د دښمن نه بېرته پاتې شي په لار    بايد چې وخوري زار

ځانونه لکه شېر کړئ
دښمن ځنې ځان تېر کړئ
اولاد په علم سېر کړئ

جامه د غيرت واغوندئ ودرېږئ په ميدان    اجرونه دي بې شان

د علم نه چاپېر دي
د مال و سره تېر دي
ټول پوه په يوه خبر دي

رقم رقم کمال د نورو خلکو دی ښکارېږي    ځيگر زما کړېږي
د علم نه چاپېر دي
د مال و سره تېر دي
ټول پوه په يوه خبر دي

اخبار او د راډيو خبري اورو رنگ به رنگ    زلميانو وکړئ ننگ
تر څو به موږ رانده يو
په ويښه کې ويده يو
دا ولې ربوده يو

د علم په عوض زموږ د کور خانه جنگي ده    دا څومره بې ننگي ده

وحشت او جهل پرېږدئ
هنر ته غاړه کېږدئ
دښمن ته ودرېږئ

خالق دې پښتنې نه کړي مېمانو ته خجلې          تل دوی دې وي ښاغلې
د پښتو مانا غیرت دی
غیرت مانا همت دی
د پلار نه دا وصیت دی

د پلار نیکه وصیت باندې قایم اوسیء مدام          په دین او په اسلام
وطن د سترګو تور دی
خدمت یې په موږ پور دی
که یې ونه کړو پېغور دی

پېغور لکه ټوپک د پښتانه په زړه لګېږي          که څوک په دې پوهېږي
باید چې موږه پوی شوو
د مالګې په شان توی شوو
په دې وطن کې لوی شوو

د دې وطن خدمت زموږ په سر باندې اوس فرض دی          عیناً لکه د قرض دی
لازم چې فرض ادا کړو
سستي ځان نه جدا کړو
سرونه ترې فدا کړو

پتنګ نه کوي څنګ سېزي په شمعې باندې ځان          اجرونه دي بې شان
محبوب وطن زموږ دی
پکې مسکن زموږ دی
ناموس او تن زموږ دی

ناموس د پښتانه باید زیور باندې پوره وي          د هرچا نه کره وي
چې دوه تنه زلمېان وي
دوی دواړه عاشقان وي
ظاهر باطن کې وران وي

د یوه پارچه سنباله د دې بل خوار جامه پاره وي          دا څومره بدنامه وي
دا خاوره معشوقه ده
زموږ په تعلقه ده
محبوبه لایقه ده

لازم چې موږه خپلې محبوبې ته ورکړو رنګ زلمېانو وکړئ ننګ
نظر په شـاوخوا کړئ
د خلکو تماشـا کړئ
غیرت ځان کې پیدا کړئ

د نورو کارنامو ته نظر وکړئ چې څه کاندي په موږه پورې خاندي
پښـتونه وروره څله
ویده به یو تر کله
ته پاڅېـږه غافله

د خدای دپاره ورونو ټول یو لاس پر اتفاق شئ روان په ښه اخلاق شئ
سرونه په ګرېوان کړئ
نیتونه په ښه شان کړئ
ځانونه صـادقان کړئ

چې ببرته پاتې نه شـوو مقابل کې د بل قام په دین او په اسـلام
خاوندده مهربان يې
مالک د کل جهان يې
غنی رحیم رحمان يې

افغان ته، ته له غیبه برې ورکړې ذوالجلاله قادره بر کماله
دا سـوال مې کړه قبول
په روی د پاک رسـول
پښـتون نه کړې ملول

ملت د پښـتنو ته په دنیا او عقبا سر کړې خپل نوم زموږ رهبر کړې
ګدا زه ملنګجان یم
د خپل ملک ثنا خوان یم
هردم ترینه قربان یم

همدا زما اقرار دی څو می روح شـته دی په ځان اجرونه دي بېشـان

## نور د صبر طاقت نه وینمه ځان کې

نور د صــبر طاقت نه وینمه ځان کې
بېخودي را بـانـدي بیـا کړی اثر دی
چې نظر مې شـــو روزګار د دې جهان ته
له افسوسه مې غصه راځي خپل ځان ته
نور د صبر حوصلې کندول مې مات شو
ځکه پورته مې له خولې نه دا فریاد شــو
زه دې خپلو پښــتنو لره حیران یم
تش په تشـه کړي دعوه چې زه افغان یم
پښـتونواله هســـې چیرې وي پښـتونه
چې په کور کې ماتوې خپل مرونـدونـه
نـه دا لاره د پښــتو نـه د غیرت ده
بـلـکې دغـه عـلامـه د جـهـالـت ده
دا آواز بـه هـیـچـا نـه وی اوریـدلی
چې پلانکی هنـدو پلانکي هنـدو وژلی
**پښتانه سره تباه شول په خپل میان کې**
**نور د صــبر طاقت نه وینمه ځان کې**
نه د یوه انګریز له لاســه بل آزار شــو
نه په خپلو کې جګړن او ګوندي مار شــو
بې ولوره خدای دپاره نه ودبـــــــــرې
ولور وختـه لس شـــل زرو روپو تـه
خان صــاحب لاخېژولي دی شــپیتو ته
**کـه څـه وایم را سره د سر خطر دی**
**بیخودی را بـانـدی بیـا کړی اثر دی**

ته په خپله لږ انصـــاف وکړه پښـــتونـه
چې پـه موږ کې گنـه نشـــتـه دا کـارونـه
کـه دروغ وایم نـو هـمـدلتـه سزا راکـړئ
که رښـــتیا وایم ځانونه خپل اصـــلا کړئ
پـه دنـیـا کې لـه دنـیـا نـه وشرمـېږئ
به عقبا کې خدای رسـول نه ووېرېـــــــېږئ
مونږ او تاسو چې ټینگ کړی دا وضعیت دی
دا مـنـلی نـه پښـــتـو نـه شریـعـت دی
شریعـت کې خو نـه غلا شـــتـه نـه جواري
دا زمـوږ پـه پښـــتـنـو کې دي جـاري
**ســـود خوړل هم ناروا دي مســـلمان ته**
**له افسوســه مې غـصه راځي خـپل ځـانته**
یه پښـــتونه ســـتا دې کار ته په ســـودا یم
ســـودا څـه چې مخـامخ یې درتـه وایم
په ټوپک دې چې ښـایسـته نن سـتا اوږه ده
رښـــتیا وایـه ســـتـا د چـا سره فتنـه ده
یـا بـه ترهزوی تـه گواښـــېږې یـا تربور تـه
لـږ خـو شرم و حـیـا ودروه حضـــور تـه
حقیقت کې   دښمن نه دی دا دې ورور دی
خوږ اولاد گوره دا ســـتـاد پلار او مور دی
دښـــمـنـان دې د وطـن گرځي چـمـن کې
تـــه د ورور سره کـوېې پـه گـنـد کې
**تا نه بل کم عقل څوک دی په جهان کې**
**نور د صـــبر طاقـت نـه وینمـه ځـان کې**
بیـا دې خپلو خـانزادگـانو تـه حیران یم
ځان د قوم مشـــــــر گڼې وایې چې خان یم
هســـــــی چارې بیا د دوی نه واقع کیږي
چې د قوم په تباهي باندې ختمېـــــــــږي

که ته خان يې نو د ګرد قام نوکري کړه
د عـاجـزو درمـانـده و دســتګيري کـړه
په خدمت کړه دا ټول خلک مخلصان خپل
په ټوپک او تمانچه مه ســاته ځان خپل
که ســتا زړه کې څه حســد او کينه نه وي
يا ويشتلي دې بــل ورور پــه سينه نــه وي
څه حاجت دی په ټوپک او په نوکر دی
بېخـودۍ را بـانـدې بـيـا کـړی اثـر دی
پـه ټوپـک خلـک ســاتي د وطن خـاوره
خان صــاحبه! ته زما مســکين نه واوره
دا چې نن په خپل کاله مصــــــرفوې ته
دښــمنـان ســبـا پـه څـه منع کوې تـه
هر طرف نه دښمنان موږته ګواښېـــــږي
په نفاق او ځانځانۍ زموږ خوښـېـــــږي
ښــه عاقل يې هســـې نه پوهېـــــږې
خو شــيطان دې زورور دی پرې غولېږې
ولاحول وايه شــيطان دې پرې هلاک کړه
خپـل زړګی دې د کينې لـه زنګـه پـاک کړه
نيت دې ښــه کړه هر مؤمن او مسـلمان ته
له افســوســه مې غصــه راځي خپل ځانته
تمـام عمر زموږ تېر شـــو پـه غفلـت کې
څـه حاصـــل بـه کړو نفاق او عـداوت کې
يـا پـه کونـډه سره نښــلو يـاپـه شــفع
هـرګـز ونـه شـــوه د دې خـبرو دفـع
وايي څوک يمـه پلانکی قـام مې جـدا دی
داسې فکر زموږ تـل مـدام خطـــــا دی
يو مو دين يو مو مـذهـب يو مو وطن دی
يو مو غم يو مو ښــادي يو مو مســکن دی

دښـــمنـانو پـه چـل ول دانـه دانـه کړو
ورور لـه ورور سره دښــمن او بېگـانـه کړو
له خپل لاسـه شـوو تباه به سـپين ميدان کې
نور د صـــبر طـاقـت نـه وينم پـه ځـان کې
رب دپـاره سر د نـنـه کـړئ گـرېـوان تـه
ښـــه د غور پـه نظر وگورئ جهـان تـه
هـر مـلـت نـن غـوره کـړې يـکـرنـگي ده
خـو زمـوږ د پښـــتـنـو خـانـه جـنـگي ده
هر ملـت د ترقۍ پـه ســمنـد ســپور ځي
پـه هـوا پـه دريـابـونـو لـور پـه لـور ځي
نه د چا څخه څه غواړي نه يې حاجت شــته
چې د علم او د عرفان سره يې رغبت شـــته
د تـوپـونـو طـيـارو کـاريـگـران شـــول
د زرگونو فـابريکو نن خـاونـدان شـــول
زمـا لـور لا پـه دکـان د اهـنـگـر دی
بې خـودۍ را بـا نـدی بـيـا کـړی اثـر دی
ځوک صحيح متخصص ځوک ډاکتران شول
چې د نـوو تـجـربو دوی خـاونـدان شـــول
قسـم قسـم عمليـات او پيچکـاري کړي
د هـر درد او هـر مـرض جـلـوگـيري کـړي
موږ خو مړه کړو ملاريـا چې کمـال نشـتـه
د کـونـين د جـوړولـو مـجـال نشـــتـه
لاس تر زنې د خارج دوا ته ناســـت يـــو
لکه گوډ فقير دنيا وته په خواســـت يـــو
پـه دنيـا کې کور پـه کور دواخـانې شـتـه
د دوا د جـوړولـو کـارخـانې شـــتـه
زه سـپيرکۍ پســـې جوار ورم بيا دوكان ته
له افســوســه مې غصـه راځي خپل ځان ته

زه دې خپل انسانيت ته حيرا نېـــــرم
که انسان مې څوک نه بولي خپه کېـــــږم
نـن چې گـورمـه کـارونـه د انســـان زه
انســـان نـه شـــمه بللی دا خپـل ځـان زه
انســانيت د انســـان هله مشــــرف شي
چې پــه عـلـــم مشـــرف او مکلف شي
چې د علم نه په څنگ وي انســـان نه دی
زه يې حيوان گڼم که څه هم حيوان نه دی
بې علمي بـده بلا ده کـه پوهېــــــږې
تـه د دې بلا نـه ولې نـه وېرېـــــږې
عـاقبت بـه دې داخـل کړي پـه زنـدان کې
نور د صـبر طـاقـت نـه و ينمـه ځـان کې
غلامي د نـاپوهۍ نـه حـاصـلېــــــږي
د هنر پـه مخ کې غرونه ويلې کېــــــږي
دا متـل دی مشـــهور چې عقـل يې کم وي
د هغـو خلکو پـه کور کې مـدام غـم وي
خدايه ته مې دا د غم شــپه زر ســبا کړې
مـا پـه راز د ژونـدانـه بـانـدې آگـا کـړې
دا وحشـــت زمـا بـدل پـه مـدنيت کړې
تار په تار پښــتانه غونډ په يو وحدت کړې
مــرور ورونــه زمــا سره پــخـلا کــړې
دا د خپـل کـور نواقص زموږ اصـــلا کړې
**خدايه تانه مې دا خواست شام و سحر دی**
**بې خـودۍ را بـانـدې بـيـا کـړی اثـر دی**
د وطـن ســوی ډاگـونـه مې ودان کـړې
د شـــونتۍ په عوض برق پکې روښـــان کړې
خوار ملت زما نور خلاص ته له ذلت کړې
خزانـه موږ تـه پـه لاس د علميـت کړې

دا ســـپېره غرونـه زمـا واړه ګلشـــن کړي
ځنکـدن مې بیـا ګلشـــن کې د وطن کړي
د خېږې په ځـای مـالتـه او ســـنګتره کړي
په ژوندون کې خدایه دا راته ښـــکاره کړي
خو زمـا ملنـګ‌جـان زړه کې ډېر ارمـان دی
خدایه تا ته مې دا خواست په هر زما ن دی
ارمـاني چې مې بونـه ځې ګورســـتـان تـه
له افســوســه مې غصــه راځي خپل ځان ته

## نفسونه شول غالب

نفســـونه شـــول غالب، د دې غمه ژړېــــــــــږم
بې‌کاره بې تـعـلـیـمـه راتـه پـاتې خـپـل اولاد شـــو
پښتون غریب برباد شو

نســـونه مخالف شـــول، خیالونه مختلف شـــول
د کور بغض او حســـد موږ لره نـه دی مناســـب
نفســـونه شـــول غالب

هر څوک ګټه د ځان کړي، وطن به څوک ودان کړي
د قوم مینه د زړونو نه بهر شـوه ښـه پو هېــــــږم
لـه دې غـمـه ژړېـږم

ملک صاحب دې جوړ وي، په ګېډه دې دی موړ وي
د خوار او د غریب پوښـتنه نشـته څه فسـاد شـو
پښتون غریب برباد شو

ســـید پخپـل ســـیادت، د ځـان غواړي عزت
قســـم دی مـا ونـه لـیـد د وطـن د خیر طـالـب
نفســـونه شـــول غالب

څوک میا او څوک ملا شـول، د کسـب نه تېرا شـول
وایې کسب و کمال څه کړم شکرانو باندې مړېـــــږم
لـه دې غـمـه ژړېـږم

نه ننګ شته نه غیرت، نه خاورې ته خدمت
نن وګوره دنیا ته هر ملت سر په مراد شو
پښتون غریب برباد شو

ګوندي او عداوت، په موږ کې شو عادت
دوستي او شفقت په پښتنو کې شو غایب
نفســـونه شـــول غالب

ځوک وايي چې زه خان یم، معروف په کل جهان یم
هستي دولت مې ډېر دی په خدمت باندې شرمېـــږم
لــه دې غــمــه ژړېــږم
دا خان نه دی خاین دی، پخپل ځان چې مین دی
هیڅ غم د وطن نه خوري چې یوځل یې نس آباد شو
پښتون غریب برباد شو
که حق و ایم ویرېــــــږم، که نه وایم پړسېـــــــږم
د ځــیـنـو کـارکـنـانـو کـار وي ورړ د تـعـجـب
نفســونه شــول غالب
په ځای د عدالت، مـــا ولـــــــیـــــــد تـــــجارت
له غمه شـم ترور یونیم مامور نه چې خبرېــــــــږم
لــه دې غــمــه ژړېــږم
خـاونـده مورږ اصــلاح کړې، دنیـا کې سر بـالا کړې
ډېر غله د خپل کاله دي هر سړی مل د فســاد شـــو
پښتون غریب برباد شو
پښـــتـونـه وروره واوره، نـیـکـونـو نـه دا خـاوره
ده مورږ ته ســپارل شـــوې یې غافل په څه ســبب
نفســونه شــول غالب
د دې خـاورې خـدمـت، کـوئ پـه صــداقـت
د کور په ځانځاني له باندنو خلکو شرمېـــــــــږم
لــه دې غــمــه ژړېــږم
رښـــتيا رښـــتيا به وایم، چې څو په دې دنیا یـــــم
مجبور دی ملنګجان له ډېره غمه په فریاد شـــو
پښتون غریب برباد شو

# صورت مې اخلي اور

صورت مې اخلي اور — له درده بې اختيار يم
معافي غواړم يارانو که الفاظ مې ناپسند وي — زړه ژاړي چې دردمند وي
که ستاسو اجازت وي پوره موافقت وي — خپگان ممانعت وي
د زړه له سوزه تاسو ته کوم يو څو خبرې — غوږ کېږدئ مه ځئ لرې
اول وگورئ ځان ته، بيا وگورئ جهان ته — د هر ملت گوزران ته
څوک گرځي په هوا کې څوک په بحر کې سکونت کړي

ژوندون په ښه صورت کړي
افسوس زموږ په حال، چې نه لرو کمال — نفاق کړو په جنجال
اخته يو په گوندي او په حسد کې کور په کور — صورت مې‌اخلي اور
نن گورئ هر ملت، ترک کړی عداوت — يو بل ته په عزت
په ښه سترگه به گوري لکه ټول چې وي يو ورونه — ته غوږ کېږده پښتونه
نه چا واورېدلی، نه هيچا و ليدلی — نه يې نوم چيرته ليکلی
نن کشف کړ دنيا، د خپلې پوهې نه اتوم — د چا زده و دا نوم
درانه درانه توپونه، ټانگونه ماشينونه — سوونه په زرگونه
جوړيږي په دنيا، زه يوې ستنې ته ناچار يم — له درده بې اختيار يم
نور خلک عالمان شول، په علم کاملان شول — پوره کاريگران شول
زموږ په شان خو نه دي څوک پراته يو په زندان کې

څوک مړه شوو په خپل ميان کې
که مو خان که مو ملک دی، که مو زوړ که مو هلک دی — په دې خبره کلک دی
پلانکی زما تربور دی خو په والله که يې پرېږدم — له قهره ورته رېږدم
دا څومره سپک وضعيت دی، دا څومره خجالت دی — دا عين جهالت دی
لعنت په هغه خان شه چې د خپل وطن دښمن دی — زړه ژاړي چې دردمن دی
دنيا په خپل هنر، د علم په اثر — کړي خاوره چاندي زر
پخپله تاسې گورئ له چارک لرگي جوړيږي — راډيو په څو خرڅېږي

ټوپک او ماشیندار، لارۍ او تیز رفتار — د اورګاډي کړه شمار
په بحر کې اوګوټ ځي په هوا کې طیاره — د علم په ذریعه
زرګونه کارخانې د تیلو ښې چینې — فرشونه پشمینې
نن څه غواړې چې نشته په دنیا کې لور په لور — صورت مې اخلي اور
ښه لوی لوی سړکونه، ښایسته قصرونه — جړاو پکې برقونه
تور تیلو له تراوسه موږ تیلي کره روان ېو — دا څرنګ انسانان یو
دا نور هم انسانان دي هغوی هم زموږ په شان دي — د دوه لاسو خاوندان دي
خو محض په خپل کوښښ او په همت سره کامیاب شول — څرګند لکه آفتاب شول
زموږ د بې علمۍ نه، د ډېرې تنبلۍ نه — نه وځو سندلۍ نه
وراسته شوو په کوټه کې مفلسۍ ځینې بیمار یم — له درده بې اختیار یم
ترڅو به داسې یاستو دنیا وته په خواست ېو — تیار شکرۍ ته ناست ېو
د علم نه کار نه اخلو، هر څه غواړو په پیسو — آخر وایه تر څو
دا پښې او دا لاسونه، دا سترګې او غوږونه — چې علم وي پښتونه
همدغه د انسان دپاره جوړه خزانه ده — معقوله کارخانه ده
هر څوک چې بې هنر وي، په شان د ګاو و خر وي — د دې نه هم بتر وي
خپه دی را نه نشي اپریدي او که مومند وي — زړه ژاړي چې دردمند وي
نن هر یو مملکت په خپل عزم و همت — آسمان ته شول اوچت
ټول احتیاجات یې پخپل کور کې پیدا کېږي — لا ورځ په ورځ ډېرېږي
واړه یې په مکتب د علم په طلب — زیار باسي روز و شب
که یې نر دي که یې ښځې خو د کسب نه چاپېر دي — نن هر څه ور ته ډېر دي
زموږ د ناراستۍ نه سستۍ او ټنبلۍ نه — کباب شوو مفلسۍ نه
دا ځکه چې نه کسب نه کمال لرو په کور — صورت مې اخلی اور
څوک لاړل او چرسیان شول څوک غله قماربازان شول — څوک ګرځي ملنګان شول
څوک غواړي شکرانه چې د پلانکي بابا اولاد یم — زه ډېر پر بامراد یم
څوک خان څوک یې نوکر شو څوک خوښ څوک مرور شو — همدې کې در په در شو
څوک ناست یو سرسایو ته څوک د خور او لور پیسو ته — حیران یم دې پښتو ته
واړه ګرځي کوڅو کې په خاورو په ایرو کې — په مال پسې ځنګلو کې
مکتب راته زندان ښکاري معارف نه چور انکار یم — له درده بې اختیار یم
تل ګرځو سر بدال چارپایو په مثال — چې نه لرو کمال
وطن د پلار نیکه زموږ نه شاړ شو ناراستۍ نه — له ډېرې بې‌باکۍ نه

دا ولې بې پروا شوو د خلکو د خندا شوو
نفاق وسوو تبا شوو

نو یه پښتنو ورونړو تاسې ولی نه شرمېږئ؟
ترڅو به نه پوهېږئ

راځئ په اتفاق شوو په ډډه له نفاق شوو
په ښه مینه اخلاق شوو

نفاق خو د ملت لپاره محض ځنکدن وي
زړه ژاړی چې دردمن وي

زما وروره پښتونه ایله دې کړه غوړونه
خبر شه له مضمونه

تاریخ دې مخ کې کېږده له نیکونو نه خبر شه
د هغو په لاره ورشه

د هغو له همت د هغو له دهشت
دنیا وه په هیبت

هر چیرته دښمنان د دوی تر پښولاندې معدوم وو
د دوی د توري نوم وو

چې و به یې کړ لښکر روان به یې شو عسکر
نه یې سین کاته نه غر

په ماتې به دښمن تله که پیاده به وو که سور
صورت مې اخلی اور

نور بس دی جهالت روی کار کړئ صداقت
د زړه په محبت

د خدای دپاره ورونړو دا زړې ګوندی خو پرېږدئ
یوه نوی تیره کېږدئ

یو لاس او یو وجود شئ پښتو باندی مضبوط شئ
د ښه ژوند په بهبود شئ

له غمه دا نارې وهم له سوزه په کوکار یم
له درده بې اختیاریم

چې غم مې په زړه زور شي صورت پوری مې اور شي
حالت را باندی نور شي

زړه مه بدوئ ورونړو که وینا کې زیات و کم وي
مجنون اخته په غم وي

نه چاته په کینه یم له درده دیوانه یم
مشغول په ترانه یم

خو ډېرې آرزوګانې مې دي زړه کې ځکه ژاړم
د قام ترقي غواړم

د خپل قام ثناخوان یم وطن ځنې قربان یم
مجنون زه ملنګ‌جان یم

وطن وطن به وایم څو چې روح زما په تن وي
زړه ژاړي چې دردمن وي

# نن مې بیا زړګی...

نن مې بیا زړګی نری نری خوړیـــــــــږي    درد مې بیامونده د خیال په نندارتون کې
له افسوسه مې چشمان دي په خونبار ګډ    کشـــکي نـه وای د دې دهر پـه بـازار ګـډ
محترمو اوریـــــــدونـــــــکـــو عزیزانو    عـالـیـقـدرو عـزتـمـنـو صـــاحـبـانـو
زه غـمـجـن د څـو خـبرو آرزومـنـد یـم    آزرده نـه شئ لـه مـا نـه زه دردمنـد یم
عفوه غـواړم کـه وینـا کې مې تلخي وي    د مریض په ســخت ویل څه ناخوښي وي
زه دردمنـد یمـه د درد ســـنـدرې وایم    خو د زړه دردونه اوس تاسي ته ښـــایم

زموږ ستر ګې له غفلت نه غړیـــږي
نن مې بیا زړګی نری خوړیـــږي

تـاسې ګورئ دې دنیـا او دې جهـان تـه    دې کوښښ او دې غیرت او دې وجدان ته
خیال لري چې په ســپوږمۍ کې وداني کا    پـاس لـه ځـمـکې پـه هـوا زنـدګـاني کـا
موږ تر اوســه لا په خاورو کې توغږیـــږو    د سـودخورو سـودخورۍ نه نه خلاصیږو
ډک ســـیـندونـه د اوبو را تـه روان دي    خـو ډاګـونـه د اوبـو لـه کـمۍ وران دي
خدای راکړي ښــه پاســته پاسته ډاګونه    پـه لـکـونـو کـروړونـو جـریـبـونـه

افسوس دا چې کمال نشته په پښتون کې
درد مې بیا مونده د خیال په نندارتون کې

پښتانه که ټول د علم خاوندان شي    او ډاګونه تمامي زموږ ودان شي
په وطن به زموږ څه لره قحتي وي    د دانو به په موږ ولې قیمتي وي
وجه دا ده چې کوښښ او کمال نشته    د ملت په دې خبرو څه خیال نشته
هر سړی د ځان ځانۍ به لار روان دی    د مکتب او د تعلیم نه روی ګردان دی
که ځانونه معارف سره آشنا کړو    د عرفان په ماميره سترګې بینا کړو

نه به اوسو په احتیاج او انتظار ګډ
کشکي نه وای د دې دهر په بازا ګډ

یو انګریز به بې سواده پاتې نه وي    په خپل علم به نامراده پاتې نه وي
موږ په سلو کې پنځه نوی امېان یو    تر دریم کلي میرزا پسې روان یو

یو انګریز بـه چـا نـادان لیـدلی نـه وي    د مکتـب نـه پـه نـاکام وتلی نـه وي
زمـوږ وړکي ډلې ډلې نـاکـامېـــــــــــږي    ناکامۍ په نوم مکتب نه خارجېــــــــــږي
که ربښــتیا وایم پښــتو او غیرت نشــته    د نـاکـامو پـه پلرو کې همـت نشـــتـه
دا خو مرګ دی چې پښتون زوی ناکامېږي
نن مې بیا زړګی نری نری خوږېږي
تـمـدن اول لـه بـلـخـه شروع شـــوی    جهان پوه نه و له موږ څنې پوه شـــوه
موږ نه وروسته خلک مخ کې عالمان شـول    شــاګردان د اســتاذانو اســتاذان شــول
څلـور ســـوه کـالـه مـخـکې زمـا ګـرانـه    امریکا ده کشــف شــوې واوره مـا نـه
نـن يې فـکـر آســـمـانـونـو تـه ختـلی    تــر مــــــر یــــــخ او عطارده رسیدلی
هی افســوس افســوس زموږ په پښــتونواله    نن تعلیم لـه چې موږ درومو امریکا لـه
یو عالم نه شو پیدا قوم د پښتون کې
درد مې بیامونده د خیال په نندارتون کې
کـه یـو ټـوکی د خـارج نـه نـوی راشي    اخیســـتو تـه يې زموږه میـل پیـدا شي
دا خو نشـــته چې پخپله يې ځانته جوړ کړو    په قوت د خپل زحمت سره ځان موړ کړو
پاو په دوه یا درې خرڅېږي ځي جاپان ته    خپل مـالوچ او وړۍ موږ لېږو جهـان تـه
ګز پـه ســـل او پـه نـوي يې بیـا اخلـو    د بزاز په دوکان وار نـه وي پرې نښــلو
څه پیسې موږ نه په چای او په سګرت ځي    د کال ګټـه مو خـارج تـه پـه منـت ځي
له ناکامه یم په شور او په چغار ګډ
کشکې نه وای د دې دهر په بازار ګډ
ښـــه کـانونـه پـه وطن کې خـدای راکړي    مګر موږ د بې علمۍ ســیلاب یو وړي
د پـترولـو ښې چـیـنې لـرو کـالـه کې    دروغ نـه وایمـه د ملک هره نـاوه کې
علم پوهه زموږ نشـــته چې يې د ځان کړو    خپل ځانونه د هســـتیو خاوندان کړو
د خـارج تیـلو نـه کـار اخلـو تـر کومـه    نـه شرمـېږم نـه پـه دې خـبره مـرمـه
څو بـه شـــمېرمه هر شی واړه قیاس کړئ    خدای دپاره د نفاق نه پورته لاس کړئ
په نفاق کې عاقبت سرې سپک کېږي
نن مې بیا زړګی نری نری خوږېږي
نـور عـالـم کې رایګیري چـه چرتـه کېږي    یو رئیس یـا یو واکمن چې غوره کېږي
تر څلیرویشـــتو ســـاعتو کار يې تمام وي    پـه یو تن بـه قنـاعـت د تمـام قـام وي

مور کـه نیسـو یو وکیـل ملي شـورا تـه — تـه بـه ماتـه غـاړه نـه ږدې زه بـه تـاتـه
تر پنځو میاشتو جګړه مو نه پرې کېـږي — په ګوندی سره پسـونه حلالېـږي
چې زمـوږ د بـارسـوخـو دا روزګـار دی — نور د عـامو ځنې څـه ګیلـه پـه کـار ده

له دې غمه اور مې بل شي په لړمون کې
درد مې بیا مونده د خیال په ننداړتون کې

یه پښـتونه! ور شـه کینه سـینما تـه — چې وضـعیت د نور عالم ښـکاره شي تاته
نورو خلکو لـه کـارو نـه ځـان خبر کړه — بیا دې خپل موجوده حـال وتـه نظر کړه
پـه دنیا کې هسـې رنګـه ډاکتران دي — پـه هر فن کې دوی غښـتلي مـاهران دي
خو زموږ مـاتـه بـاجـه دوکړه ربـاب دی — هـغـه هـم کلـه مـوقـوف کلـه آزاد دی
خان، ملک زما نه غم کې د رشـوت دی — شیخ صاحب مې راته وايي جوړ قیامت دی

و مې نه لید په خدمت کې خدمتګار ګډ
کاشکې نه وی د دې دهر په بازار ګډ

که څه نه وایم له درده ټول پرسـېږم — که څه وایم خدای شـته دی چې ویرېږم
دا زمـوږ د پښـتنـو ځـنې خـانـان دي — شـپـه او ورځې د پېمخو ملنګـان دي
کلـه کلـه تمـانچـه ورتـه تر څنـګ کـا — دا لابله په خپل ځان پورې ریشـخند کا
نو د هغه خان به څه د خانۍ خوند وي — چې پـه مینـه د پېمخو کې دی بنـد وي
دې عمـل او دې کـارو تـه چې نظر کړم — څـه امیـد بـه لـه غربـت او زورور کړم

په قسمت کې چې څه وي هغه رسېږي
نن مې بیا زړګی نری نری خوږېږي

بـیـا د ځـنـو حـاکـمـانـو بـه څـه وایـم — خپـه نـه یم خیر دی زه ترینـه رضـا یم
پـه شـنو لښـتو پې تمـام کنډ و کپړ یم — پاکه خدایه زه انسـان یم که ډنګر یم
حـاضرینو نـه حیـا راځي شرمېـږم — عفوه غواړم په همدی ځای به پې پرېږدم
پـه اخلاص سره لاسـونـه کړئ راپورتـه — په زارۍ په اسـتغفار شئ د خدای لور ته
خـدایـه تـه مو د حسـد تبـه سړه کړې — د دې وړو خلـکـو تـه ګـېـډه مـړه کـړې

د تیارې د جهالت نه مو بیرون کې
درد مې بیا مونده د خیال په ننداړتون کې

د نـفـاق مـکـروب مـو ووژنې رګـو کې — خـدایـه تـه پـه خپـل کرم سره موږ پو کې
پښـتـانـه د کارخـانو ټول خـاونـدان کړې — شـاګردان مې د مکتب ټول اسـتاذان کړې

افغاني ساخت ماشینونه را ښکاره کړي ټول جهان مې د کمال په ننداره کړي
الهی ستا د حبیب له برکته د پښتون جنډه دنیا ته نه کړې ښکته
غمزده د زمانې زه ملنگ‌جان یم ترقي د پښتنو ته په ارمان یم
درویزگر یم په هر در په هر دیار گډ
کشکې نه وای د دې دهر په بازار گډ

## د سرو زرو رشه...

د سرو زرو رشې بـانـدې ولاړ یـم پـه نـس وږی      د ځـان نـه مـرور یـم
د سـینـد پـه غـاړه نـاسـت یم په ارمان د اوبو تږی      پـه دې چې بې هـنر یم
د سرو زرو رشــه زمـا پـه فـکـر دا وطـن دی      کـه څوک یې کړي ودان
بې عـلـم و بې هـنره ټـول عـمـر ځـنـکـدن دی      همېش به وي پریشـــان
هغو چې د وطن پـه مینـه ایښـی مـال و تن دی      نن گرځي پـه آسـمـان
محروم لـه عـلـمـه زه یم چې زمـا سـوی دی سږی      پـه خـلـکو کې ابـتر یم
حاصـل د لاس او پښـو اخسـتی نه شـم دا مې حال دی      نـه گوډ یمـه نـه شـــل
تیار شـکری ته ناسـت یم نه مې کسـب نه کمال دی      پـه شـــان لکـه د غـل
جایداد د پلار نیکه زما دی ډېر کسب مې سـوال دی      تـل گـرځـمـه شـــډل
له دې شرمه به مړ شـم چې ډېر زیات مې دی نس خوږی      زه ورځ پـه ورځ بـتر یم
پـه زړه یـمـه بـیـدار پـه ژبـه لال لـکـه گـونـگ      چوپ ناست یم دم ختلی
نسـکور پـه ځمکه پروت یم چا راکړی جام د بنگ      پـه خـاورو کې لــړلی
تېرېـــــــږي کناره خپـل او پردي را نـه پـه څنگ      مـېړو نـه یـم وتـلی
روغ جوړ بـه شـمـه هلته کـه مې وموند خواخوږی      زخمی د زړه پـه سر یم
سـینه باندې ښـوئېـــــږم چې لږ ځان کړم قریب      مـحـفـل نـه د جـهـان
پـه سر بـانـدې وهې مې چې پـه شـا لاړ شـه غربت      ښــکاره دې نه کړې ځان
بـیمـار کلـه صـحـت مومي پـه دا رنگـه طبیـب      زه هم پـه داسې شـــان
پټ لوی شوم پټ به زوړ شم پټ به مړ شمه زړه خوږی      د وریځو لانـدې لمر یم
یـوازې ځـان نـه ښـیـم پـه زرهـاو زمـا پـه شـان      پـه بوســو کې ویده دی
لـمـر جـگ راغی غـرمـه ده هـیـڅ خـبر نـدي خـواران      خولو کې ټول لانـده دی
څوک شـتـه چې دوی را ویښ کړي په فریاد او په فغان      تر اوســه دوی پراته دی
نن تـاو کـړه ملنگ جـانـه پـه رباب بـانـدې دې غوږی      د زړه د تـاو اثـر یـم

## راځئ دښتې ...

راځئ دښتې باغونه کړو تر څو به يو ځنګلونو کې
يو زر شپې سبا شوي مور پراته يو په خوبونو کې
***
يو زره شپې سبا شوې د غفلت په خوب ماړه نه شوو
پوه په ګرم ساړه نه شوو
ستړی شول چرګان په ډېرو ډېرو آذانونو کې
يو زر شپې سبا شوي مور پراته يو په خوبونو کې
ستړی شول چرګان واېي همدا چې زرشئ پورته شئ
ځئ د کسب لور ته شئ
ترڅو کوئ کروارې د پردو په درمندونو کې
يوزر شپې سبا شوې
ترڅو کوئ کروارې راشئ سيال سره سيالي وکړئ
راځئ پښتونولي وکړئ
نه ټيټوي سر پښتانه هيڅکله قامونو کې
يوزر شپې سبا شوې
نه ټيټوي سر پښتانه لوړ عزم و همت لري
ننګ او شجاعت لري
باز د شعور پرېږدئ چې سيل وکړي په ملکونو کې
يوزر شپې سبا شوې
باز د شعور پرېږدئ ځان خبر له نور عالم کړئ
ځان پرې مقدم کړئ
خدايه مددګار د ملنګ‌جان شې مطلبونو کې
يوزر شپې سبا شوې

## ربه ژوندی به یم

ربه ژوندی به یم چې لوړ د وطن شان ووینم
چې مشــــرف په علم پوه افغانسـتان و وینم

ربه ژوندی به یم چې تل وطن سرەزر شي زموږ
چې دا د ختو دیوالونه ټول مرمر شي زموږ
چې په اتفاق لکه دوه ورونه سم او غر شي زموږ
**چې په یوه لاره روان ټول افغانان ووینم**
ربه ژوندی به یم چې ورک د سوال رواج شي زموږ
په خپل کاله کې میسر واړه احتیاج شي زموږ
د ترقۍ خواته بدل طبع او مزاج شي زموږ
**ټول پښتانه په خپل وطن کې عالمان ووینم**
د تاریخو په اوریدو مې زړه کباب شی؟
له ډیره غمه مې په مخ اوښکې سیلاب شي ورونو؟
په هغه ورځ به رانه ورک رنځ او عذاب شي ورونو؟
**چې تر اټکه پښتانه ټول حاکمان ووینم**
د پخوانو مشرانو خومره لوړ همت و زموږ
گجرات قنوج تر اصفهان لوی سلطنت و زموږ
ان له آمو تر بحر هند یو مملکت و زموږ
**مرمه په دې چې نن دې باغ کې گډ زاغان ووینم**

الـهي تـه د ســـوي زړه مې کـړې قبـولـه دعـا
د پیغـمبر بـه خـاطـر غـم لـرې زموږ نـه جـدا
د ملنگ‌جـان په مخ کې هلتـه بـه سرخي شي پیـدا
**چې ســتر واکمن د پښــتنو ظاهرشـاه خان و وینم**

## پښتونه وګوره دنیا ته

پښـــتونه وګوره دنیا تـه نور علم څـه کوي
ستا په کاله کې د غفلت جبر و ستم څه کوي

حال دې خراب شو په سستۍ او په غفلت پښتونه
څه خو په کار دی نارینه لره غیرت پښتونه
په ناراستۍ کې عاقبت وي خجالت پښتونه
څوک چې بیدار وي د دارې هلته ماتم څه کوي
په خوب ویده یې ځان بیدار کړه نور عالم وګوره
مبوې د علم په دنیا رقم رقم وګوره
صحنې د عقل په هوا اېښی قدم وګوره
زموږ په مخکې ګوډ خرګې ضعیف برهم څه کوي
بېره دې سپینه شوه د علم محبت وکړه ته
دا ستا نه تیر یم خپل اولاد ته نصیحت وکړه ته
د آینده نسل دپاره څه خدمت وکړه ته
علم ته زده کړه د عالم په کور کې غم څه کوي
ځان پاړوګر کړه په اوده باندې ښامار ونیسه
د چرمښکې نه مه ډارېږه اژدهار ونیسه
زوی د پښتون یې په رښتیا د پښتو لار ونیسه
د پـاړوګـر پـه وجـود زهـر د لـړم څـه کـوي

## ظلم مې د پلار ولید

له خپله لاسه هر پښتون مې خوار و زار ولید

ظلم مې د پلار ولید چې يې کاندي په فرزند

اول يې دغه ظلم ګوره
زوی يې تعلیم ساتي په زوره
ایله ګښتۍ دپاره وروره

مکتب ته يې نه لېږي په دې مې خیانتکار ولید
ظلم مې د پلار ولید
چې يې کاندی په فرزند

چې زوی يې وغواړي مکتب له
د معارف علم و ادب له
نه چې د ځان کوم یو مطلب له

پلار به يې ناراض وي دغه رسم مې رویکار ولید
ظلم مې د پلار و لید
چې يې کاندی په فرزند

پلار به يې کوښښ کوي بار بار
زوی د مکتب نه کړي کنار
یا په رشوت یا په بل چار

ځکه دنیا کې مې پښتون غریب نادار ولید
ظلم مې د پلار ولید
چې يې کاندي په فرزند

باید چې پلار د چا پښتون وي
زوی يې په عقل افلاطون وي
بغیر له علمه څه ژوندون وي

ما ملنګجان په بې علمۍ کې ځان بیمار ولید
ظلم مې د پلار ولید
چې يې کاندي په فرزند

## زه وطن خاص د پښتنو

زه وطن د پښتنو د سترګو تور یم
د ښو زلمېانو مور یم          با ننګ مې فرزندان دي
زه د همت ارزو لرم د فرزندانو څنې
غواړم چې باج واخلي څنګلو کې د زمریانو څنې
چې پاتې نه شي په دنیا نورو ځوانانو څنې
په دې آرزو لاس په دعا د رب په لور یم
د ښو زلمېانو مور یم          باننګ مې فرزندان دي
خلک دنیا کې خپل وطن ته خدمتونه کوي
بحر و فضا کې امتحان مهم کارونه کوي
غتې او واړه ورته خدمت لکه مریونه کوي
زه ستاسو پښو لاندې پایمال په جنګ و شور یم
د ښو زلمېانو مور یم          با ننګ مې فرزندان دي
نور وطنونه نن زما په حال خبرې کوي
ټوکې خندا او مسخرې راته د لیرې کوي
توپ طیارې جنګي سامان جوړوي غورې کوي
زه په دې شته جایداد د بل خریده خوریم
د ښو زلمېانو مور یم          باننګ مې فرزندان دي
رڼې اوبه لکه شوده ښه نعمتونه لرم
سترګې بینا کړئ په هر ځای د سرو کانونه لرم
زما په غېږ پرورش کېږي امیدونه لرم
زما حقوق ادا کوئ په تاسو پور یم
د ښو زلمېانو مور یم          باننګ مې فرزندان دي
وطنه ستا په خدمت واړه صادقان بو موږه
غتې او واړه حلقه بګوش ستا غلامان بو موږه

په هر میدان کې درنه سر و مال قربان ېو موږه
زه ملنگ‌جان د ستا په مینه سوی سکور یم
د ښو زلمیانو مور یم          باننگ مې فرزندان دي

# په توره او قلم

پښتونه وروره برا بر دې کړه رقم
په توره او قلم
اولاد دې تربيه کړه

پښتونه وګوره جهان ته
خلک نژدې رسي آسمان ته
ته لړ غيرت ودروه ځان ته

لکه د مړي به ترڅو پروت يې بې دم
په توره او قلم
اولاد دې تربيه کړه

يو بل ته لاس د محبت ورکړئ
د زړه په صداقت
پرېږدئ ګوندې او عداوت

د خپله لاسه په ځان مه کوئ ستم
په توره او قلم
اولاد دې تربيه کړه

توره په ملا قلم په لاس
ميدان ته ووځه په اخلاص
ځان کړه تېره لکه الماس

د تنبلۍ بستر نه لېرې کړه قدم
په توره او قلم
اولاد دې تربيه کړه

څوک چې خدمت په صداقت
کوي د قام او د ملت
هغه ژوندی وي ترقيامت

زه ملنګ‌جان يې دعا ګوی يم په هر دم
په توره او قلم
اولاد دې تربيه کړه

## خپل همسایه سره کومک ...

خپل همسایه سره کومک کوه باداره    سخی سرمایه داره
په مال دې برکت شه
دا کونډې رنډې یتیمان خپل    وږي بربنډ اریان دریان خپل
پټ او ماړه ساته خواران خپل
خالق به درکړي عوضونه په زرواره    سخي سرمایه داره
په مال دې برکت شه
د سود نه لاس واخله سودخوره    د اخرت سختي ته گوره
دا سودخوري مه کوه نوره
څله لړې د دوزخ اور د ځان لپاره ...
پیسې په لور او په خور ماخله    ځان باندې قرض د گور ماخله
دا سري سکروټې د اور ماخله
په خور او لور تجارت مکوه هوښیاره...
ملک صاحبه وایم تا له    ساخته کارۍ ځنې لاس واخله
د مظلومانو آزار ماخله
غلط رپوټ نور مه لیکه د خدای دپاره...
ځینې خانان دې ځانته گوري    نور په گوندۍ کې دې نه ښوري
گوندۍ د قام دپاره اور وي
ستا په گوندۍ کې گټه نشته گوندي ماره...
څوک دې پر ما نه غصه کېږي    حق نه دې هیڅوک نه تیرېږي
بد دې پخپل بدو شرمېږي
ما ملنگ‌جان نه گیله مه کوه بدکاره...

*نیمګړې چاربیته*[1]

## د افسوس جنون...

د افسوس جنون مې بیا راغی په ځان کې
نم د سترګو مې شیبه شیبه وریږي
زړه ناچار شو ترینه پورته شول دودونه
خولې د غمه بیا شروع کړل فریادونه
نن مې بیازړګی له غمه واویلې کا
کله وژاړي په زور کله ګیلې کا
وخت ته نه ګوري بې وخت راته غریږي
خدای دې خیر کړي چې به څه راته پیښیږي
راته وایی رښتیا وایه مه ویریږه
سر نه ودانګه صفا صفا غریږه
حاضرینو نه معافي او عفوه غواړم
زړه مجبور کړم په خدمت کې ستاسو ژاړم
امیدوار یم چې ژړا ته مې غوږ کیږدئ
لطف وکړئ یو ساعت غالمغال پریږدئ
نظر واچوئ په غور زما بیان کې
د افسوس جنون مې بیا راغی په ځان

نن چې ګورمه هر قام اَو هر ملت ته
ټینګ ولاړ دي خپلې ژبې حفاظت ته
د پښتو ژبې به څوک وکړي روزنه
چا ته لاړشمه له چا وکړم پوښتنه
هر سړي ته چې ودریږم وی[2] افغان یم
خاص لمسی د احمدشاه او خوشحال خان یم
د خوشحال په پښتو ژبه نه پوهیږي
بله ژبه کې توتي غوندې غریږي
زه دې هسې افغانیت ته حیرانیږم
حیران څه خدایږو ژړا راځي ژړیږم
چې افغان په خپله ژبه نه پوهیږي
نم د سترګو مې شیبه شیبه وریږي

یو غریب که خیانت وکړي زیات و کم
په جزا باندې محکوم شي هغه دم
دې ملي خیانت ته نشته د چا خیال
راته وایه دا ثواب دی که وبال
دې کې نه کوم ګیله خوار او فقیر نه
ګیله‌من یم خپل رئیس او خپل وزیر نه
حق به وایم سمدستي که وژل کیږم
جذبات د شاعری دي نه ویریږم
خدای دپاره خپل ورو ته نصیحت کړئ
د پښتو ژبې خدمت په صداقت کړئ

---

[1] ډېر افسوس دی چې دا چاربیته پوره نه شوه او مرحوم ملنګ جان وفات شو!
[2] وی - وایی

نور پرې اړوي د خـاورو انبـارونـه
خولې له غمه بیا شروع کړل فریادونه

د حســـد او د کـیـنې نـه بـه څـه ژاړم — دا دوا بـه زه د چـا ځـنې وغــواړم
د ګونـدی لـه لاســه ټول عمر بیمـار یم — بـیـمـار څـه چې پـه بلا کې ګـرفـتـار یم
په دنیا کې جوړوي خـــلـــک ماشـینونه — موږ یو بـل تـه جوړوو تـل اسـبـابونـه
هســــې رنګه دسـیسـه به کړو رویکاره — چې صـــادق د صـــداقـت نـه شي بېزاره
خــدایـه راکـړې مـلـکـانـو نـه امـان — دوی پـه دغـه کار کې ډېر شـــول اســتاذان
د مظلوم اوښکې به څو اوري ګرېوان کې
د افسوس جنون مې بیا راغی په ځان کې

یـو د بـل پـه تـرقۍ نـه خـوشـــحـالېږو — ورور د ورور پـه ســپکاوۍ باندې خوښــېږو
دا خو ځکـه چې پښـــتو کړو پښـــتانـه بو — چې ورور مړ کړو ځـانتـه وایو نـارینـه بو
دوه خـانـان زمـوږه نـه ځي یـوه لار کې — یـو د بـل قـتـل تـه وي پـه انـتـظـار کې
چې خانان د قام ســپین ږیرې دغه کار کړي — دا کشران خواران به څوك موږ ته په لار کړي
زلـمـو غـوره د یـمـخـو یـارانـه کـړه — زمـانې پـه پښـــتـنـو داسې کـانـه کـړه
په حجرو کې به دوه درې وړوکي ګډېږي
نم د ستر ګو مې شپبه شپبه وریـــږي

د رشوت له لاسه وژاړمه چا ته — مـګـر لاړ شـــم فـریـادي خـپـلـه الله تـه
د چوکۍ په سر وي ناست غوښې د قام خوري — بعضـې بعضـې هسـې نه وایم تمام خوري
یو خو غرق کړو ځینو ځینو شیخ صاحبانو — وایې درې ورځې ژونـدون دی عـزیـزانـو
د دنیا کارونه واړه دي نیمګړي — پـه ژونـدون یې پښـــتنو نـه جوړ کړه مړي
دنیا وخته قریب لاړه آسمان ته — هی افسوس زموږ دې ژوند او دې ګوزران ته
دغـه چـا پـه موږه وکړل فســـادونـه
خولې له غمه بیا شروع کړل فریادونه

## نه به وي دغه دنیا نه به ..

نه به وي دغه دنیا نه به یارا ن تل نه به وي په هر محل کې سرودونه
نه به ناست وي په کرسو کې مالدارا ن تل نه به وي په باغچو کې زیږ گلونه
نه به وي دغه دنیا نه دا خبرې د هر چا په سر به جوړه واویلا شي
ده زموږه خوشحالی له عقله لیرې زنده سر به همگي واړه تالا شي
که ته څومره پخپل زور او زر غاور یې د چینجو به دې په وینو مشغولا شي
نه به وی نېغو شملو سره زلمیا ن تل
نه به جوړ شي د همزولو قطارونه

نه به وي دغه د نیا نه باغ د گلو نه به وی پکې میلې د بوراگانو
بوی به ورک شي له گلابو له سنځلو په افسوس افسوس به خاورې شی توتیان
اوازونه به وانه ورې د بلبلو پیدا شوی هر اشیا لره خزان
نه به وی تاووس قمری او نور مرغان تل
نه به ډک شي په مېوو باندی ښاخونه

نه به وي دغه دنیا نه داسې وار بیا افسوس دا دی که څوک وپېژني ځان
نه به وی داسې موقع داسې بازار بیا نارینه شه ټولوه در او مرجان
په بندر کې چیرته ته نه شی ایسار بیا پساپوټ د عمل واخله په ښه شان
نه به وي داسې موقع داسې دکان تل
نه به وي پکې د عطرو بوتلونه

نه به وي دغه دنیا نه دا عشرت بیا که پوهېږي سر دې ښکته په گرېوان کړه
مه نازېږه په خپل زور او په دولت بیا در په یاد د گذشته و نه یاران کړه
عذابونه مخکی شته دې د قیامت بیا که عاقل یې لږ خپل ځان سره احسان کړه
نه به وی شمس و قمر پاس په آسمان تل
نه به وي په سر د مځکې کې دا غرونه
نه به وی د غه دنیا نه عالم واړه نه به وي سپینې ماڼۍ او لوړ برجونه

عـاقـبـت دغـه مـاڼۍ ویـنـمـه شـــاړه پـه کې شـــتـه دی د اجـل د بـاد درزونـه
د خنـدا پـه عوض هر دم رب تـه ژاړه دا دې وخت دی که قبول دې شي سوالونه

نه به وی د ملنګجان د خولې بیان تل
نـه بـه واورې پـه پښـــتو ژبـه پـنـدونـه

## هرڅوک چې رشوتخور وي

لکه تبۍ مخ به يې دواړه پلو تور وي
چې اخيستل به يې رشوتونه
اوس به په جگو سترگو څرنگه دوی گوري
چې د رشوت سره يې وه مينه
خلاص خو به نه شي که لاپاتې چيرته نور وي
په هر وطن کې چې رشوت وي
رشوت خور د قام دپاره خالص اور وي
رشوتخواره دې خبردار شي
د ملنگ‌جان د شاگردانو به پرې شور وي

هر څوک چې رشوتخور وي
په ځان دې و ويرېږي
د مظلومانو آزارونه
په سر يې راغلل چپاوونه
هرڅوک چې رشوتخور وي
په ځان دی وويرېږي
تل به يې څښله د بل وينه
اوس کورکمن دې خرڅوينه
هر څوک چې رشوت خور وي
په ځان دې وويرېږي
خراب تراب هغه ملت وي
د ترقی نه په ذلت وي
هر څوک چې رشوت خور وي
په ځان دې وويرېږي
د بد عمل نه دی بيزار شي
که نه په غم به گرفتار شي
هر څوک چې رشوت خور وي
په ځان دې وويرېږي

## مه وایه رښتیا راباندې...

**مه وایه رښتیا را باندې سر به مې په دار شي**
**څوک به په رښتیا کې د رښتیني طرفدار شي؟**
مه وایه رښتیا را باندې دې کې مې تاوان دی
مرگ نه نه وېرېږم لاکن خوف مې د زندان دی
نه به مې بازخواست وي نه خرچې دا مې ارمان دی
بېرته به واړه مې په کور پاتې بیا نهار شي
غله نه دي دا څه دي چې اومې غوښې د قام خوري
دعوه د شرافت کوي پکې سود او حرام خوري
د خپل همسایه چرگ او چرگوړی شامدام خوري
ښایسته هلک چې ویني وایي که دا مې خدمتگار شي
ظاهر کې ځان بزرگ کړي په خوله کاندي تلاوت
دوه تنه په اولس کې جنگوي په شیطانت
گناهکار باندې نس غوړ کړي بې گناه کړي ملامت
بیاپې ولېږي قضا ته پاک الله دې د خوارو یار شي
چې لاړشم محکمې ته زیاتي هیڅ نه شم ویلی
په دې چې زه قاضي صاحب لاپخوا یم ویرولی
نومونه که یې ښکاره کړم سمدستي به مې قصاص کې
آخر کنز یې وي مخکې لاس یې شا ته وي نیولی
زه ټول درته نه ښیم خو د ځینو دا روزگار شي
د خدای دپاره څوک به مې بیا دې لانجې نه خلاص کې
د وینو مې زړه ډک شو ترینه ولوېده څو څاڅکې
مجرم شو ملنگ‌جان نن یا سبا به گرفتار شي

## ځانته ودروه پښتو

ځان ته ودروه پښـــتو پښـــتونه وروره
هرګز مـه غـواړه پـولاو د بـل لـه کـوره

له هزار نعمت نه دا انسـان ته ښـه وي
سوړ سوکړک چې د چا وي د خپله شکوره

ځار قربان د خپل وطن توت او سنځلې
ام[1] کېلې تـه زړه ښـــه نـه کړې د لاهوره

زيـــږ پښتون سره زيړه شړۍ جوړېـــږي
پـروا نـه‌لـري کـه وي پـه سر سرتـوره

د پښتون ډول و سينګار ګويا غيرت دی
بې غيرت که بخمل پوش وي مه يې ګوره

خپل خمتا باندې کړه فخر ملنګ جانه
د پردو شـــالونـه ډک وي لـه پېغوره

[1] ام - هم

## هغه څوک چې وي پښتون

هغـه څوک چې پښـــتون دورنګي نـه کـا حقیقت دی باز د زاغ همرنګي نه کا
که اوبو په ځای شوده،د خوښې کوچ خوري خسکي چرګ به ځان چرګ کلنګي نه کا
چې د نـنـګ تی یې رودلی وي لـه مـوره هغـه زوي بـه هیڅ کلـه بې‌ننګي نـه کا
کـه پـه سر یې د رنځـو تـورو بـاران وي هغه زړه چې د پښـــتون وي تنګي نه کا
ملنګ‌جان د آزادۍ د لار ملنګ دی
د ریـا لپـاره هیڅ ملنګي نـه کـا

## زړه مې غواړي

زړه مې غواړي د ګلونو په ګلشـــن کې
لاس دې نـه وي د اغيـار د يـار لمن کې
په سرو وينو مې د پلار سره سره ګلونه
رژل[1] کېــــــږي نن په پښو د زاغ زغن کې
دا اثر د بې ننګۍ نـه دی نو څـه دی
چې کوروال مې شي پردی د پلار مسکن کې
چې ښـــکاره يې درته ووايم پښـــتونه
لـه دې ژونـده پيچيده ښـــه يې کفن کې
تـاسې راشئ مـا قـانع کړئ منصـــفـانو!
که خلاف د ملنګ‌جان وي په سخن کې

[1] رژل - رژول

## ځوانې ښځې...

ځوانې ښـــځې تــه چې ونــه واېي تــرور هغه دم به دې برباد کړي پلار او مور
هر ســـبا به دروازه کې درته ناســـت وي چې وانـخلې نـادیـده سړي نــه پــور
بې‌گناه وهل به خوري آزار به يې ستا وي که دې ورکړه په بدل کې لور او خور

کــیــناستی د هغــو وکړه ملنګ جانه
چې دی ســـم وي په کنډه ورسره زور

## څه لرمه چې د خدای...

څه لرمه چې د خدای په نوم يې ورکړم
چې طبيت د خان صاحب پرې برابر کړم

پـه زر درې زره جرېبـه قـانع نـه دی
مناسب وي چې يو چرګ ور ميســر کړم

زما ورې نس ته نه ګوري خان غواړي
يـه يـارانو ســلا راکړئ څـه هنر کړم

په سلام او په ځارځار نه پخلا کېـــږي
ســلګيز نشـــته چې له جېبه يې بهر کړم

نن سـبا به يې تر لښـتو لاندې مړ شـم
اوس بـايـد چې کور او کلی پرې خبر کړم

زه چې خدای کړم د هرچا ګوزار ته نښه
څـه ګيلـه بـه د غريـب او زورور کړم

نن به زه ملنګ‌جان صـــبر نه کار واخلم
خپل فرياد به پاک الله ته په محشر کړم

## د چشمانو مې...

د چشمانو مې بهېــــږي نن خوناب
چې مې حـال د زمـانې ولیـد خراب

صداقت او ننګ ناموس دنیا نه ورک شو    هر سړی خوځوي ژبـه پـه کـذاب
د ســــاداتو ســــالکانو عزت ورک شــــو    عزت من دی چې لري چنګ و رباب
هیڅ صــفت به د عالم چیرې وانه ورې    د پېمخو صفت کېــږي بې حساب
شــــال پوشــــان د زمـانې ګرځي شړې کې    د شړې خاوندان اغوندي کمخواب

دا ګردش د زمـانې دی ملنـګ جـانـه
کارغه ناست دی په چګس باز په تراب

## هرگز مه وایه ...

هرگز مـه وایـه هرهر گل تـه رامبېـل
چې اصـیل وی هله جوړ کړه ترې امېل
خونـد او بوی وي د هرې مېوې ببـل ببـل    په بکیاڼي کې خوند نشـــته دی د هېل
زېړ غوړي خوره چې بدن دې پرې صحت وي    ته پر ځای د زیړ غوړو مه خوره تور تېل
فرق د سرو او جسـتو وکړه ملنگ جانه
کوټ بنګال پیروزه مـه گڼـه یو خیـل

## خپل قسمت انسان ته

خپل قسمت انسان ته هر چیرې رسېږي گويا ليکنه د ازل نه بدلېــــــــږي
د تقـدير مخکې تـدبير د شـــگو بنـد دی درياب هېڅ کله په شـــگو نه بندېږي
کـب پـه منځ کې د دريـاب کنـاره گرځي د اجل کونډه يې خوله کې ټومبل کېږي
که د اوســـپنې کلا لـه ځـان نه تاو کړي د اجل غشـــي هملته پرې لگېـــــږي
خپل قسمت درسره مل دی ملنگ جانه
ســـتا نو څلـه د يو بل نـه گيلـه کېږي

## تر کومه؟

بې بازخواست او بې پرسان به یم تر کومه؟ سر سرتور څیرې ګرېوان به یم تر کومه؟
په نارو مې ستونی وچ شو څوک بې ناوري د کانه بادار دهقان به یم تر کومه؟
زما مخ د بل څپېړې به تر څو وي؟ په سلګو او په جان جان به یم تر کومه!
د وطن خدمت دپاره اوزګار نه شوم خدمتګار د هر یو خان به یم تر کومه؟
په کرلو او رېبلو بې پوهېږم[1] نالایق د دسترخان به یم تر کومه؟

په قیامت کې به د ډېرو ګرېوان نیسم
خوف نه ګونګ، زه ملنګجان به یم تر کومه؟

[1] مقصد شولې دی چه د بهسودو بزګران بې کړي او رېبي خو د خوراک برخه بې پکې نه وي

## بی غم کله ...

بېغـم کلـه د غـمجـن پـه غـم پـوهـېږي    غمجن ځان له د ځان په غم کړېږي
دردمندان د ځان په درد کې ویش او وای کړي    بېدرد کله د دردمند په درد خوږېږي
څوک چې موړ وي ټول عالم ورته موړ ښکاري    موړ د وږي په حالت کله خبرېـــږي
د جـمـلـه زړونـو مـالـک پـروردګـار دی    بنده کله د بنده په زړه رسېــــــږي
ته پخپل غم و درد ژاړه ملنګ جانه
د بل څه دی چې دا ستا په غم ژړېږي

## رنگ څه کړم

رنـگ پـه رنـگ رنگونـه وینم هر رنـگ څـه کړم؟
چې مې رنـگ د آشـــنا نـه وي بـل رنـگ څـه کړم؟
مــامــیره مــا لــه ایــره د پــتــنــگ راوړه
چې پـه څـنـگ لـه اوره گـرځي پـتـنـگ څـه کـړم؟
کـه هــزار ځــلــه زلــمی زوی د پښـــتــون شي
چې پـه ننـگ د وطن نـه وي بې ننـگ څـه کړم؟
حملـه وکـړه غـورځنـگ وکـړه پـه دښــمن خـپـل
په خپل ورور باندې دې غټ غټ غورځنگ څه کړم؟
طلبگار د اصــیل گل زه ملنگ جـان یم
چې ترې بوی د گندېرې ځي لونگ څه کړم؟

# غزلونه

## که د بل نه اخلاص غواړې

که د بل نه اخلاص غواړې
اول ته د بل په کار شه!
خپل مراد ته رسیدی شې
کمینه اوسه خاکسار شه
کوم نعمت دی په دنیا کې
چې یې بیخ نه وي د خاورې
نو د خاورې خدمتگار شه؟
که نعمت غواړې عاقله
که راحت او عزت غواړې
د زحمت دوره کړه تېره
که له بل نه مرسته غواړې
د ماندهو باروردار شه
بل ته ځای ورکړه په زړه کې
هر یو زړه کې به ستا ځای شي
اول ځان د قام خادم کړه
هلته ته د قام سردار شه
په تر و ترخو د ځینو
دلگیر مشه ملنگ جانه
حوصلې ځنې کار واخله
د موقع په انتظار شه!

# هغه څوک چې د اخلاص...

هـغـه څـوک چې د اخـلاص پـه نـيـلي ســـور وي
عــام و خــاص بــه يې د زړه پــه مــيــنــه ګــوري
که ګرانښت په هرچا غواړې نو ځان ټینګ په صداقت کړه
د يـادګـار بـاغ بـه دې تـل تـر تـل ســـمســـور وي
عمـارت د ړنګو زړونو پـه ښـــه خوی سره ودان کړه
د هــرچــا د زړه پــه کــور کې بــه ســـتــا کــور وي
د بې‌کســـو نـاامېدو دلجـويي کـړه قـام پـرور شـــه
پــه هــرچــا بــه ســـتــا د مــيــنې قــرض او پــور وي
حق ته ګوره، حق ووايه، حق وغواړه، حق پرســـت شـــه
مــخــلـصـــان بــه دې هــزار هــزار هــر لــور وي
تـه ملنګ يې ملنګ جـانـه پـه تروو ترخو غوړ کوڼ کړه
مـلـنـګـانـو پســـــې تـل د ســپـيـو شـــور وي

# که عشق کې مزې غواړې

که په عشـــق کې مزې غواړې لوغړن لکه پتنګ شـــه
پس له مرګه به ښــایســته شې ســوداګر د نام و ننګ شــه
که دې سر غواړې چې سر شي صـــدقه کړه سر ناموس نه
که سرې شونډې د یار غواړې د خپل ځان په وینو رنګ شه
پخواني هم ســتا په شـــان وو ته هم پاڅېږه همت کړه
حریـت لیلی د پـاره کنـد کچکول واخلـه ملنـګ شـــه
ننګیالي چې یو خوا مخ کړي په شـــا نه ځي که پرې ومري
عزم ټینګ ساته په زړه کې خپل هدف ته په غورځنګ شه
کـه ترخې لـه ځینو اورې غوږ پرې کوڼ کړه ملنګ جـانـه
ویښـــوه ویـده زلمیان خپـل د نااهلو نـه پـه څنګ شـــه

## صداقت

سـعادت که دې په کار وي شـه لېوال د صـداقت
ټول جهان کې به ښـایسـته شي په جمال د صـداقت
که مطلب دې سرداري وي خدمتگار اوسه د قام خپل
هر يو زړه کې به محبوب شي په کمال د صـداقت
د اخلاص په دوکان کښـېنه جوړوه متاع د مینې
په لکونو به خرڅېږي سـتا مثقال د صـداقت
توفيق وغواړه له خدايه د مانده و مددگار شـه
سرکښـان به واړه بند شي سـتا په جال د صـداقت
پریشانی کړه د زړه لیرې توانا شه ملنگ جانه
گرځوه د قام په مخکې بل مشال د صداقت

# خوښ په جزيرو کې يم

خوښ پـه جزيرو کې يم ملګرى د خپـل يـار سره
څـه بـه کړم ګلشـــن بـه ټيټو ســـترګو د اغيـار سره
يو خروار سره زر نه ښـــه دى يو مثقال شرف ما له
لنـګ وهلى خوښ يم خـو چې يم د اقتـدار سره
زر هـنره مـحـوه شي کـه مـخ شي د هـمـت سره
غـر دانـه دانـه شي د بـاعـزمـو لـه ګـوزار سره
خداى مې دې نواب نه کړي چې حکم کاندي بل په ما
ښـــه چلم وردار يم د خپل قـام يو خـدمتګار سره
خداى مې دې ښـــايســـته د بې‌ننګۍ په نکتايي نه کړي
کوتى کوتى مخ ښـــه يم د تورو لـه پرهـار سره
ما ملنګ‌جان غوره ملنګي کړه د خپل قام مخ کې
داسې دارايي بـه نـه وي بـل سرمـايـه دار سره

## څه به کړي څوک هغه ژوندون ...

څه به کړي څوک هغه ژوندون زړه چې په قرار نه وي
ودې چوي هغه زړه چې ډک په عشـــق د يار نه وي
وگرځيـدم هر طرف تـه بيـا مې نـه مونـد يـار چيرې
ټول د خوشـــحالۍ ياران دي غم کې به په کار نه وي
مـه اچوه جيـب کې کوتی لال د فيروزې پـه ځـای
مـاخلـه هغـه تيغ پـه لاس څو چې جوهردار نـه وي
مه کوه خواري چا سره زوی پردی به خپل نه کړې
مه وايه روکی هغه ته زوی چې ســـتا د پلار نه وي
مـه کوه گيلـه تـه ملنـگ جـانـه يو او بـل ځنې
دوست به نه شي دوست د هيچا څو چې انتظارنه وي

## د معارف ترانه

وطن ګلزار شو چې کامیاب شول طالبان د مکتب
ښکلي کوچنیان د مکتب
کوچنی داخل شي          پکې پوره کامل شي پکې
جس ورکړي را وځي لعل و مرجان د مکتب
ښکلي کوچنیان د مکتب
ړانده بینا شي پکې          وحشي دانا شي پکې
دوکان د عقل دی ورځي خریداران د مکتب
د مکتب خوند وګوره          راشه دا پند وګوره
ډېر په عزت ناست دي کرسو کې هلکان د مکتب
څه به عزت وای زما          څه به عشرت وای زما
زه ملنګ‌جان که وای شامل په ګلستان د مکتب

# لاس مه وهه په اور کې

لاس مه وهه په اور کې عاقبت به و سـوزېـــــــږې
**ظالمه د مظلوم له آهه ولې نه ویرېـــــــــږې**

ترخو بـه د مظلوم لـه ویش و وایـه بې پروا يې
د ظلم په شـــا سـپور يې د مســتۍ سـندرې وایې
ځور مه ورکوه چا ته چې آخر به وځورېـــــــــږې
**ظالمه د مظلوم لـــه آهـــه ولی نه ویرېـــــږې**

ســوز د مظلومانو گولۍ په شـــان ویشــتل کا
تـیـغ يې د آزار لـکـه الـمـاس دی غـوڅـول کـا
غوڅ به په دې تیغ شي چې د تیغ سره لوبېـــــــږې
**ظـالـمـه د مـظـلـوم لـه آهـه ولی نـه ویرېږي**

زیږ رنگ خېـرې گرېوان ته د مظلوم مه گوره سپک
د وږي نـس آزار بـه دې لـه مـلـکـه کـاني ورک
دا ټول د خدای مخلوق دی څله ته په ځان نازېږې
**ظالمه د مظلوم له آهه ولې نه ویرېــــــــږې**

## څه ملامت دي

مشـران چې ګونديمار شی نو کشـران څه ملامت دي؟
ســپين ږيري چې نااهـل شي هلکان څـه ملامت دي؟
د پـوهـو عـالـمـانـو پـه مـنـځـو کې چې نـفـاق وي
نـاپـوهـه بېســواده شــودګـان څـه مـلامـت دي؟
چې زړه د ناصــحانو وي ډک شــوی له حســـد نه
وينـا کې تـاثير نـه وي ســامعـان څـه ملامـت دي؟
کوښـــښ چې يو پښـــتون د بل پښـــتون د بربادۍ کا
پـه دې کـار کې پردي او ګـاونـډيـان څخـه ملامـت؟
بـيـنـا خـلـک چې مـخ شي د نـفـاق پـه ګـړنـګـونـو
ګيلـه وکړم لـه چـا نـه حـافظـان څـه ملامـت دي؟
رښـــتيني پښـــتـانـه لوی خـادمـان او ســـليم زړونـه
دا ټول چې يو شـــان نه وي ملنګان څه ملامت دي؟
**رښـــتيا وينا دې وکړه خدای دې خير کړي ملنګ جانه**
**که هر څه درته پيښ شوو ستا ياران څه ملامت دي؟**

## په دې چمن کې

په دې چمن کې په عجب سرود توتیان غږېـــــږي
که نن خوشال وي سبا بېرته په خپگان غږېــــږي
خزان چې راشي شـــین چمن به کړي خراب و تراب
هر یو بلبل هر یو بورا به په ســوران غږېــــــــږي
اول پــیـدا آخــر فــنــا ټــول زنــدهسر ویــنــمــه
دا یک تنها به تل ترتل غني ســبحان غږېـــــــږي
بــاد د اجــل چې حوالــه شي د جهــان پــه رکن
نه به بهسود وي نه به شعر کې ملنگ جان غږېږي

## یه مسلمه پام وکړه

یه مســلمه پام وکړه ورځ د محشـــــر را به شي
دایم به عشـــرت نه وي مشکل د خطر را به شي
دا دې د ځوانۍ موسم دی واخله که څه اخلې ته
وبه کړې افســوس ارمان تا که ځنکدن ولید
عقل په سر را به شي یه مســلمه پام وکړه
ټول جهان که خپل کړې مستحق د یو کفن یې ته
پاتې به شي ټول در ځنې گور به یک تنها وي ستا
نکیر منکر رابه شي یه مســلمه پام وکړه
زر کاله که ژوند وي ســتا عاقبت فنایې ته
تیر به لکه برق شي دا زر کاله یو ســاعت نه دی
و خت د ســفر رابه شي یه مســلمه پام وکړه
ولې بې پروا شــوې ملنگ جانه غم د ځان وکړه
سر به دې کړي دور له تنه نن ســبا ظالم مرگی
لاس کې خنجر را به شي یه مســلمه پام وکړه

## په هر چا باندې تېرېږي

په هر چا بانـدې تېرېـــــــــږي د فـاني دنیا دوران
عاقبت به فنا کېـــــــــږي که ســـایل وي که ســـلطان
کـه فرشـــونـه د اتلس وي یـا مـانۍ وي د سرو زرو
یـو کـفـن بـه تـرینـه یـوسې نـور بـه پـاتې شي حـیران
دا دنیا د ســـیم و زر ده ترینه تېر شـــه که عـاقـل یې
فـقـیرۍ نـه بـه امـیر شې وبـه مـومې شـــه دوران
اسرافیـل چې شـــپېلۍ پو کـه هر نفس ځي لـه کالبو تـه
جهـــان چې یـو ځــل وران شي نه انسان وي نه پیـــریـان
ستا اصلي وطن خو بل دی بهسود نه دی ملنگ جانه
لږ وضـــعیت دې برابر کړه ســـبا ځې په خپل مکان

## تل ښه کول د بل سره

تل ښــــه کول د بل سره له ځانه سره ښــــه دي
ښــــه نيت او ترحم د مســــلمانه سره ښــــه دي
د بـل د حق احترام کول د ځـان احترام کول دي
ځور د بـل اولاد تـه خپـل اولاد تـه اور لړل دي
دا فکر او دا شــعور د هر انســانه سره ښــه دي
متـل دی کـه پـه ګوتـه چـا واهـه د بـل چـا ور
آخـر بـه د بـل ســـوک شي د ده وره تـه بـرابـر
په پاک زړه ژوند کول د ګاونډيانو سره ښــه دي
ممتاز دی هغه څوک چې کړي کوشير چاودلي زړونه
دانـه چې په فريب سره تـل خوري پردي مـالونـه
مظلوم په حق کې غور کول لويانو سره ښــه دي
د ځـان او د اولاد نـه تېرېـدل بـه وي څـه ګران
قســم دی چې د دواړو نـه يم تېر زه ملنګ جـان
ځوانان وينو کې رنګ پښــتونســتانه سره ښــه دي

## د معارف ترانه

د انسانانو فضیلت علم و عرفان دی ورونو — شرف د ځان دی ورونو
علم یو کان دی په کانونو بې‌بها یې مثال — هر څه چې غواړې فې‌الحال
پکې موجود پراته اصیل در و مرجان دي ورونو — شرف د ځان دی ورونو
علم یو باغ دی باثمر تر و تازه وي مدام — لري تر عمره دوام
خالق ساتلی له زوال او له خزان دی ورونو — شرف د ځان دی ورونو
پوهه دارو ده د صحت که چا تری نوش کړ یو جام — هغه به تل وي نیک نام
خوند د کباب خوند د شراب ورته حیران دی ورونو — شرف د ځان دی ورونو
تعریف د علم نه خلاصیږي که څوک ستړی کړي ځان — صفت یې ډیر دی بې‌شان
دا څو مثاله نشر کړي ملنګ‌جان دي ورونو — شرف د ځان دی ورونو

## یا الهي!

یا الهي تا چې زه جوړ د عشق نوکر کړمه
اور ته دې ګوزار کړمه خود به شور او شر کړمه

تا خپل حبیب وباله یار به لامکان لره
ما نه دې جدا کړو آشنا نه پوهېـــږم دا ولې؟ داغ دې پـه ځيګر کړمـه
یوځل دې زړه ما ته راکړو بیادې کړو مین په یار
یوځښتن مې ته یې تا د بل کړم منت بار څله؟ وایـه څـه هـنر کـړمـه؟
تا د عاشقانو طایفه ولې خوار و زاره کړه؟
ته خپله عاشــق یې د عاشــق سره امداد وکړه چـا زه د ر پـه در کرمـه؟
یو دوزخ خو دا د عاشقۍ دی چې پکې یمه
پس له مرګه بل څه لره ښــې ما ناتوان لره؟ لا دې پـه خـطـر کـړمـه
خیر که په دنیا کې دې ناښاد زه ملنګ‌جان کړمه
دا کړاو مې بس دی آخرت کې مې نور وبښـــه بیا دې سوال په در کړمه

# دریمه برخه

## د عشق سندرې، د مینې سوز و ساز،

## د دردمند زړه چغې او هنګامې

## د عشق په مذهب کې

د عشق په مذهب کې په شاتلل نه دي روا
په مينه د اشـــنا کې سر ســـاتل نه دي روا

آواز د محبـت چې يوځـل خولې نـه شي بهر عاشق ته په هيڅ شان منکريدل نه دي روا
يوځل چې څوک رسـوا شي په نامه د عاشـقۍ بيا هغو ته بې‌غمه کيناســـتل نه دي روا
پتنګ چې سوزېدو پورې له شمعې نه جار وځي مجنون تـه لـه ليلا نـه تېرېـدل نـه دي روا
په دروغو ملنګۍ دې زه خفه شوم ملنګ جانه
ملنـګ د حريـت تـه چوپېـدل نـه دي روا

## هیڅ نه سرېږي

هیڅ نه سرېـــږي انګار د عشق
کله جوړېــــــږي بیمار د عشق

نه دې کوي ما کې کوښښ څوک        کله کوی شي تقدیر الیش څوک
په ما نازل دی ښـامار د عشــق
کلـه جوړیږي بیمـار د عشـــق

نـفـعـه تـاوان نـه پـیژنـم زه        هرخـه چې وایي آشـــنـا منم زه
چور نـاروا دی انکار د عشـــق
هیڅ نه سرېـــږي انګار د عشق
عشـــق پـاچـا زه یې نـوکـر یم        پـه نوکرۍ کې ښـــه برابر یم
ما غوره کړی ښـــه لار د عشـــق
کله جوړېـــــږي بیمار د عشق
زه ملنګجان د عشق نوکر شوم        ځکه ښـکاره په بحر و بر شـوم
پرمـا لازم دی مـدار د عشـــق
هیڅ نه سرېـــږي انګار د عشق

# چې قدم کېږدم

چې قدم کېږدم په رسوم عشق مې بال و پر سېزي
سبق مې شو د اشنا نوم سکوت مې مال و سر سېزي
د عشق قانون دی محترم ځکه يم يار ته په احترام
دا خو زما دی فعاليت خلک مې تش بولي ناکام
وباسم رنګ په خاص و عام لکه چې زر زرګر سېزي
تر و تازه به شم که وي ديار په در کې خاکروبي
په دې کې نه يم ملامت زړګی مې هلته دی بندي
نه شي بې ياره زندګي د انسان روح ځيګر سېزي
زما د روح لره غذا د اشنا امر و هدايت
د يار د سترګو شوم نوکر ځکه مې بيامومند آدميت
مشکل بې‌ياره شو راحت ډېې مې خپل بستر سېزي
منم د سر په سترګو زه هزار عتاب او مشقت
زه ملنګ‌جان کوم رفتار د خپل آشنا به رضائيت
نه لرم بل خوا ته فرصت عشق په عشق خبر سېزي

## څه پېژنم!

مجنون دې رانه جوړ کړ ننګ و عار څه پېژنم
د هجر په زندان کې زیســـت روزګار څه پېژنم
د ننه په عالم کې لــــه عــــالــــم ځنې جدا یم
ډوب ستا په تصور کې دښت و ښار څه پېژنم
د زړه د پاســـه وایم چا ته خان چا ته بادار
بـادار مې پـه زړه تـه یې بـل بـادار څـه پېژنم
ځار ستا تر زوړ انګړ شه د بل چا قصر و ماڼۍ
چې تـه نـه یې ګلشـــن کې زه ګلزار څـه پېژنم
حیران دی زمـا اوښـــکو تـه بـاران د نوبهـار
پخپلو اوښـــکو لونـد یم نوبهـار څـه پېژنم
ملنګ نه ومه زه ملنګ‌جان تا کړمه ملنګ
په مېنه چې ملنګ شوم کسب و کار څه پېژنم

## دل زما

ستا د ظلمه آزار دل زما — څو به وي خوار و زار دل زما
چې د ښکلو په دام کې اسیر شوم — نابینا د دنیا په تدبیر شوم
کړو قسمت په انګار دل زما — څو به وي خوار و زار دل زما
هغو سترګو کې مه غواړه خواب — چې اخته وي دعشق په عذاب
دې عذاب کې دچار دل زما — څو به وي خوار و زار دل زما
چې زخمي څوک د عشق په خنجر وي — هغه څه نام و ننګ نه خبر وي
بې د یاره انګار دل زما — څو به وي خوار و زار دل زما
بې‌تنخواه د خپل یار زه نوکر کړم — خلکه زه ملنګ جان څه هنر کړم
د ریبار منت بار دل زما — څو به وي خوار و زار دل زما

## د خوبانو په محفل

د خوبانو په محفل　　نه خارج شوم نه داخل
بغیر له درد دل　　نور مې هیڅ نه کړه حاصل
د اشنا کبر و کینه　　داغوي مې په سینه
په علاج مې ناعلاج شو　　افلاتون د زمانه
که له درده ئې فریاد کړم　　زور زیاتی د آشنا یاد کړم
بېننګي به شي یادګار　　په د نیا کې تل تر تل
نه مې سود شو نه مې زیان　　په اور سوزم د هجران
اوښکو یووړ مخ په ښکته　　زما نور یې د چشمان
نه رغېږمه نه مرمه　　د هجران څپېړې خورمه
خدای دې نه کړي په داشان　　خپل اشنا د چا قاتل
په ډېر ناز و نزاکت　　کله وی عیش و عشرت
په تاثیر یې نه پوهېږم　　کله حال شي د قیامت
هم مرض دی هم علاج دی　　خو د ښکلو دا رواج دی
په تاثیر د تورو سترګو　　ګرفتار یې کړم په سل
نه دانا شوم نه نادان　　نه د یار شوم نه د ځان
مذبذب به یم تر کله؟　　لوغړن زه ملنګجان
یاره ستا د مینې زور دی　　د عالم راته پېغور دی
داغوی مې هر زما ن　　یاره ستا د ناز کتل

## نصیبه!

بد حال مې ګرځوې ترڅو
نصیبه    یه نصیبه!
رفیقه مه کړه ناځواني
محتاج کړم تا    تاراج کړم تا    اخراج کړم تا
اوس یم قابل د دلسوزۍ    حبیبه یه حبیبه
کړمه د غیرو منت بار
محبت ستا    نزاکت ستا    رفاقت ستا
مل مې شو درد او بیماري    طبیبه یه طبیبه
لکه وحشي ګرځم ابتر
سوی لړمون    ځاځي مې خون    ستا په بیلتون
مه کوه ما ځنې نفرت    قریبه یه قریبه
زما قسمت به وي همدا
زیار و زحمت    رنځ و فرقت    بار بار تهمت
اورم ترخې زه ملنګ جان    عجیبه یه عجیبه

## زړه مې بدراه شو

زړه مې بدراه شو را نه لاړ د یار د سترګو په لمسون
اوس ئې کـومـه نـوکـري ورته مې نه پرېږدي ببلتون

خلک به هر څه یادوي زما آشنا یادېږي
که زړه هر څومره صبروم خو زړه مې نه صبرېږي
**یار به کوي عیش و عشرت، زه ورپسې شوم جګرخون**
زه چې د ګلو خوا ته ځم خیال پرې د یار وي زما
که نه ګلشن ته د ورتلو کله اختیار وي زما؟
**چې پکې و نه ګورم یار، په ژړا ووځم بیرون**
حکیمه مه کوه خواري زما علاج دپاره
نشته دوا په دې دنیا زما مزاج دپاره
**زما صحت دی وابسته، د خپل آشنا به پیوستون**
د خدای دپاره وکړئ غور دې کې یه خلق خدا
زه ملنګ‌جان کړمه فلک د خپل د روح نه جدا
**زه مې آشنا ګڼم خپل روح، بې روحه نه کېږي ژوندون**

## پرون وصل کې سلطان وم

پرون وصـــل کې ســـلطان وم نن په هجر کې ملنگ یم
خوږ وطن راپورې اور شو، چې د خوږ یار نه په څنګ یم
خلکـه! ولیـد عـاشـــقۍ کې مـا جنـت او دوزخ دواړه
ناســـت په ګل لکه بورا وم نن به اور ســـتي پتنګ یم
دا دنـیـا پـه دنـیـادارو مـبـارک دي وي عـالـمـه!
زه د یـار بـه در کې خوښ یم بې پروا د نـام ننـګ یم
د وصـال شـــپې که هزار وې دقیقې غوندې شـــوې تیرې
اوس د هجر پـه لمبو کې تـل تر تلـه پـه زړه تنـګ یم
ترحم وکړئ یـه خلکو نن پـه مـا ملنـګ‌جـان بـانـدې
ټول د زړه په وینو ســـور یم د غماز سره په جنګ یم

## آشنا!

ژاړم هر زمان آشنا
ومې کړه پرسان آشنا
یو خوامې هجران سېزي بل مې رقیبان سېزی وار په وار مې ځان سېزي
دامې دی گذران آشنا
ومې کړه پرسان آشنا
غم کې دې اسیر زهیر گرځمه دلگیر تغیر اوښکې مې بهیر په ویر
لوند مې دی گرېوان آشنا
ومې کړه پرسان آشنا
گرځي ملنگ‌جان ملنگ تل څیري گرېوان ملنگ خوار و زار حیران ملنگ
غم کې ډېر پریشان آشنا
ومې کړه پرسان آشنا

## خدای دې راوله جانانه

چې مې ورکه کشاله شي        خدای دې راوله جانانه
را حاصله به خواله شي        خدای دې راوله جانانه

***

که ژوندون ؤ خو له تا سره ژوندون ؤ    بې له تا نه کشـــکې مرګ را حواله شي
خدای دې راوله جانانه
د عاشق په زخمي زړه دې ستا قسم وي    که به هېر دې دا زما آه و ناله شي
خدای دې راوله جانانه
ورځ د محشـــر دومره کله به اوږده وي    لکه ســتا د هجر شــپه چې حواله شي
خدای دې راوله جانانه
ثانیه مې طاقت نشـــته بې له تا نه    ملنګ جانه دا به څه رنګ معامله شي
خدای دې راوله جانانه

## زه چې نن آزار یمه

**زه چې نــن آزار یــمــه دا بــه وي آزار د چــا**
**ما به په خطا کې بدراه کړی وي خوږ یار د چا**
مـا د نـورو خـلـکـو یـارانې پـورې خـنـدا کـړلـه
تمـه مې د خپـل آشـــنـا پـه مهر او پـه وفـا کړلـه
نــن چې ویـنې ژاړمـه یـه نصـــیـبـه دا ولی؟
جوړ یې کړ مجنون راځینې دا بـه وي گوزار د چـا
یـار د محبـت پـه منگولو زړه را څخـه وړی دی
مـا د خپلولې لاس د هر چـا څخـه پرې کړی دی
پاتې یک تنها شـــوم که یار شـــو په لمســـون د بل
ونـه ژاړي څـه وکـړي یـار چې شي انـکـار د چـا
رب دپاره خلکو چې په چا باندې شـــیدا نه شئ
څو چې ملنگ‌جان غوندې اخته بیا په سودا نه شئ
مینه نه ده اور دی په لمبو د مېن زړه سـبـــــزي
څنگه به ښـــادي وکړي زړه چې وي بیمار د چا

## دا دی د عشق قانون

دا دی دعشــق قانون دا دی دعشــق قانون
دا دی د عشق قانون عاشق وي جگرخون
په حال د عاشقانو رحم وکړئ انسانانو! غماز ترې نه په ځنگ کړئ
دوی واړه وارثان دي د فرهاد او د مجنون فرهاد او د مجنون
فرهاد او د مجنون دا دی د عشق قانون
باد مگر ایره د پتنگ یوسي شمعې خواته په ژوند خو نه جاروځي
دا د عاشقانو له پخوا نه دی تړون پخوا نه دی تړون
پخوا نه دی تړون دا دی د عشق قانون
عشق کې نصیحت ناصحه واوره ناداني ده معشوق د عاشق روح دی
دا کوم ذیروح کولی شي بې له روح ځنې ژوندون بې له روح ځنې ژوندون
بې له روح ځنې ژوندون دا دی د عشق قانون
زما ملنگ‌جان رنځ ته نه حکیم شته نه درمان که شته د یار دیدن دی
ما مخکې د اجل ځنې وژني د یار بیلتون وژني د یار بیلتون
وژني د یار بیلتون دا دی د عشق قانون

## راشه چې مرم

راشه چې مرم روح مې تا له ایسار دی
راوړه دیدن ځنکدن مې رویکار دی
ســـوز و ژړا بـه زمـا وي ترڅو عمر مې تیر شـو دا سـتا په ارزو
دل مې د ســـل په مرض گرفتار دی
څله مې ســـبزې د ناز په خندا ستا په یارۍ کې مې مل شو سودا
نه به وي تل لکه نن چې دې وار دی
آه و فریاد مې د خولې شو دستور یاره تپوس له مې راشـــه ضرور
ډېر په زحمت کې مې ژوند او روزگار دی
ورشـــه ریبـاره خبر مې کړه یـار راشـــه دیدن ته مې وکړه تلوار
ورکړه وصلت ملنگ‌جان ناقرار دی

# نه راځي پرسان ته مې

نه راځي پرسان ته مې يار، زهرو ګولۍ خورم پســـې
پرېږده چې خوشال وي اشنا خير دی که زه مرم پسې
ســـپين وم د شـــودو په مثال تور لکه زغال شـــومه
مات مې شـو حصـار د زړګي وينې غورځوم پســـې
زخم مې د زړه نـه وی بيرون چې[1] اشـــنـا وګورې
پټ مې دی دا غم د زړګي پټ بی[2] تيروم پســـــې
وربـه کړمـه سر پـه بـدل خوالـه کـه مې يـار راشي
وه ريباره خدای دپاره تا به ورلېــــــږم پســــې
کې به بردم کوشــير د صــبر زه ملنګ‌جان زړه لره
څو به دا ناســور زړګی په تمه ګرځوم پســــې

---

[1] چې - چې يې
[2] بی - به يې

## زه خو عار نه ګڼم پېغور

زه خو عار نه ګڼم پېغور     خوښ یم د یار په نوکرۍ
په عشق کې قبلوم منت‌دارۍ
چې بالا شي د عشق لوړ مقام ته     څه به ګوري ناصح ننګ و نام ته
چې ستي شي یو ځل     ځوک د عشق په منقل     ننګ و نام به يې شي دل
مجنون څه د ننګ و نام پروا لري
چې قايم يې د عشق سلطنت کړ     عاشقان يې پيدا په خدمت کړه
زه د عشق په خدمت     اخلم پند د تومت     نه کومه نفرت
ما منلې د خوبانو باداري
چې د یار درد و غم مې مېلمه شو     نور غمونه د زړه مې ځېلمه شو
زه کوم احترام     دې مېلمه ته سلام     خدمتګار لاس په نام
وخت په وخت کباب د زړه راځنې خوري
هر څه وايي په ما ملامت ځوک     څله کړي له تقدير شکايت ځوک
تحريرى د ازل     ځوک به نه کړي بدل     که ليمان يې شي مل
ملنګ‌جان ته يې ليکلې بيماري ليکلې بيماري

## انجام د عشق دا دی

انجام د مینې دا دی انجام د مینې دا دی
شوه شهیده پروانه
که چا مطالعه کړ کتاب د محبت کور بی[1] زړه وران کړي سیلاب د محبت
رسوخ ته نه ګوري نه پېژني شرف
د عشق به میخانه
څوک به په سر واخلي پېغور او ملامت دا خو عاشقان دي چې کوي ورته طاقت
عار نه ګڼي دوی د نورو خلکو ریشخندي
دیار په یارانه
قابل د احترام به وي سردار به وي د قام خپل یار ته به ولاړ وي ضعیف لکه غلام
ناچار و درمانده وي په ډېر مال و دولت
پردې نه بیرانه
چې وايي ودې وايي څه چې وايي
ناصحان هرګز به د خپل یار څخې وانه وړي ملنګ‌جان
قانون دعشق دا دی چې يې صرف کړ خپل ژوندون
په دښت او ویرانه

[1] بی - به يې

## راغله دلربا په ګلشن

راغله دلربا په ګلشـــن ســـیل د هر یو ګل کوي
زه یې کړم بیمـار اوس بـه نو کلـه رغـول کوي
وې ویل په شـــونډو چې شربت وصـــال به درکړم
ورشـــه یـه ریبـاره دا رښـــتیـا کـه غولول کوي
مخ مې دیار ولید په ځان پوه نه شوم بېخود شومه
تېزه ده لمبه د حســن، دغســـــې ســېزل کوي
زر مخونـه یو طرف تـه مخ مې د یـار بـل طرف
ســترګو کې خنجر لري او زړونـه غوڅول کوي
خلکه! داسې مخ باندې شـــیدا زه ملنګ‌جان یمه
ګل ترینه شرمېـــــــــږي مخ په پاڼو پټول کوي

## په عشق کې ما له ناصحان ...

په عشق کې ما له ناصحان چې غاښ چیچي په نصیحت
کشکې کېدای خو بې له روح ځنې ژوندون په بل صورت
لیکل شـــوې پـه ازل د هـر چـا برخـه مختلفـه
زما قســمت به وي همدا چې هر څوک وايي ملامت
هر هغـه چې وي رښــتیـا د عشــق د راز ځنې خبر
نه به کوي زما په باب کې انشـــالا[1] چې بد نســبت
هزار ګلشـــن هزار نشـــاط بې یاره ما لـه دی زنـدان
خوښ یم په خاک و خاکســتر چې دی د یار پکې وصـلت
د یار په مینه ریشـــخندي نه ګڼم عار زه ملنګ‌جان
مـلا مې تـړلې پـه اخـلاص چـلـوم پـیـتی د تـومـت

[1] ان‌شاالله

## ستا غم کړمه زولانه

ســتا غم کړمـه زولانـه زنــدان کې د جــدايي
تـرخـو بـه یـم دیـوانـه آشـــنـا وکـړه وفـايي
پیشه مې ستا سودا شوه رســـوخ نـه پـيژنـم زه
روزګـار د عـاشـــقۍ کې شرف لا څـــه وايي
چې زړه مې ستا شيدا شو طاقت به کړي له څه نه
چې څو مې خوله خوزېږي آشـــنا آشـــنا بـه وايي
په ســـيند د انديښـــنو کې لاهو زه ملنګ‌جان شوم
مــرض مې درد دل دی آشـــنـا راکــړه دوايي

## ژاړمه په غم کې د ځان ...

ژاړمــه پــه غــم کې د ځــان اوښـــکې مې بـهـير دی
نـه کومـه ګيلـه لـه چـا نـه ليک مې د تقـدير دی
دوست مې له دوستۍ نه بس کړ خپل مې بيګانه بولي
راغی پـه مـا دور د فلـک مـات مې د ملا تير دی
خوږ وم د ګبين په شـــانې تريخ لکه زقوم شـــومه
لاړ عقـل او شـــعور راځنې دا څرنـګ تـاثير دی
دا دې د خپل ځان قصور دی پوه شه ملنګ جانه ته
هر څوک د شـــتـه‌منو يـار دی نـه چې د فقير دی

## ما وفادار ګڼلې

ما وفادار ګڼلې ته شـــوې جفا کار څه لره؟
ما د ځان یار ګڼلې ته شـــوې د بل یار څه لره؟
خراب تراب مې شو ژوندون ناترسې ستا له لاسه
ما خو غمخوار ګڼلې ته شـــولې خونکار څه لره؟
ســـوې ســـینه، زخمي ځیګر په غم کې ســـتا لرمه
ما درته زړه تســـلیم کړ تا کېښـــود انګار څه لره؟
د خدای دپاره یو ځل راشـــه نور مې مه زوروه
دا تمام عمر تېروم په انتظار څه لره؟[1]
د احتیاجۍ کچکول تر څنګ زه ملنګ‌جان ګرځمه
ما ویل درویش یمه زه، تا راکړ ګوزار څه لره؟

[1] په دې غزل کې دا بیت چې له دویم چاپ څخه پاتې و، ور زیات شو

# مسلمانانو

مســـلمانانو تاســـو راشئ زما حال وګورئ
دیار له لاســـه مې زړګی ســـوی پایمال وګورئ
ولې پـه څـه مې بې‌ګنـاه شړې لـه دره ځنې
زما په غاړه کند کچکول زاري اوســوال وګورئ
زما ســیزلو ته یې بیا په کجل تور کړه چشــمان
عشـــق یې منقل دی تن زما پکې زغال وګورئ
لاس په غنچه د ګلو بړدم هله اغزی شي را ته
د ملنګ‌جان سوی نصیب سوی اقبال وګورئ

## دا غم دې تل په ما وي

دا غم دې تل په ما وي چې ما زړه بایللی دی آشنا دې وي خوشاله
کنډول د ننګ و نام مې په دیوال ویشتلی دی د ســـتر ګوله کمالـه

الله چې دروېزګر کړم ګډ د ترکو په بازار
عذاب دی که ثواب دی دا تقدیر لیکلی دی قصور نشته دی ما له
هر څوک به د ځان غم خوري، زه په غم کې یم د یار
قلنګ د تورو ســـترګو مې په ځان منلی دی له حســن او له جماله
غاښ مه چیچه ناصحه که ته ما ګورې که یار
دا یار مې په ډېر زیار او په زحمت موندلی دی له بخت او له اقباله
تقـدیر کړمـه ور پیښ پـه جوارګر زه ملنګ‌جـان
آشـــنـا پـه جواري کې را نـه زړه ګټلی دی بندي شوم سر و کاله

## ستا عشق کې بې له ما ...

ســتا عشــق کې بې له ما زخمي په ځيگر څوک دی؟
مخلص او بې تنخـا ســـتـا در کې نوکر څوک دی؟
مـحـبـت دې دی امـبـور کـترې مې وړې د دل
آشـــنـا! نـه کـړې تـر څـو عـلاج زمـا د ســـل
ترڅو بـه کـړم ژړا پـه حـال مې خبر څوک دی؟
جـالـب مې د دقـت يې ، تـا زړه مې کـړ بـنـدي
تـيرېـــــــــــږي بـه تـر څـو بې يـاره زنـدگي
زه مرمم په غم کې ستا ماخوذ په محشر څوک دی؟
وفـا کړې کـه جفـا کړې کوه چې تـالـه ښـــايي
تســليم زه ملنگ‌جان يم، قســمت به مې همدا وي
ســېزي مې ســتا جفا په داسې خطر څوک دی؟

# غزل

لوغړن څیرې ګرېوان ګرځم | سر بدال سرګردان ګرځم
در په در خوار او حیران ګرځم | خلکه دا د عشق انجام دی
چې زړه مې بایلود د یار په مخ | زما مخ شو دا نګار په مخ
هغه دم په چیغو سر شومه | شوخي لاړه خوشامندګر شومه
خپلو پردو نه لاس په سر شومه | را نه ورک اصلي مقام دی
زه په اور سوی خوشحال ومه | اوس به یو ټوټه زغال ومه
محبت مې تل تر تل سېزي | اومې غوښې مې د دل سېزي
یار د سترګو په کتل سېزي | نه مې خوب نه مې آرام دی
ملنګجان مینې ملنګ کړلو | د مخ شمع یې پتنګ کړلو
ځکه تل په غم دوچار شوم | چې ناکسو سره یار شوم
د منصور غوندې په دار شوم | دا تحفه او دا نعام دی[1]

[1] په دویم چاپ کې نوموړې غزله نیمګړې لیکل شوې وه، په دې چاپ کې بشپړه شوه.

## ما درته پیشکش ...

مـا درتـه پـیشـــکش پـه لاس کې زړه نـیـولی دی
خـیر کـه یـاره تـا پـکې چـاکـو ټـومـبـلی دی
ته دې پې خوشـاله آشـنا خیر دی که زه سرې سـترګې
مـا خـو د الله نـه سرور ســـتـا غـوښـــتـلی دی
خدای دې رضا نه شي چې به ستا سترګې زه هیرې کړم
عشق دې د ایمان غوندې مــا کـــلــک ساتلی دی
زه چې پـه وطن بـانـدې مین یم خو ســبـب لري
تـا غـونـدې فـرزنـد پې خـپلـه غـیږه کې روزلی دی
ســتا د عشـــق تاثیر دی چې جذبې مې زیاتیدو کې دی
ځکـه ملنګ‌جان پخپـل رفعـت بـانـدی ختلی دی

## ژړوي مې لکه شمعه

ژړوي مې لـکـه شـــمـعـه د اشـــنـا ســـترګي خـمـارې
پـه ګرېوان راتـه بهېـــــــبږي همیشـــه د اوښــکو دارې
د خـوشرنـګـو پـه ټـولي کې خـلـکـو! چـا رانـه زړه ويـوړ
پـه قـیـامـت بـه ځـواب ورکړئ خـدای نـاترســـو دل ازارو!
نـاصـــحـان مـالـره ځـلـه د کـیـنې پـه ســـترګـو ګـوري
چې زړه ووځي لـه واکـه څوک بـه څـه کړي؟ انصـــاف دارو!
هـر سړی پـیـدا خـپـل کـار تـه زه خـدمـت لـره د ښـــکـلـو
غم د چـا پـه ځـان پېرزو دی خو تقـدیر کړې خپلې چـارې
که څوک حال غوارې په عشق کې قیاس دې وکړي ملنګ جان نه
همیشـــه پـه لار کې نـاســـت وي پـه مثـال د څوکیـدارو

## سبزي په مثال د زغال

په منقل مې د سترګو آشنا
خوار و زار کړمه دل
په دنیا کې مې هیڅ خوښي نشته
بې له دې نه چې یار کړي خندا
منت بار کړمه دل
زه په کال نه وینم دا خندا
که د خلکو عزت راحت خوښ دی
ما کړه خوښه د یار نوکري
په ازل به مې برخه وي دا
منت بار کړمه دل
د یار غم له جمله غمو خلاص کړم
یا خو نشته دنیا کې نور غم
بې له یاره مې نشته سودا
ناقرار کړمه دل
په وصال کې یې له سهمه لړزېږم
په هجران کې مې وي ځنکدن
ملنګ‌جان یم کړاو له پیدا
په انګار کړمه دل

## ما په عشق کې مه کړوه

ما په عشــق کې مه کړوه
یه بیلتونه ځار دې شــم

یوه ثانیـه یار سره صـــحبت زه غنیمت ګڼم
محض چې مې زړه شي آرام ســـوی یم هجران
لار د عشـــق مه ورانوه
یه بیلتونه ځار دې شــم
زه په عشـق کې بې له یاره نه شـم پیژندلی څوک
کـار زمـا روزګـار زمـا ټول یـار دی خلکـه یـار
یار له له یاره مه بیلوه
یه بیلتونه ځار دې شــم
ماله نصـیحت کول په عشـق کې ناروا ښـکاري
نشـــته دی جواز عاشـــق له عشـــق دی انکار
نور مې په اور مه سوزوه
یه بیلتونه ځار دې شــم
خیر دی که دیار په غم کې زه ملنګ‌جان سوزمه
رب دې نه کړي زما له خوانه یار په زړه آزار
دا غـمـازي مـه یـادوه
یه بیلتونه ځار دې شــم

## لږ عبرت په کار دی

تیر شـولو دوران د بهار اوس د خزان وار دی
لږ عبرت په کار دی
هغه شینکی بڼ چې ؤ د شنو توتیانو شور پکې
نن چې ورته گورم په زیړي مرض دوچار دی
لږ عبرت په کار دی
پاڼې د چنار به وې رلیو ته د ډال په شـــان
نن په یو نری شمال رژېـــږي عجب کار دی
لږ عبرت په کار دی
هغـه فرش د گلو چې باغچو کې غوړېـدلی ؤ
گوره چې سـپیره شـو یاره اوس هغه گلزار دی
لږ عبرت په کار دی
زور د ظـالمـانو بـه هم نـه وی تر ابـد پوری
نن چې ملنگ جانه ستا دا زړه ترینه آزار دی
لږ عبرت په کار دی

## دا به وي له چا سره؟

ستا قدر و قیمت لکه په زړه کې چې دی ما سره　　دا به وي له چا سره
دغه سنګین زړه چې په ګوګل کې دی د تا سره　　دا به وي له چا سره
کاڼی په اُف اُف زما خو نرم لکه موم شو
ستا بې رحمه زړه کاڼي نه سخت را ته معلوم شو
رسم د کینې چې ته کوې له ماګدا سره　　دا به وي له چا سره
ما خو نام و ننګ په عشق کې یاره تا نه ځار کړلو
تا زما د هیلو کچکول ولی تار په تار کړلو
مینې دي عادت کړم خوشامندو او ژړا سره　　دابه وي له چا سره
ورځ کې انتظار د شپې لښکرې د سودا راشي
وار په وار حملې دې کله هغه کله دا راشي
شپه ورځ مخاخ یم ستاد هجر له بلا سره　　دا به وي د چاسره
ستا مخ ته په غور سره که ځیر شي ناصحان یو ځل
خلاص به هغه دم شي اعتراض نه ملنګجان یو ځل
غم کی ګرفتار یم دې ناپوهو نابینا سره　　دا به وي له چا سره

## دود د جفا

دود د جفا مې جګ شـــو د دل نه
غوځ دې په تېغ کړمه زه د چشـــمانو
وایـه چې وایې: څـه غـوارې درمـان
وار د ســـتم دې زه ګـډ کړم پـه ویر
خیر دی چې غم کې دې پروت یم اسیر
څه په دې ژوند چې مې نه کړې پرسان
کور ما له ګور دی چې نه وې جانان

پس لـه سـیزلو څـه چې وفـا کړې
اوس مې د حال سـیل کوې په پرسـان
بېرتـه مې غوارې د ګور د داخـل نـه
اوس پـه ژړا مې لا ځـان کړې دلګیر
دا بـه مې بـخـت وي روز ازل نـه
شمارم د مړو په حساب کې خپل ځان
مخکې هلاک ملنګ‌جان شو اجل نه

## دا مشکل کار نه دی

دا مشـــکـل کـار نــه دی          واخلــه د سر پــه قیمـت
گلگونې شونډې          د یار مه پرېږده چا
جوړ کړه شــبخون بهرامه          نیســـــــي مقـام ســتـا
بـهـرام خـو بـیـا راغـلـی          ورېي گل اندام ســتـــــا
ســـســـتي پـه کـار نـه ده          توند شـــه دیار په خدمت
گلگونې شونډې          د یار مه پرېږده
سر کړه خیرات په عشق کې          دا ســــتـــا هـــنر دی
چې شي قــربــان لــه یــاره          سر هـــغـــه سر دی
د عشـــق لار نـــه ده          چې وي معشوق په محنت
گلگونې شونډې          د یار مه پرېږده چاله
په زړه صـــادق مجنونـه          لـــیـــلا ایســـاره ده
خلاصېـــږي د ستا په وینو          غـــم کې بـــیـــمـــاره ده
تـــاو تـــری اغــیـــار دی          غوارې ستا یار نه وصـلت
گلگونې شونډې          د یار مه پرېږده

## تر دې حده بدبخت یم

ما نه پرېږدي اغیار د یار په نوکرۍ تر دې حده بدبخت یم
اخستې ما په سر رنګ رنګ مینت‌دارۍ تر دې حده بدبخت یم
زه له خپله یاره آزرده او آزار نه یم هیڅکله د ده له خوشامنده انکار نه یم
محض غمازانو نه هرګز په قرار نه یم
هر وخت لمسوي یار هیڅ نه کړي اثر
زما سوال و زارۍ - تر دی حده بدبخت یم
ما د مور په تې کې محبت د یار رودلی دی
ځکه مې روزګار د دنیا شا ته غورځولی دی
نوم یې د آشنا د زړه په سر را ته لیکلی دی
اشنا اشنا به وایم چې ځو مې وي ژوندون
را پېښې شوې خوارۍ - تر دې حده بدبخت یم
زه د اشنا مینې له عالمه بېګانه کړمه
خپل راته بد برېښي حسدې دیوانه کړمه
پس له دېنه تېرې مګر شپې په ویرانه کړمه
په خپل در و مالت کې - پردیس را ته ځان ښکاري
د ښکلو په یارۍ - تر دې حده بدبخت یم
ما مې د اشنا په مخ نن بل دعوه ګیر ولید
خاص لکه چې مخ مې د ترسا یا د خنزیر ولید
ما ملنګ‌جان داغ پر سرو سیخانو خپل ضمیر ولید
همراز را ته دشمن شو ما باله غمخوار
دا یې وکړې غم خوارۍ - تر دې حده بدبخت یم

## کله به راشې په پوښتنه

عمر مې تیر شــو تمامې په انتظار یاره
کله به راشې پوښتنه د بیمار یاره
دا نوشته ده د ازل چا نه گیله نه کوم
زما په برخه يې لیکلی دی آزار یاره
کچکول مې واچاوه تر څنگ تلم د اشنا غولي له
سپي د غم زه په لویه لار کړمه ایسار یاره
شپه د وصال وه ما په خوب جمال د یار کتلو
د ظالم چرگ په خپل اواز کړمه بیدار یاره
سر په سودا عمر تمام زه ملنگ‌جان گرځمه
عشق ظالم په درد وغم کړم گرفتار یاره

# چا غوږ کې راته ووې

چـاغوږ کې راتـه ووې چې جـانـان مـه یـادوه
دسرو شــونډو د پاســه ســور پېزوان مه يادوه
خو زه وايم ناصـح ته چې نور مه کړه دا خبرې
د مـېـني لـيـونـو تـه عـاقـلان مـه يـادوه
دليل او برهانونو کړم مين د يار په ســترګو
بيـا څلـه راتـه وايي نور چشـــمان مه يـادوه
زما مينه رښتيا ده هوس نه دی په دې پوه شه
نور ونـه وايي مـا تـه چې جـانـان مـه يـادوه
شـــمعـه پـه ژړا ده لبـاسي پتنګـان لاړل
وردانګه ملنګ جانه خوف د ځان مه يادوه

## خدایه ته پرې رضا مه شې ...

خدایه ته پرې رضا مه شې چې شـم یار نه لاس ورداره
عیش او نوش دې وي د نورو زما سر دې وي په داره
خلـک ډیر دي ودې کانـدي نوکري د صـــاحبـانو
زه هســت شــوی یم له موره د اشــنا خدمت دپاره
دا لویي او نام و ننګ دې وي تبریک په بارســوخو
زه بې ننګ د یار په عشــق کې بېننګي نه ګڼم عـاره
عقل کله هومره نر دې چې عشــق وباسي له زړه نه
تخت او تاج یې صـــدقه کړ مجنون ځکه تر چلتاره
که د یار د درګاه سپی وي او په ما ملنګجان پیښ شي
پـه ادب بـه ورتـه وایم چې پـه خیر راغلې بـاداره

## یه زړگیه اوس کړېږه

یــه زړگــیــه اوس کــړېــږه! تا ته چا ویل چې مین شــه
نه پوهېدې چې عشــق اور دی تـا پـه اور کې کړی کور دی
یـه نـادانـه اوس ســـوزیـږه تا ته چا ویل چې مین شــه
چې ورتلې د عشــق مقـام تـه غورزېدې د ښــکلو دام ته
اوس مـرغۍ غـونـدې پـړکـېږه تا ته چا ویل چې مین شــه

نه د ځان شوې نه د دوست شوې
درد و غم کې لاړې وروسـت شـوې

ورځ د مــرگ پــورې زوریــږه تا ته چا ویل چې مین شــه
عشـــق او مینې دیوانـه کړې لـه هر چـاپې بېگانـه کړې
هم ســوزېږه هم ســازېـــږه تا ته چا ویل چې مین شــه
چې دې زړه ورکـاوه یـار تـه غورزاوه دې ســور انگار ته

مـلـنـگ جـانـه اوس کـړېـږه
تـا تـه چـا ویـل چې مین شــه

## د اوښکو رود

د اوښـــکـو رود مې پـه گـرېـوان راغی
خـاونـده بیـا زمـا پـه یـاد مخ د جـانـان راغی
زمـا بې غوره یـاره راشـــه چې بیمـار دې کړمـه
تنها دې پرېښـــودم د خلکو منت‌بار دې کړمه
د احتیاجۍ شـپې تیروم سـختې مې په ځان راغی
زه ســتا دپاره د شــایســته و خدمتونه کوم
پـه احترام ســتـا د همزلو احترامونـه کوم
زړه په فریاد شـو پکې خیال ستا د چشمان راغی
سـتا د وصـال د سـیوري لاندې ژوندون ؤ زما
ښـــه روغ سړی وم نه مرض او نه جنون ؤ زما
اوس مې خلک بولي عصبي چې ستا هجران راغی
که په مرگ در نه جدا وای دې لاره یو اصـــول
چې په ژوندون در نه جدایم همدا زه یم مسئول
قانون د عشق کې مسئولیت نه ملنگ جان راغی

## نن دې ور کړې اجازه

نن دې ورکړې اجازه رقیب له

زما د مرګ دلداره ولې د خدای لپاره
حلالوې مې ولې پایمالوې مې ولې
په ځنکدن کشالوې مې ولې
زما بېرحمه یاره ولې د خدای لپاره
چلوې توپ د نظر ولې زما په ځیګر
جانانه کم مې شو قوت د بصر
توبه د داسې یاره ولې د خدای لپاره
ثاڅې د ستر ګو مې خون حالت مې شو د جنون
چې يې د غیرو د غمازانو په لمسون
زما بې‌غوره یاره ولې د خدای لپاره
نه اورې فغان څه قدر نه کړې درمان څه قدر
په ځان شیدا د ملنګجان څه قدر
توبه د داسې یاره ولې د خدای لپاره

## ستاد ظلمه توره خطه! ...

ستا د ظلمه توره خطه　　　فریادي ورشمه چاله
پټوی له مانه ولې　　　د اشنا زنه ملاله
د ځان غوښې مې کړې ویلې　　　د سپین مخ په حفاظت کې
بې انصافه تا عمري رانه قبضه کړ
نه ویرېږې له وباله
په خپل زړه مې اغزی خوښ ؤ　　　نه د یار په مخ کې ډکی
بارې څه کړم چاره نشته په دې کار کې
راته پیښ شولو جنجاله
د خط وربځې راخورې شوې　　　بارانونه دي د اوښکو
د مخ غوښې سیلاب وېوړې د عاشقو
څه آفت راغی دی خواله
هره خوا ترې لښکرې　　　شاه د حسن ما سره[1] دی
پټ پټ ژاړه ملنګ جانه په سرو سترګو
شته هر شی له زواله

[1] ماسره - محاصره

# مقامونه

## یار گرم نه دی

ما پخپله ځان ســېزلی یار گرم نه دی
پخپل لاس مې زړه بایللی یار گرم نه دی

ما چې زړه پخپل لاس ورکه خپل حبیب ته
که یې ســـاتلی که یې داغلی یار گرم نه دی
د عـاشـــق زړه د معشـــوق د لاس منه ده
که یې بوی کړی که خوړلی یار گرم نه دی
هر عـاشـــق د معشـــوقو د در غلام وي
کـه یې شړلی کـه یې بللی یـار گرم نـه دی
لکـه مـار هســـــــې پـه مـا یې گوزار وکړ
مـا پخپلـه مـار ســـاتلی یـار گرم نـه دی
یار گرم نه دی یار گرم نه دی ملنگ جانه
چې تا نه و پـــېژندلی یار گرم نه دی

## ما ژړل

تــه د نـاز پـه خـوب ویـده وې مـا ژړل　　تــه بېـغـمــه آســـوده وې مــا ژړل
ســـتا د مخ او د ســـپوږمۍ مقـابلـه وه　　تــه پـه مخ تـرې آزمـوده وې مـا ژړل
ســـتا د زلفو خوشـــبوېې چور لیونی کړم　　ته پـه عطرو کې لــــمده وې ما ژړل
ما درخواســـت د یوې خولې درځنې وکړ　　را تــه ښــــکـاري آزرده وې مـا ژړل
وچ بالښت زما په اوښکو باندې لوند شو　　تــه پـه نـاز کې پـرورده وې مـا ژړل
دا زما ملنګ‌جان برخه کرېدل دي
تـه لـه نـازه پرخنـده وې مـا ژړل

## ورځ مې شوه

ورځ مې شـــوه په انتظار شـــپه په ســـودا
ورځ کې هـغـه ژړوي مې شـــــپـه کې دا

لږ خو وخـت د کراری زمـا معلوم کړه
دا خـو نـه کـېږي چې تـل تـر تـل ژړا

ستا په خوښـه که ژړېـــږم باري خير دی
مگر نه د رقيـــبانو پـــــه ســــــــلا

ستا په ور کې چې غماز تور مخ ښکاره شي
لکه څوك چې په مســـجد ويني ترســـا

ســـتا په سر باندې ما کور او کلی پريښـــود
د مجنون په شـــاني گر ځم په صـــحرا

ســـتا په سر باندې ماتول اقربا پريښـــول
يـه کـمبـخـتـه مـاوره تـه د اقـربـا

ياره زه ملنگ جان ستا مينې احتياج کړم
گـنې مـا کـلـه احـتـيـاج کـاوه د چـا

## حال زما

که په حال زما خبر تمام جهان شي　　ټول عالم به په فریاد ان په سوران شي
لکه زه چې داسې زیړ زبېښلی ګرځم　　هر بشـــر به داسې زیړ لکه زعفران شي
زه رټلی معشوقو یم نه رغېـــــبږم　　کـه عـالم را تـه د څېرمې حکیمـان شي
که څوک ما منع کوي د یار له دره　　د مـاهي پـه وچې څـه رنګـه ګـذران شي
تســـلي زمـا د ســـوي زړګي داده　　یو ځل کله به ښکاره د یار چشمان شي
د یار مخ ته منتظر زه ملنګجان یم
چې زما د خوږ زړګي پورې درمان شي

## ملنگ شم

زه چې واخلمه کچکول او ستا ملنگ شم          نو هغه ســاعت به تېر تر نام و ننگ شــم
نام و ننگ به وی هغه ځای را نه پاتې          په کوم ځای کې چې زه ستا په تومت رنگ شم
پروا نشــته کـه دنیا راپورې خـاندې          ماشــوم نه یم چې نور وخاندي زه تنگ شــم
ستا په عشق کې که ستې شمه په اور کې          فخر کـانـدم کـه زه یـاد لکـه پتنـگ شــم
ما چې عزم ستا د سپین رخسار دی کړی          وابه نه وړم که په وینو کې رنگ رنگ شــم

پــه شــــاتـلــل د مـېړنـیـو بـدنـامي ده
اوس به زه ملنگ‌جان څه رنگه په څنگ شــم

## نه پوهېږم ...

نه پوهېـــــږم چې زه یار یم که اغیار یم په عالم کې لیونی یم که هوښیار یم
کـه هزار د صــــداقت بنیاد قـایم کړم په میدان د نمایش کې خیانتکار یم
نـه د چـا ځنې څـه غواړم نـه څـه وایم بر ناحق د یو او بل زیر فشـــار یم
که څوک ما نیسي په رسم او په رواج کې زه له عشــقه هومره کله لا وزګار یم
خدای د مینې په ریاســـت کې ملازم کړم کار تقدیر کړي نو زه څله ګنهګار یم
د تقـدیر پـه رسۍ بند زه ملنګ‌جان یم
نه مجنون، نه لیونی او نه بادســـار یم

# دلبر وکړ

دلـبر وکـړ قـدرې مـهـر او وفـا بـیـا
چې سـپین مخ يې را ښـکاره کړ دلربا بیا

پـه بېخود صـورت مې خود څـه قـدر راغی
چې په څنګ راسره کېناست خپل اشنا بیا

سـل خیانت د اشـنا ځار تر يو خدمت شـه
چې يې راکړه د سرو شـونډو مربـا بیـا

رقیبان په خپل سـنجش کې خدای ناکام کړل
قــرار راسره وکــړ مــحــبــوبـا بــیــا

حـاضردم خـو مې تسـل د زړګي وشـو
خدای دې خیر کړي بیګا بیا او سـبا بیا

خدایه غوږ د رقیب کوڼ په سترګو يې ړوند کړې
چې پـه راز د ملنـګجـان نـه شی آګاه بیـا

# لوبي

# د افسوس اوښکې

د افسوس اوښکې مې راځي لکه رودونه		نشته یاران
ماته مې یار د زړه په سر راکړل داغونه		نشته یاران
نشته یاري د تګې کار دی		هر څوک تر خپل مطلبه یار دی
پس له مطلبه به دې ناخلي سلامونه		نشته یاران
زړه به دې واخلي درنه به لېږدي		تا به په سرو لمبو کې پرېږدي
ما ژړوي د معشوقو دغه ظلمونه		نشته یاران
محبت نه دی د زړه مرض دی		خلکه د تورې ګولۍ ډز دی
چا چې خوړلی دا ګوزار کوي وېرونه		نشته یاران
غم له پیدا زه ملنګ‌جان یم		سر په سودا زه ملنګ جان
رسي دنیا کې د دوزخ مصیبتونه		نشته یاران

## اوس مې له دره بې نوا شړې

اول دې ځان سره عادت کړمه      اوس مې له دره بې‌نوا شړې
جلب دې په مهر او محبت کړمه      اوس مې له دره بې‌نوا شړې
څومره زهير وې په ما      زما شيرينه ياره!
غم کې دلگير وې په ما      زما شيرينه ياره!
لکه يو پير وې زما      زما شيرينه ياره!
په کوم قاضي دې ملامت کړمه      چې مې له دره بې‌نوا شړې
څوک به عزت لټوي      زه ياره تا لټوم
څوک به دولت لټوي      زه ياره تا لټوم
څوک به ثروت لټوي      زه ياره تا لټوم
تا سزاوار په کوم خيانت کړمه      چې مې له دره بې‌نوا شړې
که ناصحانو ويل      ما د هيچا نه منل
زما په حال به يې خندل      ما د هيچا نه منل
ټول مې بې‌ځايه گڼل      ما د هيچا نه منل
اوس دې د ټولو خجالت کړمه      چې مې له دره بې‌نوا شړې
لکه مجنون له غمه      زه ملنگ‌جان گرځمه
سوی لړمون له غمه      زه ملنگ‌جان گرځمه
حيران زبون له غمه      زه ملنگ‌جان گرځمه
وايه د چا نه شکايت کړمه      چې مې له دره بې نوا شړې

## زما قسمت ...

زما قسـمت - به وي همدا
چې نا امید د یار له دره ووتمه

فلک د خوږ یار نه جدا کړم
زړګی به بیا په چا شـیدا کړم

زه خوار حیران - څېرې ګرېوان
په لاره ځمه په سر خاورې بادومه

یو خواته زړه مې نه صبرېـبري
بل خوا مې یار نه پخلا کېـبري

زما خواري - شـوله دردېـبري
زه غمزده طاقت د دواړو نه لرمه

ما ویل تر قبره به مې یار یې
یا به دې سپارم یا به مې سپارې

مه اوره لمسون - مه کړه بېلتون
زه په ژوندن کې جدایي نه قبلومه

خاونده بیا به مې یار راشي
ناقرار زړه به مې قرار شي

چې زه او یار - شـو هم کتار
ستا د اسرې نه بله لاره نه لرمه

زه ملنګـجان غم له پیدا یم
چې په بې رحمه یار شیدا یم

شـام و سـحر - زخمی ځیګر
رسۍ په غاړه ننواتې ورله ځمه

# زړګیه بیا د چا

زړګیه! بیا د چا په یاد وژړېدې تر څاښته کړیدې
زړګیه! تا زه خوار و زار کړم په اندېښنو دې ګرفتار کړم
نادانه زه دې د ناکسو خدمتګار کړم
د بېوفاو په خندا وغولېدې
زړګیه! ورو ورو ویلې کېږې په هر ساعت ته مه ژړېږه
لکه مرغۍ په دام د ښکلو کې پرکېږې
دا دې سزا ده چې هر ځای مینېدې
مېن پرې ته وې خو یار دې زه کړم خوشامندګر د یار دې زه کړم
خلک ویده وي تر سهاره انتظار زه کړم
څه دې غرض ؤ چې اور خوا کې لوبیدې
زړګیه نور شه ترینه منع په غم کې ټول عمر دردمن یې
ترڅو به وي د ملنګ‌جان سترګې نم‌جنې
که وای بهر نو بی[1] په اوښکو لمبېدې

[1] بی - به یې

## تور اوربل ...

تور اوربل دې خوب کې باد انجړاوه
زه دې سر ته ناست وم ما به جوړاوه

په نیمه شپه مسابقه وه
ستا او د سپوږمۍ مقابله وه

ستا مخ او سپوږمۍ دواړه ځلېده
زه دې سر ته ناست وم ما به جوړاوه

وخت د چرگ بانگ کې ستا مخ غالب شو
لاړه په ماتې قمر غایب شو

ستوري په چک چک شول هر یو گډېده
زه دې سر ته ناست وم ما به جوړاوه

د سبا سترگه راغله ستا لور ته
شغله شوه ستا د مخه نه پورته

بېرته شاته لاړه ورو ورو پټېده
زه دې سرته ناست وم ما به جوړاوه

جوړ دې په مخ د خولو نم ؤ
یو خوا خوله بل خوا شبنم ؤ

ما به پټاوه تا به لوځاوه
زه دې سر ته ناست وم ما به جوړاوه

ناست لاس تر زنې زه ملنگ جان وم
فکر کې ډوب هک او حیران وم

نور د الهی و تر ځاښته بلېده
زه دې سر ته ناست وم ما به جوړاوه

## د یار تصویر ...

د یار تصویر په بغل جېب کې ګرځومه
چې نیمه شپه شي نو پرې زړه ټکورومه
چې د زړه درد په ما غالب شي
زر مې په یاد خپل بغل جېب شي
تصویر راواخلم ورته اوښکې تویومه
چې نیمه شپه شي
سر مې د یار واک مې د یار دی
څه چې کوي یار کل اختیار دی
زه مې خپل ځان نه ... حسابومه
چې نیمه شپه شي
عشق مې هومره هوښیار کړي
چې د زړه کور مې اوزګار کړي
هیڅ پکې نشته خیال د یار پکې ساتمه
چې نیمه شپه شي
کارونه ډېر کسبونه ډېر دي
خلک دې کوي زما نه هېر دي
زه ملنګ‌جان خدای کړېدو ته پیدا کړمه
چې نیمه شپه شي

## ریباره...

ریباره زر مې رسوه تر خپل جانان ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ تنګ کړمه هجران
ریباره خدای له پاره ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ما کړه واصل تر یاره
مرمه یم ناقلاره ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ومې کړه درمان
ما برابر وروله ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ د یار په در وروله
مخکې مې زر وروله ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ډېر مې دی ارمان
عشق کې راحت څه کوي؟ ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ساده سیاست څه کوي؟
مجنون نسیت[1] څه کوي؟ ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ غواړي تور چشمان
په ما بیا یاره جبر ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ښې دي ترې شپې د قبر
ډېر صبر صبر صبر ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ زهره چاود که ملنګ جان

[1] نسیت - نصیحت

## مينې دې ستې کړم

مينې دې ستې کړم          راغلې په ايرو
اوس مې په ايرو کې لاس وهه چې باد مې وړينه
ستا د مخ پتنګ وم
***
چې سوزيدمه هلته نه وې
ما نه چې چاپېر شو          ستا د هجر اور
خوی د پتنګ ؤ          نه مې کاوه شور
ورو ورو رېږدمه          ورو ورو شټېدمه
زړه کې مې ارمان ؤ          ستاد کج ابرو
اوس مې په ايرو کې لاس وهه چې باد مې وړينه
ستا د مخ پتنګ وم
***
ته به مې نه ګورې په سترګو
ته له ډېره کبره          ځکه چې ايرې يم
هغه رنګ مې نشته          خاورو کې سپيره يم
ځان مې نښلولی          ستا په چنې پورې
باد به مې يونه سي          ستا له دروازو
اوس مې په ايرو کې لاس و هه چې باد مې وړينه
ستا د مخ پتنګ وم
نه به ستا په شان وي          بل کوم وفادار
نه به زما په شانته          بل يو خدمتګار
ته ثاني ليلا يې          زه ثاني مجنون
ښه دې چې شهيد کړم          د زلفو منګرو
اوس مې په ايرو کې لاس وهه چې باد مې وړينه

ستاد مخ پتنگ وم

***

په ژوند دې نه یم ازار کړی
تانه چې په گور کې    هم نه شم آزار
پس زما له مرگ    مینه د بل یار
ونه کړې دلبره    یه زما ځیگره
روح د ملنگ‌جان دی    تا ته په زارو
اوس مې په ایرو کې لاس وهه چې باد مې وړینه
ستاد مخ پتنگ وم

## زما د خوږ زړګي درمانه

زما د خوږ زړګي درمانه　　　　شکلی جانانه تا به کله ووینمه
ژوندون مې غم دی بې له تانه　　　بې تا دنیا ده په ما ورانه
څو به په ورانه دنیا شپې سبا کومه
په غم دې پټ پټ ویلې کېږم　　　څه شو چې چپ یم نه غږېږم
لکه پتنګ په خاموشۍ سلګۍ وهمه
ژوندون بې تا څه ژوندون نه دی　　د عاشقۍ دا قانون نه دی
چې سر به ساتم تا به سرې شونډې پرېږدمه
نه لباسي نه بې وفایم　　　　زه ملنګ جان خو ملنګ ستا یم
ځان خو مې خپل دی زه بې له تانه ځارومه

## ځار دې شم جانانه

ځار دې شم جانانه چې خپه نه شې له مانه
سر که مې په کار وي دریـغ به یې نه کړمه له تانه
***
زه او ته یاران یو　　　　زیب که ما او تا سره
روح او تن په شان یو　　　　زیب که ما او تا سره
څوک چې ما او تا جدا کوي کور دې یې وران شي
ستا اوربل پریشان وینم　　　　ځکه زه پریشان یم
د عشق مرض په ځان وینم　　　　ځکه زه پریشان یم
کور کې به قرار را نه کېنني حکیمان
زه دې په رښتیا یار یم　　　　نورو نه خبر نه یم
سر و مال په تا ځار یم　　　　نورو نه خبر نه یم
خدای دې عاشقان د عشق په کار نه کړي ستومان
خلک مې په چل خوله تړي　　　　ستا د یادو لاس ناخلم
گور ته که مې وشړي　　　　ستا د یادو لاس ناخلم
خدای دې رضا نه شي چې منکر شي ملنگجان

# په باغ شوې ګډې

په باغ شوې ګډې د باغ ګلونه په خپل حسن شرمېدنه
اروپايې فيشن کې لاړې
ملالې غاړې د سيل دپاره
ګل ته ولاړې د سيل دپاره
ګل د دوی ديدن کوينه

بنارسۍ او پاچ کې پټې
دا سپينې مټې د عاشقانو
وباسې سټې د عاشقانو
په لاره تلم رنځور دې کړمه

صبر په باغ کې خجالت شو
په مصيبت شو راغلې بلبلې
سر په فکرت شو راغلې بلبلې
چنار هم ولړزېدنه

حکيمه ورشه خدای لپاره
علاج د پاره د ملنګ جان
ته شه غمخواره د ملنګ جان
غريب ډېر وکړېدنه

## نن بیا د یار له لاسه

نن بیا د یار له لاسه مې په مخ اوښکې خورې دي
پـرون يې رالـېږلي دا رتـلي پـيـغـامـونـه
نن بیا د یار له لاســه مې له ســترګو نه ځي خون
راځئ مســلـمـانـانـو تـاسې ګـورئ زمـا حـال
انـداخـت کوي د ســترګو غوځوي مې انـدرون
منقل د بې رحمۍ کې مې ســـېـــزي لکه زغال
انکـار نـه دی روا يـار تـه د مينې پـه قـانـون
دا ولې کـنـاره ګـرځي لـه مـا ځـنې مـلال
ګزک مې شــولې ســترګې ترې د وينو فوارې دي
نن بیا د یار له لاسـه مې په مخ اوښـکې خورې دي
چالان مې دي په زړه باندې د پښ د پلک وارونه
پـرون يې رالـېږلي دا رتـلي پـيـغـامـونـه
چـالان مې دی پـه زړه کې همیشـــه د هجر اور
نرۍ نرۍ لوګی مې خلکه خېــــــږي له نالانه
سېزي مې د تن غوښې خپل هډو کي کې شوو سکور
بـېـلـتـون ...... کـړېــــــږم لـه فـراقـه
مـا ولـيـد عـاشــقۍ کې ځـنکـدن قـدرتـه زور
دلال پـه دلال ګرځمـه پـه خلکو کې مشــتـاقـه
هر دم کوي ستم په ډېر ماتم مې سترګې سرې دي
نن بیا د یار له لاسـه مې په مخ اوښـکې خورې دي
طـاقـت د فرقـت نشــتـه کړم بې واره فريـادونـه
پـرون يې رالـېږلي دا رتـلي پـيـغـامـونـه

طاقت د فرقت نشـته زړه حصـار زما نړېـــــــږي
د ســـترگو طـياره پکې هـميش کـوي بمـبار
انگار د محبت کله درياب باندې سرېـــــــــږي
کـه ځـان لکـه ماهی ســين په منځ کې کړم گوزار
مـيـدان يې جـادو دی ډېـر عـالـم پـه کې کـړېږي
خو زه لکـه نميبولی پـه دائره کې کړم ايســـار
قريب نه شــو طيب زما نصـيب د غم سـورې دي
نن بيا د يار له لاســه مې په مخ اوښــکې خورې دی
وړيـا کـوم ژړا آشــــنـا مې نـه مـني ســـوالـونـه
پـرون يې رالـېږلي دا رنـګـلي پـيـغـامـونـه
وړيـا کـوم ژړا مـقصـــد مې نـه راځي پـه لاس
پـه دغـه تـجـارت کې گـټـه نشــتـه بې تـاوان
آخر يې پـه يـارۍ کې زه لايق شــوم د قصـــاص
رد مې شـــوه خواري خوشې حضــور کې د جانان
د دوی په شــاوخوا زړگيه نشــته دی بازخاس
زمـا پـه شــــانې ډېـر يې ژوبـل کړي دي خـواران
تحصيل مې شو حاصل د هر ناکس په ما نخرې دي
نن بيا د يار له لاســه مې په مخ او ښـکې خورې دي
ناتوان زه ملنگ‌جان کړم د ظالم آشــنا ظلمونه
پـرون يې رالـېږلي دا رنـګـلي پـيـغـامـونـه

# چاربيتي

## ستا د وروځو په پیوند

ســـتا د وروځو پـه پیونـد    شـــینکی خـال کـا تجلې
تـاثیرات یې بنـد پـه بنـد    راولي پــه مــاخـــولې
ســتا د وروځو منځ کې خال    کړي پـه زړونو حکومـت
کړي کوځـو کې غـالمغـال    عارضـان غواړي وصـلت
را بـهـر شـــه لـه محـل    شـــاهان کاندي عدالت
دي پراتـه پـه زړه دردمنـد    د رنـځـــورو رســـالې
ســـتـا د مینې پـه منقـل    هـزار زړونـه دي کبـاب
ځوک اخته دې کړل په سل    غــړوي د غــم ربــاب
لا چې پـورې کـړې کـجـل    حالت نور شي هم خراب
زه کـوم درتـه ســـوگـنـد    پــه مــا راشي زلـــزلې
کشـــکي زه نـه وای پیـدا    چې مې نه لیدای خواري
یـا لـه تـا نـه وای جـدا    تل وای ســـتا په نوکري
د عـا شـــقو حـال وي دا    ســـایې بنـده پـه مرۍ
ډیر حیران او مســـتمنـد    ځي یخنۍ کې ترې خولې
ســـیـال‌داري او محـبـت    دواړه دي سره جـــدا
د ســـیـالانو پـه نسـبت    کم ســـیـالي نـه ده روا
عشـــق کوي دا هـدایـت    زه مـــنـــم دا نـــاروا
ملنگ‌جان دی لوغړن
ترینـه مـه کوئ گیلې

## مرور لالیه

راځه چې شو غاړه په غاړه مرور
مرور لالیه! نور به پخلا شوو
زړه دې په زړه کې ر اته کېږده مرور
لاس مې دې غاړې لره پرېږده مرور
ورکې مانې کړه مرګ نژدې ده مرور
مرور لالیه
خولې نه مې سوړ اسویلی ستا په یاد کې لاړه
مرور
مرور لالیه! نور به پخلا شوو
تا پسې وم په ځنکدن کې مرور
ژوندون مې تریخ ؤ په وطن کې مرور
مرور لالیه
وم به یو بل ته خوشامن[1] کې مرور
مرور لالیه
زړه ته مې ورکړه تسلي چې نور مه ژاړه
مرور
مرور لالیه! نور به پخلاشوو
زړګی له تانه نه صبرېږي مرور
سترګو کې ستا بشره غړېږي مرور
نظر مې بل خوا نه لګېږي مرور
مرور لالیه

[1] خوشامن - خوشامند

نورې ګیلې کیسې به پرېږدو سره دواړه
مرور
مرور لالیه! نور به پخلا شوو
ما سره لاس په لاس روان شه مرور
لکه توتي راته ګویان شه مرور
ما ملنګجان لره درمان شه مرور
مرور لالیه
نور پس له دې نه ستا رسۍ او زما غاړه
مرور
مرور لالیه! نور به پخلا شوو

# بگتی

# ځان جوړوي

ځان جوړوي
بیا د زړونو ښکار پسې ځي
مسلمانان آزاروي

ما ویل دلبر خو دلبر نه دی
چې مې له حاله خبر نه دی
زه ورپسې وینې ژاړم
دی کناره له مانه ځي
ځان جوړوي

زما له درده څنکدن دی
اور مې راپورې په بدن دی
اور د پاسه اور لګوي
چې رقیبان یې لمسوي
ځان جوړوي

خوږلې ما ګوزار د مینې
زړه مې زخمي څاڅي ترې وینې
دا زخمونه نه جوړېږي
آشنا پرې مالګې دوړوي
ځان جوړوي

زما قسمت عجب قسمت دی
هر سبا پاڅم مصیبت دی
بخت د ملنګ‌جان په تندي
آسماني کاڼي وروي
ځان جوړوي

## ولی مې سېزې

زړگیه بیا د چا په یاد کوې ویرونه — ولی مې سېزې
زړگیه بیا دې څوک په یاد شو — چې درنه پورته اه و فریاد شو
دې بې وفاو در کې جوړ کړل پرهرونه — ولې مې سېزې
په هغه یا ر چې نازېدلې — په سرو سیخانو یې وداغلې
اوس به په کوم حکیم کوم ستا علاجونه — ولې مې سېزې
ته چې ختې دې سخت مقام ته — نه دې ؤ خیال د عشق انجام ته
اوس تېروه په سرو لمبو میاشتې کلونه — ولې مې سېزې
زړگیه تا زه خوار و زار کړم — د مینې اور ته دې گوزار کړم
څوک به زما ملنگ جان واوري فریادونه — ولې مې سېزې

# نوې زیاتونې

## مقام

مه نازيـــــره په دوران د جهان تل تل
شپه او روځ ورنه بارېــــږي کاروان تل تل
دوه ياران به يو ځای نه شي هيڅکله
چې بسته وربېـــــې گرځي هجران تل تل
مار غونډل به په قدرت د رب پنا شي
نه به ناست وي پر کرسيو شاهان تل تل
د دنيا عمر د برق په شـان تېرېـــــږي
ملنـگ‌جـان فقيره ژاړه ارمـان تـل تـل[1]

## مقام

بې پتنگه وايه يار د شـــمعې ځوک دی
بل مجبو ر د خوشـال ځوک د بل په توگ دی
د کم اصـــلو نـه هرگز وفـا مـه غواړه
چې قـلـم وفـا کـوي امـېـل بې نـوک دی
اوښ که لوی دی د شيدو تمه ترې مه کړه
مـگـر درونـد يې بـاروه پـه ورلـو روړ دی
تـا نـه کومـه گناه شـــوې ملنگ جـانـه
چې رقـيـب درتـه نـيـولی اورمـېږ کـوړ دی[2]

[1] صادق مل غلام محی الدين، ورکې نغمې زيری جريده -١٣٦٣ کال، ٢٣، ٢٤ گڼه - دريم مخ
[2] صادق مل غلام محی‌الدين، ورکې نغمې زيری جريده -١٣٦٣ کال، گڼه - مخ

## غزل

یه پرې سر مې ځار شه له تا نه
غم که پورته، که پورته له مانه
ستړې مه شې، مه شې مساپره     په خیر راغلې ناز پروره
جادوگر ستمگر، سیاه چشمانه
تکرار
سترگې تورې، تورې په کجل کا     په سرو شونډو کې شونډو کې خندل کا
زه مین یم په تا دلبرجانه
تکرار
مخامخ که، مخ کینه ما ته     نظر ونکړې، ونکړې بل چاته
زه مېن یم په تا مرم بې تانه
تکرار
معشوقه، معشوقه چې په خندا شي     د عاشق، عاشق تمه پیداشي
اوس خواري که زاري ملنگ جانه
غم که پورته، که پورته له ما نه[1]

[1] صادق مل غلام محی الدین، ورکې نغمې، زیرې جریده، ۱۳۶۳ کال...، گڼه...

## روح مې...

روح مې له تنه په رفتن دی ولې نه راځې
راځه راځه وروستی دیدن دی کله به راځې
روح مې له تنه په رفتن دی حال مې نور شو
دواړه چشمان مې دلربا دا ستا په لور شو
په تمامي وجود مې بل د مېنې بل د مینې اور شو
په سترګو مې اوښکې ډنډه شوې ژاړمه په دې
اوس بند و بس مې د کفن دی کله به راځې
که راځې راشه که نه درنګ ساعت له مرمه
دغه سلګۍ د ځنکدن دي چې وهمه
زیاتی رخصت را که چې زه درځنې ځمه
په بازوګانو راته ناستې، راغلې پرښتې
له مانه پاتې دا وطن دی کله به راځې
الله دی نه کړي ستا دې درد زما دې مرګ وي
هر څه چې وي جانانه دواړه سره غبرګ وي
مړه دې هغه شي چې په منځ کې سره تګ وي
ته مې بورا زه دی ګلاب یم تل کوه مزې
سینه زما باغ حرم دی ولی نه راځې
عاشق معشوق چې سره دواړه صادقان وي
ثاني جنت دی چې په ښه مینه یاران وي
ورک دې هغه شي چې په منځ کې رقیبان وي
د ملنګ‌جان د خولې خبرې دا سوې مسرې
د هر عاشق د زړه ملهم دي ولی نه راځې[١]

[١] دا شعر مې دننګرهار ولسی سندرغاړی منور له خولې لیکلی دی

# نوی پسرلی

نوی پســـــرلی شـــو پـه چمن کې نوی ګـل راغی
نـوي شـــور وزوږ لـه هـرې خـوانـه د بـلـبـل راغی
نوی پســــرلی شـــو کـانې بوټي خوشـــالي کوي
رنګ په رنګ ګلونه ســتا روخســـار سره ســیالي کوي
پـرخـه د ســـبـا پـه کې زیـنـت د مـرواري کـوي
لـرې شـــو پـوزی د ژمي دور د ســـنـبـل راغی
لـرې شـــو پـوزی د ژمي دور د ســـنـبـل راغی
لرې شـــو پوزی د ژمي شـــنـه فرشـــونـه خور وینم
عطرو خوشـــبویي پـه مخ د ځمکې لور پـه لور وینم
هر خیـابـان د ګلو پـه قشـــنـګ ګلو ســـمســـور وینم
مـخـامـخ تـوتي، بـورا ســـلام تـه د یـو بـل ویـنـم
مـخـامـخ تـوتي، بـورا ســـلام تـه د یـو بـل ویـنـم
غـارې شـــو طـاوس، قمری چمن کې خوشـــالي کوي
زرکه په ښـــه شـــوق په غره کې ښـــه غزل خواني کوي
چســـتې، رنـاګۍ پـه ســـینـد کې پټـه مـهـمـاني کـوي
غږ کړ بنفشـــــې چې بوی له څنو جوړ اور بل راغی
غږ کړ بنفشـــــې چې بوی له څنو جوړ اور بل راغی
هر بوټی کوښـښ کوي چې سر په خپل اهداف شـوو موږ
وباسی زحمت چې په نعمت باندې ســیراب شـــوو موږ
ویښ شه یه پښتونه چې په خپل مطلب کامیاب شوو موږ
وایي مـلـنـګـجـان چې دا امـیـد مې پـه ګـوګـل راغی
نوی پســـــرلی شـــو پـه چمن کې نوی ګـل را غی
نـوی شـــور و زوږ لـه هـری خـوانـه د بـلـبـل راغی[1]

[1] دا شعر مې دننګرهار ولسي سندر غاری تاجي له خولې لیکلی دی.

## غزل

دا خوب وینم که ویښ یم چې مې خوږ اشنا تر څنګ دی
دا آواز د ښــــاپیرو دی کــه د یــار د پـاولو شرنـګ دی
لــه اســـمـانــه عطر اوري کـاني بوټي خوشـــبويي کـا
لور په لور بلې ډیوې دي مخ د ځمکې پرې خوشرنګ دی
نــازولې لیلا راغلــه د صـــــادق مجـنون تـر څنګـه
نن ده شـــپـه لیلـةالقـدر دوه مین یو یې پـالنـګ دی
هســـــــې پورته مقام بیاموند ملنګ جان په ملنګۍ کې
تـاسې وګورئ یـه خلکـه نن نواب دی کـه ملنـګ دی

# خدمتګار

نـه لـري زيـنـت هـغـه زلـمی چې خـدمـتـګـار نـه وي
ژوند نه دی هغه چې څوک مصروف په کسب و کار نه وي
ښکل دې هغه لاس شي چې مات شوی وي خدمت پورې
درد يې عبادت کې حســابېـــــــــږي تر قيامت پورې
مرګ وي خجالت، د خـدمت‌ګار سړي خـدمـت پورې
ورک دې ناراســتي شي چې هېڅ څوک يې خريدار نه وي
يو مثقـال شرف ښــــه دی تر يو خروار سره زر څـنې
بې شرف انســــان نـه دی مـمـتـاز لـه ګـاو خـر څـنې
اخـلي بـه مـفـاد هـر هـنرمـنـد لـه خـپـل هـنر څـنې
هيڅ کلـه بـا علمـه بـا تعليم پـه دنيـا خوار نـه وي
ســــل خـان او نواب خـاين لـه يو صـــادق کمتر ګڼم
بوټ د يو عســـکر زه ملـنـګ جـان ورنـه بـهتر ګڼم
ځـان يې د آســـونـو پـه خـدمـت لـکـه مـهـتر ګـڼـم
خـير دی کـه مې قـدر د بې قـدرو پـه بـا زار نـه وي

# ترانه

زموږ اصل پښتون دی موږ یادیږو افغانان
وطن نه شم قربان
وطن موږ ته مېراث          د پلار نیکه د لاس
خپل سر به ترې قربان کړو موږ نه یو حرامیان
وطن نه شم قربان
قایم زموږ عسکر دي          پراته پر هر بندر دي
په لاس کې یې خنجر دی غوڅوې پرې دښمنان
وطن نه شم قربان
خادم زه ملنګ جان یم          پنځه وخته ګویان یم
د خدای باچا نه غواړم ترقي د افغانستان
وطن نه شم قربان[1]

[1] صادق مل غلام محی‌الدین، ورکې نغمې، زیری، ۱۳٦٤ کال، ۵ ګڼه - څلورم مخ .

## پښتونستانه!

ته هیڅ کم نه یې پښتنو ته له ایمانه
گرانه وطنه زیبا پښتونستانه
وطنه ته ننگ و ناموس د پښتنو یې
ته مېراثه د پښتنو د خیلخانو یې
هم هدیره زموږ د مړو پخوانو یې
دا خپله وینه به له تانه کړم قربانه

**گرانه وطنه زیبا پښتونستانه**

ستا د گورگورو په څېړیو په هر نښتر دی قسم
ستا د بروزو د خوشبو بوی په اثر دی قسم
ستا په دې هسکو هسکو غرونو او خیبر دی قسم
یا به آزاد شې یا به موږ ځو له جهانه

**گرانه وطنه زیبا پښتونستانه**

ته د شینوارو د ساپو او سالارزو وطن یې
ته د مومندو یوسف‌زو د اڅکزو وطن یې
ته د خټک وزیر مسعود د اپریدو وطن یې
ستا په مثقال خاوره هر یو تیر دی له ځانه

**گرانه وطنه زیبا پښتونستانه**

کور د پښتون یې تا کې بل ښوک اوسېدلی نشي
هیڅ قوت تا په بله خاوره گډولی نشي
نور پښتانه د چا په دروغو غولیدلی نشي
ستا قربانۍ ته زوړ و ځوان تیر له خپل ځانه

**گرانه وطنه زیبا پښتونستانه**

ته زموږ روح یې روح او تن جدا کیدلی نشي
روح چې جدا شي تن ژوندی پاتې کیدلی نشي
پښتانه هیڅکله له تانه تیرېدلی نشي!
زه ملنگ‌جان وا یم د زړه له اطمینانه

**گرانه وطنه زیبا پښتونستانه**[1]

---

[1] ) صادق مل غلام محی‌الدین، ورکې نغمې، (۱۳۶۳) کال، زیری جریده ( ) گڼه، ( ) مخ

## داستان

یوه ورځ دېره کې ناست وم ناګهان
د دوه ښځو عداوت شو هغه آن

د یوې نوم مرجانۍ د بل زیور ؤ
ګفتګوی سره کاوه وخت مازدیګر ؤ

مرجانۍ ورکړو زیورې ته پېغور
د نېستۍ د لاسه ګرځې لور په لور

دوه آسونه د مېړه مې د سورلۍ دي
ستا مېړه زموږ کله د سیالۍ دی

زیورې ورته ویلې: یه نادانې
په پیسو دې مه غولېږه یه نافامې

جنګ ته تللی و خدمت له د وطن
د لښکر سره زما او ستا څښتن

خو زما مېړه مورچل کې جنګیدلی
ستا مېړه و بېغیرته تښتیدلی

نن زما مېړه اخیستې بادري ده
په سینه کې د خدمت ستوري ... ده

دا چې وویل مرجانۍ بیا ملامت شوه
هغه ځای کې زیورۍ ته خجالت شوه

پس له هغه مرجانۍ راغلله کور ته
په بدشان به یې کتل د مېړه لور ته

ته زما په شانته هم یو زنانه یې
هسې نه چې په دنیا کې مردانه یې

دایې وویل، بیا راووته صحرا له
برابر راغله زموږ د دېرې خوا له

ماته یې وویل ملنګ جانه خبردار شه
د بې ننګو شکایت کې په ګفتار شه

شاګردانو ته دي جوړ که یو داستان
چې یې واوري په مجلس کې خاص و عام

ما ویل ښه ده، نو مې دا داستان تیار کړ
د ځوانانو مې صفت پکې اظهار کړ[1]

[1] دا داستان مې دننګرهار د خوږ غږي هنرمند ایوب له خولې لیکلی دی.

## خدایه وکړم څه؟

خدایه  وکړم څه؟ په تصور لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟
دلته خوشالي ده زړه مېلې غواړي        هلته زموږ کونډې یتیمان ژاړي
چورت او خیال کې مخ په پېښور لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟
دلته ماشومانو ته نازونه دي        هلته مې وریرې سرتور سرونه دي
خوله کې یم موسکی په زړه پرهر لاړم
دی اختر ته و خاندم که وژاړم؟
دلته نری شرنگ د چنگ رباب راځي   اخوا نه شرنگاری د غوراب راځي
زه د دې خوښۍ نه لاس په سر لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟
لاړم یو محفل ته، وو خانان ومې لید تصویر د باچا خان پکې
سترگې مې شوې سرې په ژړا سر لاړم
دی اخترته و خاندم که وژاړم؟
خلک کړي مېلې ماته ژړا راځي        روح د شهیدانو نه حیا راځي
زه ملنگ‌جان گوښی مرور لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟[1]

[1] صادق مل غلام محی الدین، د ملنگ‌جان ورکې نغمې، (۱۳۶۳) کال، زیری جریده( ) گنه ( ) مخ ()

# غزل

يه دل ديوانه زما
مه غواړه مدار له ګلو
نه چې څنګ کې خار نه وي
پرېمبېږده چې يو ساعت خپل يار سره همراز شمه
يه بيلتونه ستا به تمام عمر خاص غلام شمه
ځي د زړه پروانه زما
خېژي په انګاره د ګلو
څه کړم چې غمخوار نه وي
تورې سترګې سوځي دخوبانو دا انصاف ګوره
زه لکه سکاره يې په منقل د عشق سوزېږمه
خپل شولو بيګانه زما
عشق کړم منت بار د ګلو
بخت به زما يار نه وي
راکړه يو برخاست د لبو نن ما ملنګ‌جان لره
ستا د غم پيري زما د زړه په سر پاڼې وهي
يه مغرور، جانانه زما
تير به شي ستا وار د ګلو
تل به ستا سينګار نه وي
يه دل ديوانه زما
مه غواړه مدار له ګلو
نه چې څنګ کې خار نه وي[1]

[1] دا غزل مې دولسی هنرمند نواب له خولې ليکلی دی.

## درد و غم

چې درد و غم شي را حاصل
خوښ يم په دا چې وي د يار
وامې خيست کچکول د اميد يار که څه امداد وکړي
خير دی که زهر وي يا قاتل
خوښ يم په دا چې وي د يار
څه به کړم گلشن د گلو ناست چې پکې يار نه وي
لکه پتنگ سوی گوگل
خوښ يم په دا چې وي ديار
بد لگي صدا د بلبل زړه زما ورداشت نه کا
هردم آزار وي يا ښکنځل
خوښ يم په داچې وي ديار
نه کوي پروا که هر څو زه ملنگ‌جان سوځم
زما قبول دي دا سېځل
خوښ يم په دا چې وي د يار[۱]

[۱] هيوادمل زلمې ولسی سندری دويم ټوک، ۱۳٦۸ کال، مخ ( )

## غریب سړی

غریب سړی يې تا چېټي وضـــعیت د خان نیولی
ټپس که غټ وي خو بلبل ته رســـیدلی نه شي
غـریـب سړی لـږ د ځـان سره اټـکل وکـه تـه
پلار و نیکه ســـتا  مربي دی پرې عمل وکه ته
ســـتا سررشـــته به پښـــتونو کې لږ معطل وکه ته
تا لکه چتی خپلې پښـــــې مخ په اسـمان نیولې
وکـه تمیز چتي آســـمـان را ټینګولی نـه شې
ســـتا هم د بل په غلامۍ کې عمر تېر شـــو کنه
تل دې د بلې تالي څټلي ننګ دې هېر شـــو کنه
ستا سوانح د درست دنیا مخ کې برسیر شـو کنه
تـا لکـه خر پـه اوږو بـار د قـادیـانیـان نیولی
خر، خـدای خر کړی ... يې څوک منلی نـه شي
ســـتا په خدمت باندې قایل یم خو د بل لپاره
غـټ غـټ کېونـه جوړ وې پردي منګول لپـاره
مـلا دې تـړلې پښـــتـنـو د غـولـول لـپـاره
ګمـان مې کېږي بنګالـه کې دې مکان نیولی
ورې دې کوږ دی د منزل سر تـه ختلی نـه شي
د چارســـدې ظلم چې هر ســـاعت کې یاد شي زما
لکه ماشـــوم غوندې زړګی ګډ په فریاد شي زما
آزادیخـواه بنـدیـان بـه څـرنګـه ازاد شي زمـا
د ملنګ‌جان ســترګو نه اوښــکو جړۍ باران نیولی
آخر بی قی کړې پردی مال څوک هضمو لی نه شي

## غزل

بنده مناسبت نه دی چې ته ګرځې هواګیر
یو ورځ به داسې راشي چې به بند شي په ځنځیر
یوه ورځ به داسې شور شي خبر به په هر لور شي
مکان به دې په ګور شي او مېراث به ستا جاګیر
میراثه به دېره شي ستا ځای به هدیره شي
بدن به دې ایره شي اوس کوه د ځان تدبیر
کوه د ځان علاج، اخر به شي خراج
خبر شه له رواج چې ویلي پاک تقدیر
چې ویلی پاک سجان یې قبول کړه په چشمان
مضبوط کړه ملنګ جانه ځولۍ د دستګیر[1]

[1] هیوادمل زلمی ولسي سندرې، دویم ټوک، ۱۳٦٦ کال، (۸۱) مخ

## مقام

چې د قام وینې یې خوراک وي نواب نه دی — چې شریر وي په خانانو حساب نه دی
چې بې غمه خوب کوي به بستره کې — هغه مړ دی د ژوندو د جواب نه دی
چې لاسو کې یې پولۍ د خدمت نه وي — شکلول د هغه لاس کې ثواب نه دی
په ظاهره کې دعوه د سیادت کړي — ګنده‌ېری ګل په رنګ سور دی ګلاب نه دی

څو به ګونګ له خوفه ناست زه ملنګ‌جان یم
راز ساتلو ته د زړه مې نور تاب نه دی

## يه پښتونه

يه پښتونه لږ همت تا ته په کار دی که نه دی
بوټ پاکې او مريتوب پښتون ته عار دی که نه دی
يه پښتونه ته به خپل ځان ته نر وايې که نه وايې
شرافت او لياقت دې د ځان بر وايې که نه وايې
چې د نورو پيټی وړې هغې ته خر وايې که نه وايې
دا غيرت تا ته ښوولی، مور و پلار دی که نه دی
يه پښتونه پښتنې مور زيږولی يې که نه يې
په زانګو کې د غيرت ته زنګيدلی يې که نه يې
دښمنانانو نن په سپک نظر کتلی يې که نه يې
نن هماغه دښمنان ستاسی واکدار دي که نه دي
يه پښتونه دا ته اووه ميليونه کور يې که نه يې
له چترال بلوچستان پورې يو ورور يې که نه يې
که راغونډ شې د تمام دنيا نه زور يې که نه يې
ستا په کور کې د نفاق ګرد و غبار دی که نه دی
يه پښتونه سکهه، هندو يهود ازاد شوو که نه شوو
ستا حقوق او استقلال دواړه برباد شوو که نه شوو
ماشومان دی چارسده کې په فرياد شوو که نه شوو
ملنګ‌جان مسکين له دې غم نه بيمار دی که نه دی[1]

[1] هيواد مل زلمی، ولسي سندرې، دويم توک، (۱۳۶۶) کال، (٦٧) مخ

## بیا یې ...

بیاېي جیل‌خانې لره — مجرم په کوم قانون دی دا
څوک لري که نه لري — غلام دی که پښتون دی دا
پښتنو ځوانانو راشئ — خپل عزیز وگورئ
بیگناه ربړیږي کمبخت — مرگ دی که ژوندون دی دا
خدای لپاره ورونو — تمام قام سره گډون وکړئ
یویو تالاکیږو گورئ — دا وجه مو بېلتون دی دا
کله مسلمان بل مسلمان — باندی تادا کوي
نن چې داسې کیږي — له بلي خوا لمسون دی دا
لاړ شه ملنگ جانه — پښتونخوا په غرو کې وژاړه
کار د لس و شل نه دی — خو کار د اووه، میلیون دی دا[۱]

[۱] هیوادمل زلمی، ولسي سندرې، دویم توک، (۱۳٦٦) کال، (٦٧،٦٨) مخونه

# نیم په سیوری

نیم په سیوري نیم په سره لمر کې سوځېږم
داسې ژوند ته حیرانېږم
یو خواته جوړ ملي اختر دی
نازو نخرې دي
بل خواته قوم مې در په در دی
د غم سورې دي
دوی ته وخاندم که هغوی ته وژړېږم
داسې ژوند ته حیرانېږم
دلته دا سره سره بیرغونه
وینم خوشحال شم
هلته د کونډو فریادونه
اورم ملال شم
په خوله خوشال یم پټ په زړه کې ویلی کېږم
داسی ژوند ته حیرانېږم
خان صاحبان راغلل ډلې، ډلې
مېلو کې ښوري
فخرافغان نه راځي ولې
د کور په لوري
دا د دوی ځنکه ملګرتوب دی نه پوهېږم
داسې ژوند ته حیرانېږم
چې په ښادۍ کې دوستان نه وي
څه بې رقم وي
حاضر تمام عزیزان نه وي
زه ملنګ‌جان کمبخت به کله خوشالېږم
داسې ژوند ته حیرانېږم[۱]

[۱] هیوادمل، زلمی ولسی سندری لومړی ټوک، کال (۱۳٦۱)، ۲۲۱-۲۲۰ مخونه.

## خانه

یو ځلې دوه ځلې او درې ځلې خو خیر
ترڅو به دا ناکامي زه ستا له لاس تیروم خانه
څو به مظلومانو باندې ته د ظلم حملې کوې
څو به په پردو زامنو ته مفتې مېلې کوې
څو به زه زاري کوم او ته راته ګیلې کوې
څو به ته خفه او زه به تا خوشحالوم خانه

---

یو خواته دعوه کوې چې زه د قام غمخور یم
بیا وایې د ګردو پښتنو خواخوږی ورور یم
بل خوا دې زامنو دروليې زه په اور یم
دی منا فقت کې ستاسو فکر چلوم خانه

---

... څوک نه وایي ګنې هر چا پیژندلی یې
خصوصاً سازنده خوارانو ښه په تول تللی یې
ماسختن سرې رسېږي وایي هلکه خان بللی یې
تر څو به خپل ښایسته شاګرد له تا نه پټ ساتم
چرته چې شاعرانو کې ښایسته هلک پیداشي
خانه ستا په کور کې د ورو غټو سودا شي
هر یو زوي دې وایي که دغه ورو کی زما شي
نو زه کمبخت ایله ستاسې بست پوره کړم خانه
تا خپل شرف پرېښود په شاعرانو دې ملکۍ جوړې کړې
نو ما هم ستا احترام پریښود څو مسرۍ مې په چالاکۍ جوړې کړې
ستا که و ضعیت درونـد وای نو ما به څله بې باکۍ جوړې کړې
که بل دې رانه بوته بیا به بل غزل لیکم خانه

نومونه یې را ته یاد دي خو د بېرې یې اخیستی نشم
ځکه چې بیا ژوند په هیڅ صورت سره کوی نشم
زه ملنګ‌جان نور پدې وطن کې اوسیدی نشم
یوځل فریادي تر صدارته پوری ځم خانه[1]

[1] هیوادمل زلمی، ولسي سندرې، لومړی ټوک، کابل (۱۳۶۱ ) کال ( ) مخ.

## پښتونه وګوره!

پښتونه وګوره! دنیا کې نور عالم څه کوي؟
ستا په کاله کې د غفلت جبر و ستم څه کوي؟
حال دې خراب شو په سستۍ او په غفلت پښتونه
څه خو په کار دی نارینه لره غیرت پښتونه
په ناراستۍ کې عاقبت وي خجالت پښتونه
څوک چې بیدار وي د دارې هلته ماتم څه کوي
په خوب ویده یې ځان بیدار کړه نور عالم وګوره
مېوې د علم په دنیا رقم رقم وګوره
سمندر عقل په هوا اېښی قدم وګوره
زموږ په مخ ګوډ مرکب ضعیف برهم وګوره
ړیره دې سپینه شوه د علم محبت وکړه ته
د ستا نه تېر یم خپل اولاد ته نصیحت وکړه ته
د آینده نسل لپاره څه خدمت وکړه ته
علم ته زده کړه د عالم په کور کې غم څه کوي
د بې علمۍ په تبه پروت یمه کړېږمه زه
په ګرېوان خاځي ملنګ‌جان د سترګو نم څه کوي؟

## مقام

کوم طعام دی چې پخېږي بې اوبو نه
کوم زلمی دی چې ښه ښکاري بې پښتو نه

که پښـتون وي خامخا به غیرتمن وي
فـیروزه کـلـه جـوړیـږي لـه ایـرو نـه

بې پښتو زلمی - زلمو کې حساب نه دی
لکه څوک چې ویښــته وباسي غوړو نه

د وطن درد او غم ژاړه ملنـګ جـانـه[1]
څو ژوندی یې لاس وانخلې له مســرو نه

[1] دغه نیم بیته داسې هم ثبت شوی دی: ته اولاد د دې وطن یې ملنګ جانه

## مقام[1]

تاج د بخت مې رسیدلی تر آسمان دی　　چې قایم مې سر په غېږ د خپل جانان دی
خدای ساتلي دا هاړ غرمو نه امن　　په تندي مې د عادل سایه گردان دی
چې يې مور وي په دې خاوره زيږولی　　که په هر ژبه غږيږي خو افغان دی
دا صفت ځانته زما نه دی چې يې وايم　　دې صفت کې شامل ټول افغانستان دی
په تش لوز باندې سړی نه پښتونيږي　　د پښتون هر يو عمل او خوي مردان دی
چې خيرخوا د وطن نه وي ملنگ جانه
غرض دا چې نه پښتون او نه انسان دی

[1] دا مقام مې د ننگرهار د ولسی هنرمند نعمت الله له خولې ليکلې دی.

## مقام[1]

زه پر دې دنیا مانۍ او ســامان څه کړم مساپر د پنځو ورځو بوستان څه کړم
چې یې بودوبـاش د عمر پکې نـه وي یو ســاعت لپاره زه ګلســتان څه کړم
که مشـــرق نه تر مغربه ملک زما شي آخر پاتې وي دا پاتې جهان څه کړم
که محل ته یې را ټول لال و مرجان شي ځمه خاورو لره لال و مرجان څه کړم

زه عـامې مـلـنـګ‌جـان دغـه غـم کې ژاړم
رب چې سوال وکړي ځواب به د ځان څه کړم

[1] دا مقام مې د ننګرهار د ولسی هنرمند ایوب له خولې لیکلې دی.

## غزل

اگر مهتاب روی آسمان شوی اخیر جایت است خاک
اگر پادشاه روی جهان شوی اخیر جایت است خاک
هزار هزار شـــده اســـت رفتـه چنـدین هزاران
اگر ... هزاران شـــوی اخیر جـایـت اســـت خـاک
مـکـن غـرور کـبر بـه دل نـدارد مـهـر وفـا
اگر مانند نوشـیروان شـوی اخیر جایت اسـت خاک
تـا بکی خواهـد کردي گفتـار بـه این زبـان ملنگ‌جـان
اگر بلبل هزار داستان شوی اخیر جایت است خاک[1]

[1] دا غزل مې د ډېر تکړه هنرمند ایوب له خولې لیکلی دی.

# غزل

ما ځان تســـلیم کړ تا ته هر دم وایم چې ســـتا یم
تــه واېې زمــا نــه یې - نــو زه وایــه د چــا یــم
چې زړه دې رانــه یووړ غورځوې مې کــالبود ولې؟
مجنون دې را نه جوړ کړ اوس مې نه کړې بهبود ولې
هر څوک چې مې حال ګوري قــابل د تمــاشـــا یم
نــه د اقــربــاو پــه ټــولي کې شـــــوم داخــل
نــه دې د درګــاه پــه غــلامــانــو کې شـــامــل
پخپــل در و مــالــت کې پردیس او نــاآشـــنــایم
یو خواتــه دا ســـتــا مــاهیجن خوی مې پخوي
بــل خــوا مې پســـخــنــد د رقیــبــانــو ســـوزوي
آفــریــن شـــه مــا لــه چی زه لاژونــدی پــایــم
راحــت نــه پــیژنــم څــه تــه وایی پــه جــهــان
یــو بــل نــه اوربــدلی دا تــش نــوم مــلــنــګ جــان
تــل خورم د غم څپېړې همــدې لــه بــه پیــدا یم[1]

[1] صادق مل، زیری جریده، ورکې نغمې کال (۱۳۶۳)، (۳۱،۳۲) ګڼه، (٤) مخ

## مقام[1]

فکر وکړه چې له خاورو پیدا چا کړې؟ توان یې درکړو په خبرو ګویا چا کړې؟
واک اختیار د یو نفس درسره نشـــته ته ژوندی او ګرځـندی په دنیا چا کړې
حقیقت کې د یو څاڅکي نه پیدا یې ته ضعیف ناتوان بنده یې توان چا کړې؟
په دا تنګو ســـترګو تږولـه دنیا وینې پټې ســـترګې وې نو وایه بینا چا کړې؟

ملنګ جانه دا قدرت د ذولجلال دی
په دا کم فکر فصیح او مېرزا چا کړې؟

[1] دا مقام مې د ننګرهار د ولسی هنرمند نعمت الله له خولې لیکلې ده.

# چار بیته

یو خواته جوړ ملي اختر دی
په زړه مې یو الله خبر دی

بل خوا ته غم مې د بندیان ژړوي
ما د سره پوشو سرداران ژړوي

ستاسې حضور نه معذرت غواړم
د څو خبرو اجازت غواړم

دې خپل خانانو ملکان ته ژاړم
د لوړ غرونو سربازان ته ژاړم

نن چې دا خلک پر موږ ظلمونه کوي
ډېر ناجایزه اقدامونه کوي

د قوم مشران او لیډران زموږ
په جیل‌خانو کې ټول بندیان زموږ

تاسو په کور بې غم عیشونه کوئ
په بسترو کې خپل خوبونه کوئ

هغوي په جیل کې مېچنونه کوي
تور پنجابیان په دوی حکمونه کوي

دا خوشحالي په ما محشر دی
په حال مې یو الله خبر دی

دا بې ننګي مې د افغان ژړوي
ما د سره پوشو سربازان ژړوي

نن چې دا سره سره بیرغونه وینم
ټول پښتانه غښتلي ورونه وینم

د افسوس اوښکې نه ودرېږي زما
خان غفارخان بندي یادیږي زما

د جیل خانو خیرو خوړلي به وي
په سپینه ږیره کړېدلي به وي

افسوس افسوس ستا د غیرت پښتونه
دنیا ته سترګې کړه اوچت پښتونه

یو خوا تورسري ماشومان دې وژني
بل خوا په جیل کې سرداران دې وژني

ته لا پټکی تړې چې نر یمه زه
د نارینتوب نه دې خبر یمه زه

ستا د دې ژوند نه مرګ بهتر دی
په زړه مې یو الله خبر دی

پاس په اسمان ملایکان ژړوي
ما د سره پوشو سربازان ژړوي

عطاوالله خان په ډېر ارمان کې مړ شو
د چا له ظلمه په زندان کې مړ شو

په ځنکدن ارمان ارمان بې ویل
پښتونستان پښتونستان بې ویل

په وخت د مرګ کې یې وصیت کړی و
خپل بال و بچ ته یې نصیحت کړی و

ټول سرحدونه کاکا ګان دي ستاسې
موږ به ګټي دغه خواران دي ستاسې

پښتونه څه عطاوالله خان وګټه
خپل کونډې ونډې یتیمان وګټه

مـوږ د امـیـد سـتـرګې پـه لار نـیـولي ستـا د راتلـو پـه انتظـار نیـولي
داکـتـر خـان جـیـل کې مـرور دی پـه زړه مې یـو الله خـبر دی
د مـغـلـګی مې شـهـیـدان ژړوي بـل خواتـه غم مې د بندیـان ژړوي
دې خپل ژوندون ته به ژوندون و نه وایم دومره پښتون ته به پښتون و نه وایم
څو چې پښتون پښتونستان جوړ نه کړي د آزادۍ ځانته نښـان جوړ نه کړي
دغـه خـانـان بـه بـیـا خـانـان وبـولـم دوي په رښـتیاد قام مشـران وبولم
چې د اټـک پـه پـلـه بـیرق ودروي د رڼـو تـورو بـه ... شرق ودروي
چې ملي جشـن هلتـه جوړ شي زمـا د زړګي غم بـه هلـه سـوړ شي زمـا
چې شـاګـردانـو سره ورشـمـه زه د ترانو پـه لوسـتو سر شـمـه زه
هـلـتـه پـه غـږ کـړم چې اخـتر دی پـه حـال مې یـو الله خـبر دی
مـا مـلـنـګـجـان دغـه ارمـان ژړوي مـا د سره پوشـو سریـازان ژړوي[1]

---

[1] دا چاربیته مې د ننګرهار د ولسی هنرمند نعمت الله له خولې لیکلې ده.

.... د تورو سترګو مې خښژي په یو نظیر
ټوټې مې شو ضمېر
تر څو به حواله وي درد و غم زما په ځان
آخر دې په ډیر جور او جفا کړمه ناتوان
فریاد مې ځي له خولې نه شو هلاک زما تغیر
ټوټې مې شو ضمېر
پتنګ کله ځار وځي د انګاره په اسان
اجل د پاسه خښژي په اور سوزي شیرین ځان
زما کله هېرېږي یاره ستا د مخ تصویر
ټوټې مې شو ضمېر
تسل په تصور د زړه کوم یمه ناچار
سېزي ما ملنګ‌جان په هر دم ستا د مینې نار
افسوس زما په برخه نصیب شو د غم تحریر[۱]
ټوټې مې شو ضمېر

[۱] دا شعر مې د ولسی هنرمند نعمت الله له خولې لیکلی دی

نیک اوسې جنابه په هر ځای کې دې دب دب
ښرگنده یې لکه لمر
خانان د روی زمین دې سلامي دي روز و شب
ته یې په ټولو سر
عزت او فضیلت واړه اعطا تا ته د رب
د خدای په تا نظر
شهرت او سخاوت دې نشر شوی په جهان
پوره لرې تاثیر
شهرت او سخاوت دی نشر شوی په هر لور
قانع دی عام و خاص
پاک رب تا ته درکړی په خارج داخل کې زور
قانع دی هر یو کس
ته یې د پښتنود ټولو یادو مشر ورور
په مینه په اخلاص
خورشید یې په زیبا و په زهیر او نادرخان
خوش رنگه خوش نظر
خورشید یې په زیبا رڼا دې ځي له شجاعت
بلا دې وه سرسام
مخلوق دې راگیر کړی په حصار د محبت
محبوب اوسې د قام
مکان دې په گرداو نوم دی تر شام او روم اوچت
دا حال دې وي مدام
مشال داکتر زوی دې شه روزي ده غلام خان
چې ته یې پرې زهیر
صفت د هغه کېږي چې وي بالا عزت
عاقل دې وکړي پام
هیچرې به وا نه ورې د شنډ وڼې صفت
ما تېر که دا مثال

خوشال اوسې باداره په د نیا په آخرت
زما دی دغه سوال
د شعر په زره واخله دا سلام د ملنگ جان
مخلص ستا د جاگیر[۱]

[۱] دا شعر مې د ولسی هنرمند نعمت‌الله له خولی نیکلی دی.

# غزل

ای عشـــقـه نـامراده تـا څـه پـه بلا سر کړم
عالم زیســـت و روزګار کا زه تل خون جیګر خورم
چا کسب و کمال یاد کړو څوک ذکر و زا هدي کا
د عشـــق چېله خانه کې زه ناســـت دلبر دلبر کړم
څوک فخر په شاهي کا څوک مال او عزت غواړي
زمـا لپـاره بس دی کـه ځـان د یـار نوکر کړم
که یار را نه زړه وړی خو په زور يې وړی نه دی
دا ټول لمسـون دا سـتا دی که حق و ته نظر کړم
یو کنج د معشـوقو دی په ما ملنګ‌جان حق دی
د ســـل غیرو غمازو تا هم خوشـــامندګر کړم[1]

[1] دا غزل می د ولسی هنرمند نعمت‌الله له خولی لیکلي ده

## غزل

تا چې ځان سـفر ته جوړ کړو، وایه ما کم‌بخت په چا سـپارې
سـتا بېلتون ما ته بلا ښـکارې ته چې ځې ما په بلا سـپارې
زما ژونـد اړه پـه تـا لـري، لکـه دین د مسـلمان سره
دا خو ډېر را ته مشـکله ده مسـلمان چې په ترسـا سـپارې
که نور غله په غلا مالونه وړي تا له ما کم بخت نه زړه وړې
چې دې وړی دی نو ښه يې ساته، هسې نه چې په بېديا سپارې
په تا سـاعت په ما به کال تېر شي، ته به خاندې زه به ژاړم
مسلمان دې خدای ترې وساتي، مسلمان دې غم پر ما سپاري
هسـې خاص نوکر بل څوک لري، لکه ته چې ملنگ جان لرې
مگر سـتا خاطر د کاڼي دی، چې کينه ورته تنخا سـپارې[1]

[1] دا غزل د تکړه هنرمند ایوب له خولې لیکلی دی.

## غزل

نشـــته په عشـــق کې بې یاره ما لـه دوایي
وایي هـر څـوک چې ســـتا صـــبر دوا دی
پـه مـحـبـت کې هـمـدا نـاروا دی
یـو خـوا چې گـورم خـوبـانې بې پـروا دی
څه به کړي څوک چې په داسې مشکل مبتلا یې
زارۍ مـنـت مې هـرگـز نـه قـبـلـیږي
یار مې په ســوز او ژړا نه پو هیـــــــږي
ســـوزي آ ځمکه چې اور پرې بلیـــــــږي
عشـــق دې راکړو کچکول اوس کوم گـدایي
څیرې گریوان خوار مجنون اخته چـا کړم
رســـم و رواج نـه یـو دم بـیرون چـا کـړم
پـه وصـــال د انـتـظـار پـرون چـا کـړم
خوار ملنگ‌جان بې طبیب کړاو لـه پیدا یې[۱]

[۱] دا شعر مې د ولسي هنر مند نعمت‌الله له خولې لیکلی دی.

چې نه گورې پري ما ته ستا د سترگو دور تېر شه
د حسن په ذکات کې کله کله راته گوره
ستا سترگو دوه ټوټې کړلو زما غريب زړگوټی
که پس له مرگه ووينم د حور او غلمان سترگې
باور مې په ځان نه شي که به ستا راځنې هېر شه
اوس راشه دې ټوټې ټوټې زړگي ته مې کوشير شه
ستا سترگو ته خبرې کوي زما ملنگ‌جان سترگې
تل ستا په انتظار وي په خوارانو خوان ډېر شه[1]

[1] دا غزل مې د ولسي هنرمند نعمت‌الله له خولې ليکي دی .

پاک رسـول مې روان په سـفر دی پورتـه کړی دنیـا نـه بســتر دی
چې مـرض پـه نـبي مـقـرر شــو هر انســـان مـدينـه کې خبر شـــو
اصــحاب له خفګانه ابتر شـــو پـه ژړا زړه يې غوڅ پـه خنجر دی
راغی وخت د لمانځه واوره ما نه بـلال وکــړه شروع پـه اذان
را حضــور شــو مسـجد ته ياران د غم غشـــی يې شخ په جيګر دی
هر يو يار يې مســـجد کې فرياد کا صد افسوس دی په شان د فرهاد کا
پاک رسول به يې په زړه کې را ياد کا چې جـدا لـه مـا شــمس القمر دی
خدايه نشـــته مســـجد کې سردار شـــو تـورتـم نـن پـه مـا کـردګـار
تـمـام تـن يې ســـتي پـه انـګـار بـيـنـوا لـه مـحـراب نـه دلـبر دی
زه دې پروت يم په در کې ناتوانه ســـتـا لـه رويـه پيـدا شـــو جهـان
عـرش کـرسي ځـمکې آســـمـان ملنـګ‌جـان دې پـه در کې ابتر دی[۱]

[۱] دا شعر ماته خپل ګران ماما حليم (ګل ملول) راکړو
يادونه: زما په اند دا شعر د بهسودی ملنګ‌جان نه دی. خو د عوامو خلکود ټينګار له امله، او د ولسی هنرمندانو په خوله مې دا شعر د بهسودی ملنګ‌جان په نامه ولیکه. ازمون

## غزل

موسم د پسرلي دی خوبان سیل ته ځی د ګلو
آشنا که زه او ته هم د سارا لوري ته لاړ شو
یو ښه ښکلې جلګه ښه شرشره وی د اوبو
په غاړه یې دواړه ناست وی تا دې سر ګمنځولو
چې ووځو له کوره لاس په لاس سره روان شوو
د غره په غاړه غاړه ورځ کړو تیره به کتلو
یو ښه سپینه سپوږمۍ وی ښایسته بڼ وی د ګلونو
زه او ته وی بل څوک نه وی ما کړو سوال او تا منلو
خدای وچې کړې له نم نه دا زما ملنګ‌جان سترګې
ما وراندې کړل عرضونه آشنا یویو ومنلو[1]

[1] دا غزل مې د ولسی هنرمند نعمت‌الله له خولې لیکلی دی.

یاره ستا په دروازه کې څوکیدار وای خو وای
صبح و شام زما تندی وی ستا پیزار وای خو وای
وار په وار وای خو وای
چیرته ته وای هلته زه وای
ستا دیدار وای خو وای
باغ و بڼ به څه کړم بې له تانه پکې سوځمه
په ایرو په سکرو پروت وای نار او خوار وای خو وای
اور دې بې رسوخ شي ستا په عشق کې رانه پاتې
اشنا کاشکې ستا له لورې سخت ګفتار وای خو وای
کاشکې مشرف شوای ملنګ‌جان په نوکرۍ د ستا
چې په غوږ یې ستا د پښو غپ‌هار وای خو وای[1]

[1] صادق مل، زیری جریده، ورکې نغمې، (۱۳٦۳) کال، (۳۱،۳۲) ګنه، ( څلورم) مخ

# لاس په نام

دا ته چې خدای پیدا کړې د زړو محبت لره
زه کم‌بخت پیدا یم د ژړا زارۍ منت لره
یوخوا پېغور بار بار، بل خوا د ناصح نارې
فکر و پام مې تا وړی دا اورم نه هغه زه
لاس په نام ولاړیم منتظر ستا هدایت لره
نه ستا جفا کمه شي نه زما ژړا هرگز
دا دوه څیزه مخصوص دي اهل حسن اهل عشق لره
حسن پاچاهي کړي عشق گدا وي هر ساعت لره
ته مغرور د حسن یې زه مجبور د عشق نه
څوک به زما او ستا په منځ کې کېني منصفی وکړي
ذاتاً عاشقان دي خدای شته کړي ملامت لره
هر څه که اشراف ومه مینې دې ارازل کړمه
واخیستو ریشخند د درست جهان ما ملنگ‌جان په سر
پاتې حیران یم د خوبانو دې غیرت لره[1]

[1] دا شعر ماته گران ماما حلیم گل (ملول) را کړو د منني په یادونې سره ورته کورودانی وایم. آزمون

# کیسه

سلطان نومې پادشاه ؤ په تیره زمانه کې
دیوان یې ښه رنګین ؤ غوږ پرې کېږده زما جانه
راوي کړی بیان
سلطان نومې امیر -په حکم د قدیر - لښکر یې ټول بهیر
د تخت د پاسه ناست و... تمام کار یې سریرا و سلطان نومې پادشاه و
سلطان ووت له کوره - روان شو په یو لوره - قدرت ته د رب ګوره
بیا وخت د غره سرته - سلطان شو اندیښنه کې په تیره زما نه کې
دیوان یې کړه چاپیر - دا غریې کړه برسیر ضیقت یې کړ پرې تیر
د غره لاندې کلا وه - جوړه کړې پاک سبحان راوي کړی بیان
***
سلطان چې وکته - کلایې ولیدنه نورېې بند کړه کلوپونه
کونجي هلته پرته وه په مثال دیو اشیاو سلطان نومې پادشا و
اویا کسه دیوان - تکړه پهلوانان راجګ شول په چسپان
را پورته یې کونجي کړه د کلپ په درونه کې په هغه زما نه کې
چې خلاصه یې کلا کړه - حاصله یې مدعا کړه سلطان په مشغولا کړه
د ننه په کلا کې ګرځیده به په ښه شان راوي کړی بیان
***
کلا وه د یاقوتو - دیوالونه یې زمرد و ټول کار خو یې مضبوط ؤ
فرشونه د سرو زرو - هر یو ستن قیمت بها ؤ سلطان نومې پادشاه ؤ
سلطان به ګرځیدنه - سیلونه به یې کاوه نه یوځای کې شو د ننه
پراته وو شهزادګان د ښاپیرو په بستره کې په هغه زما نه کې
سادار نه و بې ساه و - د یوې مخې تبا ؤ د رب په اراده ؤ
قحطي د لاسه مړه شول - نوبې نه کیده ګذران راوي کړی بیان
***
سلطان ووېلې خدایه - د خلکو رهنمایه نور ځم له دغه ځایه
یو ګرد خاوره یې واخیسته روان شو په سودا سلطان نومې پادشاه
کیسه ده پسې نوره - غوږ ونیسه یه وروره قدرت ته د رب ګوره
یوه لور د سلطان وه نازولې په خانه کې په هغه زما نه کې

چې خاوره یې انعام کړه هغه لور وه د سلطان ښایسته د ګل په شان
چې تیره یې کړه د حلقه هغه خاوره د بیابان راوي کړی بیان

***

جلۍ شوه امیدواره - په غم کې ګر فتاره غوړ ونیسه هوښیاره
پلار یې په غضب ؤ - جلۍ ناسته په سودا ؤ سلطان نو می پادشاه و
وزیر ویلې پادشاه ته - صاحبه وایم تاته ته غوړ ونیسه ماته
غرض ورسره مکړه ته یې پریږده په موده کې په هغه زما نه کې
د خولې نه یې کړه ګذاره - جلۍ نه وه ګنهکاره پرې ښه وکړه اعتباره
واده ور سره وکړه نن هغه شپې دا زمان راوي کړی بیان
هغه شپه ورځې پوره شو هلک ورکره وشو د رب په اراده شو
د خولې نه یې ګذاره کړه مور او پلار ته برالا و سلطان نومې پادشاه و
سلطان وغوښت نجار ښه صندوق یې کړ تیار هلک یې کړ پکې حصار
ګذار یې کړ دریاب ته چورلیده هره دره کې په هغه زما نه کې
صندوق لاړ په مخ ښکته معلومه یې نه شوه پته د رب ګوره قدرت ته
ور پیښ په ما هي‌ګیر شو په وعده د صبح و شام راوي کړی بیان
پرې خوشاله ماهی‌ګیر شو صندوق یې هواګیر شو راپورته یې جایګیر شو
چې بېرته یې کړ صندوق پکې پروت زوی د پادشاه و سلطان نومې پادشاه و
لمسی و د سلطان ښایسته د ګل په شان پرې راضي شولل کسان
په مثل د اولاد به یې ساته په خپل خا نه کې په هغه زمانه کې
د علم مېړنی شو خبر پرې هر سړی شو د خپل وطن زمری شو
طبیب د روی زمین شو په دارو د مریضان راوي کړی بیان
هغه هلک ته ګوره په نکاح یې کره خپله موره د دواړو سره کوره
په هغه زمانه خبر شو پرې هر چا و سلطان نومې پادشا و
شاعر دې شي خرګند ځواب غواړم په خوند چې خلاص نشې له بند
خنجر مې دی په لاس اوس وهم یې په تنه کې په هغه زمانه کې
کامل دی زما پیر بغداد کې دی جایګیر عالم یې د عواګیر
وینا د ملنګ‌جان ده لاجورد در و مرجان راوي کړی بیان[1]

[1] ارسلاح، مونوګراف، کابل پوهنتون، (۱۳۹۰) کال، ( ) مخ.

# چاربیته

ژاړمه په دې چې احوالات د دنیا نور شــو
ورک شــو محبت ســوداګري شــوه یو تر بله
ژاړمـه پـه دې چې بې وفـا شــــولـو یـاران
غـواړي پـه یـارۍ کې یـو تـر بـلـه کـمـایي
نشـــته شــفقت او صـــداقت په دې جهان
قـلـب مـحـبـتـونـه یـو تـر بـل يې چـلـوي
څوک دي چې د خدای لپاره سترۍ کاندي ځان
بېـحـده کـوښــښ کـوي د نـفـس پـه پیروي
هر سړی د وسې پورې غل د خپل کور شــو
ژاړمـه په دې چې احوالات د دنیا نور شــو
ویښ یم که ویده یم دود مې خېږي له ګوګله
ورک شــو محبت ســوداګري شــوه یو تر بله
***
ویښ یم که ویده یم عقل فکر رانه تلی دی
زیســـت د زمانې ګورمه ناســـت یمه کنار
تیر مې په ضـــمېر د یار له لاســـه لګیدلی دی
ســـوچ راته ښـــکاره شـــو د لړم د نېش ګوزار
نن مې تمـامې بیګـاه لـه دې غمـه ژړلی دی
ومې لـیـده ګـل پـه پـاڼـه پـرخـه د بـهـار
احـــوالات د دنـــیـــا نـــور شـــو
یو زما یار نه دی یاران ټول په یارۍ چور شـــو
ژاړه مه په دې چې احوالات د دنیا نور شـــو
***

تېر شـــو پخـواني وختـونـه بيـا بـه راشي کلـه
ورک شـــو محبـت ســـوداګري شـــوه يو تر بلـه
تېر شـــو پخواني وختونـه کوکې مې خورې شـــوې
چـا سره بـيـان کـړمـه د ســـوي زړګي راز
هـر طـرف تـه ګـورم عـالـم واړه دا سرې شـــو
نشـــتـه پلار و زوي پـه منځ کې بې مقصـــده نـاز
زړه مې د نـادان اشـــنـا پـه لاس زرې زرې شـــو
مـا ويـل مـنـمـه لـيـکـن غـوټـه وه د پـيـاز
تـل پـه تصـور لـه غمـه ژاړم رنګ مې تور شـــو
ژاړمـه پـه دې چې احـوالات د دنـيـا نـور شـــو
شـــوه خـاورې هغـه ژبـه رښـــتيـا چې چليـدلـه
ورک شـــو محبـت ســـوداګري شـــوه يو تر بلـه
***
شـــوه خـاورې هغـه ژبـه چې وه پـه يو ګفتـار
نـن د هـر سړي پـه خـولـه کې ژبې شـــولې لـس
کوکې د وفـا پســـــــې مې چـاڼ کړ تمام ښـــار
دا ځـکـه مې فـريـاد پـه فـريـاد ځي لـکـه جـرس
غږ د ملنګ‌جان له خولې نه شعر په ذريعه خپور شو
ژاړمـه پـه دې چې احـوالات د دنـيـا نـور شـــو
خـورد د نـيـم مـني سره پـوره خـېژي پـه تـلـه
ورک شـــو محبـت ســـوداګري شـــوه يو تر بلـه[1]

[1] صادق مل غلام محی الدين، زيری جريده، ورکې نغمې، (١٣٦٣) کال، (٣٣) ګڼه، (ځلورم) مخ

## مقام

قربانېږه د هغه لاس و قلم نه        چې مشـــتقاق يې مراد مومي د کرم نه
چې په غور کاته کړي د مظلوم لور ته        خدای دې وساتي همیش د بد ستم نه
چې د قام مینه مدام دده په زړه وي        زه يې[1] ولې نه ځارېږم له قدم نه
غمخواران چې لرې داسې ملنګ جانه!
اینده دې ســـترګې وچې کړه له نم نه[1]

[1] بې - به يې

## غزل

زه څمکه یم پر ما ډېرې ړلې بادونه تیر شو
متل دی له ازاره چا بازار لیدلی نه دی
اخیر یې په لمن د ناکامۍ داغونه تیر شو
زه اورمه چې ته له خیره ځې او زه لا یمه
یادګار دې را څخه ستا رنګینه دورونه تېر شو
متل دی چې د تلونکي نه عبرت واخلي راتلونکی
د اوښکو سیلاب ړنګ کړه ستا پاخه بروجونه تېر شو
چی ستا د ملیت د مرګ مایل و ملنګ جانه
پرون یې جنازې پسې کېده ویرونه تېر شو[1]

[1] دا غزل مې د ننګرهار ولسی هنرمند حاجی چمن ګل له خولې لیکلی دی.

## مقام[1]

سپین نسب په تور بشـر کله تورېـږي د میلو په قوت غر کله خوږېـــږي
چې کانون د عقیق په لاس کې نه وي جوالي بد کا دوکاندار مخکې درېږي
دا متل دی چې کاروان پورې سپې غاپي په غپاو د سپو کاروان کله ودرېـږي
مناسب نه دی چې باز په چتې نیســې ګیدړ بد کا د زمري مخ کې غورېږي
ملنګ‌جان نن د صقیل دریاب مالک دی
د کوهي خـاونـدان څـه لره غورېـــــږي

[1] دا مقام مې د ننګرهار ولسي هنرمند حاجي چمن ګل له خولې لیکلی دی.

## غزل

.....................

اباســيند کې يې لاهو کړې دښــمنان د پښــتو ژبې
نن کاروان د پښتو ژبې مخکې تلی نشـــي په بيړه
هر بندر کې ورته ناست دي لوټماران د پښتو ژبې
ســتغې ســپورې په غوړ اورم بې شــماره هره ورځ
دا خو ځکه چې پښتون يم ثنا خوان د پښتو ژبې
چې هر چا ته مې امېد شي ورته لاړشــــم په ژړا زه
معلومېږي چې ډېر لږ دي غمخواران د پښتو ژبې
زه ملنګ چې ملنګي کړم د پښـــتون د خير لپاره
خدايه ډېر کړې پښــتنو کې ملنګان د پښــتو ژبې[1]

[1] بختانی عبدالله، خوږې نغمې لومړی چاپ (۱۳۳۵) کال، (۱٦٥) مخ.

## صیاده

صیاده بچ ګرځه له مانه<br>ښکار به مې نه کړې تا به ښکار کړم

بیا دې ګیله اوسه له ځانه<br>چې زه دې اوس لا خبردار کړم

څله شیندې دانې د دام لاندې<br>داسې دامونه ما شلولي دي ډېر

غوارې چې ته کړې زما کام لاندې<br>په دې ارمان خاورو ته تللي دي ډېر

ولې دې سپک راغلم تر پام لاندې<br>تا نه مې غټ غټ پرزولي دي ډېر

نوم به دې ورک کړم له جهانه<br>که بیرغ واخلم یا چاریار کړم

ما ته په خوارو سترګو ګورې څله<br>له تجربونه زه وتلی یمه

کوې اقدام زما په لوري څله<br>خوار شې غره د بل په زور یې څله

ستا بادارانو هم لیدلی یمه<br>په مېړنتوب ټولو منلی یمه

واخله عبرت ناپوه انسانه<br>که نه نو تا به هم فرار کړمه

دا بیهوده فکرونه مه چلوه<br>په هیڅ طاقت ما څملولی نه شې

اور د فساد جهان کې مه بلوه<br>بیا یې په هیڅ رقم وژلی نه شې

د نفاق تخم را کې مه تلوه<br>غوښه او نوک ته بیلولی نه شې

زه ملنګجان کړم دا بیان<br>له دې آرزو به دې بیزار کړمه[1]

[1] بختاني عبدالله، خوږې نغمې لومړی، چاپ ۱۳۳۵) کال، (۱۷۳) مخ.

دا روح زما نه يوسئ ، نه اشـــنا زما له څنگ نه
عبرت واخلئ عـالمه، زما ژېړ زبېښـــلي رنگ نه
حيات مې ټول خراب کړه که يار ما د ځان يار کړي
خدايه يار را سره يار کړه غماز به څوک ايسار کړي
يه خلک خدا راشئ ما خلاص کړئ ژر د چنگ نه
منت دی که نعمت دی اخيســـتی ما په سر دی
گـنـلی مې دا فـخـر پـه عشـــق کې د دلـبر دی
اشـــنامې دې خوشـــال وي زه تير يم نام و ننگ نه
يـو زړه مې يـار وړی نـور زړونـه زمـا نشـــتـه
اوريـدلو نصـــيحـت تـه غوږونـه زمـا نشـــتـه
انجام د عشـــق زوال دی معلوم شـــو د پتنگ نه
هســـتي او دارايي نه محروم زه ملنگ‌جان شـــوم
ليونی د يار په عشـق کې رسـوا د ټول جهان شـوم
زه مينې يم خوار کړی اشـــنا څه غوارې ملنگ نه[1]

[1] بختانی عبدالله خوي نفسي لومړی ،چاپ ۱۲۳۵) کال، (۱٤٤) مخ .

نن مې په اوښکو ګرېوان تر عالمه
حيران ولاړ يمه ابتر عالمه
چېتاکۍ وايي چې خروار يمه زه
سورلنډی نبغ ګرځي نامدار يمه زه
خو ځانته وايي چې هوښيار يمه زه
افسوس افسوس غوځ مې جيګر عالمه
پلار مې د زوي سره تربور وليد
ما خرموره په ځای د دور وليده
ميا او ملا مې نامنظور وليده
سپيني پګړۍ شولی کمتر عالمه
فرياد مې خبري له ګوګله ځني
غشی مې ووته له دله ځني
ګل کناره شو له بلبله ځني
باز د تپس سره نوکر وينمه
جولاګان وايي نشته رقم زموږه
نايان وايي نن راغلی دم زموږه
د کيناستو ځای شولو تنګ زموږه
زه ملنګ‌جان شوم در په در عالمه

فرياد مې خبري د بيلتون له لاسه
وسوم د دغې ژوندون له لاسه
من د خورديانو په کتار ورسيد
چې د زمرو قسمت خروار ورسيد
د اپلاتون موږ ته روزګار ورسيد
وسوم له دغه اپلاتون له لاسه
خلکه له دې درده کړېږمه زه
وسه مې نه کېږي ژړېږمه زه
ځکه په ګېډه نه مړېږمه زه
قره قولي او د پتلون له لاسه
چې بې وفا مې تول جهان وليده
عالم مې واړه په بل شان وليده
غونچې مې مخکې د زاغان وليده
وسوم د دغې قانون له لاسه
هر يو وايي ډېر په اصول يمه زه
اصيل دې وايي چې پښتون يمه زه
ځکه خپل شعر باندې مفتون يمه زه
د غمازانو د لمسون له لاسه[1]

[1] دا شعر مې د لغمان ولسی هنرمند ګلکی (ګل محمد) له خولې ليکلی دی.

## نیمګړی مقام

یه! خاونده ته هوښیار کړې سخرودي
له درانه خوبه بیدار کړې سخرودي
کوز بولک او بر بولک وبېسودیو کړې
د پوهنې طرفـدار کړې ســـخرودي[۱]

[۱] دا مقام مې د ننګرهار ولسی هنرمند چمن ګل له خولې لیکلی دی.

## غزل

که په عشـــق کې مزې غواړې لوغړن لکـه پتنګ شـــه
پس له مرګه به ښـايســته شې ســوداګر د نام و ننګ شــه
که دې سر غواړې چې سر شي، صـــدقه کړه سر ناموس نه
که سرې شونډې د يار غواړې د خپل ځان په وينو رنګ شه
پخواني هم ســتا په شـــان وو، ته هم پاځېږه همت کړه
حريـت ليلی لپـاره کنـد کچکول واخلـه ملنـګ شــــه
ننګيالي چې يو خوا مخ کړي په شـــا نه ځي که پرې ومري
عزم ټينګ سـاته په زړه کې خپل هدف ته په غورځنګ شـه
کـه ترخې لـه ځينو اورې غوږ پرې کوڼ کړه ملنګ جـانـه
ويښـــوه ويده زلمېان خپل د نااهلو نه په څنګ شـــه[1]

[1] بختانی عبدالله، خوږې نغمې لومړی، چاپ، (۱۳۳۵) کال، (۱۳۷) مخ.

لکه ماشوم مې هر زما ن ژړوي
ما بې رحمي د پاکســتان ژړوي
مســـلمانانو وکړئ ننگ په اســـلام        کېږي ظلمونه رنگارنگ په اســـلام
په مســـجدو کې ملایان ژړوي
ما بې‌رحمي د پاکســـتان ژړوي
یوخوا تبلیغ د اسلامیت کوي  دوی        بل خوا انکار د شرعیت کوي دوی
په دې وضعیت د خدای قرآن ژړوي
مـا بې‌رحـمي د پـاکســـتـان ژړوي
کړي پرورښـــت د قادیانیانو مدام        خرابوي په دی چل دین د اســـلام
عینـاً نبي اخیر زمـا ن ژړوي
ما بېرحمي د پاکســـتان ژړوي
د اســـماني قانون نه تښـــتي مدام        د انگرېـــــزي قانون کوي احترام
ملایکې پاس په آســمان ژړوي
ما بې‌رحمي د پاکســـتان ژړوي
شـکر گزار زه ملنگ‌جان هر ساعت        لرم په کور کې اســـلامی عدالت[١]
خالي مې غم د ورور افغان ژړوي
ما بې‌رحمي د پاکســـتان ژړوي

[١] بختانی عبدالله، خوږې نغمي، لومړی چاپ (١٣٣٠) کال، (١٧٢) مخ.

د غفلت په خوب ویده ولې پښــتون دی
د نفـاق پـه وجـه حـال د دوی زبون دی
پـه فریـب د انګرېزانو ټول خراب شـــو
دعوه ګیر زموږ د خـاورې نن پنجـاب شــو
د غفلـت پـه خوب ویـده دی لکـه ګوډی
غـلامۍ لــپـاره جــوړ دی د دوی ډوډی
څوک وایې زه یم اپریـدی او څوک مومنـد
ټول بنـد شـــوي دي د ســحر پـه کمنـد
څوک وایې زه یمـه مســعود او څوک وزیر
نـه پوهېږي پـه خپـل کـار او پـه تـدبیر
د انګرېز تـنخـا تـه هـر یـو لاس نـیولی
د پیســو مینـه کې هـر یـو پـاس نـیولی
غـلامۍ کې شـــول زاړه د انـګـریـزانـو
اوس پرې حکم شـــو جـاري د پنجـابیـانو
خپل مسلک او خپل خصلت ځنې جدا شول
پـه دوکـه د انګـرېزانـو کې خـطـا شـــول
حقیقـت کې دغـه ملـک ټول د پښــتون و
پـه دی خـاوره د نیکو د دوی ژونـدون و
پـه دارنګـه بې ننګۍ مې زړه کبـاب شـــو
دعوه ګیر زموږ د خـاورې نن پنجـاب شــو
اوس پـه دې کې دا مقصـــد د انګرېزانو
چې دوی ټول شی غلامـان د پنجـابیـانو
لکه څوک چې ډنګر خرخ کړي په قصـــاب
هســـــی شـان سره دوی سپاري په پنجاب
کـــه دوی غـــواړي آزادي او تـــرقي
نـور دې نـه کـوي د کـور بي اتـفـاقي

تمامې قام د افغان دی شي يو ورونه
د دښمن په رضا ونه کړي کارونه
دا جوړ کړی دښمنانانو موږ ته چل دی
هر دښمن زموږ وطن لپاره غل دی
د حضرت (ص) په دین کې نشته دورنګي
کور په کور د پښتونو خانه جنګي
رب لپاره په یوه لار او سلا شئ
څه پروا ده که په خپل وطن فداشئ
کوم پتنګ دی چې بې شمعې نه کباب شو؟
دعوه ګیر زموږ د خاورې نن پنجاب شو
یو پښتون ته که چا وویل انګرېز
هغه دم سره بې سر کړي رېز مریز
نو بیا ولې تنخا خورې د انګرېزانو
خپله خاوره خرڅوې په دښمنانو
ارتینې ته به اوچت څرنګه ګوري
په دنیا او اخیرت به یې مخ تور وي
تف په دې رنګه پښتو او دې غیرت شه
هم په دې قسم پښتون باندې لعنت شه
چا چې دین وي قبول کړی د حضرت
خدای رسول ته به ځان نکړي ملامت
چې ظاهر کې مسلمان باطن کفار وي
د هغو به همیشه دغه روزګار وي
یه سوچه مسلمانانو سره غونډ شئ
په اخلاص او محبت سره را پنډ شئ
د پښتون له غمه زړه مې نن کباب شو
دعوه ګیر زموږ د خاورې نن پنجاب شو[1]

[1] بختانی عبدالله، خوږې نغمې، لومړی چاپ (۱۳۳۰) کال، (۲۸) مخ.

رســـوا او ځيګرخون حيران ولاړ زبون
اخير به شي مجنون دا دی د عشـــق انجام
چېرته دی حکيم چې مې په درد رســـيدګي وکړي
څوک دی چې په عشـق کې بې له ياره زندګي وکړي
نوم د مېنې ورک کړې ګرفتـار يې کړم په ســـل
يار يووړ را نه دل شوه بر خه مې سيزل
انګار مې شـــو درون دا دی د عشـــق انجام
يـار پـه تش خنـدا زړه پـه هوا را څخـه يوړلو
عقـل لکـه بـاد چې وړي ګيـاه راڅخـه يوړلو
پاتې تش کالبوت زه ملنګ‌جان شـــوم حال خراب
د مـيـنې پـه ګـرداب ژړا لـکـه ربـاب
چې تن مې شـــو ناياب کوم سر په زنګون[1]

[1] دا شعر مې د ولسې هنرمند حاجی چمن ګل له خولې ليکی دی .

د طعام په مالګه څه پوهېږي پیل
په ټانټو یې مړوه یا په پلیل
اوښ ته مه وهه رباب نه پرې پوهېږي
د زوزانو په خوراک به یې وي میل
درانه خلک درانه ناست درانه وضعیت کا
په چلم به غالمغال وي د بخیل
یاسین مه لوله د خرو په تبیله کې
دوی په خپل انګ ... وي میل
د اشرافو نه ځاریزه ملنګ جانه
په ارزالو کې زړګی به دی شي ویل[1] [2]

[1] ویل - ویلي کېدل.
[2] دا مقام مې د حاجی چمن ګل له خولې لیکلی دی.

## مقام

پښتون یاستۍ پښتون اوسئ هندوان مه شئ
د پښـــتو قانون مو زده کړئ نادان مه شئ
د پښـــتون په مخکې کار د رســـتم څه دی
رســـتم نـه پورتـه لاړشئ پـایـان مـه شئ
ځان زمری کړئ  د پردو هډو کې مات کړئ
خولـه پـه خولـه د یوه کلي چرګان مـه شئ
ځان بیدار کړئ په لومړی صف کې ودرېږئ
ســـید محمود بـاچـا د کلي لټـان مـه شئ
ســـوي زړه د ملنـګجـان تـه نظر وکړئ
لږ بیـدار شئ د کوڅې یتیمـان مـه شئ[1]

[1] دا شعر مې د ولسي هنرمند حاجی چمن ګل له خولې لیکی دی

زما د رنځ څه دوا نشته حکیمانو سره
زه زخمي شوی یم د ترکو له چشمانو سره
رب چې پیدا کړه عاشقی نو ماته کوم قصور دی
زه او اشنا سره پوهېږو بل ته څه ضرور دی
چی ځان غماز جوړ کړي
په موړ اعتراض جوړ کړي
دروغ هم دراز جوړ کړي
تقدیر د راز جوړ کړي
ماغزه دې څله خوړوې د لیونیانو سره
ناصحه! مه وهه نارې تا ته فرصت نه لرم
لاس کې ورق دی زما
خوله کې سبق دی زما
د یار نورق دی زما
لوستلی یې حق دی زما
میرات شې څه غرض لرې د عاشقانو سره
زما روح به وي طبعی له احتیاجه ځنې
میني بیرون کړمه له رسم و له رواجه ځنې
رسم و رواج څه کوم
بی یاره تاج څه کوم
که شم تاراج څه کوم
دې کی علاج څه کوم
مشت و ګرېوان یم هر ساعت له ناصحانو سره
څه قدر غور په دې کې وکړئ یه! اهله جهان
سود مې دی عشق څه له ما پوښتئ د سود او د زیان
نه سود و زیان پېژنم
د عشق دیوان پېژنم

نه بېګ و خان پېژنم
محضې جانان پېژنم
زه ملنګ‌جان یم ملازم د یار چشمانو سره.[1]

[1] دا شعر مې د ولسي هنرمند حاجي چمن ګل له خولې لیکلی دی.

## نیمګړی مقام

هســــــې غټ پېڅی ته مه اخله د غر نه
چې په لارې غورځوې لـه خپـل سر نـه
لـه څـادره سره خپې غزول بـــه دي!
هســــــې نه چې خپې وباسې له څادر نه
چې د بل کره ورځې ډانګ په لاس واخله
ځان دې ســـاته د پردي د کاله ســـګ نه
که سور اور درته سره زر شي ملنګ جانه
ځان دې ســـاته شـــيطان لعين ټګ نه[1]

[1] دا مقام مې د ولسي هنرمند تکړه طبله چې حاجی چمن ګل له خولی لیکلی دی.

## مقام

عبث مه نيســـه د مار بچې په موټې
وبه نه نيســـــــې خرما ګنډيري بوټي

تربيه شــودانه شــه ده هر انســان ته
څـه پوهېږي پـه تعليم د مرکـب کوټي

د هرچا بيخ ته نظر کړه مه لباس ته
هندوانه مړغون يو رنګ دي په غوټې

محبـت د ګنی مـه کړه پـه نـل بـانـدې
چيرته قند چيرته ځنګله کې د غوا سوټې

خوږ د خوږ بوټي نه غواړه ملنګ جانه
خواره نشته د غمبس په چت کې پوټي[1]

[1] دا شعر مې د لغمان ولسی هنرمند ګلکی (ګل محمد) له خولی ليکلی دی.

# نیمګړي شعرونه

یه زما نګاره راشه
عاشقۍ کړمه ناتوان
درد و غم ز ما جامه شوه
نې زړښت شته نه کمبود
لوغړن شو ملنګ جان
یه زما نګاره راشه

---

ما شړی بې‌ګناه له خپل در نه
په لمسون د غمازان
درد د محبت کړم بې طاقت
لږ په تبسم راشه
را که دوایي
مکړه جفایي
دور مې کړه غم له ځیګرنه
زه ملنګ‌جان څیرې ګرېوان ...
لوګی مې ځي له ... نه

---

نن مې له دل نه ځي تاو د نیران
زلفی الول د یار زانګي ښاماران
کسر: زه ملنګ‌جان ژاړمه ټول بیسود شو تنګ په ما ...

راه‌پرچم ناشر اندیشه‌های دموکراتیک
www.rahparcham1.org